# د افغانستان یوه لنډه دیارلس کلنه تجربه :

- بهرنۍ مرستې
- ملی پرمختیایی ستراتیژی
- دبازار نظام ته لنډه کتنه

Ketabton.com

پوهاند محمد بشیر دودیال

۱۳۹۲ـ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الر حیــــــــــــــم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

**عنـــــــــــــــــــــــــوان** **مخ**

یادښت

ددغی رسالی د لیکلو ضرورت

بهرنی مرستی او د هغو طرز

د بهرنیو مرستو تعریف او پیژندنه

په نړی کی د بهرنیو مرستو څرنګوالی

ولی پرمختللی هیوادونه وروسته پاتی هیوادونو ته مرستی ورکوی

په نړی کی د بهرنیو مرستو تاریخچه

افغانستان  او بهرنی مرستی

په یوه اقتصاد کی د عامه مالی چارو ارزښت

له بهرنیو مرستو څخه په انکشافی بودجه کی کار اخیستل

بودجه څه ده؟

ددولت د بودجی دندی

د افغانستان پرمختیایی ستراتیژی او دهغی پیژندنه

د موضوع پس منظر

(MDG)او د افغانستان لنډ وضعیت ته لنډه کتنه

په افغانستان کی د وروستیو کلونو اجتماعی، مدنی اوسیاسی او حقوقی بدلونونو لپاره د زمینی چمتووالی

د افغانستان بیا رغاونه او دلندن کنفرانس

(ANDS) د افغانستان د بیارغاونی مهمه ستراتیژیکه برنامه

د(ANDS) پیژندنه

د(ANDS) میتودولوژی

په (ANDS) کی بیلابیل سکتورونه اومهم ارکان

د(ANDS) پایلی او لنډ تحلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دبازار نظام او خصوصی کول**

**په هیوادکی دلسو کلونو په پایله کی مهم اقتصادی بدلونونه  او کمزورتیاوی**

**نتیجه گیری**

**وړاندیزونه**

**ماخذ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یادښت

له لرغونی آریانا بیا تر نن پوری په اوسنی افغانستان باندې درې غمیزی تیری شوی: لومړۍ یې دچنګیز تکه وه، چی دهیواد مادی او معنوی بنیاد یی له بیخه برباد کړ. دوهمه یی داتلسمی پیړۍ د لوی استعماری قوت، یعنی دانګریزتاړاک و چی نه یواځی دا چی موږ یی په دریو خونړیو جګړو اړ ایستو، بلکی ډیر نور زیانونه یی هم راواړول: څه ناڅه اقتصادی زیربنا مو چی لرله هغه له منځه ولاړه، د افغانستان له لاری د وچی سوداګری، په سمندری سواداګری بدله او دوریښمو دلاری تاریخی، تجارتی او ستراتیژیک ارزښت کم شو، هغه ملی صنایع چی نوی په پښو د دریدو په حال کی وو، امیر دوست محمد خان او امیر شیرعلیخان یی بنسټونه ایښی وو، برباد او تر ټولو بده او نه جبران کیدونکی یی دا چی هیواد له سمندر سره خپله پوله له لاسه ورکړه، یعنی کله چی افغانانو په خپل همت او میړانه دغه د نړی لوی استعماری ځواک مات کړ، نو دغه مکار استعمارګر د مصنوعی پولو په جوړولو هیواد له څو برخو را محدود او زموږ لوی افغانستان یی وویشه، څه یی ایران ته او څه نور یی د هند له یوی برخی سره د(پاکستان) په نوم را څخه جلا کړ. له هغی ورځی را ورسته ددغی مصنوعی ویشنی له امله هیواد او هیوادوال آرام نه دی. دریېمه غمیزه دغه ورستۍ کورنۍ جګړه وه، چی لامل یی دسړی جګړی ډغری وی، چی زموږ هیواد یی دجګړی تود ډګر ګرځولی و، دلته موږ په نورو سیاسی، ټولنیزو، کلتوری، نظامی، حقوقی او ګڼ شمیر مسایلو خبری نه کوو، یواځی د اقتصادی اکر په هکله د تجربی په توګه یو څو یادونی لرو:

افغانستان ذکر شویو دریو غمیزو کی لوی زیانونه و ګالل، خو ددغو غمیزو ترمنځ د سولی او ثبات په دوران کی موږ د اقتصادی پرمختیا او ترقی په برخه کی ځینی غوره تجارب لرل. دلته موږ ددغو اوږدو تاریخی پیښو په نورو اړخونو خبری نه کوو، صرف د اقتصادی پرمختیا په فرصتونو به لږ څه تم شو:

د اتلسمی پیړی په پای کی امیر شیرعلیخان د هیواد د پرمختیا لپاره یو پرمختیایی پلان درلود، یو شمیر ریفورمونه یی په پام کی وو، خو هغه ددغو اقداماتو اجرا کولو ته پری نه ښودل شو. کلونه، کلونه وروسته غازی امان الله خان د هیواد د استقلال ګټونکی یوه ډیره عالی برنامه لرله، دده پرمهال د ګڼ شمیر اقتصادی تاسیساتو بنسټونه کیښودل شول، یو شمیر فابریکی ورغول شوی او د متخصصو کادرونو د روزنی او د تخصصی زده کړو لپاره یی د اول ځل لپاره افغانان ددولت په لګښت بهر ته واستول. لویو لارو، بریښنا، کانالونو او کرنی ته توجه وشوه، مالی موسسات نوی شول، قوانین او لوایح جوړ او تطبیقول یی په ګړندی ډول پیل شول. د افغانستان دغه طلایی دوره د افغانستان تاریخی دښمن ونه شوه زغملای، نوځکه د ملت دغه لوی ناجی ، د ترقی سرغندوی ، د ختیځ روڼ ستوری او د هیوا پالنی ریښتنی اتل له هیواد څخه وتلو ته اړ شو. کلونه کلونه وروسته افغانستان وروسته تر ۴۰-۳۰ کلونو اختناق، انزوا او رکود څخه بیا د غوړیدا او رغاونی یو نیو پړاو پیل کړ. دا پړاو د افغانستان د لومړنیو پنځه کلنو اقتصادی ـ اجتماعی پلانونو پړاو و.

افغانستان په معاصرو شرایطو کی او په داسی حال کی چی شلمه پیړۍ د ساینس او تکنالوژی پیړۍ نومول شوی وه، له ۱۳۳۵ ل. کال وروسته خپل لومړنی پینځه کلن اقتصادی پلان جوړ او په تطبیق یی پیل وکړ، دغه پلان د هیواد د افغانستان د اقتصاد د عصری کولو او پرمختیا دلومړنی پلان په نوم یاد شو، چی تر ۱۳۴۱ ل. پوری تطبیق شو. وروسته بیا ورپسی بل پینځه کلن پلان له ۱۳۴۱ څخه تر ۱۳۴۵ل. پوری او دریېم پلان له ۱۳۴۵ تر ۱۳۵۰ پوری دوام وکړ، څلورم اقتصادی –اجتماعی پرمختیایی پلان په بارلمان کی د یو شمیر ستونزو او د صدراعظم د تبدیلی له امله په لازم وخت کی تصویب نشو، یا اصلا وکیلان د هغه پراهمیت او ارزښت و نه پوهیدل، یعنی په دغو کلنو کی دهیواد دوه صدراعظمان د پاچا له خوښی پرته د پارلمان د جنجالونو او د بیسواده وکیلانو د ناپوهی له امله تبدیل او د هیواد حکومتی نظام له یو ډول هرج مرج سره مخامخ شو. وروسته بیا د افغانستنان د لومړنی جمهوری نظان په دوران کی د جاپان د هیوا په شان یوه اوه کلنه اقتصادی – اجتماعی برنامه طرح او تبیق یی پیل کړ، په ۱۳۶۵ل. کال بیرته افغانستان پینځه کلنو پلانون ته مخ واړاو او د ۱۳۶۵-۱۳۶۹ کلون لپاره یی اقتصادی- اجتماعی بینځه کلن پلان جوړ کړ. دغه وروستی پلان د کورنیو جګړو او ناامنۍ له امله بشپړ څه چی نیم هم تطبیق نشو، په ۱۳۷۱ ل. کال کورنیو جګړو نور هم زور واخیست او تر ۱۳۸۱ ل. کال پوری یی د هیوا د ښارونه هم را ونغاړل. په ۱۳۸۱ ل. کال کی نوی نظام ( د موقت او انتقالی حکومت ) تر نامه لاندی په پښو ودرول شو. چی همدا مهال افغانستان ته بهرنی مرستی را جاری او د بیا رغاونی فرصتونه رامنځته شول. دا مهال نو دنوی تکنالوژی یا (IT ) په برکت نړۍ د یوه کوچنی کلی بڼه غوره کړی وه. په همدی فرصت کی د افغانستان د بیا رغاونی لپاره ملی پرمختیایی ستراتیژی (Afghanistan National Development Strategy یا(ANDS ) جوړه شوه. موږ دلته د یوی تجربی په توګه له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹۳ل. کال پوری دوره په لنډ ډول تر کتنی لاندی نیسو:

***

په ټولګی کی د تدریس، په ورکشاپونو او سیمینارونو کی د بحثونو او له راډیوګانو سره د مرکو پرمهال، زیاتره دی ته متوجه کیږم چی محصلان، د غونډی حاضرین او اوریدونکی غواړی د هیواد د وروستیو کلونو په اقتصادی جریاناتو پوهه تر لاسه کړی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیرو کلونو هغو مهمو بدلونونو باندی ځان وپوهوی چی د اقتصاد په ډګر کی پیښ شوی دی. زموږ هیواد وال غواړی چی په دی پوه شی، چی ولی ددی دومره بهرنیو مرستو سره سره بیا هم بیکاری له منځه نه ده تللی او ولی لا هم بهرنی تجارت کی کسر سره مخامخ یاستو، هیوادوال غواړی چی پوه شی چی ددی دومره پریمانه اوبو او سیندونو له لرلو سره سره، ولی بیا هم وارداتی بریښنا ته اړ یاستو، ولی د دری زره میلیارده امریکایی ډالرو په ارزښت کانی منابعو له لرلو سره سره بیا هم د هیواد نیمایی وګړی د بیوزلی تر کرښی لاندی ژوند کوی او داسی نوری سلګونه پوښتنی. دوی غواړی و پوهیږی چی آیا دا کومی لاری دی چی هیواد مو د اقتصادی پرمختیا، ودی او ترقی په لوری بیولای شی. په صنف کی د کریکولم مطابق، موږ زیاتره یا ژباړل شوی آثار او تیوریکی مسایل د محصلانو مخکی ږدو، یا هم له انګلیسی کتابونو څخه یو ترتیب شوی پرزنتیشن کی څو سلایدونه دوی ته ارایه کوو، یا هم د ادام سمیټ، لوییس، جورف شومپتر، مارکس، وانک یاروسلاو، دیوید ریکاردو، جان مینارد کینز، ، رودان، پروفیسورګریګوری مینکیو، پروفیسورتودارو او نورو کتابونه، افکار او نظریات ورته تشریح کوو، ډیر لږ مو دا فرصت موندلی ، چی خپل تیر وضعیت ته کتنه و کړو ، یعنی د هیواد تازه اقتصادی وضعیت مو نه دی څیړلی. دا په دی معنا نه ده چی په اقتصاد کی دعلم په توګه تیوریګانی او اقتصادی نظریات مطالعه نه کړو، بلکی موخه مو داده، چی د دغو تیوریګانو او نظریاتو په رڼا کی باید کله کله خپل وضعیت هم وڅیړو. زه هغه وخت یوی نیمګړتیا ته ځیر شوم، چی کله می د افغانستان د شاهی دولت لومړنی پینځه کلن علمی اجتماعی- اقتصادی پلانونه، بیا ورپسی د افغانستان د لومړنی جمهوری نظام اوه کلن پلان او وروسته د افغانستان دجمهوریت بل پینځه کلن پلان باندی یوه تحلیلی رساله ولیکله او هغه مومند خپرندویی ټولنی د اسلامی تمدن پلازمینی (غزنی) د نومونی په مناسب چاپ کړه، په هغی کی باید د رزیزی اهداف او د افغانستان د ملی پرمختیایی ستراتیژی تحلیل او له پخوانیو پنځه کلنو علمی پلانونو سره یی مقایسوی څیړنه هم راغلی وای. په هر ترتیب اوس هم کیدای شی دغه سند د یوی تجربی په توګه جلا وڅیړل شی او د اقتصاد دډګر ماهرین او د مطالعی مینه وال یی ولولی. زیاتره خلک، په تیره ځوانان د بهرنیو مرستو، د هغو د طرز، د هغو د تاثیراتو او شرایطو په هکله معلومات غواړی. ډیر خلک اوس هم پوښتنه کوی چی آیا دا ( ANDS) چی لس کاله مخکی یی دومره غوغا جوړه کړی وه او د میاشتی د اویازره امریکایی ډالرو شاوخوا په ارزښت یی په تدوین او جوړلو لګښت راغلی و، څه شی وه او څه شوه؟ او آیا دا خصوصی کول او دا آزاد بازار دی که د بازار نظام دی ، دا څه شی دی؟

اوس هم ډیرو خلکو آن د تحصل کرده ګانو څخه اورم چی د آزاد بازار او د بازار د نظام تر منځ توپیر نه کوی. دا هغه لاملونه و چی زه یی اړ کړم چی په متوسطه کچه او آسانه ادبیاتو( نه د اقتصاد په پیچلی- مسلکی ژبه ) په دغو دریو تازه موضوعاتو لنډ بحث وشی، کیدای شی په راتلونکی کی تاریخ لیکونکی ورته مراجعه وکړی او د هیواد دسیاسی قضایاوو تر څنګ اقتصادی او دبیار غاونی موضوعاتو ته هم ضرورت پیدا کړی. په ریښتیا هم : په تیرو دیارلسو کلونو کی د اقتصاد، بیا رغاونی او حکومتولی په برخه کی موږ دریو مهمو مسایلو سره مخامخ وو:

- دبهرنیو مرستو جریان
- دافغانستان پرمختیایی ستراتیژی
- او دبازار نظام او خصوصی کول

د دیارلسو کلونو په تیریدو سره بیا هم هیوادوال په شک کی دی چی د بهرنیو مرستو اغیزی څه وی او زموږ دولت کومی لاسته راوړنی درلودی او آیا بهرنی مرستی یواځی افغانستان ته ورکړل شوی او یواځی دامریکی متحده ایالات مرستی ورکوی او که نور داسی هیوادونه هم شته چی بهرنی مرستی تر لاسه کوی او پرته له امریکی نور هیوادونه او نړیوال سازمانونه هم شته چی بهرنی مرستی رسوی. همدا راز باید په دی وپوهیږو چی د افغانستنان ملی پرمختیایی ستراتیژی (ANDS ) کی څه په پام کی وو او څومره تطبیق او اجراشول. دا هم یو سوال دی چی ایا د بازار نظام څه دی او موږ ورڅخه څه تر لاسه کړل او نور باید څه وکړو؟

ددغو سوالونو د حل لپاره دغه مختصره لیکنه وشوه، تر څو درانه لوستونکی، دمطالعی او پوهی مینه وال او ګران محصلان وهڅیږی او د هیواد دتازه اقتصادی پیښو په هکله بحث وکولای شی، خپل مونوګرافونه همدی ته ورته مسایلو کی ولیکی او هیوادوال او د اقتصادی موسساتو کار کوونکی مو له تیر وضعیت څخه یوه تجربه تر لاسه کړی. زه هیله لرم که چیری د متن ژبه یو څه انتقادی وی، یا نیمګړتیاوو ته یکی اشاره شوی وی ، درانه لوستونکی خپه نشی او هغه کوم شخصی غرض ونه ګنی، بلکی د اشتباهاتو په نښه کول، د غفلت برجسته کول او په راتلونکی کی د نه تکرار په غرض یی یوه مخلصانه هڅه وګنی. ددغه کوچنی کتاب لوستل به ځوانانو ته له وطن سره دمینی احسا س ورکړی، دوی به خپل ملی مسولیت او ملی غرور ته متوجه شی، خپل ملی رسالت به وپیژنی او ګټور معلومات به یی زیات او په دی به وپوهیږی چی موږ تر هغو له بشپړ استقلال او سیاسی آزادۍ څخه خبری نشو کولای، تر څو اقتصادی خپلواکی ونه لرو، له احتیاج خلاص نه شو او له مالی پلوه په خپل ځان بسیا نه شو. یعنی اقتصادی توانایی دسیاسی استقلال لومړی شرط دی، تر ټولو مهمه داچی باید ځوانان پوه شی چی افغانستان د اقتصادی پرمختګ او د پیاوړتیا، ترقی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودی لپاره فوق العاده داخلي ریزرفونه، امکانات او پوتانشیل لری. ستونزه نا امنی، دمدیریت بحران، اداری فساد، د پالیسیو نه لرل، ضعیفه اراده ، عدم صداقت او ټیټ ظرفیت و. کله چی دا نیمګړتیاوی رفع شی، هیواد مو دترقی او پرمختیا ډیر ښه امکانات لری.

دا هم باید په یاد ولرو چی تیرو دیارلسو کالوکی مرستی او هڅی یواځی د اقتصادی پرمختیا لپاره نه وی اړم شوی، بلکی موږ په خیل هیواد کی د سیاسی پروسی یوه اوږده لاره باندی مزل وکړ. دغی لاری کی هم زموږ وخت او انرژی مصرف شوه، په دی موده کی موږ د بدلون له معجزو سره هم مخامخ شولو او ډیر فرصتونه مو هم له لاسه ورکړل. دلته به د تیرو کلونو تجاربو ته لنډه کتنه ولرو.

لومړی برخه :

بهرنی مرستی او په افغانستان کی یی جریان

# بهرنی مرستی ددولت یوه مالی وسیله

**ددولت مالی وسایل هغه مادی امکانات دی چی بالعموموم د عام المنفعه چارو او ولسی خدماتو لپاره لګول کیږی. د تاریخ په اوږدو کی ددولتونو دجوړښت ، ددولتی دندو د پراخه کیدو او ددولت د د تشکیل د پیچلی کیدو سره یو ځای دولتی لګښتونه هم زیات شوی دی او د مالی وسایلو یا دولتی بودجی ته اړتیا هم ډیره شوی ده. د زیر بنایی ، امنیتی ، ټولینزو، تعلیمی، علمی او تحقیقاتی، روغتیایی او نورو موسساتو او پروژو تطبیق کول ددولت په غاړه دی، ځکه خصوصی سکتور په لویو زیر بنایی پروژو او د عامه خدماتو په سکتورونو کی پانګه اچونه نه کوی او نه هم عام المنفعه چاور کی کار کولو ته حاضریږی، خصوصی سکتور انتفاعی چارو کی پانګه اچونه کوی ; ملی ستراتیژی جوړول او تطبیق کول ، د منځنی مودی پلان جوړونه، عامه چاری، امنیت ساتل، د قانون پلی کول او نظارت، د عدالت تامین او مملکتی امور ټول ددولت په غاړه دی چی باید دهغو لپاره لازم مالی وسایل (بودجه) ولری او دغه مالی وسایل له یو شمیر معینو منابعو باید تر لاسه شی. یعنی د تاریخ په اوږدو کی تل داسی ګڼ شمیر مسولیتونه او دندی وی او اوس هم شته چی اجرا او عملی کول یا د تطبیق مسولیت یی د دولتونو په غاړه او واک کی و او اوس هم ده، پرته له دی بله لاره نشته.**

لکه چی پوهیږو دولت باید دغه ډول لګښتونو ته ټاکلی مدارک او منابع ولری، تر څو ورسپارل شوی درنی او مهمی پیچلی دندی ښی پرمخ بوځی . دولتونه دغه مالی وسایل په بیلابیلو بڼو او ډولونو تر لاسه کوی لکه:

- ددولت تشبثاتی عواید
- محصول اووندی ( مثلا ګمرکی محصول دولت ته سپارل)
- مالیات ( مثلا له بیلابیلو عایداتی منابعو دولت ته د مالیی ورکول)
- جریمی
- **د اړتیا پرمهال او د وخت له غوښتنی سره سم، ددولتی شتمنیو او جایدادونو پلورل**
- **د پرداخت په مقابل کی ددولتی خدماتو عرضه**
- **د کورنیو اوبهرنیو پورونو اخیستل**
- **د بهرنیو او کورنیو بلاعوضه مرستو تر لاسه کول**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **رسمي پرمختيايي مرستې تر لاسه کول.**

ددولت د مالي اقتصاد نظام، پورتني مالي وسايل او مدرکونه ( منابع) له منفردو او جلا جلا اقتصادي عاملينو څخه تر لاسه کوي، په پورتنيو لارو-چارو دولتي سکتور ته ليردول کيږي او بيا يې د هيواد دارتياوو د پوره کولو لپاره په کار وړي. ډيره مهمه خبره ده کله چې دغه مدرکونه را ټوليږي ، د بيت المال يا عامه او ملي دارايي (شتمنی )حيثيت پيدا کوي او د ټول ملت امانت بلل کيږي.

دا و په مجموع کې په ټولو هيوادونو اود نړۍ په کچه ددولت د عايداتي منابعو او مالي وسايلو د عاملينو طرز.

په افغانستان کې هم د دولت مالي اقتصاد پر همدغه بنسټ لکه څرنګه چې په ټوله نړۍ کې معمول دی ، عيار شوی دی . په دی برخه کې د افغانستان د۱۳۸۴ ل. کال د عامه لګښتونو او مالي چارو د اداری د قانون ددريم څپرکي د نهمې مادې مطابق، په افغانستان کې ددولت عايداتي منابع له تحصيل څخه وروسته په عامه دارايي بدليږي ، چې هغه په لاندې توګه دي :

۱.هغه ماليات چې له قانون سره سم ددولت له خوا ټاکل شوي وي

۲.هغه مصرفي حق الزحمې چې ددولتي اداراتو له خوا له قانون سره سم وضع او اخيستل کيږي

۳.ددولتي ادارو له خوا تر لاسه کيدونکي تکتانه

۴.له دولتي تصديو څخه تر لاسه کيدونکي ورکړې او نور مفادونه

۵.ددولتي ملکيتونو له پلورلو او اجاره ورکولو څخه تر لاسه کيدونکي عوايد

۶.د راډيو ګانو په ګډون د تفحصاتو او نورو طبيعي منابعو څخه دکتې اخيستنې عوايد، دمعنوي شتمنيو عوايد او ددولتي اداراتو کنترول لاندې حقونو اجاره ورکولاو دهغو له پلورلو څخه ترلاسه کيدونکي عوايد .

۷.دولتي حق الامتيازونه

۸.د نقدي جريمو، د خساراتو د جبران، ضبط او مصادره کولو، د مدني دعواګانو محصول، د بيمې له درکه عوايد او داسې نور عوايد چې دولت ته سپارل کيږي.

۹. هغه بلاعوضه مرستې او نور خارجي کمکونه ( foreign aids)او عوايد چې دولت پورې تعلق پيدا کوي.

۱۰. دولتي پورونه.

۱۱. د پورونو اړوند هغه پولي انتقالات چې دولتي ادارات يې دقانون له حکم سره سم اخلي او ترلاسه کوي يې.

۱۲. د ملي او نړيوالو بها لرونکو اسنادو د صادرولو(ورکولو) له لارې ترلاسه شوي پيسې.

په دې توګه د افغانستان قانوني اسنادوکې او هم په نړيواله کچه په دولتي عايداتي منابعو کې يو هم بهرنۍ مرستې او پورونه دي

دغه ټول منابع او مالي وسايل د ماليې وزارت ته انتقاليږي او د ماليې وزارت د ټول هيواد لپاره بودجه جوړه او دغه مالي منابع عامه چاروکې مصرفوی . دبودجې له طريقه ددولت د لګښتونو اساسي هدف خلکوته داجناسو او خدماتو عرضه کول او توليدول دی. هغه اجناس چې ددولت له خوا توليد او د خلکو د استفادې لپاره وړيا وړاندې کيږي عامه اجناس بلل کيږي. دافغانستان د ماليې وزارت د عامه اجناسو مسول او دملي بودجې د تنظيم کوونکي په توګه دنده او مسوليت لري چې ددغو منابعو په هکله پوره قانوني واک ولري او دهغو په هکله ملت ته معلومات ورکړي چې په دې کې يو هم بهرنۍ مرستې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نیکه مرغه ګران هیواد افغانستان وروسته د ۱۳۸۱ل. کال څخه یوه نوی کیفی پړاو ته داخل شو، تمه کیده، چی په دی پړاو کی به افغانستان د پرمختیا او اقتصادی هوساینی له پلوه ډیر ښه بریالیتوبونه ولری دا ځکه چی زموږ په واک کی کافی اندازه بهرنی مرستی وی ، چی د کمیت له پلوه وروسته له نړیوالی جګړی څخه د ټولی اروپا دبیارغاونی لپاره هم دومره مرستی نه وی شوی ، یعنی افغانستان سره د شویو مرستو اندازه د مارشال د پلان له اندازی زیاتی وی ، بر سیره پر دی افغانستان هم ځانته په ډیر لوړ لګښت یوه پرمختیایی ستراتیژی جوړه کړه چی د زریزی د اهدافو سره یی مطابقت درلود. موږ به هغه وخت نور نوی بریالیتوبونه ولرو چی د راتلونګی لپاره غوره پلانونه، علمی برنامی او ستراتیژی ولرو او تیر پلانونه او ستراتیژیګانی تحلیل او له تجاربو څخه یی استفاده وکړو.

لکه چی پوهیږو یوه ستراتیژی او پلان هغه وخت ښه بریالی وی چی له هغه یا له هغی څخه مخکنی ستراتیژی اوپلان ډیر ښه تحلیل او ارزیابی شوی وی. خو دا باید په یاد ولرو چی دداسی مهمی موضوع څیړل څه آسانه کار نه دی، بلکی ډیرو زیاتو خواریو ته اړتیا ده. د یوی ملی ستراتیژی د تحلیل لپاره باید ډیره پخه تجربه موجوده وی ، پرته له هغه باید څیړونکی د با تجربه استادانو نظریات را ټول او د هر یوه مشوره وغواړی او د با تجربه استادانو رهنمایی ته غوږ ونیسی او د هغوی له لارښوونی سره سم خپله څیړنه پرمخ بوځی. ما په همدی نیت د افغانستان د پرمختیایی ملی ستراتیژی د لنډ تحلیل موضوع ته ملا وتړله چی دا یو شدید ضرورت دی او باید زموږ داقتصاد دډګرځوان کادرونه او داقتصاد پوهنځی ځوان استادان اومحصلان اقلا په دی هکله یوڅه معلومات ولری. دلته موږ د اقتصاد پوهنځی کی د (BBA) په څانګه کی پلان جوړونه او ستراتیژیکه پلان جوړونه تدریس کوو، له دی پرته اقتصادی پرمختیایی سیاستونه، پلان جوړونه او ستراتیژیکه برنامه ریزی د ملی اقتصاد په څانګه کی زموږ ډیر مهم او اساسی مضامین دی. په دی خاطر ددی ضرورت احساس شو چی د افغانستان یو ډیر مهم سند چی په هغه کی د هیواد اجتماعی – اقتصادی انکشافی اهداف درج شوی دی، باید تحلیل او د راتلونکی لپاره د یوی تجربی په توګه مطرح شی.

زه یقین لرم چی د (ANDS) تشریح اولنډ تحلیل به یوه تاریخی دوره په یاد وساتی او د راتلونکو ستراتیژیو د جوړولو لپاره به یو قوی اساس او معیار وګرځی او د یوی تجربی په توګه به اقتصاد پوهان ورته مراجعه کوی. دلته ډیره هڅه وشوه چی د ملی ستراتیژی یوازی اقتصادی اړخ ته زیاته توجه وشی،البته نورو اړخونو ته ضمنی اشاره شوی ده. دغه موضوع می یوازی د رسمی ګزارشونو پر اساس وڅیړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ددغی رسالی دلیکلو ضرورت

نن ورځ د هیوادونو نړیوال دریځ او پرستیژ د هغوی دلښکر، د خاوری د مساحت، حکومتی طرز، مذهب، د نفوسو د شمیر او نورو مسایلو له مخی نه، بلکی ددوی د پوهی او اقتصادی قوت لـه مخـی ټاکل کیږی. له بلی خوا د یو هیواد سیاسی استقلال به تر هغه وخته موجود نه وی، ترڅو لـه اقتصادی پلوه په ځان بسیا نه وی. تر هغو چی یو هیواد اړ، وږی او محتاج وی، ذلیل به هم وی. همداسی هم پوهه د هیوادونو د اتباعو او ددغه هیواد د معنوی قدرت یوه ممیزه ده. هغو هیوادو کـی چـی فکری تولید یعنی د علمی آثارو غنا اوچته وی، ددوی پرمختګ، خپلواکی او لوړ دریځ هم ډاډمن وی. موږد نړۍ له بیلابیلو وچو څخه د امریکی دمتحده ایالاتو، جاپان، جرمنـی او آسترالیا مثا لونـه راوړای شو چی د ژوند د اوچتی کچی لرونکی او پـه نړۍ کـی د مناسب دریځ، درنـاوی او پرتم لرونکـی دی. دعلمـی آثارو د مطالعی په برکت یو هیواد کی منورین او د رغوونکی فکر لرونکی خلک روزل کیږی، چی همدوی بیا د ستونزو په وړاندی د حل لاری لټوی او د خپلی خاوری، عقیدی، کلتوری ارزښتونو، او استقلال سـاتنه هـم کـولای شـی او د خپلـو ملتونـو او ولـس د مـادی او معنـوی زوال مخـه نیـولای شـی. سـینګاپور یـو کـوچنی آسـیایی هیـواد دی، چـی د همـدی حقیقـت پـه درک کولـو سـره یـی ځانتـه د (Knowledge Economy) شـعار ټاکلی او اوس ګرنـدی پر مخ روان دی، ډیر ژر بـه پـه آسیا کـی یولوی اقتصادی قدرت شی. د همدی موخی په خاطر دغه کوچنۍ رساله ولیکل شوه تر څو هیوادوال له جګړی وروسته افغانستان او دهغه وضعیت وپیژندلای شی او دڅو وروستیو کلونو دریځ سره ترلی او مهمـی ښـکارندی تحلیـل او د راتلـونکی لپـاره پـه دی برخـه کـی لا اوچـت ګامونـه واخلـی . دا دریځ ښکارندی، یوه یی *بهرنـی مرستی*، بلـه یـی *د افغانستان مليپرمختيای ستراتيژی او دریيمـه یـی خصوصـی کول* دی.

کله چی په افغانستان کی انتقالی دولت جوړ او وروسته بیا انتخابات وشول، نـو د نـوی وضـیعت پـه ایجـاد سره او په تیره بیـا، وروسـته تـر ۱۳۸۴ ل. کـال څخـه، یعنـی هغـه مهـال چـی د افغانستان پرمختیـایی ملـی ستراتیژی(Afghanistan National Development Strategy) جوړه شوه، نـو دهغـی د تطبیـق لپـاره نړیوالی مرستی هم افغانستان ته زیاتی شوی. افغانانو په ډیرو هیلو سره دغو مرستو تـه کتل. ګڼ شمیر پـروژی لکـه د سړکونو جـوړول، دمعـارف کمـی وده، د روغتیـایی چـارو پراختیـا، د نویـو پوهنتونونـو جوړیدل، د مخابراتی شرکتونو فعالیدل، د مطبوعاتو وده او د مدنی ټولنی پرمختګ او دګڼ شمیر اجتماعی نهادونو پراختیا د همدغه بهرنیو مرستو په مټ وشوه، په تیره بیا د کلیو د انکشاف په برخـه کـی (د ملـی پیوستون) تر عنوان لاندی ګڼ شمیر پروژی تطبیق شوی، دغو مرستو دوام درلود، خو په ۲۰۱۰م. کال د لـومړی ځل لپـاره د بهرنیو ځواکونـو د وتلو او د امنیتـی مسؤلیت د انتقال خبرونـه خپاره شول. لـه هغـه راهیسی دا دری کاله کیږی چی زمونږ هیوادوال په اندیښنه کی دی، او هیڅ کار ته یی سمه ملا نـه ټینګیږی او کار ته یی لاس نه ورځی. دغو اندیښنو زمونږ ملی غرور او دسبا ورځـی وضـعیت تـه لویـه سوالیه ایښی وه. اوس به وګورو چی د سړی جګړی اصلی ډګر او د لویو قدرتو د سیالی محراق( افغانستان) بـه پـه څـه ډول لـه دی بحرانـی حالـت څخـه ووځـی، ددی یـو ځـواب دادی چـی بایـد تـر هرڅـه مخکـی اقتصادی بیا رغاونی ته ملا وتړو او وریـسی د پوهی په ګانه ځان سمبال کړو . موږ ولیدل چی بهرنـی ځواکونه په وتو دی ،خو عملا ګورو چی ورځ په ورځ ولسی واکمنی پیاوړی شوه، د امنیتی مسؤلیت انتقال ترسره او دهیواد څه نا څه په سلو کی نوی برخی امنیت د ملی اردو او پولیسو په لاس کی دی او ورځ تر ورځي امنیتی چاری ښی کیږی، په دی توګه د هیوداوالـو هغـه اندیښـنی تـه ځـواب وویل شـو چـی د بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکونو د وتلو له امله یې لرله. د افغانستان دولت ملي روغي جوړې ته لار پرانیستي او مخالفینو ته په دولت اوسیاست کې د ګډون بلنه ورکوي. دهیوادوالو بل تشویش د مالي مرستو په هکله دی . باید افغانان په دې و پوهیږي چې بهرني مرستې په ټوله نړۍ کې معموله ا ورواج خبره ده. دا خدای مکړه د سوال او احتیاج خبره نه ده، بلکې ډیر ځله په نورو هیوادونوهم داسې حالات راغلي چې بهرنیو مرستو ته اړ شوي دي. آن جاپان او جرمني چې د ښه اقتصاد لرونکي دي هم یو وخت ورسره بهرني مرستي شوي دي، همدا اوس هم مصر او پاکستان چې دوه اسلامي هیوادونه دي، ترټولو زیاتي بهرني مرستي تر لاسه کوي، نو افغانان هم کولای شي په پوره غرور، سرلوړي او وطنپالنې سره د بهرنیو مرستو په مټ خپل ګران هیواد آباد کړي او دا یې حق هم دی. په همدې منظور دغې لیکنې کې د بهرنیو مرستو تعریف، خصوصیات او تاریخچه بیان شوي ده او د افغانستان ددولت د مالي وسایلو د مدیریت او دولت د مالي اقتصاد په هکله معلومات ورکړل شوي دي. په لیکنه کې د راتلونکې لپاره ددولت د عوایدو منابع ښودل شوي دي او دا په حقیقت کې زموږ. هغه ډاډ او اطمینان څرګندوي چې راتلونکې کې یې د هیواد د اقتصاد او ددولت د مالي وسایلو په هکله لرو. موږ. دا ډاډ هم هیوادوالو ته ورکوو چې انشاالله د افغانستان اقتصادي او مالي وضعیت به نور هم ښه شي او دکار موندنې فرصت به برابر او ملي تولید به اوچت شي. ددې اهدافو د تر لاسه کولو لپاره موږ د انکشافي پلانونو او ملي ستراتیژیو طرح او تطبیق ته اړتیالرو، نوځکه ددې رسالې دوهمه برخه د افغانستان د تیرې پرمختیایي ستراتیژۍ تحلیل ته ځانګړې شوه. په دې توګه وروسته تر ۲۰۱۴م. کال هیڅ تشویش نشته او افغانان به ان شاالله تر پخوا هم د ښه ژوند لرونکي شي، خو په دې شرط چې تیر وضعیت تحلیل او د راتلونکې لپاره پر علمي میتودولوژۍ استوار پروګرامونه ولرو. په تیره بیا چې اوس انتخابات هم په ښه ډول او په بریالیتوب ترسره او یو قانوني منتخب زعامت لرو. هیله ده دا لیکنه دغو تشویشونو ته ځواب ووایي.

## بهرني مرستي(Foreign aid) او دهغو طرز:

بهرني مرستي(Foreign aid)په اقتصاد کې یو بحث او ددولتي عوایدو یا ددولت د مالي وسایلو یوه منبع او عامل دی. ځینو هیوادو کې یې حجم زیات، خو په یو شمیر نورو کې صرف د اړتیا پر مهال لیدل شوي دي. پر مختیایي هیوادونه بالعموم بهرنیو مرستو ته اړدي، او ددوی دولتونو قانونا بهرني مرستي او بلا عوضه کمکونه په قانوني شکل منلي دي. دغه مرستي باید رسما دولت(دمالیې وزارت) ته انتقال ، ددوی په ملي محاسباتو کې شاملې او بیا د کلني بودجې له طریقه په عامه خدماتو، د انکشافي پروګرامونو په تمویل او ددولتي دندو په اجرا کې مصرف شي. مخکې تر دې چې په افغانستان کې د بهرنیو مرستو حالت ته کتنه وشي، ښه به وي له بیلابیلو اړخونو بهرنیو مرستو او دهغو تاریخي پس منظر ته یوه کتنه وکړو.

## د بهرنیو مرستو تعریف او پیژندنه:

د وروسته پاتې هیوادونو په مالي منابعو کې یو یې بهرني پورونه او مرستي دي. البته پورونه وروسته بیا په بیلابیلو قسطونو سره ادا کیږي او کله هم د پور ورکوونکو له خوا په بشپړ ډول ښښل شوي هم دي. افغانستان هم له بیلابیلو هیوادونو څخه پورونه اخیستي دي چې یو شمیر یې ادا او یو شمیر یې ښښل شوي دي مثلا روسیې په ۲۰۰۶ کال کې د پخواني شوروي اتحاد له خوا ټول ورکړل شوي پورونه وښښل. همدا رنګه بلغاریا هم د فرانسې په غونده کې خپل پورونه وښښل، اما بهرني مرستي او بلاعوضه پورونه وروسته پاتې او اړو هیوادونو ته په وړیا ډول ورکول کیږي ، تر څو خپلې اړتیاوې وړباندې پوره او ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروژې وربانډې تطبيق کړي. دلته دا خبره ذهن ته راځي چې بهرنې کمکونه، ګرانتونه او پرمختيايي رسمي مرستې بايد څرنګه وپيژندل شي.

په تيرو وختونو کې ګڼ شمير ننيو پرمختللو صنعتي هيوادونو د(grants) تر عنوان لاندې همدا ډول مرستې تر لاسه اود خپلې اقتصادي پرمختيا لپاره يې ورڅخه کار اخيستې او نن ورځ هر يو يې په خپل ځان متکي هيوادونه دي. هغو هيوادونو هم دا ډول مرستې تر لاسه کړې دي چې يو مهال له ناوړه ناخاپي پيښو څخه متاثره شوي او د جګړو له امله يې اقتصاد ځپل شوی و. په دې توګه ثابته شوه که دغه بهرنۍ مرستې په ښه ډول ولګول شي د پرمختيا لامل کيداى شي، خو د بې کفايته برنامه ريزۍ په اثر کيداى شي دغه منابع سمې ونه لګول شي. په تيره بيا بهرنۍ مرستې هغه وخت په موثرډول نشي لګول کيداى چې ددولت په مالي پلان کې شامل نشي، بلکې به تيت او پاشان ډول مصرف شي. يو شمير بهرني هيوادونه مرسته اخيستونکو هيوادوکې مرستې د غير حکومتي نهادونو په لاس مصرفوي، خو يو شمير نور يې د ماليې وزارتونو له طريقه انتقالوي دغه دوهم شکل يې مناسب او غوره دی.

په افغانستان کې بهرنۍ مرستې او دهغو د لګولو طرز تقريبا نيمه پيړۍ تاريخ لري چې په لنډ ډول به لږ وروسته بيان شي.

**<u>په نړۍ کې د بهرنيو مرستو څرنګوالی:</u>**

داقتصاد د علم او د مالي جريان له نظره بهرنۍ مرستې هغه حکومتي منبع ده، چې له يوه هيواد څخه بل هيواد ته ليږدول کيږي، يعنې له پر مختللو هيوادونو څخه بل د مرستې وړ پرمختيايي، وروسته پاتې يا جګړه ځپلي يا د طبيعي نا څاپي پيښو له امله زيانمن شوي هيوادو ته رسما ليږدول کيږي. يعنې بهرني مرستې د منابعو ا ونقدي جريان هغه بهير دی چې موخه ورڅخه د وروسته پاتې هيوادونو په پښو درول وي، کيداى شي دغه مرستې له وروسته پاتې هيوادونو سره په ناخاپي ، سختو او بحراني شرايطو کې وشي او ياهم کيداى شي هر وخت او په پرله پسې توګه وشي. يو شمير پرمختيايي هيوادونه په خپل اقتصاد کې د صادراتو د حجم د ورځ په ورځ زياتوالي د هيلې تر څنګ بهرنۍ پانګې اچونې او بهرنيو مرستو ته د توقع په سترګه ګوري. دلته بايد دغه هره توقع بهرنۍ مرسته ونه ګڼل شي. بلکې يوه يې پانګه اچونه او بله يې بهرنۍ مرسته ده. په عمومي توګه بهرنۍ مرستې په دو ډولونو ويشل کيږي:

1. ر سمي عامه مرستی(Public aid): دا حکومتي منبع لري او دوروسته پاتې هيوادونو د اقتصادي ودې په منظور ورکول کيږي. دې ته (Official Development Assistance) ويل کيږي. کلونه کلونه کيږي چې د متحده ايالاتو، اروپايي هيوادونو، جاپان، روسيې، کانادا او استراليا له خوا ګڼ شمير افريقايي، آسيايي او دلاتيني امريکې هيوادوته دغه ډول مرستې رسول کيږي. دا مرستې په لنډيز سره ( ODA) بلل کيږي.
2. غير رسمي مرستې: دا ديو شمير اعانو، خيراتونو، وصيتونو او دځينو خپلواکو ادارو د سوغاتونو ا وهديو څخه عبارت دي چې اکثرا په بيړنيو حالاتو کې د بشري مرستو په بڼه تر سره کيږي. دا د نا حکومتي مؤسسو(Non-government organizations يا NGOs) مرستې او فعاليتونه دي، چې په هغو زيانمنو شويو سيمو کې د بشري مرستې په بڼه ورکول کيږي چې هلته حکومتونه رسيده ګې نشي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی او دوهم ډول دواړه مرستی د بهرینو کمکونو(F.A) په نامه یادیږی، خو په اقتصـاد کـی زیـاتره له بهرنیو مرستو څخه منظور هماغه رسمی کمکونـه(ODA) دی چی مونږ مخکی ورڅخه یادونـه وکړه او هغه په رسمی توګه ثبت او په رسمی احصاییه کی شمیرل کیږی.

په خارجی کمکونو کی ډیر مسایل شته چی باید پاملرنـه ورتـه وشـی، دا ځکه چـی پـه عمومـی تعریف کی بهرنی مرستی له پرمختللو هیوادو څخه وروسته پاتی هیوادوته د منابعو لیږدول دی، خو باید په یاد ولرو چی ځینی وختونه وروسته پاتی هیوادو تـه د پرمختللو صنعتی هیوادونـو لـه خـوا پـه ټیټـه بیـه د تعرفی وضع کول او په ټیټه بیه د صنعتی تولیداتو پلورل هم یو ډول مرسته ده، خو په دی مرستو کی هیڅ هم نه لیږدول کیږی. همدارنګه ځینی وختونه پرمختللی هیوادونـه وروسـته پـاتی هیـوادو تـه داسـی اجازه پانی ورکوی چی دهغو له مخی د وروسته پاتی هیوادونو صـادراتی تـوکی د پرمختللو هیوادونـو په مارکیتونو کی په لوړه بیه و پلورل شی. پـه دغـه دوهمـه بیلګـه کـی هـم کـوم څیـز نـه لیږدول کیـږی، بلکی دغه ډول اجازه پاڼه وروسته پاتی هیوادو تـه یـو ډول نقده او خالصـه ګټـه بلـل کیـدای شـی. کیـدای شی ظاهرا د ګټی کولو لپاره د بهرنی پانګی لیږدول هم مرسته و بلل شی، خو دا دتجارت او ګټی لپـاره ده، نه د سیده مرستی پـه خـاطر او نـه هم د انکشـافی اهدافو لپـاره. دلتـه بایـد پـوره پاملرنـه وشـی چـی وروسته پاتی هیوادو ته له پر مختلو هیوادونـو څخـه د یـو شـمیر انتقـالاتو بڼـه د ګټـی لپـاره ده. دلتـه بایـد پوره پاملرنه وشی چی وروسته پاتی هیوادته له پرمختللو هیوادونو څخه د ګټی په موخـه د خصوصـی پانګی یا شخصـی پانګی لیږدول مرسته نه ده، یعنی هر بهرنـی هیـواد هرومرو مرسته کوونکی نه دی ، بلکی بهرنـی مرسته باید اعلان شوی او رسما منل شـوی وی او وروسـته تر هغـه انتقـال ومـومی. نـو ددی لپاره چی پورتنـی ټکی ټول ښه روښانه شی، د بهرنـی مرستی لپاره یو بل تعریف هم راوړو:

وروسته پاتی هیوادو ته د پانګی هر هغه ډول جریان چی د وروسـته پـاتی هیـواد د اقتصـادی پرمختیـا لپاره وی، بهرنـی مرستو کی شمیرل کیږی، چی دا باید هرومرو لاندنـی ځانګړتیاوی ولری:

الف): ددغه جریان موندلو هدف باید ډونر یا مرسته کوونکی هیواد ته تجارتـی شکل ونه لری

ب): دغه جریان باید د ژمنو او په سپارښتنی ښو باندی وی، چی دا له تجارت او ګټی کولـو سـره تـوپیر لری. یعنی دا د پرمختیا لپاره د منابعو متعهدانه سپارل دی.

دلته ګورو چی پـه دغـه وروستی تعریف کـی هم یـوه پوښتنه پیدا کیږی چی آیـا نظـامی مرستی چـی پورتنی یوه ځانګړنه هم نه لری، په مرستو کـی راځی؟ ددی ځواب لپاره باید وویل شی چی:

له یوه وروسته پاتی هیواد سره ددوی د ستونزو د حل لپاره هر ډول لاسنیوی بهرنـی مرسـته ده. کیدای شی ځینی د اجناسو پـه بڼه وی، ځینـی د نقده جریـان پـه بڼـه او د عاید د ښـه ویش لپـاراو یـا هـم د ملـی اقتصاد دجوړښت د بدلون په خاطر وی. په عمومی توګـه بهرنـی مرسـتی د وروسـته پـاتی او اړ هیـواد لپاره لاندی ګټی لری:

- دفقر په کمښت کی مثبت رول
- د اقتصادی زیر بنایی پروژو فعاله کیدل
- د جګړی، وچکالی یا بل ناخاپي عامل د تاثیراتو مخنیوی
- کلیوالی انکشاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د استخدام د فرصتونو ایجاد
- ددوی دداخلی منابعو په کار اچول تر څو دوی ته د اقتصادی فعالیتونو امکان برابرشی او داسی نور مقاصد.

**ولی پرمختللی هیوادونه وروسته پاتی هیوادو سره مرسته کوی؟**

بیلابیل عوامل شته چی یو شتمن او ځواکمن هیواد له یوه بل اړ کوچنی یا ضعیف هیواد سره مرسته وکړی، لکه : سیاسی عامل، په مرسته کیدونکی هیواد اغیزه غورځول، بشری انگیزه، تکنالوژیکی تړلتیا، په خپل حکومت اود هغه په غښتلتیا باندی د خپلو خلکو باوری کول او هغوی ته د یو ډول غرور ور په برخه کول او داسی نور، خو بیا هم دغه لاملونه په لاندی گروپونو ویشلای شو:

1 . مرسته ورکول د پرمختللو صنعتی هیوادونو او لویو ځواکونو له خوا ددوی په سیاسی ستراتیژی کی شامله خبره وی.
2 .دوی ځکه هم خوارو ملکونو سره مرسته کوی چی هغوی له روانی پلوه ځانته متمایل او لیوال وساتی
3 .خپلو تولیداتو ته د خرڅلاو مارکیټ پراخ کړی.
4 .نړیوالی اقتصادی اړیکی هم ددی ډول مرستو غوښتنه کوی او ورسره موافقه خبره ده.
5 .بشری عواطف او انسانی انگیزه او د پرمختللو هیوادونو او وروسته پاتی هیوادونو تر منځ د ډیر زیات توپیر او واټن راکمول

په تیره بیا افغانستان سره د بهرنیو مرستو مهم لامل دادی چی زمونږ هیواد اصلا د نړیوال کړکیچ او د سړی جگړی د عواملو له کبله ویجاړ شو او عوامل یی زیادتره بهرنی عاملین وو، نو ځکه اوس بشری احساس دا حکم کوی چی ددغو بهرنیو منفی عواملو دبیرته جبران په خاطر باید همدا بهرنی عوامل رغوونکی او مثبته برخه واخلی. له دی پرته په بهرنیو مرستو سره به د افغانستل کړکیچ او بحران خارج ته له سرایت کولو مخ واړوی او همدلته به حل شی او د تروریزم ریښه به وچه شی. یعنی په حقیقت کی د پرمختللو صنعتی هیوادونو له خوا مرسته، بیرته په خپله دوی سره هم یو ډول مرسته ده.

دبهرنیو مرستو رسول په حقیقت کی په خپله د دوی دامنیت، سرمایگذاری او سوداگری په گټه هم دی، نو ځکه دوی په تیرو وختونو کی گڼ شمیر هیوادونو سره مستی کړی او دا لړی همداسی جریان لری.

گڼ شمیر هیوادنو په تیرو دولسو کلونو کی افغانستان سره پراخه مرستی وکړی. خو دا هم باید وویل شی چی په نړی کی همدا اوس هم گڼ شمیر نور داسی هیوادونه شته چی بهرنی مرستی ورسره کیږی مثلا مصرسره له دی چی زیات شمیر طبیعی منابع لری، خو بیا هم د نړی د زیاتو بهرنیو مرستو اخیستونکی هیواد دی. پاکستان د بهرنیو مرستو د اخیستو له پلوه له افغانستان څخه هم مخکی دی. ایتوپیا، سوډان اوگڼ شمیر نورهیوادونه. باید دا هم ووایو چی په اول قدم کی امریکا، آسترالیا، انگلستان او نور اروپایی هیوادونه له پاکستا ن سره راز راز مرستی کوی. بیا هم لکه هغومره چی پاکستان له بهرنیو هیوادونو سره تړلی پاتی دی له نیکه مرغه افغانستان دومره نه دی تړلی. افغانستان کولای شی د بهرنیو مرستو په کمک د خپلی اقتصادی زیربنا په جوړولو کاملا په خپلو پښو ودریږی او وروسته به په مستقلانه توگه د خپلو داخلی ریزرفونو او امکاناتو په کارولو سره به دترقی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختیا په لاره قدم اوچت کړی او ښه پرمختګونه به یې په نصیب شي. یعنې اوسنی ګڼ شمیربهرنی مرستی ، دسیاسی نظام او جوړښت د استحکام او د امنیت د تامین لپاره دی. مونږ کولای شو د پانګې اچونی او د خپلو امکاناتو په کارولو خپل ملی اقتصاد پرمخ بوځو، خصوصا زمونږ کانی سرچینی او جغرافیاوی موقعیت هم ډیر مساعد دی چی اقتصادی پرمختیا مو ور باندی تضمین کیدای شی.

**په نړی کی د بهرنیو مرستو تاریخچه:**

تر ډیره بریده پوری د بهرنیو مرستو ښه مثال د امریکی د متحده ایالاتو هغه مرستی دی چی وروسته ددوهمی نړیوالی جګړی له پای ته رسیدلو څخه یی جنګ ځپلی اروپا او جاپان سره وکړی. د امریکی متحده ایالاتو ددوهمی نړیوالی جګړی له پای ته رسیدلو وروسته، چی په هغی کی اروپا ته ډیر زیات زیان رسیدلی و، سمدستی د مارشال د پلان تر چتر لاندی مرستی پیل کړی چی ټولی دغه مرستی د لویدیزی اروپا جګړه ځپلو سیمو ته متوجه وی. وروسته بیا د ۱۹۵۰ م. لسیزی په ترڅ کی یو شمیر نورو پرمختیایی هیوادونو ته هم وغځیدلی ترڅو دوی د سوسیالیستی هیوادونو بلاک ته میلان پیدا نکړی، یعنی دغه بهرنی مرستی د امریکا او روسیی تر منځ د سړی جګړی یوه برخه شوه. امریکی د انډیوالی د ملاتړ(Support for friendly) د روحیی له مخی په سیاسی-اقتصادی او نظامی ډګرونو کی دا ډول مرستی لاپسی زیاتی کړی او ځان ته یی د نړی په ګوټ ګوټ کی نوی متحدین وموندل، تر څو چی دغه مرستی په ۱۹۶۰م.کال کی له جنوبی آسیا څخه نیولی تر لاتینی امریکا او افریقایی هیوادونو پوری پراخه شوی، خصوصا هغو هیوادونو ته زیات ارزښت ورکړل شو چی د جغرافیایی ستراتیژی له مخی یی ډیر اهمیت درلورد. په ۱۹۷۰م. کلونو کی د امریکی د متحده ایالاتو بهرنی مرستی د فارس د خلیج او کارابین پوری او تر ۱۹۸۰م. لسیزی پوری د مرکزی امریکی هیوادونو ته هم ورسیدی. پخوانی شوروی هم ګڼ شمیر آسیایی هیوادونو، افریقایی، لاتینی امریکی او داروپا د ختیز هیوادونو ته مرستی ورکولی او دهغوی ملی، پرمختیایی پروژی یی پیاوړی کولی. جرمنی، انګلستان او فرانسی هم د support for friendly د روحیی له مخی یو شمیر هیوادونو سره مرستی پیل کړی. په ۱۹۹۰ م. کی د پخوانی شوروی په ړنګیدو سره دغه مرستی د امریکی پخوانی لوی سیال فدراتیفی روسیی او او کراین ته هم ورسیدی. په ۱۹۹۱م. کی بوسنیا، رواندا او چین ته هم پاملرنه وشوه، خو له ۱۹۹۰م. کال وروسته په منځنی ختیځ کی د اقتصادی اړتیا او تحلیل پرځای د سیاسی دلایلو له مخی په بهرنیو مرستو کی ډیر بدلون رامنځته شو، خو د جاپان د هیواد مرستی بیا زیاتره د سیاسی انګیزی پرځای اقتصادی انګیزی لری. جاپان خصوصا په آسیا کی خپلو ګاونډیو هیوادو ته د اقتصادی مقاصدو او د سوداګری د پراختیا په موخه مرستی ورکوی، تر څو هلته خصوصی سکتور او شخصی پانګه اچونه وده ومومی او په تجارت کی پراختیا راشی. که چیری په عمومی توګه یو تحلیل ترسره شی له ۱۹۴۰م. کال څخه تر اتیایمی لسیزی پوری د پرمختللو هیوادو له خوا وروسته پاتی هیوادو ته د انکشافی کمکونو په چوکاټ کی ۴,۴ بیلیون ډالره مرسته شوی وه. یوائې په ۱۹۸۵م. کال ددغو مرستو اندازه ۴,۲۹ بیلیون ډالره شوه چی په ۱۹۹۹ کی تر ۴,۵۴ بیلیونو ډالرو ورسیده او په ۱۹۹۹م. کی د ډونرانو شمیر ۲۱ او د مرستو اخیستونکو پرمختیایی او وروسته پاتی هیوادونو شمیر له ۳۸ څخه زیات و. که چیری د مشخصو هیوادونو له مرستو تیر شو، ګڼ شمیر موسسات او بانکونه هم شته چی وروسته پاتی هیوادونو سره د پرمختیا په برخه کی کمکونه کوی. لکه د آسیای پرمختیا بانک ، اسلامی بانک او نړیوال بانک. دلته به د بیلګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توګه د نړیوال بانک ( WB) د فعالتیونو د طرز او د هیواد نو د اقتصادی پرمختیا په برخه کی دهغه د رول په هکله خبری وشی.

نړیوال بانک اوپرمختیایی هیوادو سره یی مرستی:

د نړیوال بانک او د پیسونړیوال صندوق جوړښت تردېره سره ورته دی. دواړه ۱۸۱ غړي هیوادونه لري، د غړو هیوادونو د رایو ځواک د دوی په کلنۍ ګډونونډې پورې اړه لري. کلني ګډونونډه د غړیو هیوادونو اقصادي حالت ته په پام سره توپېر کوي. یاني ګډونونډه او د رایې کاروني ځواک د هیوادونو د اقتصادونو د کچې په تناسب یو له بل سره توپیر کوی. بانک او صندوق دواړه د پوروورکوني سرچینې دي. پر دې سربېره، دوی د بهرنۍ پانګې راجلبولو لپاره هڅونکی رول لوبوي او رغنده مشورې او تخنیکی مرستې برابروي. د دوی دکار طرز او موخوله توپیر سره سره، د دوی مرستندو یی پروسې یو له بل سره ډیر لږ توپیر هم توپیرلري. د پیسو نړیوال صندوق اره موخه د اسعارو د ادلون بدلون د مارکیټونو په کړنو باندي څار او دهغوی کنترول کول ؤ، خو د هیوادونو کورنۍ رغونه او بیا رغونه د نړیوال بانک لومړۍ موخه ده. د نړیوال بانک له موخو څخه یوه یی داده چې په یو هیواد کې په اړینو ساحاتو کې د پانګوني لپاره شرایط مساعد کړي او هڅه وکړي چې اقتصادي وده چټکه او د ژوندانه کچه لوړه شي. د تخنیکي مرستو او مشورو په ورکولو سره پرمختیایي هیوادونه په ځان دبسیا اقتصادي ودې پرلور روان کړي، بنسټیز جوړښتونه په پښو ودروي او په هیوادونو کې د پرمختګ او ودې رامینځته کوونکې اداري جوړښتونه جوړ او خوندي کړي.

د وخت په تېرېدو سره د نړیوال بانک سازماني جوړښت زیات توپیر کړی دی. په لومړیو وختونو کې د بانک ټول پورونه د بانک د یوې ادارې له خوا ورکول کېدل. دغه اداره د بیارغونې او پرمختګ نړیوال بانک نومېده. د بیارغونې او پرمختګ نړیوالې ادارې اره موخه د هغو اقتصادونو بیا په پښو دروول ول، چې د دویمې نړیوالې جګړې په پایله کې له پښو غورځېدلي ول. سره له دې چې د دغې اداري د پور ورکولو موخو توپیر کړی دی؛ خو بیا هم په مجموع کی د دغې ادارې په پور ورکولو کې له پیله تر اوسه لوی توپیر نه تر سترګو کېږي.

د ۱۹۶۰ مو کلونو په وروستیو کې د مارشال پلان د بریالیتوب له امله د اورپا بیا رغونه نږدې پوره شوې وه. نور نو بانک اړ نه ؤ چې د اروپا د بیا رغونې لپاره زیاتې هڅې وکړي. نړیوال بانک خپل پام بیوزلو او وروسته پاتې هیوادونو په لور واړاوه. په ۱۹۶۰م. کال کې د پرمختګ نړیواله اداره جوړه شوه. د دغې ادارې د جوړولو لویه موخه په وروسته پاتې هیوادونو کې پرمختګ ته کار کول ول. د پرمختګ نړیوالې ادارې او نړیوال بانک په موخو کې لوی توپیر نه ترسترګو کېږي. توپېر په دې کې دی چې د پرمختګ د نړیوالې ادارې مالي مرستې او پورونه په خوار ارزانه او له تخفیف څخه په ډکه توګه ترسره کېږي. دغه پورونه هغو هیوادونو ته ورکول کېږي چې د سړی سر عاید کچه یې تر یوې مالومې کچې ټیټه وي. د دغې ادارې پورونه د خورا اوږده مهال لپاره دي. یعنی د پور ورکولو تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسانه اوساده شرایط ! د دغو پورونو مهال د نړیوال بانک د پورونو له مهال څخه څو برابره زیات دی. پردې سربېره، د پرمختګ د نړیوالې اداري پورونه بی له کمی ربح څخه دي. د دغې اداري ماموریت داده چې خوار او وروسته پاتې هیوادونه له اقتصادي بې ثباتی سره مخامخ دي او نه شی کولی چې سوداګریز پورونه واخلي، نو ځکه باید هغوی له دغی بی ثباتئ څخه وژغورل شی. د دې ترڅنګ، په دغو هیوادونو کې له پانګونې څخه ژر عاید نه شي ترلاسه کېدای. همدا لامل دي چې دوی د پور په وړاندی ربح، تکتانه او نور شرایط نه شی پوره کولی.

د بیارغونې او پرمختګ نړیوال بانک او د پرمختګ نړیواله اداره په ګډه د نړیوال بانک جوړونکي دي. یانې نړیوال بانک له دؤو ادارو څخه جوړ شوی دی، چې : یوه یې د بیاروغونې او پرمختګ نړیوال بانک او بله یې د پرمختګ نړیواله اداره ده. د دغو ادارو ترڅنګ یوه دریېمه او ترلې اداره کار کوي چې نړیواله مالي اداره نومېږي. د نړیوالې مالي اداري کارکوونکي د پرمختګ او بیارغونی نړیوال بانک او د پرمختګ نړیوالې اداري کارکوونکي دي. خو د دغې اداري قانوني او مالي حیثیت ځانته او بېل دی. نړیواله مالي اداره په ۱۹۶۵ م. کال کې رامینځته شوه. د اداري موخې هماغه د نړیوال بانک موخې دي، خو د پور ورکولو ډول او د ربح کچه یې توپیر لري. دغه اداره کولی شي چې خصوصی سکتور سره هم مرستې وکړي او د نړیوال بانک د پانګونې لپاره لاره هواره کړي. په بیوزلو هیوادونو کې د خصوصی سکتور(شخصي سوداګرئ )په رامینځته کولو سره اداره هڅه کوي چې اقتصادي ښیرازي راوستل شي او د دریېمي نړئ هیوادونه د پرمختګ په لور وخوځېږي.

د نړیوال بانک اصلی موخه:

د نړیوال بانک اره موخه له جګړې وروسته د اقتصادونو بیا په پښو درول ؤ . تمه کېده چې د نړیوال بانک هڅې به په لویو هیوادونو کې مالی ثبات رامینځته کړي. خو بیا هم نړیوال بانک تر ۱۹۷۹ مو کلونو پوري وړوکې اقتصادې تګلارې لرلې. له جګړې ورسته په لومړئ او دویمه لسیزه کې بانک هڅه وکړه چې بیارغونه وشي او بنسټیزجوړښتونه په پښو ودرول شي. د مارشال پلان له بریالیتوب سره سم د بانک پام هم د وروسته پاتې هیوادونو په لور شو. په پرمختیایی او وروسته پاتي هیوادونو کې د بانک هڅې تردېره په اروپا کې د بیارغونې له هڅو سره ورته وې. د بانک لپاره لومړئ موخه د بنسټیزو جوړښتونو بیا په پښو درول وو، ترڅو وروسته پاتي هیوادونه د په ځان بسیا اقتصادونو لرونکي شي.

خو له بده مرغه د بانک هڅې په پرمختیایی هیوادونو کی هومره اغیزناکې نه وې څومره چې په اروپا کې وې. د دې کار لوی لامل په پرمختیایی او وروسته پاتې هیوادونو کې د اداري جوړښتونو کمی او د په کارپوه کارګرو نه شتون ؤ(ظرفیتونه ټیټ او د مدیریت بحران موجودو). بانک دې پایلې ته ورسېد چې باید په لومړیتوبونو باندي یوځل بیا کتنه وشي. د دې اړتیا پېښه شوه چې د لویو پروژو ترڅنګ وړې پروژې هم پیل شي؛ داسې پروژې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیوزلو عامو کورنیو ته یې ګټه ورسیږي. اړتیا پېښه شوه چې په وروسته پاتې هیوادونو کې بانک خپلې تګلارې ته بدلون ورکړي.

د نړیوال بانک پورونه د کرکیلي په برخه کې خورا ډېر شوي دي. بانک د کرونده ګرو مالي ملاتړ کوي او د اړینو خوراکي توکو په برخه کې پور ورکولو ته ډېره لیوالتیا لري. د بانک دلیل دادی چې د اړینو خوراکي توکو په برخه کې د کرونده ګرو ملاتړ کول ددې مانا لري چې د خوراکي توکو صادرات و هڅول شي. په دې توګه به هیواد ته بهرنی پیسې راماتي شي او د بیوزلو کرونده ګرو عاید به لوړ شي. داچې د کرکیلي په برخه کې په پور ورکولو سره د بیوزلو کورنیو لړ. او ډېره توښه کېږي، د نړیوال بانګ پانګونې په دغه برخه کې زیاتی شوې دی، ځینې نورې برخې یې هم پوښلي دي چې ځینې بیلګې یې ښوونه او روزنه، پاکې اوبه برابرول، روغتیاپالنه د کوچنیو شخصي کاروبارونو وده او نور دی. د نړیوال بانک په نورو دندو کې هم زیاتوالی راغلی دی. تخنیکي مرستې، څېړنیزې هڅې، خلکو ته د معلوماتو او احصایو برابرول، د شخصي کاروبارونو ملاتړ، دولتې موسسو ته مرسته او نور هغه برخې دي چې نړیوال بانک پکې فعاله ونډه اخلي.

د ۱۹۷۰ مو کلونو له وروستیو څخه د نړیوال بانک د پیسو ډېری لګښت په بنستیزو جوړښتي بدلونونو ترسره کېږي. بنسټیزجوړښتي بدلونونه په هغو هیوادونو کې ترسره کېږي چې زیاتې اقتصادي ستونزې ولري او اړتیا وي چې په اقتصادي جوړښت کې یې بدلون رامینځته شي. یو شمیر انتقاد کوونکی په دې اند دي چې د نړیوال بانک موخه، څنګه چې له لومړی سره یا د پیل په وخت کې وه، هغسی تر سره نه شوه، یعنې بیوزلی لا هم شته. د غریبو او بې وزلو د ژوندانه په کچه کې د لوړاوي راوستل نه دي تر سترګو شوی، خو داچې نړیوال بانک خپلې زیاتې پیسې اوس په بنسټیزو بدلونونو لګوي نو غریبو ته یې مخامخ ګټه لږ. یا هیڅ نه رسیږي. بل پلو دا بدلونونه د شتمنو او غریبو ترمینځ واټن لا اوږدوي او فقر زیاتوي. ددی ځواب هم ویل شوی دی. د انتقادنو ځواب دادی چې بانک خپله مرسته کوی، دا چې د لږ. پرمختیا امکان برابر شی هم لویه خبره ده، د دوامداره ثبات او پرمختګ او ټولینز عدالت رعایتول په خپله د مرسته اخیستونکو هیوادونو د حکومتنو دنده ده، دوی باید دی برخه کی خپل مسولیت ادا کړی، دا ددودی خپله پالیسی ده.

د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک ترمینځ همکاري:

په لومړیو کې د نړیوال بانک او نړیوال صندوق د دندو ترمنیځ ښکاره توپیر شتون درلود. هریو یې خپلې ځانته او ځانګړې موخې پرمخ بېولې. تر ۱۹۷۰ مو کلونو وړاندې د تادیو د موازنې کمښت به د لنډمهالو بهرنیو پیسو په ور کولو سره له مینځه ولاړشی. څنګه چې د اسعارو د ادلون بدلون په کابو کې ساتلو ټول مسولیت په بریټن ووډز کنفرانس کې صندوق ته سپارل شوی ؤ، نو بانک په دې اړوند ښکاره کومه هڅه نه کوله. صندوق د ادلون بدلون د مکانیزم او تادیو د موازنې روغ ساتلو ته ژمن پاتې شو. د دغو موخو لاسته رواړلو لپاره صندوق لویې اقتصادې تګلارې کارولې. بل پلو د بانک موخه داوه چې د کوچنیو اقتصادي تګلارو پرمټ کورنی تولید زیات کړي، رغونه او بیا رغونه وشي او د خلکو د ژواندانه کچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړه شي. خو په راوروستو کې د کړنو او مسولیتونو دغه بې‌لوالی ورو ورو کم شو. د تیلو په نرخونو کې لوړوالی، سوداګریزې ستونزې، په صادراتو کې کمښت او نور هغه لاملونه ول چې ستونزې یې ژورې کړې او لویو بنسټیزو بدلونونو ته یې لاره هواره کړه. صندوق او بانک هڅه وکړه چې حالات په کابو کې وساتي او په دې توګه د دوی د کار ساحې هم سره نژدې او همغږی شوې.

صندوق و پتیله چې د پرمختیایی هیوادونو سوداګریز دریځ د پرمختللو هیوادونو په وړاندې ښه کړي. د دغې موخې لپاره صندوق وموندله چې د ادلون بدلون د میکانزیم ترڅنګ په نورو برخو کې هم باید کار وشي، د بېلګې په توګه، د کورنیو بازارونو وده، په دولتي لګښتونو کې د کمښت راوستل، ټیټ تورم او ځینې نورې لویې او کوچنۍ ساحې. په دې توګه صندوق په هغو برخو کې هم په لاسوهنې پیل وکړ چې د بانک د کار په دایرې کې پرتې وې. بانک دې پایلې ته ورسېد چې د کورني تولید په کچې کی اوچتوالی یاد ملی تولید د ډېرښت راوستلو لپاره باید ځینې بهرني فکتورونه هم په پام کې ونیول شي او بنسټیز بدلونونه راوستل شي. بانک په دې توګه په هغو ساحو کې ګام واخیست چې د صندوق د مسولیت په دایره کې پرتې وې.

څنګه چې د تادیو د موازنې تعادل یا د تادیاتوبیلانس د دې مانا نه لري چې په اوږده مهال کې یو هیواد کاملا په ځان بسیا دی، نو بس له اقتصادي پلوه سم،روغ او پیاوړی دی، بلکې دا یواځې یو شرط دی، مهم نور شرطونه دی لکه غیر مقداری معیارونه او د اتباعو د ژوند کیفیت، عامه خدمات اونور؛ بانک او صندوق په دې لټه کې دي چې په زیات شمیر ساحو کې کار وکړي او هرڅه خوندي کړي. د نړیوال بانک هغه پورونه او مرستي چې د بنسټیزو جوړښتي بدلونونو لپاره ورکول کېږي د صندوق له هغو مرستو سره چې په اوږدمهالو ورته ساحاتو کې کېږي، ډېر توپیر نه لري. له همدغه امله په ۱۹۸۰ مو او ۱۹۷۰ مو کلونو کې د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق په کړنو او هڅه کې نژدې توب او همغږی راغله. اوس مهال دا هڅه کېږي چې د کورنیو او بهرنیو ستونزو د مخنیوي لپاره باید د لوی اقتصاد تګلاري او د کوچني هغه همغږې شي. له دې امله بانک او صندوق په خپلو کې ملګرتیا او همغږي ډېره کړې ده.

د نورو ادارو مخالف نظر:

د نړیوال بانک او نړیوال صندوق په هڅو کې همغږي پیدا شوې ده، خو د دې همغږۍ سره سره د دوی له کړنلارو او تګلارو سره نورې ادارې د نظر اختلاف لري. ګوتنیونکې ادارې په دې اند دي چې د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق وروستیو هڅو بیوزلي کورنۍ له لا زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان کړې دي. د صندوق او بانک د تګلارو په پایله کې د دولتونو لګښتونه کم شوي دي او له امله یې په تنخواګانو کې کمی، د بې روزګاري لوړه کچه، د کوپون نشتوالی، په دولتي خدمتونو کې کمی او نور....ټول هغه څه رامینځته شوي دي چې د بې وزلو خلکو ستونزې یې څوبرابره کړې دي. د بانک او صندوق له مرستو او پورونو څخه برخمن شوي هیوادونو کې د ماشوم مړینه او سو تغذی زیاته شوې او په ښوونځیو کې د ماشومانو داخله کمه شوې ده. کره کتونکي دعوا لري چې ګواکي د نړیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانک او د پیسو نړیوال صندوق له خوا په پوراخیستونکو هیوادونو باندې لګیدونکې محدودیتونه د پرمختګ سره اړخ نه لګوي او د دې لامل کیږي چې بیوزلې خلک لا زیات له ستونزو سره لاس او ګرېوان شي

ډېری پرمختیایي مرسته کوونکی اداري په خپلو هڅو کې د بې روزګاری او فقر کمښت ته زیاته پاملرنه کوي. دوی دا هم وایي چې په ځیني هیوادونو کې د خوارځواکی او فقر کچه لوړه شوې ده خو بیا هم بانک او صندوق دغو هیوادونو ته بریالي هیوادونه وایي او په خپلو لاسته راوړنو کې يې شمېري. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام(UNDP) په خپل ۱۹۹۰ کال راپور ( د انساني پرمختګ راپور) کې د انساني پرمختګ شاخص معرفي کړ او توصیه یې وکړه چې دا شاخص دي د پرمختګ د یوه بدیل شاخص په توګه وکارول شي. د ملي عاید، منځنی عمر ، د ښووني او روزنې کچې او د علمي څېړنوشاخصونه په ګډه د یوه هیواد د پرمختګ او د خلکو د هوساینې سم انځور وړاندې کولی شي او د دغو ټولو په اساس د بانک او صندوق د هڅو د بریالیتوب څرنګوالی مالومېدلی شي. یونیسیف په خپله یوه څېړنه کې وموندله چې د دغه ډول محدودیتونو، لویو اقتصادي تګلارو او بنسټیزو بدلونو د ناسمو پایلو زیات اغیز به په ماشومانو باندې وي. څېړنه مني چې بنسټیز بدلونونه د یو هیواد د راتلونکې لپاره دي خو ټینګار کوي چې دا ډول بدلونونه باید په خورا احتیاط رامینځته شي ترڅو په بیوزلو خلکو یې ناسم اغیز تر سترګو نشي.

**په دغو مرستو یوه کره کتنه:**

د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق په تګلارو باندې د کره کتنو او ګوتنیونو شواهد شته، چې وایي دغه اداري په خپلو کړنو کې د بیوزلو خلکو له خوندې ساتلو څخه پاتې راغلې دي او د خپلو تګلارو په سمونه کې یې لازم ګام نه دی اوچت کړی. کله نا کله دغه اداري د خپلو تګلارو او لګېدلو محدودیتونو څخه راولاړو شویو ستونزو ته د ځواب ویلو په موخه ځیني اضافي مرستي کوي خو په خپلو تګلارو کې اساسي بدلونونو ته یې زړه نه دی ښه کړی. په ۱۹۹۵ کال کې دنړۍ لویو اوو صنعتي هیوادونو په کاناډا کې غونډه وکړه. په دې غونډه کې د صندوق او بانک د کړنو د ښه کولو په موخه یو لړ وړاندیزونه وشول. د دغو وړاندیزونو موخه داوه چې په پرمختیایی او ورسته پاتې هیوادونو کې د بانک هڅو ته ښه والی و ښښي او په هغوی باندې لګېدونکي محدودیتونه کم کاندي. په کار خو داوه چې دوی دې ته پام وکړي چې د بانک او صندوق د هڅو په پایله کې باید د بې وزلې کورنیو ملاتړ وشي نه داچې هغوی له لا زیاتو ستونزو سره مخامخ کړي؛ خو له بده مرغه چې دغه مهمه موضوع له پامه وغورځوله شوه. شنونکي په دې اند دي چې د بانک او صندوق انځور به د کره کتونکو ترمینځ تر هغه وخته تر تاوده بحث لاندی وی، ترڅو چې دا مهمه موضوع د بانک او صندوق له خوا مخامخ تر غور لاندې ونه نیوله شي. په افغانستان کی هم بهرنیو مرستو د عمومو خلکو، په تیره بیا د کلیوالو په ژوند کی ډیر مثبت بدلون رانه وست. بیوزلی لا هم شته، دشتمنو او بیوزلو دژوند توپیر زیات شو، په ښارونو کی د عیاشی روحیه خوره شوه، د نورو لاس ته کتل او لټی عامه شوه، د غیر حکومتی موسساتو له خوا پیسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيرې ولګول شوې، خو ټولينيزګټورتوب او مثمريت يې نه و. دغه موسسات چې ټول په بهرنيو مرستو چليدل، له رسمي او قانوني دولت سره يو بل موازي دولت يا حکومت جوړ کړی و، هيواد په يوه مصرفي مملکت بدل او د لوکسو اجناسو واردیدل عام شوأ، سوداګرۍ صرف د يوه دلالي تجارت بڼه نيولې، د پيسو ملاتړ ملي توليد نه بلکې د بهرنيو منابعو څخه د بانک د زيرمو ليلامول دي، د واقعي ثبات پرځای يو ډول کاذب ثبات تر سترګو کيږي، چې د بهرنيو منابعو په کمښت سره به نوسانات او د بحران نښې را څرګندې شي، د نادولتي موسساتويو شمير قراردادیان او قراردادونه د حکومت ضد ځواکونو دپیاوړتيا سر چينې وګرځيدې، د ناحکومتي موسساتو له مصونيت او ملکيتونو ناوړه استفادې وشوې او داسې نور ځوروونکي مثالونه وجود لري او کره کتوونکي وربانديٍ بحث کوي. په دې توګه د بهرنيو مرستو يوه لويه برخه تر کره کتنې لاندې ده، خو موږ به دلته د نورو نړۍ پر ځای اصلي تمرکز د افغانستان پر وضعيت او افغانستان سره په شويو مرستو باندې وکړو.

## افغانستان او بهرنی مرستې:

دا يوائې نه چې افغانستان سره وروسته تر ۲۰۰۱م. کال بهرنی مرستې پيل شوې، بلکې افغانستان مخکې تر کورنيو جګړو هم لکه د ګڼ شمير نورو هيوادونو په شان يو شمير مرستې له بيلابيلو هيوادونو څخه تر لاسه کړې دي، خو له ۲۰۰۱م. کال وروسته دغه هيواد سره د بهرنيو مرستو حجم زياتوالي وموند. د بيلګې په توګه د ميلادي پيړۍ له پنځوسمو کلونو وروسته افغانستان سره بهرنۍ مرستې زياتې شوې، چې زموږ دوه- درې پينځه کلن پلانونه د هغو پرمټ تطبيق شول، خو هغه مهال په هيواد کې سياسي وضعيت ثبات درلود افغانستان يو ناپيیلې مثبت فعال سياسي دريځ درلود او دناپيليو هيوادنو يوفعال غړی و، په مجوع کې خپلواکې غوښتونکې غورځنګونه د ودې په حال کې و او دنړۍ توازن برابر و، يو خواته سوسياليستي بلاک و اوبلې خواته غربي نړۍ وه چې دوی هر يوه په شکل د اشکالو د سيالي له مخې وروسته پاتې او پرمختيايي هيوادوسره مرستې کولې. خو وروسته د سرې جګړې له پای ته رسيدو څخه وضعيت ډير بدل شو. د پرمختيايي ستراتيژۍ او اوسنی وضعيت په پرتله د افغانستان لومړنی پينځه کلن پلانونه ډير ګټور او کامياب وو. ددې موضوع د ښې توضيح په خاطر به د اوسنی وضعيت لنډ پس منظر له نظره تير کړو:

د بن په کنفرانس (لومړی بن) کې او د توکيو په کنفرانس کې خاصتا د بشرې وضعيت د ښه کيدو او دسياسي پروسې د بشپړتيا لپاره زياتې مرستې ومنل شوې، خو د ۱۳۸۴ ل. کال د کب په مياشت کې د لندن په کنفرانس کې د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ Afghanistan national development strategy يا (ANDS) لپاره د مرستو يو لوی حجم ومنل شو، بيا د توکيو اود بن دوهم کنفرانس، همداسې پسې د پاريس ، لندن او لزبن کنفرانسونو هم دافغانستان د پرمختيا په خاطر د مرستو ژمنې وکړې، په ۲۰۱۰م. کال کې په کابل کې يو بل کنفرانس داير شو چې د بهرنيو مرستو يو مشروط کنفرانس و او مرستې يې دې پورې مشروط وبللې چې ريښتيا هم په ښه شکل د پرمختيا لپاره ولګول شي. دافغانستان دولت دا شرط کېښود چې د مرستو ډيره برخه بايد د افغانستان دولت ته وسپارل شي، ځکه مخکې تر دې په سلو کې له اويا زياته برخه مرستې اينجيو ګانو ته ورکول کيدې او ددولت له برنامو څخه بهر بې له کوم مسؤليت څخه مصرف کيدې او کوم شفافيت يې نه درلود، له دې پرته د پروژو په تطبيق کې داخلي قراردادیانو د مسوليت پوره احساس نه کاو. دغه حقايق ورو، ورو د يو شمير ارزيابيو او نظارت کولو په پايله کې څرګند او دولت ته پوره تجربه پيدا شوه، حال دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

جی د هیواد د لومړنیوپینځه کلنو پلانونو د تطبیق پر مهال بهرنـی مرستی او ګرانتونـه ټول ددولت د برنامو له مخی تر لاسه او لګول کیدل. هغه وخت ډیر کار زیربنای برخو کی وشو. د کابل پـه همدی کنفرانس (۲۰۱۰م. کـال)کی د لـومړی ځـل لپـا ره دبهرنیـو ځـواکونـو د وتلـو او د امنیتـی چـارو د انتقـال موضـوع هم مطرح شوه. راسموسن د نـاټو ملکـی رییس ټینګـار وکړ مرستی بـه وروسته تردی هم د پرمختیـا او هـم ددفـاعی ځـواکونـو روزنـی تـه ډیـری شـی. د کابـل د کنفـرانس یـو تـوپیر لـه نـورو کنفرانسونو سره داو، چی په هغه کی د عربی متحده اماراتو او دایران د بهرنیو چارو وزیرانو هم د مرستو وعده وکړه. همدی کنفرانس کـی د اداری فساد سره د مبارزی د سختولو ټینګـار وشو، دغه تعهدات زیاتره زیربنایی برخو کی نه، بلکی نظامی چارو او دسیاسی پروسی پـه برخـه کـی وو. پـه دی لړ کی د هندوستان هیواد هم پـه یو شمیر مهمو پروژو کـی مرستی ومنلـی او د پاکستان اسلامی دولت دوست هیواد د سړکونو، پـه تیره بیا د تورخم ـ کابل د سړک پـه جوړولـو کـی د مرستو وعده وکړه.

ددغو کنفرانسونو او مرستو په پایله کـی لـه ۱۳۸۱ څخـه تر ۱۳۸۷ پوری پـه تدریجی ډول سړی سر کالنی عاید له ۱۵۰ امریکایی ډالرو ۵۰۰ $ US ته اوچت شو( په منځنی توګه) او بهر تـه د صـادراتو ارزښت ۵۴۵ میلیونه دالرو ته اوچت شو چی پـه ۱۳۸۱ کـال کـی دغـه صـادرات پـه نشت حساب وو. واردات مو ۶۹۶ میلیون ډالرو پوری شول. په ۱۳۸۸ ل. کال کـی د افغانستان صـادرات ۴۰۳ میلیونـو ډالـرو پـوری رسـیدلی وو. پـه ۱۳۸۹ کـی د صـادراتو ارزښت ۳۶۵،۵ میلیـون ډالـره و او د وارداتـو ارزښت ۳۴۰ میلیون ډالره و. ګڼ شمیر هغو ولایتونو ته د بریښنا مزی و غځیدل چی پخوا یـی بریښنا نه لرلـه او آن دا چی ګڼ شمیر ولسوالی د بریښنا لرونکی شوی او د هیوا مهم حلقوی سړک هم بشپړ پوخ شو .

په پخوانیو کلونو کی هم بهرنیو مرستو زمونږ د ملی پروژو په اکمال کی مهم نقش درلود. دافغانستان لومړنیو پنځه کلونو پلانونو کی څه نا څه نیمایی مصارف له بهرنیو پورونو او بلاعوضه مرستو څخـه پوره کیدل. د بیلګی په توګه: زمونږ لومړنی علمی پنځه کلن پلان چی پـه ۱۳۳۵ ل. کـال کـی جوړ او تطبیق یی پیل شو. او تر ۱۳۵۱ل. پوری مو دری پنځه کلن پلانو اجرا کړل، (پـه هغـو کـی د ګرانتونـو ډیر ښه مثالونه تر سترګو کیږی )دغو پنځه کلنو انکشافی پلانونـو کـی د بهرنیو مرستو اندازی او د تمویل مدارک پـه لاندی توګه وو:

(۱)جدول: د افغانستان لومړی،دوهم، او دریم انکشافی پلان کی د تمویل د منابعو سلنه

| ګڼه | د تمویل مدارک | لـومړنی پنځـه کلـن پرمختیایی پلان | دو هــــــــــــم پرمختیایی پلان | دریـم پنځـه کلـن پرمختیـایی پلان | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بهرنی انکشافی مرستی | ۶۳,۸ | ۸۳,۲ | ۷۰,۳ | |
| ۲ | ددولت دعدایدومدارک | ۳۶,۲ | ۷,۷ | ۱۷،۳ | |
| ۳ | خصوصی سکتور | ـــــ | ۰,۷ | ۴،۰ | |
| ۴ | مختلط سکتور | ـــــ | ۸,۸ | ۳،۷ | |
| ۵ | نور عواید | ـــــ | ۰۰ | ۰,۹ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | مجموع | ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ | |

ددغو پلانونو په نتیجه کی په ټول هیواد کی ډیری مهمی عمرانی اوانکشافی پروژی تطبیق او اجرا شوی چی ګڼ شمیر یی همدا اوس هم بیساری دی او زموږ د خلکو د اړتیاوو په پوره کولو کی یی ستر رول درلود.

په تیره نیمه پیړی کی، خصوصا د لومړنی اقتصادی پنځه کلن پلان(۱۳۳۵ل.)کال څخه را وروسته افغانستان له بیلابیلو هیوادو مالی وسایل او منابع تدارک کړی دی چی یوه برخه پورونه او یوه برخه یی بلاعوضه کمکونه وو. لومړی به د پنځه کلونو پلان په ترڅ کی ارقام وګورو بیا به له ۱۳۸۱ ل. راوروسته د مرستو اندازه وګورو.

۲):جدول: د افغانستان پرمختیا لپاره د پنځه کلونو پلانونو په تطبیق کی د بیلابیلو هیوادونو پورونه او مرستی (ارقام په میلیون ډالرو)

| ګڼه | بهرنی هیوادونه او موسسات | په لومړنی پنځه کلن انکشافی پلان کی بهرنی مرستی | | په دوهم پنځه کلن پان کی انکشافی مرستی | | په دریم پنځه کلن پلان کی انکشافی مرستی | | مجموع | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | کریدیت | ګرانت | کریدیت | ګرانت | کریدیت | ګرانت | کریدیت | ګرانت |
| ۱ | پخوانی شوروی اتحاد | 413.108 | 770.46 | 173.0 | 57.0 | 121.30 | 1.90 | 402.73 | 105.27 |
| ۲ | د امریکی متحده ایالات | 294.22 | 83.660 | 10.8 | 79.4 | 4.51 | 11.44 | 82.14 | 126.40 |
| ۳ | آلمان | - | 3.0 | 30.4 | 10 | 10.46 | 2.57 | 40.86 | 10.57 |
| ۴ | چکسلواکیا | 352.9 | - | 3.8 | - | - | - | 355.7 | - |
| ۵ | متفرقه | - | 11.721 | - | 5.0 | - | - | - | 16.721 |
| ۶ | چین | - | - | - | - | 13.17 | - | 13.17 | - |
| ۷ | ملګری ملتونه | - | - | - | - | - | 13.52 | - | 13.52 |
| ۸ | فرانسه | - | - | - | - | - | 0.34 | - | 0.34 |
| ۹ | هند | - | - | - | - | 0.40 | 0.40 | 0.40 | 0.40 |
| ۱۰ | نړیوال بانک | - | - | - | - | 0.35 | - | 0.35 | - |
| ۱۱ | آسیایی بانک | - | - | - | - | 0.50 | - | 0.50 | - |
| | مجموع | 459.184 | 759.124 | 0.208 | 4.134 | 88.149 | 69.44 | 38.564 | 79.297 |

له بده مرغه د کورنیو دیرش کلنو جګړو په ترڅ کی د پخوانیو پنځه کلنو پلانو او انکشافی مرستو ټولی پروژی (پرته له محدود شمیر) څخه یا له منځه ولاړی یا پوره زیانمنی شوی، نو ځکه کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وروسته تر ۱۳۸۴ل. کال څخه موقته اداره تشکیل شوه ، یوځل بیا د هیواد بیارغاونی او دیوشمیر عمرانی پروژو په تطبیق پیل وشو. په دی مرحله کی دافغانستان د بیارغاونی لپاره دمرستو په جلبولو کی ډیری هلی ځلی وشوی. په ځو نړیوالو کنفرانسونو او له هغی جملی د کابل په کنفرانس کی چی په ۲۰۱۰ کی دایر شو، د یو شمیر هیوادونو تر څنګ د یو شمیر نړیوالو موسساتو مرستو هم ونډه لرله. له همدغه کال څخه وروسته دامنیتی مسؤلیت د انتقال دروند کار هم په خپله افغانانو ته ورتر غاړی شو او مرسته کوونکو و منله چی د خپلو مرستو ډیره برخه د نا دولتی موسساتو ترڅنګ د افغانستان دولت ته وسپاری تر څو د مالیی وزارت له لوری د انکشافی بودجی په ترڅ کی په عام المنفه چارو او ملی انکشافی پروژو کی ولګول شی. همدغه ټکی د هغی اشتباه رفع کول و چی ځو کاله یی دوام درلود. د ۲۰۱۰م.کال د کابل کنفرانس په حقیقت کی یو تحول و. دا تحول هم د امنیتی چارو برخه کی او هم د مرستو په لګولو کی په خپله افغانانو ته مسولیت ور ترغاړی کړ. ضرور ده چی دکابل کنفرانس څخه مخکی د مرستو جریان ته هم یو ځغلنده نظر وکړو.

د لته به تر ۱۳۷۸ل. کال پوری د یو شمیر نړیوالو موسساتو د مرستو اندازه او هغه پیسی چی دوی منلی وی او هغه یی چی په واقعی ډول ورکړی دی و ګورو.

*۵.جدول : د نړیوالو موسساتو ژمنه شوی او ورکړل شویو پیسو اندازه(ارقام په میلیون ډالرو)*

| پرله پسی ګڼه | نړیوال سازمانونه او بنسټونه | لیکلی ژمنی | ریښتیانی ورکړی |
|---|---|---|---|
| ۱ | داروپا اتحادیه/کمیسیون | ۱،۹۷۳،۰۰ | ۱،۵۷۶،۰۰ |
| ۲ | نړیوال بانک | ۱،۸۸۳،۰۰ | ۱،۳۶۴،۰۰ |
| ۳ | د آسیایي پرمختیا بانک | ۱،۵۵۲،۰۰ | ۶۱۸،۰۰ |
| ۴ | دملګرو ملتونو مؤسسات | ۴۹۲،۰۰ | ۱۸۲،۰۰ |
| ۵ | د آغا خان پرمختیایی بنسټ | ۱۸۰،۰۰ | ۷۳،۰۰ |
| ۶ | اسلامی پرمختیایی بانک | ۶۱،۰۰ | ۵،۰۰ |
| **مجموع** | | **۶،۱۴۱،۰۰** | **۳،۸۱۸،۰۰** |

*سرچینه : د مالیی وزارت، د بودجی څانګه، ددونرانو داطلاعاتو بانک، ۱۳۸۷*

لکه څرنګه چی ښکاری یو شمیر موسساتو اوبانکونو هغومره پیسی نه دی ورکړی، لکه چی ژمنه یی کړی وه.

*۱۷جدول: له ۱۳۸۱ تر ۱۳۸۸ ل.کال پوری د لویو مرسته کوونکو هیوادنو ژمنه شوی مرستی ( ارقام په میلیون ډالرو)*

| پرله پسی ګڼه | لوی مرسته کوونکی هیوادونه | لیکلی ژمنی | ریښتیانی ورکړی |
|---|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | دامریکا متحده آیالات | ۲۸،۳۶۶،۰۰ | ۲۳،۴۱۷،۰۰ |
| ۲ | بریتانیا | ۱،۸۱۰،۰۰ | ۱،۵۴۶،۰۰ |
| ۳ | جاپان | ۱،۳۷۸،۰۰ | ۹۹۰،۰۰ |
| ۴ | کانادا | ۱،۲۰۶،۰۰ | ۸۹۸،۰۰ |
| ۵ | جرمني | ۱،۰۴۴،۰۰ | ۵۸۴،۰۰ |
| ۶ | هندوستان | ۱،۲۳۶،۰۰ | ۶۶۳،۰۰ |
| ۷ | ناروې | ۵۹۸،۰۰ | ۳۲۴،۰۰ |
| ۸ | هالند | ۹۰۲،۰۰ | ۷۱۵،۰۰ |
| ۹ | ایتالیا | ۴۲۴،۰۰ | ۲۶۸،۰۰ |
| ۱۰ | ایران | ۳۳۰،۰۰ | ۳۴۱،۰۰ |
| ۱۱ | ډنمارک | ۲۹۰،۰۰ | ۱۵۱،۰۰ |
| ۱۲ | سویډن | ۵۱۸،۰۰ | ۴۳۰،۰۰ |
| ۱۳ | استرالیا | ۲۰۲،۰۰ | ۱۳۰،۰۰ |
| **مجموع عمـــــــــــــومي** | | **۳۸،۴۰۴،۰۰** | **۳۰،۵۴۵،۰۰** |

*سرچینه : د مالیې وزارت، د مرستو دهمغږۍ څانګه ، ۱۳۸۷کال.*

پورتنی بیلګه ییز جدولونه دځو کلونو په ترځ کی د یو شمیر هیوادونو د مرستو جریان ښکاره کوی. د دغو مرستو ډیره برخه د لویو لارو جوړولو، دمعارف ودی، عامه روغتیا، دلوړوزده کړو، پرمختیا او دفاعی سکتور کی مصرف شوه. دغه مرستی هم د مشخصو هیوادونو اوهم د یو شمیر نړیوالوسازمانونو او لویو بانکونو له خوا شوی دی .

د ارقامو له مخی په ۱۳۸۱ل. کال کی په اصلی بودجه کی د بهرنیو مرستو اندازه په سلو کی ۸۲،۷ وه. د ۱۳۸۲ ل. کال په ټوله بودجه کی د بهرنیو مرستو سلنه ۹۱،۳ تمویل شوی وه او د ۱۳۸۳ل. کال په ټوله بودجه کی په سلو کی پنځوس یی له بهرنیو مرستو څخه تمویل شوی وه. د ۱۳۸۴ ل. کال د ټولی بودجی په سلو کی ۸۲،۲ له بهرنیو مرستو څخه تمویل شوه. د ۱۳۸۵ل. کال بودجه کی د بهرنیو مرستو ونده په سلو کی ۷۷ وه او د ۱۳۸۶ کال په اصلی بودجه کی د بهرنیو مرستو ونده په سلو کی ۷۲ اټکل شوی وه. د ۱۳۸۷ل. کال په ټوله بودجه کی د بهرنیو مرستو ونده په سلو کی ۶۶،۲ وه. همداسی هم تر ۱۳۹۲ل. کال پوری د انکشافی بودجی لپاره بهرنیو مرستو څخه کار اخیستل کیده. په دی توګه لیدل کیږی چی بهرنیو مرستو د افغانستان ددولت د مالی تمویل مهمه وسیله وه . دغه مرستی په عمومی توګه له افغانستان سره په لاندی توګه د مرستو په نړیوالو بیلابیلو کنفرانسونو کی ژمنه شوی وی :

- په ۲۰۰۶ م. کال کی د توکیو کنفرانس ۴،۵ میلیارده ډالره مرسته افغانستان سره و منله
- په ۲۰۰۴ م. کال کی د برلین کنفرانس ۸،۳ میلیارده مرسته ومنله

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په ۲۰۰۸ م. کال کې د لندن کنفرانس کې ۱۰۵ میلیارده ډالره او پاریس کنفرانس کې ۲۱,۴ میلیارده د مرستو وعده وشوه.
- په ۲۰۰۶ م. کال کې ددغو ټولو مرستو مجموعه ۲۳,۳ ملیارده ډالره شوه. د ۲۰۰۶ کال تر پای پورې افغانستان ته ۱۳ میلیارده ډالره راغلل. ددغو پیسو په سلو کې ۲۲ یې ددولت له طریقه او په سلو کې ۷۸ یې د نادولتي موسساتو له خوا مصرف او ولګول شوې.البته ددولت د بودجې په واسطه اجرا شوې مرستې ډیرې اغیزمنې ارزیابي کیږي، اما د نادولتي مؤسساتو د لګښت او د پروژو نتیجه او دهغو ګزارشات رسما ثبت نه دي او نه هم ددوام او کیفیت له پلوه ډیر مطلوب دي( البته ټولې تر یوه حکم لاندې نشي راتلای، ډیرو انجیوګانو او موسساتو خصوصا د ولایتي بیارغاونې ټیمونو په ډیر معقول لګښت سره ډیرې ګټورې او مطمینې او منظمې پروژې تطبیق کړې چې د افغانستان ددولت او ټول ولس له خوا دمننې وړ دي).
- له ۲۰۰۲ م. کال څخه تر ۲۰۰۹ م. کال پورې ټولې ۶۲,۳۵ میلیارده ډالره مرسته افغانستان سره ژمنه شوې ده چې له هغې جملې څخه ۳۵,۴۵ میلیارده ډالره په دغه موده کې افغانستان ته ورکړل شوه. د پورتنیو مرستو له جملې څخه د هغه زیاته برخه یې بلاعوض کمکونه دي، لږ برخه یې پورونه دي. دغه پورونه په لاندې ډول له بیلابیلو منابعو او په بیلابیلو شرطونو سره دي :

1. نړیوال بانک: بیلابیلو پروژو ته یې د ۶۱۱۹۱۱۲۰۳ ډالرو په اندازه پور ورکړی دی چې ددغه پور شرطونه دادي:
د پور تکتانه یې په سلو کې ۰,۷۵ ژمنه شوی یې په سلو کې ۰,۳ او د ورکړې موده یې لس کلونه د پور ده پای ته رسیدو موده یې څلویښت کلونه دي.
2. د آسیایي پرمختیا بانک: په بیلابیلو پروژو کې ټول ۷۸۷۲۹۰۰۰۲ ډالره پور ورکړی
شرایط: د پور تکتانه په سلو کې یو او ژمنه شوی تکتانه په سلو کې صفر، د بیاورکړې پیل لس کاله د پور د پای ته رسیدو معیاد څلویښت کاله دي.
3. د اسلامي پرمختیایي بانک: په دوو پروژو کې یې ټول ۲۹۷۸۳۶۰۰ ډالره پور ورکړی دی.
شرایط: د پور تکتانه په سلو کې صفر، د بیرته ورکولو مهلت یې اته کاله او د پور د پای ته رسیدلو معیاد دیرش کاله دي.
4. د سعودي پرمختیایي صندوق: د ټول پور اندازه ۵۱۹۹۸۷۰۰ ډالره
د پور شرایط: تکتانه په سلو کې صفر، د بیا سپارلو د مودې پیل اوه کاله، دپور د پای ته رسیدو مقیاد ۲۵ کاله.

له بلا عوضه کمکونو پرته د پورتنیو څلور دوله ورکړل شویو پورونو څخه د هیواد د بیارغاونې بیلابیلو برخو کې لګول شوي دي. هغه پورونه چې په مجموع کې له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۵ ل. پورې افغانستان ته ور کړې شوي دي. ټول یې ۱۴۸۰۹۸۹۰۵۵ ډالره کیدل.

پورتني مثالونه په افغانستان کې د بهرنیو مرستو اندازه او طرز و، په تیره بیا د کابل په کنفرانس کې وروسته د افغانستان دولت ته د بهرنیو مرستو د لګولو په هکله پوره تجربه ترلاسه شوه. په دغه کنفرانس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی دی باندی ټینګار وشو چی ښه به وی د بهرنیو مرستو زیاته برخه په خپله ددولت له خوا تر لاسه او ولګول شی، یعنی وروسته تر ۲۰۱۰ م. څخه یی د بهرنیو مرستو په لګښت کی یو ریفورم ایجاد کړ. د موقتی اداری په رامنځته کیدو سره نه یواځی د بهرنیو مرستو د لګیدو په برخه کی بلکی په خپله ددولت دعایداتی منابعو په مصرف او راټولولو کی هم بیساری بی نظمی وه او ډیر مالی منابع حیف او میل کیدل، ګمرکی عواید مرکزی نه و او ټول عواید دمالیی وزارت ته نه راغونډیدل. وروسته تر یوشمیر اصلاحاتو، هغه بی نظمی چی له۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۴ پوری موجوده وه ورو ورو له منځه یووړه او څه ناڅه عواید د مالیی وزارت ته په راټولیدو شول او د دولت شتمنی خوندی پاتی شوه. لاهم ډیر کارونه پاتی دی چی ددولت منظم او غیر منظم ټول عواید ښه سازماندهی شی. ددی علت دا و چی یو شمیر پخوانی قوماندانان چی په خپل سر یی ګمرکونه او مستوفیتونه ولکه کړی وو، د مرکز له خوا لری او متخصص کسان ورته د مرکز له خوا واستول شول، په دی توګه د چپاول ډیره برخه اصلاح شوه او مسلکی کسانو په کارونو کی بهبود راوست. د مالیی وزارت په دی برخه کی په دی ورسوتیو څو کلونو کی د پخوا په پرتله ښه کوټلی او بریالی ګامونه اوچت کړی دی او ددولت د عوایدو اندازه اوچته او ثبات څه ناڅه ټینګ شوی دی . دا حالت په خپله یوه غوره تجربه وه.

له نیکه مرغه افغانستان پراخه مالی سرچینی لری او ددولت د عوایدو لپاره مختلف منابع شته چی ورو ورو به یو یو تر استفادی لاندی راشی. یعنی افغانستان مجبور نه دی چی د اوږدو کلونو لپاره بهرنیو مرستو ته انتظار وباسی. د افغانستان ددولت مالی منظم عواید لکه مالیاتی عواید، تشبثاتی عواید او نور دی چی د هغه اټکل کول او راغونډول آسانه دی. ددی لپاره په کار ده چی اهل او مخلص متخصص کادرونه په ادراتو کی په کار وګومارل شی، دا تجربه ډیره د پام وړ ده. له بلی خوا داسی هیله شته چی بیلابیل مالیات ولرو، لکه : د جایدادونو، سرایونو، ځمکو، دمالداری سکتور، ونډی، د جوازونو اوحق الامتیازونو او داسی نورو له مدرکه. د مالی دورو او منابعو توپیر په اقتصادی شرایطو کی د مثبت بدلون لامل کیږی. څومره چی ددولت منظم عواید پیاوړی شی یعنی له بالقوه امکاناتو استفاده کول زیات کړو، هومره به په بهرنیو مرستو زمونږ اتکا کمه شی. د مالیی دوزارت او د افغانستان دحکومت راتلونکی هڅی همدی ټکیو باندی متمرکزی دی .

ددولت غیر منظم عواید بهرنی مرستی، اعانی، د اړتیا پرمهال ددولتی ملکیتونو پلورل او ددولت پورونه دی. کله چی منظم عواید ثبات ومومی او پیاوړی شی، بیا نو د غیر منظمو عوایدو ارزښت کمیږی او اړتیا ورته نه لیدل کیږی. افغانستان او س همداسی یو ی مرحلی ته نژدی شوی دی.

**<u>په یو اقتصاد کی د عامه مالی چارو ارزښت:</u>**

ددولتونو مالی اقتصاد public finance او عامه اجناس او اړتیاوی پوره کول په هر هیواد کی د مجموعی اقتصاد د فعالیتونو په توګه بنسټیز ارزښت او اهمیت لری، دا ځکه چی حکومتونه خپلی ورسپارل شوی دندی هغه وخت په ډیر ښه ډول ترسره کولای شی چی د خپلو لګښتونو د تمویل لپاره کافی اندازه عایداتی سرچینی ولری، نو له همدی امله ویلای شو چی پرته له منظمو عایداتی سرچینو څخه حکومتونه خپلی دندی ښی پر مخ نه شی بیولای او د خپل شتون لپاره دغه ډول سرچینو ته اړتیا لری. په دی توګه د یوه ځانګړی مجبوریت له مخی، بهرنۍ مرستی چی اوسنی خاص وخت کی د افغانستان ددولت لپاره یوه منبع ده او د مالی اړتیاوو د پوره کولو لپاره یی ځانګړی اهمیت لری، د تامل وړ ټکی دی. ډیره ضرور ده چی د هیواد په اقتصادی بحثونو او د بیا رغاونی په پروسه کی د یوی تجربی په توګه په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ونیول شي. دغه مرستې چې افغانستان ته ورکړل شوې دي، په رسمي ډول دي، د پرمختیا لپاره دي او باید په همدې بنه رسما تر لاسه او د پرمختیا او بیا رغاونې لپاره ولګول شي. دا یو حقیقت دی چې ددوامداره جګړو له امله زموږ ددولت داخلي مالي منابع له ګواښ سره مخ او فعلا ناکافي دي.

## له بهرنیو مرستو څخه په انکشافي بودجه کې کار اخیستل:

له بده مرغه افغانستان د تیرو دیرش کلنو کورنیو جګړو په ترڅ کې افغانستان ونشو کولای خپلې اړتیاوې له داخلي امکانا تو پوره کړي، څو پرله پسې کلونه اصلا بودجې او د بودجې مفهوم په واقعي معنا سره وجود نه درلود. ددولت د بودجې تنظیم او جوړول هم دمالیې وزارت یوه دنده ده. په بودجې جوړلو کې هم موږ په بهرنیو مرستو حساب کړی او پرمختیایي پروژې مو له همدې مدرک څخه تمویل شوې دي، دلته به مخکې تر هرڅه په بودجه خبرې وکړو او دا به هم روښانه شي چې په تیرو لسو کالو کې دافغانستان بودجې او د هغې تنظیم او قانوني اړخ په څه ډول خپل اصلي او اصولي مسیر ته راوګرځول شو.

## بودجه څه ده؟

داقتصاد د علم له نظره بودجه یوه منظمه طرح او د اټکل له مخې د عوایدو او لګښتونو یو بل سره برابرول دي، چې تر څو په راتلونکې ټاکلې موده( معمولا یوه مالي کال) کې ددغو لګښتونو لپاره همدا په لاس کې موجود مالي وسایل( مالي شتمنۍ) کفایت وکړي. بودجې ته ددولت مالي پلان هم ویل کیدای شي، چې د مالیې وزارت یې د پرنسیپ له مخې د تطبیق کولو مکلفیت لري. د افغانستان دمالیې وزارت له قانوني پلوه بودجه په دې توګه جوړه اوتطبیق کوي '' بودجه د افغانستان ددولت هغه قانوني سند دی چې په هغه کې ټول عواید او مصارف دیوې ټاکلې مودې( یوه کال) لپاره ښودل کیږي او په کلتوري، سیاسي، ټولنیز او اقتصادي او نورو ټولو ډګرونو کې د پرمختیاوو او فعالیتونو ښودونکې وي.''

په افغانستان کې وروسته تر کورنیو جګړو په ۱۳۸۲،۱۳۸۳ او په تیره بیا۱۳۸۴ ل. کال کې په دغو برخو کې له ستونزو ډک ، خو کوټلې ګامونه اوچت شول. په همدې کلونو کې له ملي اقتصاد سره د بودجې اغیزه په ملي اقتصاد تامین اوډاډمنه شوه. تر دغو کلونو مخکې د هیواد د بودجې پرنسیب څرګند نه و او نه یې هم ددولت د مالي پلان بڼه درلوده. په دغو تیرو دیارلسو کالو کې د ملي بودجې جوړول او په عادي او انکشافي بڼو دهغې مصرفول یوه ښه غوره تجربه وه.

## ددولت د بودجې دندې FUNCTION OF STATE BUDGET:

له دې پلوه دمالیې وزارت درووند مسؤولیت په غاړه درلود. په دې لس - دولسو وروستیو کلونو کې افغانستان خپل عواید او هم بهرنۍ مرستې څه ناڅه په مسؤلانه توګه تنظیم اوسمې سازماندهي کړي، دا چې له پخوانۍ انارشۍ څخه اقلا یوه اصولي مسیر ته داخل شو دا یوه لویه بریا او غوره تجربه وه. لکه چې پوهیږو د بودجې بنستیزه دنده داده چې د دولت فعالیتونه داسې تنظیم او ترتیب کړي چې د حکومت د پلان شویو تدابیرو یو اغیزمن تطبیق او انتخاب ممکن کړي اوله دې پرته د عمومي رفاه ډاډمنتیا هم ورسره وي کوم چې زموږ یو اساسي هدف دی.

دافغانستان عادي بودجه ددولت ددستګاه جاري لګښتونه تمویلوي او انکشافي بودجه مو د انکشافي پروژو لپاره په کار اچوو. دهمدغه لویو او زیربنایي پروژو لپاره له بهرنیو مرستو څخه استفاده کوو. له

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکه مرغه مونږ په تیرو څوکلونو کی له انفلاسیون څخه هم خپل اقتصاد ساتلی او د بودجی کسر سره هم نه یو مخامخ شوی. تیرو کلونو کی د بیو، په تیره د عمده استهلاکی اجناسود بیو ثبات (پرته د جهانی قیمتونو د لوړتیا له اغیزو چی دا یوه طبیعی خبره ده) ښه و.مونږ په اقتصاد کی د بازار دنظام لار تعقیبوو او راتلونکی کی د یو کریدتی سیاست پلویان یاستو یعنی په بانکی سیستم کی د کریدیت د ورکړی پلویان یاستو چی د کریدیت ورکړه او حدود باید داسی وټاکو چی په اقتصاد کی د پیسو جریان محدود وی او د پولی تورم مخه ونیول شی او وار په وار د لګښتونو کمولو ته پاملرنه کوو او د بودجی تفاضل ته ارزښت ورکوو. وار په وار د تجربو راغونډول ، په دغو تجربو غور کول او دهغو مثبتو اړخونو په پام کی نیول او له منفی یی ډډه کول موږ دغو مقاصدو ته نژدی کوی.

په ډاډ سره ویلای شو، چی اوس مونږ د ملی اقتصاد لپاره یو ټینګ او باثباته اساس اینودلی دی. د۱۳۹۳ کال له انتخاباتو وروسته به اقتصادی ثبات نور هم پیاوړی شی او دا تشویش به نه وی چی له ۲۰۱۴ م. کال وروسته به د هیواد اقتصاد کومی ستونزی سره مخامخ شی بلکی نور به هم پیاوړی شی.

## دوهمه برخه:

## دافغانستان ملی پرمختیایی ستراتیژی

د ستراتیژیو او پلانونو طرح او تطبیق له علمي پلوه د پرمختیایي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره یو څو لومړني قدمونه دي ، حال دا چې د یوې ستراتیژۍ بل مهم قدم د هغې علمي تحلیل دی. د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ جوړول یو مهم اقدام و، چې د تطبیق نیټه یې د ۲۰۱۳ کال تر اخره پورې اټکل شوې وه . افغانستان وروسته تر اوږدو کلونو کړکیچ او جګړو څخه بیا رغاونې ته اړتیا لري. د بیا رغاونې پروسه چې په هغې کې اقتصادي او فزیکي بیا رغاونه مهمه برخه لري د اقتصادي موسساتو اونوروتصمیم نیوونکوارګانونو مهم مسولیت و . د ستراتیژی د تحلیل لپاره ډیر ضرور ده چی ملی او نړیوال شرایط هم مطالعه شی ، په تیره بیا د افغانستان ملی پرمختیایی ستراتیژی د زریزی له اهدافو سره رابطه لری او اهداف یی هم ورسره مطابقت لری. د فقر له منځه وړل د ملګرو ملتونو په آجندا کی شامله خبره ده او د زریزی په اهدافو کی هم ورته په څرګنده اشاره شوی ده، د افغانستان د ملی ستراتیژی یوه برخه د فقر کمښت او د خلکو د اقتصادی ژوند ښه کول دی . له بلی خوا د ټولنیزو خدماتو ښه کول په دغی ستراتیژي کی د وخت او ارقامو له مخی ښودل شوی وو، چی ددغو ارقامو څخه یوه برخه یی تر لاسه شوی هم دی، په دی ډول سره د ستراتیژۍ د اهدافو تحقق د یو شمیرشاخصونو له مخي تحلیل کیدای شي ، ترڅو د تطبیق شوی ستراتیژۍ علمي تحلیل ترسره نشي د بلي راتلونکي ستراتیژۍ او پلان طرح ناممکنه ده . د افغانستان د پرمختیایي ستراتیژۍ په تطبیق کیدو سره افغانستان یو شمیرمهمې لاسته راوړنې درلودې : د سړي سر کلنی عاید (PCI) له ۱۵۰ امریکائي ډالرو څخه ۶۷۰ امریکائي ډالرو ته په منځنی توګه اوچت شو( دا صرف د یوه رسمی ګزارش رقم دی)، په هیواد کې ۹۰۰۰ کیلو متره په اوږدوالي سړکونه پاخه شوي او د ۷۰ کیلو مترو په اوږدوالي سره ریل پټلی جوړه شوې اوس په هیواد کې له شلو زیات دولتي او د پنځوسو شاوخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصوصي مالي موسسات فعال دي . د مطبوعاتو آزادي ډاډمنه ، مدني نهادونه پیاوړي او ګڼ شمیر ولایتونه د برښنا لرونکي شول. دټولو سکتورونو له جملی څخه د عامی روغتیا او معارف په برخی کی له کمی پلوه ښه پرمختګ لیدل کیږی.
په اوسط ډول دملی اقتصاد ټولو سکتورونو کی په سلو کی ۶۶ ستراتژی تطبیق شوی ده او نوره په سلو کی ۳۴ برخه د یو شمیر ستونزو اوله هغی جملی د اداری فساد، ټیټو ظرفیتونو، نا‌امنی او تر یوه حده هم د بی کفایتی له امله تطبیق شوی نه ده،خو بیا هم په پرمختیایي ستراتیژی کې د ښودل شوو اهدافو او ترلاسه شوو موخو ترمنځ ژور واټن لیدل کیږي . لاهم افغانستان کې ثبات ندې راغلی او امنیتي ګواښونه شته ، ډیر فرصتونه ضایع شول او د بهرنیو مرستو لګول اغیزمن نه وو، په هیواد کې اداري فساد لویه ستونزه وه ، د مخدره توکو د قاچاق مخه ونه نیول شوه، د استخدام کچه ټیټه وه، بهر ته مهاجرتونه موجود وو، په کلیوالی سیموکی بیوزلی وه، منابع پوره تر کار لاندی رانغلل او ددولت او ولسونو ترمنځ باور پیاوړی نشو. په دې توګه لاهم د هیواد د پرمختیا لپاره اوږد مزل په مخ کې دی چې باید د راتلونکي لپاره دقیق علمي پلانونه او د پینځلسو کلونو لپاره یوه بله نوې پرمختیایي ملي ستراتیژي تدوین شي چې د تیرې پرمختیایي ستراتیژی تجارب پکې منعکس شي . که د یوی اوږدی مودی ستراتیژی نه طرح کیږی، راتلونکی دولت به اړ وی چې پینځه کلنی برنامی طرح او تطبیق کړی.په هر ترتیب: مهمه خبره داده چې دا ټول مثبت او منفی اړخونه د یوی تجربی په توګه د ارزښت وړ دی او افغان ملی کادرونه باید بار بار او بیا بیا دغی تجربی ته مراجعه وکړی، له هغی څخه زده کړه وکړی او مثبت اړخونه ځانته یوه الګو وګرځوی او منفی اړخونه یی راتلونکی کی اصلاح او تکمیل کړی.

**د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې ANDS ټولې دندې ، ارکان او اهداف په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د ۲۰۲۰ کال لپاره د زریزې له پرمختیایي اهدافو (MDGs) Millennium Development Goals سره تړاو لري . ملي پرمختیایي تګلاره په ټولیز ډول اته ارکان لري چې په بیلابیلو سکتورې وزارتونو پورې تړاو لري او همدا وزارتونه یې اړونده چارې پر مخ بیایي لکه د مالیې وزارت ، اقتصاد وزارت ، د زراعت وزارت ، د تجارت او صنایعو وزرات ، د دفاع وزارت ، دعدلیې وزارت ، د داخله او خارجه وزارتونه ، د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون ، د سوداګری او صنایعو اتاق . چې دا ټولې ادارې به په ګډه کار کوې او پلان شوې اهداف به د ټاکلي مهالویش سره سم ترلاسه کوي**

**ملي ستراتیژي د افغانستان لپاره اوږد مهاله لرلید او منځمهاله هدف ټاکلي چې و، په بیلابیلو برخو کې یی ښکاره وضاحت درلود، لکه د فقر کمول ، ځواکمن دیموکراتیک سیاسي چاپیریال رامنځته کول ، د یو ښه امنیتي او دفاعي سیستم رامنځته کول او نور . که څه هم ملي ستراتیژي په ډیر ښه ډول جوړه شوې او ددې اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د مالي تمویل چارې نړیوالي ټولنې په غاړه اخیستې وې خو په وروستیو کلونو کې د دې ستراتیژې د پلې کیدو په مهال ځیني ستونزې رامنځته شوې چې په ځینو ساحو کې ټاکل شوي اهداف په خپل ټاکل شوي وخت ندي ترلاسه شوي .**

**ملي تګلاره د ملي ولایتي او ځایي پراخو مشورو لاسته راوړنه ده او د ټولو مدني ټولنو ، نادولتي نهادونو ، فرهنګي ، مذهبي جمعیتونو خصوصي سکتور او د نړیوالې ټولنې کارپوهانو په ګډه مشوره ترتیب شوې ، ددې مشورتي بهیر په ترڅ کې دکلیو په کچه ۱۸۵۰۰ او د ولسوالیو په کچه ۲۹۰ او د ولایتونو په کچه د ۳۴ پرمختیایي پلانونه رامنځته شول چې له مخې یې نږدې د هر ولایت لپاره لومړیتوبونه په ګوته شوي دي .**

**د ملي تګلارې د ترتیبولو په مهال له اړونده تحلیلي میتودونو استفاده شوې وه تر څو دټولنې تر ټولو بې وزله قشر او د بیوزلۍ اصلي لاملونه ښه په ګوته شي او د هیواد په کچه د همدغه قشر د وضعیت په پام کې نیولو سره ملي پرمختیایي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکلارې اهداف داسې ترتیب شوي وو، ترڅو په زیاته اندازه پانګه اچونه په داسې ساحو کې صورت ونیسي چې نیغ په نیغه د بې وزله خلکو په ژوند کې ښکاره بدلون رامنځته کړي .

افغانستان لا د تیرو لسیزو د شخړو په حال کې و، چې په 2000 کال کې کله چې زیاتره هیوادونو د زریزې د تصویب په اساس د زریزې پرمختیایي اهدافو یا MDGs باندې توافق وکړ خو افغانستان پینځه کاله ورسته وتوانیده چې د MDGs سره یو ځای شي او د دې اهدافو د لاسته راوړنې او متداوم پرمختګ لپاره یې ملي پرمختیایي ستراتیژي جوړه او تر ۲۰۲۰ کال پورې یې د پرمختیا لپاره لرلید وړاندې کړ . اوس چې د ملي پرمختیایي ستراتیژی د پلې کیدو وروستی نیته په ۲۰۱۳ کال کې پای ته ورسیده ددې پرمختیایي ستراتیژی د جوړښت ، موثریت ، تاکلي اهدافو ته د رسیدو اندازه او د هغې په نتیجه کې راغلي بدلونونه ددې علمي – څېړنیزې رسالي د بحث او تحلیل لاندې دي . له دغه تحلیل څخه وروسته به موږ دا تجربه په کلکه په پام کې لرو.

دملی پرمختیایی ستراتیژی د لنډ تحلیل هدف د افغانستان لپاره د اوږد مهاله پرمختیایي لرلید او د زریزې د پرمختیایي اهدافو په رڼا کې د ملي پرمختیایي ستراتیژی د جوړښت ، اهدافو ، لومړیتوبونو او دهغې د تطبیق د شرایطو په هکله عمومي معلوماتو عرضه کول دې . او ددې څیړنې په نتیجه کې دهیواد د پرمختیا لپاره د لنډې ، منځنۍ او اوږدې مودې پرمختیایي لومړیتوبونو موثریت تحلیل او پایلې یې وړاندې شوې . هیله ده چې د اقتصاد او پرمختیایي مطالعاتو په برخه کې به ددغه ډول څېړنو رامنځته کیدل د مسلکي کدرونو ، محصلینو او نورو مینه والو لپاره په زړه پورې ماخذ رامنځته او د ملي پرمختیایي پروګرامونو د جوړښت او اغیزمنتیا په اړوند به دهغوی معلومات لا زیات کړي . په عمومي ډول دغه څیرنه لاندې اهداف تعقیبوي :

- د زریزې پرمختیایي اهدافوMDGs پيژندنه او د افغانستان په برخه کې د MDGs د ځانګړې بنې پيژندنه .
- د منځمهاله او اوږدمهاله پرمختیایي تګلارو لپاره د چمتووالي په اړوند په افغانستان کې وروستیو بدلونونو ته کتنه
- د ملي پرمختیایي ستراتیژی ANDS لنډه پیژندنه ، جوړښت میتود ، ارکان او د تطبیق د ساحو پيژندنه
- د ملي پرمختیایي ستراتیژی د تطبیق دپایلو تحلیل او په نتیجه کې یې ( د یوی تجربی په توګه) راغلي بدلونونه کتل.

په دغه علمي څیرنیزه رساله کي د زریزې د پرمختیایي اهدافو MDGs په چوکاټ کې د افغانستان اوسنی وضعیت او په وروستیو کلونو کې په بیلابیلو سکتورونو او د ژوندانه په مختلفو ساحو کې راغلي بدلونونه او بالقوه رامنځته شوې چمتووالی ته لنډه کتنه شوې. وروسته له افغانستان سره په نړیواله کچه د شوو پرمختیایي ژمنو په چوکاټ کې د مهمې ملي ستراتیژیکي برنامې په حیث د ملي پرمختیایي ستراتیژی ANDS جوړښت او اهمیت ته کتنه شوې . همدا راز د ملي پرمختیایي ستراتیژی میتودولوژي اهداف ، ارکان اود هغې د تطبیق ساحې او سکتورونو ترڅنګ د دې ستراتیژی پایلې او د هغوی په نتیجه کې راغلي اقتصادي بدلونونه تحلیل شوي او په پای کې د ټولې څېړنې پایلې وړاندې شوي دي .

**د موضوع پس منظر :** د افغانستان په معاصر تاریخ کی تردی مخکی د افغانستان بیلابیلو دولتونواو رژیمونو پرته له یوڅو پنځه کلنو اقتصادی- اجتماعی پلانونو کومه د اوږدی مودی ستراتیژی نه وه جوړه کړی. له۱۳۸۴ ل. کال څخه وروسته د لومړی ځل لپاره داسی یو مهم ملی سند رامنځته شو. دا باید هیره نه کړو چی پخوا تر دی په افغانستان کی یو شمیر ځانګړی دولتی پلانونه طرح او تطبیق شوی وو. لکه په پل کی چی وویل شول، مثلا امیر شیرعلیخان د افغانستان د صنعتی کولو او پرمختیا لپاره ډیر غوره پلانونه لرل، چی دغو برنامو د اوسنیو علمی پلانون یا معاصرو ستراتیژیو بڼه او تخنیک نه درلود، بلکی یوڅه ساده او ابتدا یی پلانونه وو چی زیاتره یی د سیدجمال الدین افغان له ریفورمونو سره اړخ لګاو. دغه برنامه د امیر شیرعلیخان له منځه تګ سره یو ځای له منځه ولاړه . ورپسی یوه اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

موده افغانستان د انګریزانو تر اشغال او واک لاندی و، تر څو غازی امان الله خان په ۱۹۱۹ م. کال کی د هیواد استقلال بیرته تر لاسه او د پرمختګ او ترقی یوه اصلاحی او پرمختیا یی برنامه یی تر لاس لاندی ونیوله چی د سیمی هیوادو کی یی ساری نه و . دغه مترقی پاچا هیواد ته موټر وارد کړل، داورګاوی لپاره یی ریل پټلی وغځوله ، عامه تاسیسات یی نوی او دکابل په لویدیځ کی یی د یوه نوی او عصری ښار د جوړولو بنسټ کیښود، د معارف دترقی په خاطر یی ګڼ شمیر پیغلی او ځوانان بهر ته واستول او د علم حاصلول یی یوه دینی فریضه او د هیواد دپرمخګ ګونجی معرفی کړه، مرییتوب یی لغو کړ، د مالیاتو قانون کی یی بدلون راوست او مالیات یی له جنسی بڼی څخه نقدی شکل باندی واړول، د نارینه وو او ښځینه وو د برابری لپاره یی د اسلام د مبارک دین له احکامو سره سم عملی ګامونه اوچت ګړل، د استعمار په وړاندی یی د استقلال خواهی جنډی بورته او د نړی ټول مستعمره هیوادونه یی د آزادی تر لاسه کولو ته بیدار او زړور کړل، نړی سره یی دیپلوماتیک روابط ایجاد او د هیواد نظامی تاسیساتو ته یی پاملرنه وکړه. نوموړی خپله دغه برنامه چی دیو ی بشپړی ستراتیژی حیثیت یی درلود د پغمان په لویه جرګه کی اعلان او دولس د استازیو تر مخی یی هغوی سره په ګډه تصویب کړه.متاسفانه ددغه نامتو مجاهد او غازی ټولواک په له منځه تلو سره دغه برنامه او اصلاحی پلان هم تر خاور لاندی شو. د سقوی ارتجاعی اړ- دوړ او تباهی څخه وروسته محمد نادر خان د چارو واک تر لاسه کړ، خونوموړی ددری کلونو په ترڅ کی پرته له کومی تدوین شوی برنامی څخه صرف یو څو ادارات فعال کړل، د تجارت وزارت او د یوه بانک جوړول او د طب د پوهنځی تاسیس یی مهم اقدامات وو، وروسته ترهغه د ډیرو کلونولپاره افغانستنان دده د ورنو مخمدهاشم خان او شاولی خان د مستبدانه دکتاتوری تر واکمنی لاندی راغی چی هیڅ اصلاحی او د ترقی او پرمختیا برنامه یی نه لرله.

په ۱۹۵۳م. کال کی کله چی سردار محمد داوود خان د هیواد صدراعظم شو، نو د افغانستان د پرمختیا او نوی کولو لپاره یی پینځه کلن پلانونه رواج کړل. نوموړی دخپل واک پرمهال دری پینځه کلن پلانونه طرح او تطبیق کړل یعنی دغه پلانونه له ۱۳۳۵کال څخه تر ۱۳۵۱ کال پوری یو په بل پسی اجرا شول چی د افغانستان د تاریخی مطالعاتو په ترڅ کی د افغانستنان لومړنی علمی پینځه کلن پلانونه بلل کیږی ، دغو پلانو په ریښتیا چی علمی او عصری بڼه لرله او د هیوا په بڼه کی یی ډیر ژور بدلون راوست. وروسی افغانستان په ۱۳۵۴ کال کی د جاپان د هیواد په شان د پینځه کلن پلان پرځای یوه اوه کلنه اقتصادی – اجتماعی برنامه جوړه کړه، خو هغه ډیره بریالی تطبیق نه شوه، چی په همدی جریان کی په هیواد کی یو ژور سیاسی بدلون راغی. په ۱۳۶۵ل. کال کی یوځل بیا د افغانستنان د عصری کولو په خاطر یو پینځه کلن علمی پلان چی د (۱۳۶۵-۱۳۶۹) اقتصادی اجتماعی انکشافی پلان نوم ورکړل شوی و، جوړ شو. کله چی په ۱۳۷۱ ل. کال کی په هیواد کی کورنیو جګړو زور واخیست دغه هڅی بیخی هیری او له منځه ولاړی، یعنی دهیواد لپاره کومه بله نوی برنامه د نا ا منیو او کورنیو جګړو له امله پوره تطبیق نه شوه. کله چی په ۱۳۸۱کال کی په هیواد کی د طالبانورژیم وپرځول شو، نو د افغانستنان د پرمختیا اوبیارغاونی لپاره جدی تدابیرو ته اړتیا ولیدل شوه.په دی توګه د ۱۳۸۴ ل. کال په ترڅ کی دغه پرمختیایی ملی سند تکمیل شو.البته ددغه سند په برخه کی ضرور ده چی د زریزی دپرمختیایی اهدافو او دلندن کنفرانس یادونه هم باید وشی .داځکه چی د زریزی اهدافو په دی ستراتیژی کی ډیر انعکاس موندلی او د لندن کنفرانس کی دافغانستنان قرارداد لاسلیک شو. دموضوع د ښه وضاحت لپاره به دغه بحث ته دوام ورکړل شی.

## (MDGs)او د افغانستان وضعیت ته لنډه کتنه

د زریزې د پرمختیایي اهدافو (Millennium Development Goals (MDGs بنسټیزه موخه د نړي د فقیرو هیوادونو د ټولنیزو او سیاسي شرایطو په ښه کولو سره په دغو هیوادونو کي د هر اړخیزې پرمختیا هڅول وو چې په ۲۰۰۰ کال کي د د ۱۸۹ هیوادونو له خوا د ملګرو ملتونو په چوکاټ کي تصویب شول. MDGs د زریزي د تصویب یا millennium declarationڅخه سر چینه اخلي په کوم کي چي په ښکاره ډول ویل شوي و : د نړي هر فرد حق لري چي د خانګړي حیثیت او وقار، ازادی ، برابروالي او د ژوندانه اساسي معیار څښتن اوسي او دغه اصل په ټولنه کي د زغم او دګډ مسولیت احساس ته وده ورکوي. افغانستان ایله څو کاله وروسته دهغی تر تصویب څخه، یعنی په ۱۳۸۳ ل. کال کی هغه لاسلیک او د ملګرو ملتونو دعمومی غونډی (۲۰۰۰م.کال) اعلامیه یی تایید کړه. افغانستان وپتیپله چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ۲۰۲۰م. کال پورې به د زريزې افغانی شوی اهداف عملی کړی. ددی مقصد لپاره یی لومړی یوه ستراتيژی جوړه کړه.

د زريزې د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره هیوادونو ته اته بیلابیل اندازه کیدونکي او د مقایسي وړاهداف (( دافغانستان لپاره 9 اهداف دي ځکه د ځانګړو امنيتي شرايطو په پام کي نيولو سره نهم هدف يواځي د افغانستان لپاره امنيت ښودل شوی و)) ټاکل شوي چي د دغو عمومي اهدافو د تحليل لپاره ۲۱ فرعي اهداف او ۶۰ بيلابيلو شاخصونو څخه ګټه اخيستل کيږي .

د زريزې پرمختيايي اهداف یاMDGs په لاندې ډول دي :

1. د شديد فقر او لوږې له منځه وړل
2. لومړنيو زده کړو ته لاسرسی
3. د ښځو د رول پیاوړي کول او د جنسي برابروالي ترويج
4. د ماشومانو د مړيني راکمول
5. د ميندو د روغتيا ښه والی
6. د ايدز ملاريا او نورو ناروغيو مخنيوی
7. په متداوم ډول د ژوندانه د چاپيريال د ساتني ډاډمنول
8. د پرمختيا لپاره د نړيوال مشارکت رامنځته کول
9. د امنيت تامين ( دغه هدف يواځی د افغانستان لپاره ځانګړی شوی و )

دا چي MDGs د ژوندانه د معيار په لوړولو باندي په مرکزي توګه تمرکزدرلود، نو ددي لپاره د بشري منا بعوپه برخه کي پانګه اچونه، د زيربنا پياوړي کول او د خلکو د اقتصادي، سياسي او ټولنيزو حقونو لوړول اړين اقدامات ګڼل شوي وو.هغه اهداف چي د بشري منابعو اجنډا لاندي وو، د غذايي رژيم او روغتيايي حالت په ښه والي او د يو شمير عامو ناروغيو په مخنيوي يی تمرکز درلود او راتلونکی کی هم بايد همداسی وی. د زيربنايي اهدافو اجنډا بيا د پاکو اوبو په موجوديت، روغتيايي چاپيريال، انرژي او معلوماتي او مخابراتي اساسنتياوو موجوديت او پاک چاپيريال په برابرولو تمرکز کوي ، همدا راز د سياسي اقتصادي او ټولنيزو موخو په اجنډا کي د ښځو د ټولنيز رول زياتوالي د تاوتريخوالي د کموالي د سياسي بصيرت لوړولو عامه خدماتو ته د يو شان لاسرسي او د امنيت او ملکيت د حقوقو په ساتني تمرکز کړی و.

افغانستان په رسمي ډول MDGs له تصويب څخه پنځه کاله وروسته پلي کړ. په همدي د ليل دزماني تقسيم او قات له مخې د افغانستان لپاره د ۲۰۱۵ پرځای ۲۰۲۰ کال وروستی نيته ټاکل شوې وه، تر څو نوموړې اهداف ترلاسه کړی شي .په همدې دليل د زريزې پرمختيايي اهداف د افغانستان په ملي پرمختيايي ستراتيژی کې په بشپړه ډول ځايول شوی وو.

د افغانستان ملي پرمختيايي تګلاره چې د زريزې د پرمختيايي موخو په نظر کې نيولو سره د يو اوږدمهاله او ستراتيژيک سند په توګه رامنځته شوې د افغانستان لپاره تر ۲۰۲۰ ميلادې کال پورې په هر اړخيزه توګه اقتصادي ، سياسي او ټولنيزلرليد وړاندې کوي او د دې لرليد له مخې تر ټاکلې نيتې بايد افغانستان لاندې لاسته راوړنې ولري :

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اسلامي اصولو او اساسي قانون په رڼا کې  یو دیموکراتیک هیواد چې دداخلي سولې او امنیت ، د ګاونډیو هیوادونو سره د سوله ییز ژوند او نیکو اړیکو درلودونکی او په نړیوال ډګر کې د درناوي څخه یو برخمن هیواد وي .
- زغم لرونکی ، یو موټی او کثرت ګرا، اسلامي ارزښتونو او عمومي ګډون ، عدالت او د اتباعو د حقوقو برابری لوړو موخو ته ژمن یو ملت
- د پیاوړي خصوصي سکتور ترلاربښووني لاندې د بازار د اقتصاد ، ټولنیزې برابری ، او د ژوندانه چاپیریال د دوامداره ساتنې پر بنسټ  د امیدونو څخه ډکه یوه ټولنه .

د ملي پرمختیایي تګلارې له مخې په پام کې وه چې د ټاکلو پلانونو او موخو له مخې تر ۱۳۹۱  کاله پورې به نوموړې تګلاره د بیلا بیلو سکتوري وزارتونو او خپلواکه ادارو لخوا د نړیوالې ټولنې په مالي ملاتړ پلي او په پایله  کې د افغانستان لپاره په ځانګړې ډول لاندې منځمهاله موخې ټاکل شوی  وی :

د افغانستان ملي پرمختیایي تګلاره یو داسې پرمختیایي پلان دې چې د زریزې پرمختیایي موخو( MDGs  )باندې ولاړ او په افغانستان کې  به د بې وزلۍ د راکمولو لپاره د یو ستراتیژیک سند په توګه تر ګټه اخیستل کیږي . ددې تګلارې د ملاتړ اصول د افغانستان تړون لیک ارکان او معیارونه نشکیلول چې له مخې یې د ملي پرمختیایي تګلارې ارکان او موخې په لاندې ډول پیش بیني شوي وی .

- امنیت ، ملي ثبات او د  قانون تطبیقول،  ترڅو د هر افغان تبعه د فردي امن تامینولو ته رسیدګي وشي
- حکومتداري د قانون ټینګښت او دبشري حقونو په برخه کې د بنسټونو پیاوړي کول د قانون ټینګښت او د عامه خدماتو وړاندې کولو ترڅنګ د دولت لخوا خلکو ته ځواب ورکول .
- اقتصادي او ټولنیزه وده . د بیوزلی کمول ، د خصوصي سکتور تر لاربښووني لاندې د بازار د اقتصاد په چاپیریال کې د دوامداره ودې تامینول د بشري پرمختیا د شاخصونو ښه کول او د زریزې پرمختیایي موخو په برخه کې د پام وړ پرمختګ ترلاسه کول.

## MDGs  د اهدافو په وړاندې د افغانستان اوسنی وضعیت

افغانستان د یو پرمختیایي هیواد په توګه چې تراوسه هم د جګړو او شخړو سره مخ ده او لا هم ټوپکسالارانو په واک خیته اچولې او د اداراتو مدیریت مسلکی او تخصصی شوی نه دی، نا امنی  اوادارى فساد یې د پرمختیا پروسه تر سیوري لاندې را وستې،  خو بیا هم د زریزې د اهدافو د تر لاسه کولو لپاره په افغانستان کې یو خوشبینانه تصویر موجود دې. په تیرو کلونو کې د ځینې اهدافو په لور ښه پرمختګ شوي،  خو نور بیا له ټاکلي مهالویش څخه وروسته پاتې دي.

د مرستو د لوړ جریان سره سره بیاهم افغانستان د فقر د سطحي د راټیټولو هدف (۲۴٪ تر ۲۰۱۵ کال پورې) څخه وروسته پاتې ده. ورستي تخمیني ارقام ښیي چې په افغانستان کې غربت په ګڼو ټولنیزو عواملوپورې تړاو درلود او ددې تر څنګ په ځانګړې ډول د زراعت په برخه کې د مولدیت په لوړوالي پورې ډیر  تړاو لري. ځکه د زراعت د سکتور رشد اوپه هغه کې د مولدیت زیاتوالی د عاید د زیاتوالي، د استخدام د کچې د لوړیدو او د غذایي موادو د وارداتو تعویض او په هیواد کې د غذایي مصئونیت سبب ګرځي. په زیاتره برخو کې د اوسني حکومت په وړاندي د تیرو لسیزو څخه د پاتې ناخوالو او ننګونو د موجودیت په نظر کې نیولو سره د فرعي اهدافو د لاسته راوړ نو کچه تر ډیره په سم جهت اود  داد وړ بریښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشري اوټولنيزي پرمختيا د اهدافو په برخه کې د افغانستانرشد د قناعت وړ ده او د لومړنيو زده کړو کچه تقريباً ترلاسه شوې (ښوونځيو ته د نجونو تګ او تعليم ترلاسه کول په خپله لويه لاسته راوړنه ده ) خو بيا هم د هر شاګرد په سر د پانګوني کچه اوس هم د سيمي د هيوادونو (پاکستان ۲۵۰ ډالر، ايران ۶۰۰ ډالر) په پرتله کمه، يعني يوازې ۶۰ ډالره ده.

د جندر او اقتصادي پرمختيا په برخه کې تر ۲۰۱۲ کال پورې ارقام ښئي چې افغانستان تراوسه هم يو ورسته پاتې هيواد دې او په اقتصاد کې د ښځو ونډه لا هم په سيمه کې تر ټولو کمه ده، خو په ولايتي يا د هيواد په کچه د ښځو نماينګي په سيمه کې يوه بيلګه ګڼل کيږي چې ۲۵٪ ته رسيږي ، تمه ده چې د روغتيا ، تعليم ، اوبو لګولو په برخو کې پانګه اچونه به د غريبو خلکو ژوند کې بدلون راولي او روغتيايي خدمتاتو ته د خلکو لاسرسي به د خلکو د ژوند د توقعاتو کچه لوړه کړي .

په افغانستان کې په تيره لسيزه کې د عامه سکتور په وسيله د روغتيايي خدماتو او تعليم عرضه دکم مصرف لرونکي او د خلکو ترمنځ عادلانه ثابته شوې او په ځينو نورو ساحو کې د مناسب عامه سکتور د نشتوالي په صورت کې د ناحکومتي ادارو (NGOs) فعاليتونه ډير اغيزمن ول .

ښځينه وو ته تعليم او روغتيا په برخه کې امتيازي برخه ورکول د MDGs په ټولو نورو برخو کې خپل اغيز ښودلی ده ، ځکه په افغانستان کی د کورنيو اقتصادی وضعيت خراب دی، نوپه دې سره ښځينه مشروع کار او عايد پيدا کوي، مثلا خياطی کوی، چرګان روزی او داسی نور، له بلی خوا د مور او ماشوم روغتيا ډادمنه کيږي او په اقتصاد کې د ښځو ونډه زياتيږي . د MDGs د ټاکلو موخو ترلاسه کولو لپاره د نړيوالي ټولني هراړخيزې مرستي حياتي ارزښت لري چې په دې برخه کې نه يوازې مالي مرستي، بلکې د ظرفيتونو لوړول ، د پاليسيو ترتيبول او د پرمختګ په مقابل کې تشويق په دې لاره کې په زياته اندازه د پام وړ اقدامات دي او د نړيوالي ټولني سره له بشپړه او هر اړخيز تفاهم پرته افغانستان ته دا ستونزمنه ده چې په يوازې ځان په ۲۰۲۰ کال کې متوقعه اهداف ترلاسه کړي .

## د بدلونونو لپاره د زميني چمتووالی

د افغانستان په معاصر تاريخ کې ، دلته د لويو قدرتونو ترمنځ د سړې جګړې د تمرکز له اوږدو او بې سارې ويجاړيو وروسته په ۱۳۸۱ ل. لمريز کال کې يوه نوې دوره رامنځته شوه . په داسې حال کې چې هيواد په بشپړه ډول په هراړخيزه توګه د لسيزو ناکراريو ځپلی و، په پراخه کچه فزيکي - بشري او ټولنيز نهادونه ويجاړ شوي وو. د افغانستان نوې ادارې او د هغې نړيوالو همکارانو ته ستر تاريخي مسوليت ور په غاړه کړ. چې په دې اړوند د يو اسلامي او پراخ بنسټه حکومت رامنځته کول چې د قانون ټينګښت ته ژمن او ټول افغانان پرته له توپير څخه يکې سوله ييز او له درناوی ډک د ژوند کولو فرصت ولري ، خپلو بالقوه اقتصادي ظرفيتونو څخه داسې ګټه پورته کړي چې په نتيجه کې يې خلک عامه خدماتو ته بشپړه لاسرسی ولري او د انسانی کرا مت لرونکو وګړو په توګه د برابره حقونو څخه برخمن وي .

شپږنيم کاله وروسته، د کتنې وړ هڅو او لاس ته راوړنو سره سره، موږ لا تر اوسه هم دې موخو ته نه يو رسېدلي. هم موږ او هم زمو نړيوال همکاران، دی پايلی ته ورسيدو چې د شته خندونو او پر هغو بانديې د بری دلاسه کېدو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وخت مسله ، سمه نه وه تحلیل کړي. نا امنی ، بیوزلي، فساد، او په زیاتیدونکې توګه د نشه یی توکو د صنعت پراختیا، دا تریخ حقیقت څرګندوی، چې د ماهیت له مخې د افغانستان په وړاندې د پرتو ننګونو په پراخوالي او حجم کې کمښت یا مثبت بدلون ندی رامنځته شوی. ، که چېرې د افغانستان د خلکو ځانګړی ستونزی او د سرچینو د کموالي په نظر کې نیولو سره د پرمختیا، امنیت، او سیاسی تګلارو ترمنځ انډول په پام کې ونه نیول شي ، بیا به هم د افغانستان خلک په بشپړه توګه د خپل بشری پوتنسیال د پکارولو په برخه کې کمزوری پاته شي. د وسایلو، مهارتونو او د هغو څخه د دولت او نړیوالي ټولنې د اړین سیاسی ملاتړ په شته والی سره - افغانان کولای شی په راتلونکی کی پخپله د پراخه او هر اړخیزه بیا جوړونې او په هېواد کې د دوامداره سولې د تامین، کلیدي او غوره نقشي په غاړه واخلي.**

**دافغانستان ملي پرمختیایی تګلاره ، په هیواد کې په شته ننګونو باندې د برلاسی او د خلکو د هیلو او توقعاتو د ښه کیدو او پلي کولو په موخه، له بهر څخه د رابلل شوی متخصصینو په مرسته جوړه شوې وه. وده او پرمختیا ته د رسیدو لپاره د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره داسې یو لارښود و، چې د هغو عرصو په برخه کې کومې چې د زریزی پرمختیایی موخو پر بنسټ د بېوزلي د راکمېدو په موخه د هېواد دملي تګلارې په تو ګه برابره شوې وه، ترې ګټه اخیستل کیده. په بریالیتوب سره ددې تګلارې د پلي کولو بنسټیز عنصر، د غوره ملي ظرفیتونو لکه: معارف، انرژي، کرهنې او اوبه لګول او همدارنګه د پخلاینې، عدالت او بدیل معشیت په برخو کې د پانګې اچول وو. د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره ، سربېره پردې چې د افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د تړون د موخو د بشپړکېدو لپاره د لګښتونو یوه حساب شوې تګلاره وه، د پرمختیا د بهیر او د ثبات راوستلو په لور د خوځښت، پرله پسی ودې او بشري پرمختیا او د اوږدمهاله افغانی کېدنې څخه د تمه کېدونکو موخو د عملي کېدو، یوه طرح هم ګڼل کیږي. د افغانستان د تړون لیك بشپړ عملي کېدل یعنې دسولې راوستل، ټولیزې او سالمې ادارې رامنځ ته کول، د ټولنیزې او اقتصادي دوامداره ودې تامینول، دا چې د هغو مثبت او محسوس اثرات د افغانانو پر ژوند اغېزه ولري ددې غوښتونکې وه ترڅو د زورزیاتي او کړاو د لس ګونو کلونو څخه وروسته د ناکامي څخه په وېره باندې غلبه حاصله شي. اوس مهال له بریالیتوب څخه پرته د بل هېڅ یو بدیل په هکله باید فکر ونه شي. (د پرمختیایی ستراتیژی دری او پښتو متنونه ډیر ضعیف ژباړل شوی، املایی او ګرامری تیر وتنی لری، نوځکه له هغو څخه په اقتباس کی تیروتنی تر سترګو کیږی. له دی امله ښننه غواړو).**

**د ۱۳۸۰ کال د لیندۍ (۲۰۰۱ زیږدیزکال) څخه را پدېخوا په هیواد کې ګڼې لاسته راونې شته چې د پام وړي دي .د بن پرېکړه چې د ۱۳۸۰ هجري لمریز کال د لیندې د میاشتې (د ۲۰۰۱ زیږدیز کال د دسمبر په پینځمه) لاسلیک شوه، په افغانستان کې د یو دموکراتیک حکومت د جوړېدو په لوري یی نوی پړاو پرانیست د بن له کنفرانس څخه وروسته ډېر ژر یوه لنډ مهاله اداره رامنځته شوه او له هغی نیټی وروسته، د بېړنی لویې جرګې د جوړېدو له لارې- د لسګونو کلونو وروسته یو شمیر محلی مشرانو، پخوانیو جهادی قوماندانانو او والیانوپېدې جرګه کې د افغانستان د خلکو داستازو په توګه ګډ ون وکړ – منځ مهاله اداره جوړه شوه. په ۱۳۸۳ کال (۲۰۰۴زیږدیز کال) کې، له دریو لسیزو وروسته، د لومړي ځل لپاره، افغانستان وکولای شول چې د پرمختګ او سیاسي سیستم لپاره د یو بنسټ په توګه یو اساسي قانون ولري. د آزادو او عادلانه ټاکنو دری پړاوونه سرته ورسېدل. زموږ هېواد افغانستان، اوس مهال یو داسې ولسمشر لري چې په دموکراتیکه توګه ټاکل شویدی، همدارنګه، د ټاکل شوی ملي شورا او ولایتي شوراګانو درلودونکی دی. په سلو کې ۷۶ په شرایطو برابر رای ورکوونکو د ولسمشري په ټاکنو کې ګډون وکړ. همدا اوس د ملي شوراد غړو په سلو کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۷ښځې دي. (سره له دی چی  په ولایتی شورا ګانو کی د زورواکو اوپخوانیو قوماندانانو لاسوهنی تر سترګو کیږی، خو بیا هم  اقلا ددیموکراسی  یو مظهر دی او موږ یی یو پرمختګ بولو).**

**د سیاسی پرمختګونو ترڅنګ، د ۱۳۸۰ کال څخه راپدېخوا نور پرمختګونه، دا ډول دي : په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د شپږ میلیونه ماشومانو شمولیت، چې د هغو په سلو کې ۳۵ نجونې دي؛ د روغتیایی لومړنیو خدماتوکچه اوس مهال د هېواد په سلو کې ۸۵ تر پوښښ لاندې نیسي او په سلو کې ۸۰ د افغانستان خلک د واکسیناسیون د خدماتو څخه برخمن شویدي؛ تر پنځه میلیونو څخه ډیرشمیر کډوال هېواد ته راستانه  شویدي؛ د ۱۲۲۰۰ کیلومترو په شمول حلقوی سرک بیا رغول شویدی؛ تر ۶۳۰۰۰ څخه ډیر وسله وال کسان دملکي کولو له بهیر سره یوځای شوي دي؛ پخوانی نامسوله وسله وال په پولیسو او ملی اردو کی تنظیم شول، د ملي اردو او ملي پولیسو تاکل شوی شمېره د بشپړېدو په حال کې ده؛ د دولت اقتصادي نهادونه او خیریه ټولنیز نهادونه، بیا جوړ شویدي چې د ارزښت وړ لومړني خدمات وړاندې کوي؛ د پیسو ریفورم تر سره او د محاسباتو واحد ملي سیستم رامنځ ته شوی؛ د ملی اقتصاد نسبی ثبات، مالي نظام، د پیسواحتیاطي سیاستونه، د انفلاسیون نسبتاً ټیټه کچه تر لاسه او اړونده عامه مالي اداره جوړه شوې ده؛ اوس د مخابراتو شبکي او سوداګریزه بانکداري چې د خصوصي سکتور له خوا پر مخ وړل کیږي، نسبتا  ښه پر مخ روانه ده.**

**د بن له تړونه وروسته، د افغانستان دولت او نړیواله ټولنه، د افغانستان توافقنامه (تړونلیك) طرح کړ، چې دا تړونلیك په ۱۳۸۴(۲۰۰۶ زیږدیز) د انګلستان د لندن ښار کې لاس لیک شو. د بن تړون په پایله  کی دولتی نهادونه بیا ورغول شول او د افغانستان د تړونلیك موخه، د دې نهادونو فعال کول و.  دې موخې ته د رسیدو لپاره، د افغانستان  تړون لیك د  دولت هر اړخیزې جوړونې څخه د ملاتړ لپاره  یو شمېر لوړې موخې په ګوته کړې چې د امنیت، حکومتداري ، ټولنیز او اقتصادي  پرمختګ سره یو ځای د نشه یی توکو سره مبارزه او سیمه ایزه همکاري هم پکې شامل وی. د افغانستان دولت د خپلو مسؤلیتونو د پرځای کولو لپاره،چې د افغانستان تړون لیك په وړاندې یی لرلی، د افغانستان د ملي پرمختیایی تګلارې لومړنی سند جوړ  او وړاندې کړ چې هغه سند اوس د افغانستان د ملي پرمختیایی تګلارې په نوم یادیږی  او موږ یی  اوس  د یوی تجربی په توګه تر کتنی  لاندی نیسو.**

**تر اوسه پورې د نړۍ د ملتونو څخه هېڅ یو د داسي ننګونو سره چې افغانستان په وړاندې پرتې دي، ندي مخامخ شوی. زموږهېواد د لسګونو کلونو جګړې په ورانیو بدل کړی او دهغه بشري، نهادی او فزیکي زېربنا یا داچې په بشپړډول ورانه  شوی یا هم ډېره زیانمنه شویده، په اوس وخت کې، افغانستان له  بیوزلي سره لاس او ګریوان دې او د هغه مالی سرچینې ډېرې کمې دي، چې دا کار د خدماتو د وړاندې کولو خنډ ګرځېدلی؛ د مخالفو وسله والو او مجرمانو د فعالیت له امله نا امني ورځ په ورځ زیاتېږي؛  په حکومت کولو کې کمزورې او اداري فساد ډیر زیات دی؛ د خصوصي سکتور د پرمختګ لپاره اړینه زمینه نشته؛ د نشه یی توکو مخ په زیاتېدونکی صنعت له ځانه ناوړه اغېزه پرې ایښې ؛ او په عامه او خصوصي سکتورونو کې د غوره بشري ظر فیتونو کموالي  شته. د هېواد د بیا جوړونې اړونده ستونزو باندې بریالیتوب داسې  چې وکولای شي د دوامدار اقتصادي ودې لپاره لازمه زمینه برابره کړي، د زیاتو کلونو او د نړیوالې ټولنې د دوامداره مرستې غوښتونکی دی. (سره له دی چی د ملی پرمختیاد ستراتیژی پښتو ژباړه له املایی او ګرامری پلوه ډیره اصلاح شوه، خو که چیری بیا هم ستونزی پاتی وی، ښښنه غواړو).**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغو ټولو لاسته راوړنو سره سره د افغانستان د پرمختیا او ثبات په لاره کې ګڼ خنډونه او ننګونې لاهم شته چې ددغې ملي تګلارې په پلان او طرح کې باید له پامه ونه غورځول شي .په هغه صورت کې چې د هېواد په ځینو سیمو کې نا امنی وي، او تر څو هغه راکمه نشي، مونږ اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته نشو رسېدلای. د ترهګرې او بنسټ پالو د فعالیتونو د جرړو را ایستلو په لار کې د دولت او نړیوالې ټولنې د کوښښونو سره سره، د ۱۳۸۴ کال څخه را پدېخوا امنیتي وضع خرابه شوې ده. په افغانستان کې، په ځانګړې توګه په سوېلي او سوېل ختیځو سیمو کې امنیت د خورا اهمیت درلودونکی دی. د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلارې د تطبیق په لاره کې، امنیت یواځینی لومړې شرط دی. خو په دې اړوند امنیت یواځینی عنصر ندی. د افغانستان د ملي پرمختیایی تګلارې همېشنی بریالیتوب د دولت د ځواکمنی له لارې په ټول هېواد کې د قانون د ټینګښت په برخه کې ملاتړ او پیاوړتیا ده. په داسې حال کې دا کار د حکومت کولو د ملی او ځایی جوړښتونو غوښتونکې دي، تر څو و کولای شي وګړو ته اساسی خدمتونه تر سره کړي.

د امنیت په راوستو کې دوی مسلی چې یو دبل سره تړاو لري، مهمی دی: په عامه سکتور کې د اداري فساد زیاتوالی او د نشه یی توکو د صنعت وده. موجوده احصایی دا ښیی چې اداری فساد په ټول هېواد کې خپور شوی او په عامه ادارو کې وار په وار زیاتېدونکی فساد د پانګوالو د نا هیلی سبب ګرځي. چې دا کار په ریښتیا سره د اقتصادی فعالیتونو پڅوالی او له هغه سره نور اړوند تهدیدونه زیاتوي. د هېواد په ځینو سیمو کې د امنیت نشتوالی، د کوکنارو د کرلو لپاره زمینه برابروی چې دا کار د نشه یي توکو د صنعت د زیاتیدلو سبب ګرځي. د نشه یی توکو اقتصاد، د مشروع اقتصاد بالقوه ټول فرصتونه تر خپلې شعاع لاندې راوستلي اود ترهګری فعالیتونو د تمویل لپاره د نامشروع زیاتو پیسو په لاس راوړلو سبب ګرځي اوپه دولتي ادارو کې فساد نور هم زیاتوي. همدارنګه، هېواد کی باید د ټولنیزو غوره خدماتو کموالی په ځانګړې توګه د ښوونې او روغتیا په برخو کې تر غور او څېړنې لاندې ونیول سي. د سواد کچه په هېواد کې، په خاصه توګه په کلیوالي سیمو او د ښځو په منځ کې، ډېره ټیټه ده. په افغانستان کې د روغتیا اړوند شاخصونه هم د نوری نړۍ په پرتله په ډېره ټیټه کچه کې دی. د سړی سر روغتیایی لګښت، د سیمې په هېوادونو کې د سړی سر روغتیایی لګښت یو پر څلور ده.

دولت باید په غوڅه توګه د خصوصي سکتور لاربښوونه وکړی، تولیدی فعالتونه باید زیات کړی اود بازار اقتصاد ته ژمن پاته شي. دا کار د اقتصاد دوامداره ودې لپاره اړین بنسټ جوړوي او د کارموندنې فرصتونو په برابرولو کې مرسته کوي. دا پداسې حال کې ده چې په اقتصادي اړونده عرصو کې یو لړ داسې نیمګړتیاوې شته چې باید تر بیا کتنې لاندې و نیول شي، ترڅو زموږ کوښـښ بریالیتوب ته ورسیږي:

د هیواد فزیکې زیربنا د سړکونو، د اوبو او بریښنا وړاندې کول، او د ارزښت اړوند ټول ځنځیر چې کورنی تولیدات کورنی او نړیوالو بازارونو ته رسوي، داسې کم دي چې اقتصادي ودې ته ځواب نه وایی.

معنوي زیربناوې چې د اقتصادي فعالیتونو لپاره بشری او نهادي لازم ظرفیتونه پکې شامل دي، هیڅ نشته. په عامه او خصوصی سکتورونو کې د ظرفیتونو لوړولو او د نهادونو پرمختګ ته د پام وړ پاملرنه شوې ده، خو بیا هم د ودې او پرمختیا په اړه د افغانستان د ملي پرمختیایی تګلارې موخوته رسېدل، وخت ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اقتصاد مدیریت کول کمزورې ده. دولت ددې په لټه کې دی ترڅو د اقتصاد په برخه کی پراخه سمونې (ریفورم) رامنځ ته کړي، خو د نهادي چوکاټونو جوړول او ددې ریفورمونو د اغیزمن پلي کولو لپاره د لازمو مقرراتو جوړول کلونو وخت ته اړتیا لري.

په تیرو کلونو کی د اقتصادی او سیاسی ګوښه والی په دوران کې د سیمی او نړی سره د افغانستان سوداګریزو اړیکو ته ډیر زیان رسېدلی دی او باید بیا و رغول شي، ددې لپاره چې افغانستان وکولای شی یو ځل بیا د سیمی او نړی د اقتصاد سره یو ځای شي، باید د خصوصی سکتور د ودې او پرمختګ لپاره لازمه زمینه برابره کړي.

د اقتصادی او سیاسی ګوښه والی په دوران کې، د مالی مسلو او د ځمکی د مسلی له کبله د غوره بازارونو ارتباط وده نه ده کړی او دې کار په اقتصادي برخه کې د خصوصی پانګه والو فعالیتونه کم کړي دي. افغانستان د پام وړ سوداګري او طبیعي غوره سرچینو څخه برخمن دی، چې د هغو څخه د سمې ګټې اخیستنې په صورت کې کیدلای شي د کارموندنی لپاره زیات فرصتونه برابر او د دولت عواید په څرګنده لوړ کړي.

د نه همغږۍ او نه سمون اوسنی لارې چارې چې د افغانستان د بیا جوړونې او بیا رغونې لپاره تر ټولو ګټه اخیستل کیږي، باید د یوی بشپړې همغږې، واحدی او د لومړیتوبونو د ټاکلو په کړنلارې، هغسې چې د افغانستان د ملي پرمختیایی په ملی تګلارې کې ځای ورکړل شوی و، بدل شی. ددې ټکي په پام کې نیولو سره چې اوس هم یو ډیر شمیر مرستې، د افغانستان د دولت له بودجوې سیستم څخه وتلي، لګول کیږي، لازمه ده چې د افغانستان د راتلونکی پرمختیا لپاره اړینه همغږي رامنځ ته شی او د مرستو اغېزمنتیا لوړه شی.

د ANDS د تطبیق په بهیر کې د بهرنیو مرستو د وضعیت لنډ تحلیل په لاندې توګه وه .

د ارقامو له مخی په ۱۳۸۱ل. کال کی په اصلی بودجه کی د بهرنیو مرستو اندازه په سلو کی ۸۲،۷ وه. د ۱۳۸۲ ل. کال په ټوله بودجه کی د بهرنیو مرستو سلنه ۹۱،۳ تمویل شوی وه او د ۱۳۸۳ل. کال په ټوله بودجه کی په سلو کی پنځوس یی له بهرنیو مرستو څخه تمویل شوی وه. د ۱۳۸۴ ل. کال د ټولی بودجی په سلو کی ۸۲،۲ له بهرنیو مرستو څخه تمویل شوه. د ۱۳۸۵ل. کال بودجه کی د بهرنیو مرستو ونډه په سلو کی ۷۷ وه او د ۱۳۸۶ کال په اصلی بودجه کی د بهرنیو مرستو ونده په سلو کی ۷۲ اټکل شوی وه. د ۱۳۸۷ل. کال په ټوله بودجه کی د بهرنیو مرستو ونډه په سلو کی ۶۶،۲ وه. په ۱۳۹۱مالی کال کی ملی بودجه ۲۴۴،۷۴۴بلیونه افغانی وه، چې دغه پیسی له ۴،۸۹۵بیلیون ډالرو سره معادل دی( په دی کال کی په اوسط ډول یوامریکایی ډالر پنځوس افغانی کید)،ددغه کال په انکشافی پروګرامو کی هم له همدی بودجی کار اخیستل شوی و، همداسی هم تر ۱۳۹۲ل. کال پوری د انکشافی بودجی لپاره بهرنیو مرستو څخه کار اخیستل کیده. په دی توګه لیدل کیږی چی بهرنیو مرستو د افغانستان ددولت د مالی تمویل مهمه وسیله وه . دغه مرستی په عمومی توګه له افغانستان سره په لاندی توګه د مرستو په نړیوالو بیلابیلو کنفرانسونو کی ژمنه شوی وی :

- په ۲۰۰۶ م. کال کی د توکیو کنفرانس ۴،۵ میلیارده ډالره مرسته افغانستان سره و منله
- په ۲۰۰۴ م. کال کی د برلین کنفرانس ۸،۳ میلیارده مرسته ومنله
- په ۲۰۰۸ م. کال کی د لندن کنفرانس کی ۱۰۵ میلیارده ډالره او پاریس کنفرانس کی ۲۱،۴ میلیارده د مرستو وعده وشوه.
- په ۲۰۰۶ م. کال کی ددغو ټولو مرستو مجموعه ۲۳،۳ میلیارده ډالره شوه. د ۲۰۰۶ کال تر پای پوری افغانستان ته ۱۳ میلیارده ډالره راغلل. ددغو پیسو په سلو کی ۲۲ یی ددولت له طریقه او په سلو کی ۷۸ یی د نادولتی موسساتو له خوا مصرف او ولګول شوی.البته ددولت د بودجی په واسطه اجرا شوی مرستی د نا دولتی موسساتو په پرتله اغیزمنی ارزیابی کیږی، اما د نادولتی مؤسساتو د لګښت او د پروژو نتیجه او دهغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

گزارشات رسما ثبت نه دی او نه هم ددوام او کیفیت له پلوه ډیر مطلوب دی( البته ټولی تر یوه حکم لاندی نشی راتلای، ډیرو انجیوګانو او موسساتو خصوصا د ولایتی بیارغاونی ټیمونو په ډیر معقول لګښت سره ډیری ګټوری او مطمینی او منظمی پروژی تطبیق کړی چی د افغانستان ددولت او ټول ولس له خوا دمننی وړ دی).

- له ۲۰۰۲ م. کال څخه تر ۲۰۰۹ م. کال پوری ټولی ۶۲,۳۵ میلیارده ډالره مرسته افغانستان سره ژمنه شوی ده چی له هغی جملی څخه ۳۵,۴۵ میلیارده ډالره په دغه موده کی افغانستان ته ورکړل شوه.
- د بن دوهم کنفرانس(۲۰۱۱م.)دایر شو، موخه یی تر ۲۰۲۴م. پوری چی د بن له لومړی کنفرانس څخه تقریبا لس کاله وروسته جوړ شو، د تحول لسیزه یی په پام کی ونیوله او د امنیتی مسولیت دلیږد خبره پکی مطرح شوه او له افغانستان څخه تعهد واخیستل شو چی اداری فساد ته به دپای ټکی ږدی. په دی کنفرانس کی چی د آلمان د هیواد په کوربه توب او دافغانستان په ګډون دایر شو، هغه کی ۸۵ هیوادونو او۱۵ نړیوالو سازمانونو برخه لرله. مهمه موضوع یی دافغانستان د امنیت په هکله د نړیوالو ژمنی وی. د پورتنیو مرستو له جملی څخه د هغه زیاته برخه یی بلاعوض کمکونه دی، لږ برخه یی پورونه دی. دغه پورونه په لاندی ډول له بیلابیلو منابعو او په بیلابیلو شرطونو سره دی :

5. نړیوال بانک: بیلابیلو پروژو ته یی د ۶۱۱۹۱۱۲۰۳ ډالرو په اندازه پور ورکړی دی چی ددغه پور شرطونه دادی:
   د پور تکتانه یی په سلو کی ۰,۷۵ ژمنه شوی یی په سلو کی ۰,۳ او د ورکړی موده یی لس کلونه د پور ده پای ته رسیدو موده یی څلویښت کلونه دی.
6. د آسیایی پرمختیا بانک: په بیلابیلو پروژو کی ټول ۷۸۷۲۹۰۰۰۲ ډالره پور ورکړی
   شرایط: د پور تکتانه په سلو کی یو او ژمنه شوی تکتانه په سلو کی صفر، د بیاورکړی پیل لس کاله د پور د پای ته رسیدو معیاد څلویښت کاله دی.
7. د اسلامی پرمختیایی بانک: په دوو پروژو کی یی ټول ۲۹۷۸۳۶۰۰ ډالره پور ورکړی دی.
   شرایط: د پور تکتانه په سلو کی صفر، د بیرته ورکولو مهلت یی اته کاله او د پور د پای ته رسیدلو معیاد دیرش کاله دی.
8. د سعودی پرمختیایی صندوق: د ټول پور اندازه ۵۱۹۹۸۷۰۰ ډالره
   د پور شرایط: تکتانه په سلو کی صفر، د بیا سپارلو د مودی پیل اوه کاله، دپور د پای ته رسیدو مقیاد ۲۵ کاله.

له بلا عوضه کمکونو پرته د پورتنیو څلور ډوله ورکړل شویو پورونو څخه د هیواد د بیارغاونی بیلابیلو برخو کی لګول شوی دی. هغه پورونه چی په مجموع کی له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۵ ل. پوری افغانستان ته ور کړی شوی دی. ټول یی ۱۴۸۰۹۸۹۰۵۵ ډالره کیدل.

پورتنی مثالونه په افغانستان کی د بهرنیو مرستو اندازه او طرز و، په تیره بیا د کابل په کنفرانس کی وروسته د افغانستان دولت ته د بهرنیو مرستو د لګولو په هکله پوره تجربه ترلاسه شوه. په دغه کنفرانس کی د افغانستان دولت او وروسته تر ۲۰۱۰ م. څخه یی د بهرنیو مرستو په لګښت کی یو ریفورم ایجاد کړ. د مالیي وارت مخکی تر هغه ددولت د عوایدو دډیر ښه متمرکز کیدو او په هغو کی د ښه شفافیت په خاطر د مالیی وزارت، د مهمو ګمرکونو او دولایاتو د مستوفیتونو په برخه کی نه ستومانه کیدونکی کار کړی و. هغه بی نظمی چی له۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۴ پوری موجوده وه ورو ورو له منځه ولاړه او ددولت شتمنی خوندی پاتی شوه. لاهم ډیر کارونه پاتی دی چی ددولت منظم او غیر منظم ټول عواید ښه سازماندهی شی. د مالیی وزارت په دی برخه کی په دی ورسوتیو دوه ـ دری کلونو کی ښه کوټلی او بریالی ګامونه اچت کړی دی او ددولت د عوایدو اندازه اوچته او ثبات ټینګ شوی دی .

له نیکه مرغه افغانستان پراخه مالی سرچینی لری او ددولت د عوایدو لپاره مختلف منابع شته چی ورو ورو به یو یو تر استفادی لاندی راشی. یعنی افغانستان مجبور نه دی چی د اوږدو کلونو لپاره بهرنیو مرستو ته انتظار وباسی. د افغانستان ددولت مالی منظم عواید لکه مالیاتی عواید، تشبثاتی عواید او نور دی چی د هغه اټکل کول آسانه دی. له بلی خوا داسی هیله شته چی بیلابیل مالیات ولرو، لکه :

د جایدادونو، سرایونو، خمکو، دمالداری سکتور، ونډی، د جوازونو اوحق الامتیازونو او داسی نورو له مدرکه. د مالی دورو او منابعو توپیر په اقتصادی شرایطو کی د مثبت بدلون لامل کیږی. څومره چی ددولت منظم عواید پیاوړی شی یعنی له بالقوه امکاناتو استفاده کول زیات کړو، هومره به په بهرنیو مرستو زمونږ اتکا کمه شی. د مالیی دوزارت او د افغانستان دحکومت راتلونکی هڅی همدی ټکیو باندی متمرکزی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ددولت غیر منظم عواید بهرنی مرستی، اعانی، د اړتیا پرمهال ددولتی ملکیتونو پلورل او ددولت پورونه دی. کله چی منظم عواید ثبات وومومی او پیاوړی شی، بیا نو د غیر منظمو عوایدو ارزښت کمیږی او اړتیا ورته نه لیدل کیږی. افغانستان او س همداسی یو ی مرحلی ته نزدی شوی دی.**

## د افغانستان بیا رغاونه او د لندن کنفرانس

**د افغانستان اسلامی جمهوری دولت او نړیوالو ملګرو د ۲۰۱۰ کال د جنوری په میاشت، چی ۱۳۸۸ کال د سلواغی میاشت د اتمی سره سمون خوری په لندن کښی ناسته وکړه تر څو په ځپلو مشترکو ژمنو له افغانستان سره د امن، رفاه او دیموکراسی په ډاډمنولو کښی مرسته وکړی. د لندن کنفرانس له افغانستان سره د نړیوالو همکاریو په لړ کي یو مهم قدم بلل کیږی تر څو په افغانستان کښی امنیت، ثبات او انکشاف راشی او ملګرو ملتونو پدی ساحاتو کښی خپل ملاتړ د افغانستان دولت څخه تجدید کړ.** په لندن کنفرانس کښی ولسمشر حامد کرزی خپلې ژمني په داسی شکل بیان کړې لکه څرنګه یی چی د لوړی کولو (سوګند یادولو) په مراسمو کښی ویلی وو او هغه باندی یی بیا تاکید وکړ. همدا رازملګرو ملتونو په خپلو ژمنو باندی هماغسی چی د بن کنفرانس ۲۰۰۱، توکیو کنفرانس ۲۰۰۲، دافغانستان توافقنامه په ۲۰۰۶، پاریس اعلامیه ۲۰۰۸ کښی کړی وه بیا ټینګار وکړ. ملګرو ملتونو په خپل ملاتړ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا قطعنامه چی د افغانستان د امنیت، ثبات او رفاه په اړه وه بیا تایید کړه. په دغه ناسته کې د کنفرانس ګډون کونکو ټینګار وکړچی د افغانستان دولت او ملګرو ملتونه یو نوی پړاو ته ځی، تر څو افغانان دخپل هیوادچارې په خپل لاس کې واخلی. د کنفرانس ګډون کونکو یو ځل بیا د رهبرئ او مدیریت چارو د افغانانو په واسطه په اهدافو او منطقوی او نړیوال همکاریو په زیاتیدو ټینګار وکړ. ټولو ګډون کونکو ژمنه وکړه چی جدی هڅی به کوی تر څو د افغانستان دولت د دی وړتیا وومومی چی د خپلو خلکو اړتیاوی پوره کړی.

د لندن کنفرانس څخه وروسته، بل کنفرانس په کابل کښی د افغانستان په کوربه توب دایر شو او په دی کنفرانس کی د افغانستان لپاره په عملی پلانونو باندی خبری اتری وشوې. دغه پلانونه په ټولیز ډول په افغانستان کې د برابری، بشری حقونو، جنسیتی برابری، غوره حکومتداری او اقتصادی ودی په اصل باندی ولاړ وو، چې د افغانستان د اساسی قانون په رڼا کې به تنظیم شی. په کنفرانس کښی په ګروپی هڅو باندی تاکید وشو ترڅو کامیابی ترلاسه شی.

ګڼ شمیر ستونزو په افغانستان کښی پورتنې ټول اهداف له ننګونو سره مخامخ کړې وو، مخصوصاً په سیاسی، اقتصادی، انکشافی او امنیتی ساحاتو کی. په دغه مشکلاتو بری زمونږ په ګټه و، خو لا هم د بری درک ونه لګید. د ملګرو ملتونو د شتون او همکاری څخه موخه په افغانستان کی، د افغانانو په واسطه د چارو د رهبری څخه ملاتړ کول و، خو دا کار ډیر بریالی تمام نشو. په دې کنفرانس کې د افغانستان امنیتي وضعیت تر پشپړی څیړنې لاندې ونیول شو، د کنفرانس ګدون کونکو د افغانستان خلکواو امنیتی قواوو اوله هغو هیوادونو مننه وکړه، چی په افغانستان کښی خدمت کوی. ګډون کونکو همدارنګه خپلی خواشینی دهغو کسانو په هکله وښودله چی خپل ځانونه یی د یو با ثبات او امن افغانستان په خاطر له لاسه ورکړی دی. هغوی همدارنګه پردی ټینګار وکړ چی پر خپل تعهد او عزم باندی ولاړ دی تر څو د تروریزم او سیمه ییزتهدید سره مبارزه وکړی او د افغانستان ددولت له هڅو څخه یی په دی برخه کی مننه وکړه . په کنفرانس کې د امنیتی قوا د پرمختک او د مسؤلیتونو اخیستلو په برخه کښی د پرمختګونو څخه خوښي وښودل شوه. هغوی همدارنګه د افغانستان د ژمنی څخه چی افغان امنیتی قواوو په راتلونکی دری کالو کښی د اکثرو نظامی عملیاتونو رهبری په غاړه واخیسته او پنځه کاله وروسته به د فیزیکی امنیت رهبری ولری هرکلی وشو او **دی هدف ته د رسیدو لپاره نړیوالی ټولنی د افغان امنیتی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

قواوو سره دنوری مرستی لپاره ژمنه وښوده. د کنفرانس ګډون کونکو خپل مشترک تعهد او ژمنو باندی ټینګار وکړ تر څو د انتقال پروسه ژر تر ژره سرته ورسوی. دا پروسه لومړی ځل له یو څو ولایاتو څخه شروع شوه، چی د ۲۰۱۰ تر آخره او ۲۰۱۱ په شروع کښی امنیت افغانی قواوو ته ورسپارل شو او داسی وښودل شوه چی آیساف به یواځی حمایتی نقش ولری.

د پرمختیا او حکومتولی په برخه کې په دې کنفرانس کې ګڼ بحثونه وشول ، دا چې افغانستان د ډیرو انکشافی ستونزو سره مخ دی، دا هم ومنل شوه، چی په دغو ستونزو د کامیابی لپاره د نړیوالو ټولنی د متداوم حمایت ته ضرورت شته. د دغو ستونزو او خنډونو د منځه تللو لپاره یوې همغږې ملکی برنامې او منابعو ته جدی اړتیا احساس شوه.

نړیوالی ټولنی د افغانستان دولت د اقتصادی انکشاف د مراحلو د تکمیلیدو په خاطر د قرض ورکونکی لخوا د 1.6 میلیارده دالرو د قرضونو د بښنی څخه خوښی څرګنده کړه او تر اوسه پوری د بخښل شوی قرضونو رقم افغانستان ته ۱۱ میلیاردو ډالرو ته رسیدلی. د کنفرانس ګډون کونکو د افغانستان له د غی ژمنی څخه خوښی څرګنده کړه چی ، وروسته تر دی به ډیر مالی مسئولیتونه په ځان باندی منی ، یعنی مرستی به د نادولتی موسساتو پر ځای ددولتی ادارو له طریقه لګول کیږی، خو دغه کار یو لړ اصلاحاتو ته اړتیا لری چی په لاندی ډول وی:

- د ګمرکی او مالیاتی عوایدو زیاتوالی
- د دولتی تصدیګانو رغاونه او بیرته جوړول
- د قانونی اصلاحاتو ادامه چی په دی لړکی د معادنو د نویو مقرراتو تطبیق کول شامل دی.

د کنفرانس ګډون کونکی په خپلو ژمنو په هغه صورت کی ولاړ دی چی دافغنستان دولت د فساد د مبارزی لپاره یوه پراخه برنامه ولری او هڅه دی وکړی چی د کابل کنفرانس د پروګرام څخه مخکی باید یو شمیر ټاکلی پلانونه تطبیق کړی چی په لاندی ډول وو:

- د قانون د نظارت د دفتر تقویت تر څو دوی وکولای شی هغه حکومتی مسئولین چی په فساد اخته دی ورڅخه تحقیق وکړی او هغوی تحریم کړی.
- تر ۲۰۱۰م. کال پوری له فسادسره د مبارزی د ارګانونو لپاره د یو حقوقی بنیاد جوړول ، تر څو د غټو جرایمو د څیړلو په وړاندی د اوږدی مودی لپاره استقلالیت ولری.
- د شایسته سالاری روند او د ملکی خدماتو د قانون د موثریت زیاتوالی.
- د ولس مشر عزم د هغه فرمان د صدور لپاره چی په هغه کښی د وزیرانو، مشاورینو، پارلمان غړی، والیان او د وزارتونو معین صاحبان ونشی کړای په ګمرکونو او دعوایدو لرونکوریاستونو کښی خپل اشخاص او اقارب ځای په ځای کړی. ( اوس له هغه فرمان او ژمنو څخه دوه یا دوه نیم کاله تیر شول، خو هیڅ اغیزه یی معلومه نشوه)

نړیوالې ټولنې په دغه کنفرانس کې د افغانستان ددولت دی ژمنی څخه هم خوښی وښوده، چی د ښځو په وړاندی د تاو تریخوالی مخنیوی قانون به تطبیقوی او ددوی د حقونو د رعایت لپاره به یو عملی پلان تطبیقوی. ( د ښځو د حقونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**رعايت، د جندر دمسايلو، د صحت او معارف په چارو کی د ښه والی د څارنی لپاره د افغانستنان مدنی ټولنی مسولیت په غاړه واخیست، تر څو دا مسایل نظارت کړی)**

# ANDS د افغانستان د بیا رغاونې مهمه ستراتیژیکه برنامه

**د افغانستان ملي پرمختيايي تګلاره(ANDS) د افغان حکومت د هراړخيزه پاليسی يو سند و، چې موخه يې د افغانستان د ټولنيزو او اقتصادي پرمختياوو لپاره د مسايلو، سيستمونو او زماني چوکاټ وړاندې کول و، تر څو پرمختيايي چارې له نړيوالې ټولني او داخلي فعالو ارګانونو سره په هماهنګی ترسره شي . ددې سند جوړيدنه په لومړي ځل په ۲۰۰۵ کال کې د يو لنډ مهاله لومړني سند په ډول (ANDS – 1) را پيل شوه او دا بهير د يوې ځانګړې کميټې لخوا چې ولسمشر يې په خپله نظارت کاوه او د ولسمشر د اقتصادي سلاکار لخوا يې مشري کيدله پر مخ بيول کيده . هيله دا وه چې د افغانستان په اړوند د زريزې پرمختيايي موخو MDGs-Afghanistan د ترلاسه کيدلو لپاره به په داسې جامع سند او پروګرام باندې کار وشي چې د زريزي پرمختيايي اهدافو ته د افغانستان د رسيدو په برخه کې مرسته وکړی او په منځنمهاله او اوږده موده کې د يو منظم ، متداوم او هر اړخيز پرمختګ لپاره بنسټ کيښودل شي . په دې اړوند له يوې خوا د حکومت بيلابيلو سکتوري وزارتونو لکه بهرنيو چارو ، کليو پراختيا او ماليې وزارتونو او له بله اړخه افغانستان سره د سترو مرستندويه هيوادونو او نړيوالو ادارو لکه نړيوال بانک ، د اسيا پرمختيايي بانک او ملګرو ملتونو سره په ګډ تفاهم او ګنو سلا مشورو وروسته د لنډ مهاله پرمختيايي سند لومړنی نسخه رامنځته شوه تر څو د افغانستان په هکله په ۲۰۰۶ کال کې د لندن کنفرانس کې وړاندې شي .**

**د افغانستان په هکله د لندن په کنفرانس کې د افغانستان د حکومت او نړيوالې ټولنې ترمنځ د افغانستان تړونليک Afghanistan Compact[1] رامنځته شو په دې کنفرانس کې بهرنيو هيوادونو او نړيوالو مرستندويه ادارو د افغان حکومت د پرمختيايي تګلارې څخه بشپړ ملاتړ وکړ او موافقه يې وکړه چې د پرمختيايي موخو د ترلاسه کولو لپاره دې د افغانستان حکومت دا ابتکار او د دې بهير مسئوليت په خپله پرغاړه واخلي . له هغه وروسته دغه ملي پرمختيايي سند ته د اغيزمن سند په توګه وکتل شول او د حکومت په داخل کې د بيلابيلو سکتوري چارو د تنظيم لپاره ګني سلا مشورې وشوې . د لندن د کنفرانس څخه د مخه او له هغه وروسته د مرستندويه هيوادونو او سازمانونو دولتي او نادولتي فعالو ادارو ، خصوصي سکتور ، مدني ټولني او د ټولني له نورو اقشارو سره سلا مشورې ددې سبب شوې چې په دغه ملي پرمختيايي سند کې شاملو موخو او تګلارو کې ګڼ اصلاحات رامنځته او د دې سند وروستی نسخه تياره شي . د افغانستان ملي پرمختيايي تګلاره په عمومي ډول دوه مهمې دندې پر مخ بيايي :**

---

[1] د افغانستان موافقه ليک يا Afghanistan compact د افغان حکومت او نړيوالې ټولني او اړونده مالي مرستندويانو ترمنځ په ۲۰۰۶ ميلادي کال کې لاسليک شو . دغه تړون ليک په پام کی لرل چی د نړيوالو مراجعو په ملاترېه راتلونکو پينځو کلونو لپاره د يو ملي او اغيزناک پروګرام بنسټ جوړوي . د افغانستان حکومت د دې تړون له مخې ژمن شوی و، چې د ملي امنيت ، ښې حکومتدارى ، اقتصادي او ټولنيزې ودې او د نشه ئي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخو کې ځانګړو موخو ته ورسيږي او په دې برخه کې مشخصې لاسته راړوني ولري ،خو دپام وړ بريالیتوب تر لاسه نه شو او ګڼ شميرفرصتونه له لاسه ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړيوالې ټولنې ته د هېواد په دننه کې د پرمختيا د لومړيتوبونو په اړوند هر اړخيزه ځېړنه ترسره کول او له ۲۰۰۲ کال څخه راوروسته چې افغانستان له اوږدې جګړې څخه راووت نړيوالې ټولنې ته د امنيت ، اقتصاد او ټولنيزو پرمختيايي اړتياوو په اړه د يوې واحدې تګلارې چې په دا خل د هيواد کې د ټولو دولتي اداراتو له ملاتړ څخه برخمنه وي، وړاندې کول شامل و.

په پروژو او پروګرامونو کې د اغيزمنتيا د راوستلو په موخه د بيلابيلو سکتوري وزارتونو او فعالو ادارو ترمنځ د تګلارو همغږي کول يې هم يوه برخه وه . په دې اړوند د افغانستان ملي پرمختيپايي تګلارې جوړښت د بيلابيلو رکنونو په بنه پرمختيايي اړتياوی دلبندي کولی او په دې ډول له دولتي وزارتخانو ، مرستندويه هيوادونو ، نړيوالو دولتي او نادولتي سازمانونو او افغان مدني ټولنو سره د کار او مرستو د ساحو په ګوته کولو کې مرسته کول اتکل شوی وو او په هره برخه کې لومړيتوبونه په ګوته شوي وو.

د افغانستان ملي پرمختيايي تګلارې بله اساسي دنده د زريزې د پرمختيايي موخو په چوکاټ کې د بې وزلی د کمولو په برخه کې د رغنده رول لوبول په نښه شوی وو، چې د نړيوال بانک او د پيسو د نړيوال صندوق لخوا يې مالي ملاتړ په غاړه اخيستل شوی و . نوموړې تګلاره (Poverty Reduction Strategy Paper)د اقتصادي پرمختيا د تګلارې يو سند و، چې د نړيوالو مالي ادارو او بانکونو څخه د پورونو د اخيستلو لپاره ی شرايط برابرول .

## د (ANDS )پيژندنه

د افغانستان ملي پرمختيايي تګلاره Afghanistan National Development Strategy (ANDS) په تيره لسيزه کې د يوې واحدې ، معياري او د ټولنې د لومړيتوبونو په اساس ترتيب شوې ستراتيژی وه. دا په تيرو کلونو د افغانستان د دولت ستره لاسته راوړنه ګڼل کيده، چې د نړيوالې ټولنې پام يې ځانته اړولی او په مهمو نړيوالو کنفرانسونو کې د نړيوالو تمويلوونکو لخوا د همدې ستراتيژی په اساس په لوړه کچه مالي او تخنيکي ژمنې شوي دي . د دغه سند نوم له څلورو کلمو څخه ترکيب شوې چې په دغه تګلاره کی تعريف شوی و دلته کټ مټ ليکل کيږی او په لاندې ډول تعبيريدلی شي :

افغانستان : افغانستان د اسيا په مرکز کې پروت په وچه کې راګير landlocked هيواد ده چې جنوبي اسيا او مرکزي اسيا سره نښلوي ،د ۶۴۷۵۰۰ کيلو متر مربع مساحت په لرلو سره دنفوسو د شمير له حسابه په نړی کی ۴۰ هيواد ګڼل کيږي . له اقتصادي پلوه افغانستان د نړی د غريبو هيوادونو په کتار کې راځي اود تاريخ په بيلابيلو پړاوونو کې تل د بهرنيو ښکيلاکونو او سياسي لوبو ميدان ګرځيدلی . د تيرې لسيزې نسبي امنيت او د نړيوالو په مرسته اقتصادي تحرکاتو په نتيجه کې اوس اوس د افغانستان هڅه کړې چې په اوږده او منځمهاله موده کې يو ښکاره لرليد او بشپړ پرمختيايي پلانونه ترتيب کړي ترڅو د نړيوالو د تائيد او ملاتړ وړ وګرځي . چې د افغانستان لپاره د ANDS سند د همدې هڅو يوه کړی او دا يوه ځانګړې پرمختيايي تګلاره ده چې د افغانستان د شرايطو په پام کې نيولو سره ترتيب شوې .

ملي : د افغانستان ملي پرمختيايي تګلارې دوهم لفظ د National يا ملي لفظ ده چې دا ښکاره کوي چې دا ستراتيژي د افغانستان د سياسي سرحدونو دننه ټول قشرونه ، سکتورونه او ټولې سياسي ، ټولنيزې او اقتصادي برخې را اخلی او ددې پرمختيايي پاليسی يوه موخه په ملي سطحه د متوازن او همغږه پرمختيا رامنځته کول دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پرمختیا : د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې دریځم لفظ Development یا پرمختیا ده چې دا لفظ د پرمختیا پراخه مفهوم رانغاړي ، په دې مانا چې په دغه پرمختیایي تګلاره کې له اقتصادي پرمختیا نیولې تر سیاسي ، ټولنیز ، امنیتي او د ښې حکومتدارۍ پورې ټولې اړونده پدیدې په بر کې نیسي او په پای کې د افغانستان د ټولو وګړو د ژوندانه د سطحې لوړالی ددې پرمختیایي تګلارې وروستی هدف جوړوي .**

**ستراتیژي : د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې وروستی لفظ د Strategy یا تګلاره و، چې د اوږدمهاله پلان په مانا تعبیر کید . د یادولو وړ ده چې د افغانستان ملي پرمختیایي تګلاره په ځانګړې ډول د پینځو کلونو لپاره ترتیب شوې وه خو دا تګلاره داسې ترتیب شوې وه چې د اوږدې مودې لپاره یې د بنسټونو په رامنځته کولو زیات تمرکزدر لود، د بېلګې په توګه د زریزې پرمختیایي اهداف چې افغانستان یې باید په ۲۰۲۰ کال کې ترلاسه کړي .**

د افغانستان دولت، د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاری په ترڅ کی د افغانستان په ټرونلیک او د افغانستان په پرمختیایی موخو کی درج، د ټولو معیارونو موخو په لاس ته راوړنه ځان په ټینګه ژمن بللی و. دغه ژمنی دا وی :

(الف) د **ملی** ثبات حصول،

(ب) د قانون د واکمنی، د ډیمو کراسی د پروسی او انسانی حقونو پیاوړتیا، او

(ج) د عامه خدمتونو د وړاندی کولو سمون او د دولت حساب ورکونه.

دغه ژمنی همدا راز پرهغو هڅو ولاړی وی چی، بیوزلی را کمه کړی، د خصوصی سکتور له لاری د اقتصادی ودی په ترڅ کی دوامداره پرمختیا ډاډمنه کړی، او د بشری پرمختیا شاخصونو ته سمون ورکړی. برسیره پردی، د پرمختیا په ټولو اړخونو کی د پرمختګ چټکتیا، په یو لړ مهمو سکتورونو لکه: کرنی، انرژی، اوبه لګولو او ښوونی او روزنی لپاره پکی لازیاتی پانګی ته اړتیا ښودل شوی وه.

د هغو مشورو وروسته چی د زرګونو افغانانو او نړیوالو ملګرو سره ترسره شوی، د افغانستان ملی پرمختیایی تګلاری **داسی** چمتو شوی، تر څو په ترڅ کی یی هغه لومړیتوبونه چی په دغی تګلاری کی په ګوته شوی، د هغو ننګونو او ګواښونو سره سمون ولری چی هیواد دا مهال ورسره مخ دی. په دغه هڅو او هاند کی، زمونږ بریالیتوب، د افغانستان د نړیوالو ملګرو دوامداره، شدیده، اوسره پیوست ملاتړ ته اړتیا لری. په همدی اړه، په افغانی مدیریت سره، د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاری د اجنډا اغیزمن پلی کولو لپاره د مرستو اغیزمنتیا اړینه ګڼل کیږی، په ځانګړی توګه، د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاری د لومړیتوبونو سره د دغو مرستو په سمون ورکولو او د افغانستان د اصلی بودجی له لاری د سرچینو په لیږ دولو سره.

د افغانستان ملی پرمختیایی تګلاری، د یوی ملی تګلاری په توګه باید یو ه داسی منسجمه طریقه (طرزالعمل) خپله کړی وای، چی په ترڅ کی یی باید دهیواد د سوکالی، امن، ښه حکومت کولو او ثبات مشترکو موخو ته په پام سره، د دغه موخو **بریالی** پلی کول ډاډمن کړل شوی وای. په ستراتیژی کی داسی ویل شوی و: لکه څنګه چی مونږ د افغانستان د ټرونلیک د موخو د پلی کولو په لور ګام ږدو، ترڅو د عامه افغانانو په ژوندانه کی یواغیزمن بدلون منځ ته راشی، دا کار، د نړیوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنی یوی قوی او دوامداره، مالی او سیاسی ژمنی ته اړتیا لری. تر ټولو مهمه دا چی، دغه منسجمه(واحده)هڅه به دولت، خصوصی سکتور، مدنی ټولنی، تړیوالی ټولنی او ټولو افغانانو بشپړی همکاری او ورګډېدو ته اړتیا ولری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د( ANDS)میتودولوژي :

**د افغانستان دولت، د ملي پرمختیا لپاره پنځه کلنه هر اړخیزه تګلاره طرح کړې وه، تر څو د هغې له لارې د افغانستان امنیتي، حکومت کولو او پرمختیایی اړتیاوو ته په بشپړه توګه ورسیدای شو. د افغانستان ملي پرمختیایی تګلاره، د افغانستان د ټرونلیك په جوړو شوو معیارونو او د زریزی پرمختیایی موخو ته درسیدو لپاره، د حکومت لرلید، اصولو او موخو ته انعکاس ورکاو او داسی په پام کی نیول شوی وه، چی له دولت سره به د خپلو ژمنو په عملي کولو کې مرسته کوي.**

**د اسی اټکل شوی و چی دافغانستان ملي پرمختیایی تګلاره به د ملی، ولایتی اوسیمه ییزو پراخو مشورو لاس ته راوړنه وی. ملي مشورې، د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د دولت اومدني ټولنی د ټولو نهادونو، د نا دولتي سازمانونو په ګډون، فرهنګي ټولنو، مذهبی ډلو، د قومونو مخورو، خصوصی سکتور، د پرمختیااو نړیوالي ټولني کار پوهان په بر کې ولري. په پام کی وه چی ولایتی مشوری ، د والیانو ، د ولایتي نهادونو د استازو، د کلیوالی شوراګانو، د هر ولایت څخه دملی شورا د وکیلانو، د ځایی مدني ټولني د مسؤلینو او استازو او د د بیا رغوني د هغو ولایتی ټیمونو د استازو او د ولایتونو د مخورو مشرانو سره بحثونه، به په بر کې ونیسي، چې پدې مشورو کې یی په نیغه توګه برخه اخیستی وه.**

**د افغانستان د ملي پرمختیایی تګلارې اړونده مشورتي بهیر، د پلازمیني او ولایتونو ترمنځ لومړنی کلیدی مفاهمه وه او په دی دلیل جوړه او په پام کی ونیول شوه تر څو د پلازمیني او ولایتونو ترمنځ اړیکې پیاوړې کړي. د دې مشورتي بهیر محصول، د کلیو په کچه د پرمختیا د ۱۸۵۰۰پلانونو جوړول، د ولسوالي په کچه د ۲۹۰ پرمختیایی پلانونو جوړول، او په پاي کي د ۳۴ ولایتی پرمختیایي پلانونو جوړول و. په ولایتی پرمختیایي پلانونو کې د اړوندو ولایتونو اړتیاوې او د هغوی پرمختیایی لومړیتوبونه په ګوته شوي وو. ( دغه ټکی د ستراتیژی له منځپانګی رااخیستل شوی دی، صر ف نظر له دی چی عملی شول یا نه شول، خو دیوی تجربی په توګه یی باید په نظر کی ونیسو).**

**د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلارې په برابرولو کې، دولت د معلوماتو پر بنسټ د پالیسی جوړونی میتود په و سیله د بیوزلی د شننې د بهیر له لارې، ګټه اخیستې وه، تر څو وکولای شي چې د بیوزلی اغیزې او لاملونه په سمه و پیژني. د داسې شننو پر بنسټ، ستراتیژی جوړوونکو وکولای شو تر څو په ټولنه کې د بی وزلي قشر د وضعیت په پام کې نیولو سره، د افغانستان د ملي پرمختیایی تګلاره برابره کړی. په ټولنه کې د بیوزلو قشرونو په پام کې نیولو څخه، د افغانستان د دولت موخه دا وه چې پانګه اچونه په سیده توګه د بیوزلی په له منځه وړلو باندې اغېزه وکړي. د اقتصادی ودې او پرمختیا لپاره د زمیني برابرولو او دهدفمنده پالیسیو د غوره کولو له لارې، باید ټولنیز مصؤنیتونه تامین شوي وای. په دې معنا چی د افغانستان موخه دا وه ترڅو د ټولنی تر ټولو د بیوزلو افرادو معشیتی وضعیت ښه کړی او د اقتصادی منځنی ودې په پرتله، په چټکی سره لوړ والی وومومي. هغه کلیدي پایلي چې د دولت له لوري د ۱۳۸۶ کال (۲۰۰۷) په پسرلي کې د ملي خطراتو او زیانمنني National Risks and vulnerability د چوکاټ په ترڅ کې د سروې د تر سره کولو په پایله کې تر لاسه شوې، دا ښیي چې په هیواد کې د بی وزلی کچه ، د پسرلي په پیل کې په سلو کې ۴۲ (د هیواد ۱۲ میلیونو نفوس سره برابر)د سړي سر کلنی عاید په میاشت کې نږدې ۱۴ ډالره و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سربيره پردې، د اتكلونو له مخې خوار ځواكې د افغانستان په سلو كې د ۴۵ وګړو لمن نيولې وه. له دې امله د خلكو دغې طبقه نشواى كولاى چې د ورځې د لازمې انرژۍ يعنې په ورځ كې ۲۱۰۰ كالوري د تر لاسه كولو لپاره مناسب خواړه برابر كړي. سربېره پردې ، د وګړو په سلو كې ۲۰ د بيوزلي د كرښې څخه ټيټ ژوند لري، چې دا دهغوى د زيانمنني لوړه كچه په ګوته كوي.**

**هم ملي مشورې( د ټولني د هرم د پاسه څخه كښته خوا ته) او هم ولايتي مشورې ( د ټولني د هرم د كښته څخه پاس خواته) په سكتوري تګلارو كې ځاى وركړل شوى او د سكتوري تګلارو په جوړولو كې يې مرسته كړې ده، او د دې لپاره چې د بودجې ترتيب د ټاكلو پروګرامونو پر بنسټ تر سره شي، زمينه ورته برابره شوېده. د افغانستان ملي پرمختيايي تګلاره، د هيواد اړتياوو دپوره كولوپه موخه د حكومت لومړيتوبونه د حكومت دمالي چوكاټ تر چتر لاندي، وړاندې كول.**

*د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاری په تمویل کی ونډه اخیستنه*

لکه څنګه چی په لاندینی جدول کی ښودل شوی، کابینی د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری لپاره مالی لګښت او بودجی لومړیتوب منظور کړ. د سکتورونو لپاره دغه مالی لګښتونه پریوی داسی بودجی ولاړ دی، چی پرمختیایی اړتیاوی، د تیرو کلونو څخه پاتی مالی معلومات، او د کورنی عایداتو لپاره طرحی بایدتر لاسه کړی وای.

دغه د مالی لګښتونو او بودجوی لومړیتوبونو پلی کولو، دمنځ مهاله مالی چوکاټ په چمتوکولو کی ارزښتناکه ونډه لوبوله، او د عمومی بودجی سره په نیغه توګه تړل شوی و. د ۱۳۸۷ کال په پیل سره ، منځ مهاله مالی چوکاټ به هغه لومړیتوبونو چی د افعانستان په ملی پرمختیایی تګلاری کی ټاکل شوی و، احتوا کوله او د ملی بودجی د پروسی له لاری به د دغی تګلاری د پلی کولو لپاره میکانیزم چمتو کید.

لومړی جدول : دافعانستاند ملی پرمختیایی تګلاری لپاره د کال ۱۳۸۷-۱۳۹۱(۲۰۰۸/۰۹-۲۰۱۲/۱۳ زیږدیز) دعمومی بودجی تفصیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | ۱۳۸۷ (۲۰۰۸/۰۹) په ميليون امريکايي ډالرو | ۱۳۸۸ (۲۰۰۹/۱۰) په ميليون امريکايي ډالرو | ۱۳۸۹ (۲۰۱۰/۱۱) په ميليون امريکايي ډالرو | ۱۳۹۰ (۲۰۱۱/۱۲) په ميليون امريکايي ډالرو | ۱۳۹۱ (۲۰۱۲/۱۳) په ميليون امريکايي ډالرو | ټول په ميليون امريکايي ډالرو |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **اصلي بودجه او بهرنی بسپنه** | | | | | | |
| کورنی عوايد | ۸۸۷ | ۱,۱۰۴ | ۱,۳۵۱ | ۱,۶۱۱ | ۱,۹۱۱ | ۶,۸۶۴ |
| د بسپنې ورکوونکو توله (مجموعي) مرسته* | ۶,۵۱۳ | ۴,۹۶۰ | ۴,۸۱۴ | ۴,۳۹۸ | ۳,۹۰۸ | ۲۴,۵۹۳ |
| د بسپنو ټول تال (مجموع)* | ۷,۴۰۰ | ٦,۰٦٤ | ٦,۱٦٥ | ٦,۰۰۹ | ۵,۸۱۹ | ۳۱,٤٥۷ |
| **اصلي بودجه + بهرنی لګښت** | | | | | | |
| امنيت | ۳۲۱۹ | ۲۵۸۵ | ۲۶۷۹ | ۲۷۹۰ | ۲۹۰۶ | ۱۴۱۷۹ |
| ښنسټ | ۱۷۸۱ | ۳۰۹۳ | ۳۶۸۱ | ۴۱۸۰ | ۴۴۵۱ | ۱۷۱۸۵ |
| کرهنه او د کليو پراختيا | ۸۲۹ | ۹۲۱ | ۹۱۶ | ۹۰۹ | ۹۱۲ | ۴۴۸۶ |
| ښوونه او روزنه او کلتور | ۷۴۲ | ۸۹۳ | ۹۸۰ | ۱۰۷۷ | ۱۱۸۱ | ۴۸۷۲ |
| ښه حکومت کول او د قانون واکمنتيا | ۳۷۴ | ۵۵۸ | ۶۴۰ | ۶۸۵ | ۷۲۸ | ۲۹۸۵ |
| روغتيا او خواړه | ۳۲۵ | ۴۶۵ | ۵۳۰ | ۵۶۳ | ۵۹۵ | ۲۴۷۸ |
| اقتصادي واکمنتيا او د خصوصي سکتور پراختيا | ۲۳۷ | ۲۱۵ | ۲۳۰ | ۲۴۴ | ۲۶۰ | ۱۱۸۶ |
| ټولنيز خونديتوب | ۱۹۲ | ۳۵۹ | ۳۹۴ | ۴۲۱ | ۴۴۹ | ۱۸۱۵ |
| نوري مسالي (فرعي کړنوته) | ۲۰۵ | ۱۹۸ | ۱۸۵ | ۱۷۰ | ۱۵۷ | ۹۱۵ |
| **ټول ټال لګښتونه** | ۷,۹۰۳ | ۹,۲۸٦ | ۱۰,۳۳٦ | ۱۱,۰۳۸ | ۱۱,٦۳۷ | ۶۰,۱۰۰[1] |

٦. * د نړيوالې ټولنې سره د ژمنتونو او د ۱۳۸٦ (2007زېږدېز ) کال د مالي ځيرونې پر بنسټ

۱ په لومړی جدول کی، د لګښتونو کچه پردی انګیرنی ولاړه ده، چی په پاریس کی د افعانستان دملی پرمختیایی تګلاری د کنفرانس په تر ځ کی به مرسته کړل شوی پیسی د افعانستان ددولت په واک کی ورکړل شی. د لوی اقتصاد چوکاټ، چی دامهال د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری څخه ملاتړ کوی، د تمویل کوونکو سرچینو زیاتیدونکی مرستی په غاړه نه اخلی، ځکه نو د لومړی جدول سره هیڅ سمون نلری. وروسته له دغه کنفرانس، د لوی اقتصاد چوکاټ او دافعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری مالی لګښتونه به د نړیوالی مرستی د اصلی کچی د ښودلو لپاره تجدید کړای شی

د لګښتونو له نظره، امنیت به د هیواد لپاره د تر ټولو لوړو لومړیتوبونو درلودونکی سکتور په حیث پاتی شی. د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری په اوږدو کی ، تمه کیږی چی امنیتی لګښتونه به ټول ټال ۱۴,۲میلیارده ډالره وی.دولت وړاندوینه کوی چی، په راتلونکی کی به د امنیتی ګواښونو د کمښت سره، د امنیتی اړتیاوو لپاره مرستی لړوالی ومومی. که څه هم، هغه ناکراری ته په پام سره چی هیواد ورسره مخ دی، دولت د امنیت د سکتور د تمویلولو لپاره یو لړ شونی مهم او بالقوه بدلونونو ته بیا کتنه کوی.

په لنډ مهال کی، به دولت د خصوصی سکتور د پراختیا او استخدام د ودی لپاره د بنسټونو، کرنی او د کلیو د پراختیا د سکتورونو د ځانګړی ارزښت په ګوته کولو  لپاره خپل د عامه لګښت پر پروګرامونو تمرکز وکړی. دافعانستان دملی پرمختیایی تګلاری په اوږدو کی به، دولت په دوامداره توګه خپل سرچینی پرښوونی او روزنی، حکومت کولو، روغتیا او ټولنیز خوندیتوبونو ولګوی. دولت هوډ لری، ترڅو **خپلی** سرچینی په پوره اندازی د اقتصادی واکمنتیا د ځواکمنولو او دخصوصی سکتور د پراختیا لپاره د وړ چاپیر یال د چمتو کولو د سمون مهمو لومړیتوبونو ته ځانګړی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د سکتورونو دهر يوه اهميت ټاکل او لومړيتوب په دې ډول ښودل شوی و.*

د افغانستان په ملي پرمختيايي تګلارې کې شامل د پروژو او پروګرامونو بشپړ لګښت تر دې مهاله بشپړه شوی نده. د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د چمتو کولو په پړاو کې، دا خبره څرګنده شوی ده چې، په ډيرو سکتورونو کې ، نه يوازې د لګښتونو معلومات، بلکې د پانګې اچونې تفصيلي پلانونه په لاس کې نه وو. برسيره پردې، بشپړ لګښتونه معلومول تر هغه مهاله شوني نه و، ترهغو چې د لومړيتوب وړ سکتوري موخې، دمهمو سکتوري پايلو د بيې د ټاکلو د اساس په توګه تشخيص شوی نه وې. څکه نو، دا پريکړه وشوه، ترڅو دهغو دری سکتورونو، چې نسبتاً لوړ بنسټيز ظرفيت ولرې، په لومړي پړاو کې يې بيه وټاکل شي. هغه سکتورونه چې د ازميښتې بيې ټاکلو لپاره غوره شول هغه، روغتيا، ښوونه او روزنه، او سړکونه(د ټرانسپورت دسکتور يو فرعي سکتور)وو. دماليي وزارت د اړوندو وزارتونو سره په نيغه توګه د کار کولو له لارې او په دغه تګلارو کې د ولايتي پرمختيايي پلانونو په شاملولو، د بيې د ټاکلو د دغې پروسې مشري په غاړه درلوده. د لومړيتوب وړ راتلونکې ګروپ (امنيت، ټولنيز خونديتوبونه او د بنسټونو د سکتورونو پاتې برخو) دبيې د ټاکلو کار لا د پخوا څخه پيل شوی و.دستراتيژی له مخې تمه کيده چې، د دغه سکتورونو د بيې ټاکل د ۲۰۰۸ زيږديز کال تر اوړی بشپړ شوی وای.

*د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د پلی کولو لپاره تمه شوی مرستې*

په ۱۳۸۸ کې د نورو راتلونکو پنځو کلونو لپاره د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې ټول ټال بيه، د ۵۰,۱ ميليارد ډالرو په شاوخوا کې اټکل شوی وه. د دې مجموعي څخه به، ۶,۸ ميلياردە ډالره په خپله د افغانستان وی، او تمه شوی وه چې پاتې ۴۳,۲ ميليارد ډالره به د بهرنی مرستې څخه تر لاسه شي. دغه اټکل شوی ۵۰,۱ ميليارد ډالره، د دولت د اصلي بودجې له لارې د مرستو په لګولو کې يو د پام وړ زياتوالی ګڼل کيد. خو بيا هم داسې فکر موجود و ، که چيرې پيسې په دوامداره توګه د **دولت** د بودجې څخه بهر ولګول شي، دا کار به د عمومي لګښتونو د لا زياتوالی لامل وګرځي، چې په دې توګه، په پنځو راتلونکو کلنو کې د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د بريالې پلی کولو لپاره، لازمو مرستو ته داړتيا د کچې د زياتوالی لامل ګرځيده.

دافغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې په اوږدو کې هيواد په دوامداره توګه پربهرنی مرستې متکې و. د دولت منځ مهاله موخه داوه، ترڅو پر بهرنی مرستو اتکا کمه شي، او د کورنی عايداتو د زياتولو له لارې ثبات،ښه والی **وموميی**. په دې ډول، دولت داسې سياستونه تر لاس لاندې نيولی و، ترڅو د هيواد د اقتصادی فعاليتونو د ځواکمنتيا او د عوايدو د راټولولو د سمون لامل شي. په دې ترڅ کې، دولت خپل نړيوال ملګری هڅول، ترڅو د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د موخواو لومړيتوبو نو د ملاترلپاره، څوکلنی ژمنی وکړی. دی کار د مرستو د راتګ وړاندوينه ښه کړې وه او له حکومت سره د لګښتونو د ښه پلانولو او په منځ مهال کې يې په اغيزمه توګه د لومړيتوبونو داداری کولو کې مرسته وکړه.

*د مرستو اغيزمنتيا*

د مرستو په اغيزمنتيا کې د پام وړ سمون د راوستلو پرته، افغانستان په ملي پرمختيايي تګلارې کې د ټاکل شويو موخو په لاس ته راوړو نه توانيد، که څه هم په مرستو کې ستر زياتوالی راشي. دولت ژمن و، ترڅو د نړيوالو پرمختيايي مرستوڅخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ټولو زیاته ګټه تر لاسه شي. د افغانستان ملي پرمختیایي تګلاری ، دخپل پلي کوونکی، څارونکی او ارزونکی چوکاټ په ترڅ کی، د مرستو اغیزمنتیا په لویه سطحه اسانه نه کړه. دولت د مرستو د اغیزمنتیا لپاره د پاریس د اعلامیی او د افعانستان د نړیوالو ژمنو سره په سمون کی د مرستو د اغیزمنتیا یوه تګلاره باید چمتو کړی وای.

د افغانستان دولت ته د مرستو د اغیزمنیتا د تګلاری یو مهم لومړیتوب دا و، ترڅو مرسته کوونکی (ډونران) دی ته و هڅوی، تر څو د مرستو یوه لویه برخه د دولت د اصلی بودجی له لاری ولګوی. داسی قوی بیلګی شته چی، هغه مرستی چی دملی بودچی له لاری لیږدول کیدی، ستری اغیزی او لږ لګښت یی درلود. په بدل کی، دولت ژمنه کوله، ترڅو خپل **عامه** مالی اداره، تدارکات او دعامه سکتور ټول نور سیستمونه، د وړتیا د جلبولو او مالی څارنی لپاره لا زیات ځواکمن کړی. دغه چاری ددغو کلونو (د ملی پرمختیایی ستراتیژی ددوری) په پرتله د افغانستان دلومړنیو پینځه کلنو پلانونو (۱۳۵۱-۱۳۳۵) کلونو په ترڅ کی بریالی وو. داځکه چی هغه وخت اداری فساد نسبتا کم، دولت باثباته او امنیت ښه و، د کدرونو وړتیا هم ښه وه، انکشافی مرستی په غوره توګه مصرفیدلی او بهرنیو مشاورینواو متخصصینو ښه کار کاو.

د ستراتیژی د تطبیق پرمهال په پام کی وه چی دولت دمرستو داغیزمنتیا تګلاره پر لاندی اصولو او د لومړیتوب پر سیاستونو ودرول شی ددی مقصد لپاره لاندی ټکی په لاندی الفاظو راغلی وو:

ـــ *افغانی مالکیت*: د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری د جوړولو له لاری، دولت په څرګنده توګه هغه لومړیتوبونه چی د افعانستان د پرمختیایی موخو د لاس ته راوړو لپاره اړین دی، شرح کوی.

ـــ *د نړیوالو مرستوهمغږی*: د هغو افغانی لومړیتوبونو سره چی د افعانستان په ملی پرمختیایی تګلاری کی بیان شوی دی:د افعانستان ملګری کولای شی، واضح شویو سکتوری مالی لګښتونو او د پروګرامونو لومړیتوبونو ته د درناوی کولو د لازیات انضباط له لاری، د مرستو د اغیزمنتیا په اړوند مرسته وکړی، په داسی حال کی چی همغږی د معلوماتو د پراخه شریکولو او د پالیسیو په اړوند د بحثونو – هم په افقی توګه (د تمویل کوونکو سرچینو او دولتی ادارو تر منځ) او هم په عمودی توګه (د ولایتی بیارغاونی د ټیمونو او سیمه ییزه ادارو تر منځ ) له لاری پرمختګ مومی.

ـــ ***همغاړیتوب***: د مرستو اغیزمنتیا به د مرستو د راتګ او ښه وړاندوینی په اړوند د سمون موندلو معلوماتو، د راکړی ورکړی د لوړی بیی او د تمویلولو د برابرو میکانیزمونو، د بنسټونو او دولتی ادارو ترمنځ د ښه همغږیتوب او د تخنیکی مرستو د اداری دځواکمنو لو څخه ګټه واخلی.

ـــ *پایلو ته رسیدل*: دولت ژمن د ی ترڅو داسی سیاستونه تعقیب کړی، چی موخه یی: د سپیڅلتوب (شفافیت) زیاتوالی اود دولت د مرستو د جلبولو وړتیا، د عامه مالی اداری سمون، داداری فساد لږوالی، او د فعالیتونو او ساتنی او پاملرنی د لګښتونو د پایښت(دوام) یقینی کول.

ـــ *دوه اړخیزه حساب ورکونه او ګډون*: مشترکه موخو او لید ته در رسیدو لپاره، به دولت په دوامداره توګه د پاریس د تړون په څارنیزه سروی او د مالی اداری د کړنو څخه څارنی کی، د دوه اړخیزه حساب ورکونی د ډاډمنتیا د یوی وسیلی په توګه، د مرستو د اغیزمنتیا په اړوند د پرمختګ په پروسی کی ګډون وکړی.

د پلی کولو چوکاټ

ملی بودجه د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری اصلی تطبیقی ذریعه ده، او ټول اړوند وزارتونه به خپل پروګرامونه او پروژی د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری د سکتور تګلارو سره په سمون کی چمتو او تنظیم کړی. د دغو سکتوری پروګرامونو او پروژو بیه به بیا وروسته وټاکل شی، او دمنځ مهاله بودجی د مالی لګښت د منعکسولو لپاره به پرله پسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

والي ورکړل شي او له سره به لومړيتوب ورته ورکړل شي. دغه تطبيقي کاري چوکاټ، د افغانستان دملي پرمختيا يي تګلارې لپاره د ملي بودجې د اجرا، قانوني اجندا او پروګرام د وړاندې کولو لپاره يو منسجم طريقه ده. دغه طريقه به همداراز، د نړيوالې ټولنې څخه وغواړي، تر څو خپلې مرستې د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د لومړيتوبونو سره تنظيم کړي. د دې پر بنسټ، د **افغانستان** د ملي پرمختيايي تګلارې دعامه پانګې اچونې پروګرامونه به چمتوکړل شي، ترڅو په منځ مهاله مالي کار چوکاټ او بودجې کې د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې بشپړه ورګډول يقيني کړل شي.

د کنټرول او تفتيش د اداري ونډې به د وزارتونو د لګښتونو د فعاليتونو د څارنې لپاره پياوړې کړل شي. که څه هم، د دغې اداري اوسنی ظرفيت(وړتيا) ته پام سره، دمالي وزارت به په لنډ مهال کې دغه دنده په غاړه ولري. کابينه به، دافغانستان دملي پرمختيايي تګلارې د څار د کميټې له لارې، دافغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د پلې کيدو د عمومي پروسې همږغي او سرپرستي وکړي. سره له دې، اړوند وزارتونه اونورې دولتي اداري به د پلې کيدو اصلي دنده په غاړه ولري. دماليي وزارت به د دې خيرې د ډاډمنولو دنده په غاړه ولري چې د اړوندو وزارتونو د پروګرامونو او پروژو بيه وټاکل شي، دغه پروژې او پروګرامونه ترتيب کړل شي، او په منځ مهاله مالي کاري چوکاټ او ملي بودجې کې ګډ کړل شي. د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ، دافغانستان د دولت او نړيوالې ټولنې لوړ ميکانيزم دی، چې د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې او د افغانستان د تړون ليک د همغږۍ او څارنې دنده په غاړه لرې. د دولت او مرستندويه ټولنې مشترک بنسټونه (نهادونه) لکه مشورتي او کاري جرګه کې به په دوامداره توګه، دمرستو د همغږۍ د سمون، د پلې کولو او پاليسۍ لپاره د بحثونو د مجتمع په حيث کار وکړي، ډاډ به تر لاسه کړي چې د مرستندويوپروګرامونه د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د لومړيتوبونو سره سمون کې دی.

څارنه، ارزونه او رپوټ ورکونه

د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د څارنې، ارزونې او رپوټ ورکونې پروسه به د تطبيقي کاري چوکاټ يو نه بيليدونکې برخه وی. د افغانستان ملي پرمختيايي تګلارې په څرګنده توګه موخې، نظرونه، پايلې، لاسته راوړنې، او اغيزمن شاخصونه طرح کړي. سره له دې، دکمزورې احصايوي ظرفيت(وړتيا) له امله، ديو لړ مهمو پراختيايي او د بې وزلې د شاخصونو لپاره د معلوماتو بنسټ(بيس لاين ) تر اوسه ندې ټاکل شوې. مهمه به وی تر څو د څارنې او سرپرستې د دوو درجو ترمنځ توپير وشي: دافغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې د پلې کيدو څخه د څارنې تفيصلي پروګرام او يا هم نظر او لاسته راوړنه، او پايلې او لاسته راوړنې او په لوړه سطحې اثردرلودونکې دولتي نهادونه (څارنيزه کميټه اوکابينه)او د څارنې او همغږۍ ګډ بورډ، تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې استراتيژيک لومړيتوبونه د پلې کيدو په حال کې دی.

د څارنې اوهمغږۍ ګډون بورډ به د تګلارې ارزونه او تحليلي پاليسي چمتو، د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې او د افغانستان د تړون ليک د معيارونو دعمومي پلې کيدو په هکله به د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ ته د څارنې او ارزونې رپوټ وړاندې کړي. د هيواد دملي پرمختيايي تګلارې د پرمختګ کلنی رپوټ به د نړيوال بانک او نړيوال وجهي صندوق بورډونو ته، د افغانستان فعاليتونه د پای ټکي ته د رسيدو لپاره، د تر ټولو زياتو پوره وړو هيوادونو پروګرام ته وړاندې شي. دارزونې او پرمختګ د کلنی رپوټ پر بنسټو په هرو **دوو** کلنو کې به د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې، د بې وزلې د له منځه وړولو تګلارې بشپړه تجديد شوی نقل، به د بورډ په ګډون چمتو، او د پروګرامونو او معيارونو اغيزې به وارزوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه تجدید شوی اسناد به په عامو خلکو کی وویشل شی او دولت ته په د دی موقع په لاس ورکړی، ترڅو د مطلوبوپایلو د لاس ته راوړو لپاره سیاستونه چمتو کړی. د دولتی لګښتونو ارزونه به هم وشی، او دبودجی د دوران سره په سمون کی به، سکتوری څارنه او رپوټ ورکونه به په ربعواره توګه تر سره شی.

د څارنی او رپوټ ورکونی مرکزی سیستم به د اقتصاد وزارت او د څارنی او همغږی د ګډ بورډ د دارلانشاء لخوا په ګډه جوړ کړل شی. دغه سیستم او د احصاییی مرکزی اداره به دمعلوماتود راټولولو او څارنی دیوه منسجم سیستم برخی وی. د احصاییی مرکزی اداره به دسروی ګانوپه ګډون د ګټو لارو له لاری معلوماتونه راغونډ کړی. د څارنی اورپوټ ورکونی دغه مرکزسیستم به داحصاییی د مرکزی اداره لخوا وړاندی شوی معلومات راغونډ کړی، د اړوندو وزارتونو رپوټ ورکونه او د بودجی د څارنی دنده په غاړه اخیستی، دڅارنی ګټی پروسی تسهیل کړی، او په پای کی دغه معلومات خپاره او وویشی. داحصاییی مرکزی اداره به دڅارنی او رپوت ورکونی مرکزی سیستم دمعلومات ورکوونکی په حیث، دملی احصاییو د لومړنی او دوهمی اصلی چمتوکوونکی په حیث پاتی شی. د دغی اداری وړتیا به پیاوړی کړای شی،ترڅو په لوړه سطحه د شاخصونو په اړوند د معلوماتو او ارقامو د جذبولو او په ښکته سطحی اغیزی څرګندی کړای شی. د دغه کاری چوکاټ لپاره یو تر ټولو مهمه وسیله، د خطر او خوړمنتیا د ملی ارزونی کورنی سروی ده، د کوم څخه چی دغه اوسنی د بی وزلی د کرښی وړاندینی محاسبه شوی دی. د خطر او خوړمنتیا دملی ارزونی ونده به لازیات پراختیا ومومی، ترڅو وکولای شی د افعانستان دملی پرمختیایی تګلاری د پلی کیدو اغیزپه ښه توګه څرګنده کړی.

اړوند وزارتونه به په دوامدره توګه د سکتور معلوماتو د راټولولو کار ته دوام ورکړی، ترڅو د افعانستان دملی پرمختیایی تګلاری له لاری دملی لګښتونو دپایلو اولاسته راوړنو څارنه وکړی. اړوند وزارتونه په همدا راز خپل نولایتی ریاستونه پیاوړی کړی، تر څو په ولایتی سطح د پرمختګ د څارنی لپاره د شاخصونو په اړوند د تفکیک سره معلومات راغونډ کړی . د بودجی د څارنی سیستم، دافعانستان د مالی اداری معلوماتی سیستم، چی د مالیی د وزارت لخوا اداره کیږی، به د منځ مهاله مالی کاری چوکاټ سره په سمون کی، د کورنیو او بهرنیو لګښتونو په اړوند معلومات برابر کړی .

خپلواک څارنه به د څارنی او رپوټ ورکونی د عمومی سیستم یوه مهمه برخه وی. د ټولنه، غیر حکومتی موسسی او رسنی به د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری د بهرنیو څارونکو په توګه یو ارزښتناکه رول ولوبوی. د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری پلی کول، څارنه، او ارزونه به د دغو ملګرو، ولایتی استازو، او نړیوالی ټولنی په مشورو ترسر شی.

د نړیواله مالی بنسټونو(نهادونو)، نړیوالی ټولنی او د ملګرو ملتونو د ادارو ونډه به په دوامداره توګه دغو مواردو ته پام سره ارزښت ولری: الف—پرمختیایی تحلیل ب ــ د مهو معلوماتو پوښښ او وختی معیاد، ج ــ د اوسنیو سرچینو مستندول او، د ــ د بهرنی مرستی د اوسنی کچی په اړوند د معلوماتو چمتو کول او په منځ مهال کی د مرستو د کچی وړاندینه.

## په ANDS کي بیلابیل سکتورونه او ارکان

**په پرمختیایی ستراتیژی کی دغه ارکان په لاندی توګه بیان شوی وو( دلته ټکی په ټکی رانقل کیږی، د رانقلولو پرمهال ژبنی تیروتنی اصلاح نه شوی، یعنی ستراتیژی د ژباړی پر مهال په ملی ژبو ښه نه وه ژباړل شوی) :**

لومړی رکن : امنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتاسری امنیت د اغیزمن حکومت کولو، د خصوصی سکتور پرمختیا، اقتصادی ودی، د بی وزلی کمولو، او د **انفرادی** ازادیو ساتنی لپاره خورامهم شریط دی. دا رکن د دولت ، افرادو او شتمنیود امنیت څخه عبارت دی چی د دفاعی، امنیتی او قانون د تطبیق په برخو کی د همغږو سیاستونو له لاری پلی کیږی. حکومت د ملی امنیت تګلاره تدوین کړی ده، چی په امنیتی سکتور کی د سمونو (د اصلاحاتو)د پرګرام له لاری عملی کیږی. دا کار به د افغان امنیتی ځوکونو، او نړېوالو ځواکونو ترمنځ د همغږی په برخه کی مرسته وکړی او ښه والی راولی.

افغانستان د دی د مخه چی وکولای شی خپل بشپړه امنیت په غاړه واخلی، د رغنده او جدی ننګونو سره مخامخ دی. ترهګری، بهرنی لاس وهنی، د ټیکاو نشتوالی او د حکومت کولو په برخه کی د ظرفیتونو کمزوری، په ځینو **ساحو** په ځانګړی توګه په سویلی او سویل ختیځ کی د دولت د اغیزمن کنترول او کړنو مخنیوی کوی. په لویه پیمانه د نشه یی توکو تولید اوس هم د ترهګرو ډلو په واک کی مالی لازمی سرچینی ورکوی. نا چاودل شوی ماینونو د چاودنی له امله وژل شوی او یا ټپیان شوی دی. لکه چي د ۱۳۸۰ (۲۰۰۱ میلادی) کال څخه راپدیخوا، د ۵۰۰۰ په شاوحوا ماینونو څخه پاک شوی دی. د اوږد مهاله امنیتی اړتیاوو ته د رسیدو لپاره یوازنی عملی لاره هغه ده ترڅو افغانستان پحپله د دولتی پولو په دننه کی د امنیت ساتلو جوګه شی. په دې اړوند لاندې موخې په پام کې نیول کیږي :

۱ـ *__د افغانستان ملی اردو:__* د افغانستان اوږدمهاله موخه د داسی اردو جوړول د ی چی وکولای شی ننی ټیکاو وساتی، د ملی شتمنیو څخه د دفاع، او په ورته وخت کی په سیمه کی د امنیت په راوستو کی خپله ونډه تر سره کړی. د امنیتی ځواکونو شمیر چی دی غوښتنو ته ځواب ووایی تر اوسه پوری د افغانستان حکومت او نړیوالی ټولنی له خوا ته دی ټاکل شوی. خو ۸۰۰۰ (تر ښوونی لاندی د ۶۶۰۰ کسانوم سره) داسی یوه شمیره ده چی د ۱۳۸۶ کال د سلواغی د څارنی او همغږی د ګډبورد په غونډه کي تصویب شوی ده او د پیل ټکی دی چی د راتلونکی په اړه نږدی موخه ټاکی. د ۱۳۸۹ کال د مرغومی (د ۲۰۱۰ زیږدیز کال پای) میاشتی پوری، د افغانستان ملی اردو به دی موخی ته ورسیږی او ان چی تر هغه به لا مخ ته ولاړه شی. دا بریالیتوب به په سلو کی د ۷۵ کندکونو او لواګانو (دبیړنی او هوایی ملاتړ څخه په ګټه اخیستو) له خوا په خپلواکه توګه د عملیاتونو پر مخ بیول تضمین کړی. د افغانستان ملی اردو سیمه ایز او قومی انډول ساتی او د درناوی وړ، مسوله، مسلکی او د هیواد امنیتی غوښتنو ته د ځواب ویونکی ځواک په توګه، خپل اعتبار به لوړ بوزی.

۲ـ*دافغانستان ملی پولیس:* د افغانستان له ملی پولیسو سره په تړاو کی، د اوږدی مودی هدف عبارت ده، د پولیسو له مسلکی ځواک ته، د منل شویو نړیوالو حقوقو له معیارونو سره سم وی او د بشر د حقوقو په رعایتولو سره عمل وکړی. د مسلکی کارکوونکو تر اداری لاندی یی په بشپړه توګه زده کړی وی ، له پوره تنخواه نه برحمن وی او د پلان جوړونی او مدیریت توانایی ولری او دملی پولیسو ټاکنه د شایسته ګی د معیارونو پربنسټ باندی ولاړه وی. دغه ځواکونه باید وکولی شی چی، خلک د ترهګریزو عملونو د تهدیدونو او د ولت ضد وسله والو عملونو د تهدیدونو په وړاندی ساتنه وکړی او قانون په ټول هیواد کی یو ډول عملی کړی. دغه ځواکونه باید د دی توان ولری چی، د حالاتواو شرایطو د بدلون په وخت کی خپلی دندی له معمول سره سم تر سره کړی. د ۱۳۹۲ کال تر سلواغی پوری (۲۰۱۳ زیږدیز کال پای) به د کورنیو چارو وزارت ټاکل شوی **شمیر** ۸۲۱۸۰ کسه مسلکی پولیس ولری. (د سرحدی پولیسو په شمول). دغه ځواک به د کورنی نظم د ساتنی او دقانون د عملی کولو توان ولری او ددی په ترڅ کی به، د اوسیدونکو اړتیاوو ته ځواب ورکوونکی وی او د کورنیو چارو وزارت تر کنترول او دستور لاندی به خدمت وکړی. داسی اټکل شوی و چی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- *د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول*: ټولې نا قانوني وسله والې ډلې باید د ۱۳۹۱ کال تر پایه پورې(۲۰۱۱ د مارچ۲۰مه نیټه) په ټولو **ولایتونو** کې له منځه ولاړې شي.

۴-*د ناچاودلو مهماتو له منځه وړل* : د ۱۳۸۹ کال تر سلواغې(۲۰۱۰ زیږدیز کال) پورې به د زریزې دپرمختیایي موخو په سر کې او د اوتاوا په میثاق کې د افغانستان د تعهداتو سره سم، په ماینونو او ناچاودلو توکو باندې ککړه ځمکه به په سلو کې ۷۰ کمه شي. د **پرسونل** ضد د ټولو زیرمه شویو ماینونو ځایونه به تر ۱۳۸۶(۲۰۰۷ زیږدیز کال) پورې په نښه او د هغو ماینونه به له منځه ولاړ شي. دغه رازبه ټول خطر لرونکي، ناترمیم او اضافي مهمات د ۱۳۸۹کال(۲۰۱۰ زیږدیز کال) تر پایه پورې له منځه ولاړ شي.

۵- *د نشه یي توکو پرضد مبارزه*: تر ۱۳۹۱(۱۳/۲۰۱۲) پورې به د کوکنارو تر کرنې لاندې ځمکې کچه د ۱۳۸۶(۸/۲۰۰۷) کال په پرتله نیمایي ته راټیټه شي.

*د امنیت په برخه کې په نښه شوي لومړیتوبونه دا وو:*

د افغانستان د امنیت سکتور به د هیواد د دفاع له څو مسوولو نهادونو نه جوړ شوی وی او د امنیت د ساتنې او قانون د عملي کولو سکتوربه وی. نور ټکي یې دا وو: د امنیت د رکن لومړنې لومړیتوب د امنیتي نهادونو د ظرفیتونو لوړول دی.دویم لومړیتوب له دې نه د ډاډ تر لاسه کول دی چې، د امنیت په تامین کې ټول کوښښونه هراړخیز، یو دبل بشپړوونکي او یو لاسي وی. حکومت د پالیسي او ملي تګلارې د بریالي تطبیق په کار کې یو لاسي او **جامع** د امنیت سکتور د اصلاحاتو سالم پروګرام،د ملکي او یوځي عملیاتو تر منځ د ګډو عملیاتو پیاوړتیا، له نشه یي توکو سره د مبارزې په فعالیتونو کې، د امنیتي ځواکونو زیاتیدونکي رول او د امنیتي واحدونو د ملکي اجزاوو د سمووني (اصلاح) او پیاوړتیا په برخه کې په بشپړه توګه متعهد (ژمن)دی.

د دغه سکتور دریم **لومړیتوب** له نړیوالو همکارانو نه افغان امنیتي ځواکونو او نهادونو ته د امنیت د مسولیت په تدریجي توګه لیږدونه ده. په هغه اندازه چې، د ایساف ځواکونه، دناتو د عملیاتو په مستقیم ګډون کې خپلې پښې شاته کوی، د افغانستان ملي اردو او ملي پولیس د عملیاتو لارښوونه په غاړه اخلي او په پای کې به د افغانستان د خلکو امنیتي غوښتنو ته ځواب ووایي او د دغو ځواکونو نړیوال همکاران به ملاتړ کوونکي او څاروونکي رول ولري. په همدې وخت کې ، د افغانستان ملي اردو د زیاتو ځواکونو او لازم ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره په ایساف باندې ډېره لګوی. د افغانستان د ملي اردو د توانایي زیاتوالي په افغانستان کې دیو شمیر نړیوالو ځواکونو د تدریجي کموالي سبب شو او په پایله کې ددې سبب شو چې، د دغو ځواکونو د سرد زیان شمیر تر بیخې کمې کچې پورې راټیټ شي. دا چې په څومره چټکتیا سره کولای شو چې، د افغانستان امنیتي ځواکونو په خپلو پښو باندې ودروو، د اوسنیو ظرفیتونو د خلاوو د ډکولو په کار کې د نړیوالو مرستو په اندازه او د عمل په چټکتیا پورې مستقیمې اړیکې لري، مګر افغانستان چمتو دی چې، په دې برخه کې لومړنۍ ګامونه اوچت کړي.

## دویم رکن : حکومت کول، د قانون واکمني او بشري حقونه

په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې د دې موضوع په هکله په لاندې الفاظو سره یادونه شوې وه: دموکراتیک حکومت کول،د قانون واکمني، عدالت او د بشر حقوق زمونږ د ملي هدفونو د تر لاسه کولو په برخه کې حیاتي اهمیت لري،یعنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقر کموالی او د اقتصادی ودی ساتنه به په یوه د لمس وړ سطحه باندی وساتلی شی. په دغه سکتور کی، د افعانستان د ملی پرمختیایی د تګلاری، ستراتیژیک هدف عبارت ده له، د اسلامی قانون پربنسټ د اسلامی دموکراسی تامین دی چې، په هغه کی  د دولت دری ارګانونه په **اغیزمنه** او  هر  اړخیزه توګه فعالیت کوونکی او حساب ورکوونکی وی او د قانون له واکمنی او دبشر له حقوقو نه ملاتړ وکړی. حکومت نیت لری چی،سالم حکومت کولو ټینګ کړی او د خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی، د سنجش وړ ګټورتیا را منځ ته کړی او د دغو هدفونو د ترلاسه کولو لپاره،باید حکومت لاندې کړنې ترسره کړي :

(۱) د مرکز او ولایتونو په سطحه حکومتی نهادونه د شافیت په تاکید سره، شایسته والی، د ټاکل شویو پایلو د لاسته راوړولو پر بنسټ **مدیریت**، تاسیس، اصلاح او پیاوړی کړی.

(۲) د قانون جوړولو بهیرونه د خپلواکواو عادلانه ټولټاکنو د سرته رسولو په شمول اصلاح کړی. دولت د خصوصی سکتور د **سیال** په عنوان نه،بلکی دیوه سیاست کوونکی، تنظیم کوونکی او ملاتړ کوونکی په توګه عمل کوی.

سره له ډیرو **بریاوو**، دحکومت کولو، د قانون واکمنی او دبشر د حقوقو د تعمیم په برخو کی، د رسمی جوړښتونو د پیاوړتیا لپاره تر اوسه پوری هم، ددغه رکن د هدفونو دلاسته راوړولو په برخه کی ستونزی لری او دغه ستونزی په لاندی ډول دی:

(۱)په موازی بڼه د څو دولتی او نادولتی ساختنارونو شته والی. (۲) د مرکزی او ولایتی اداری واحدونو په برخو کی موجوده ابهامات(۳)د دولتی سکتور کمزوری نهادونه او د هغو د حکومت کولو او مدیریت د ظرفیتونو پرمختګ (۴)په لوړه کچه اداری فساد (۵) مالی ابهامات (۶) دقوانینو د رامنځ ته کیدو اوعملی کیدو کمزوری (۷) د ولسی جرګی کمزوری څارنه(۸) د مدنی ټولنی او سیمه ییزونهادونو کمزوری (۹) نا اغیزمن او ناسم تعریف شوی عدلی او قضایی سیستم (۱۰) د ټولنیز جنسیت د مساوات نه شتون (۱۱)د بشر له حقوقو نه ناکافی ظرفیتونه. که د حکومت په چارو کی د لمس وړ ګټورتیا په چټکی سره تر لاسه نه شی، د امنیت ،بشری حقوقو او اقتصادی پرمختیا په برخو کی، دمهمو پرمختګونو لاسته راوړنه به سخته وی.

ستراتیژی کی داسی راغلی وو:   په دې اړوند د لومړیتوبونو په بڼه دولت د دغو کمزوزیو د لری کولو لپاره دغه تدبیرونه نیولی دی:

*د ولسی جرګې پیاوړتیا* :د ملی شورا ظرفیت به لوړ شی، تر څو پوری د تقنینی څارنی، شفافیت حساب ورکولو د ندو سرته رسول بڼه شی.  ( وروسته بیا ولیدل شول چی د وکیلانو د پوهاوی او  ظرفیت لوړونی او په مجموع کی د ملی شورا لپاره د لګښتونو په برخه کی زښته ډیری پیسی ولګول شوی، ددغو پیسو اندازه د رغاونی او دبیوزلی د کمولو د هڅو په پرتله څوڅو  ځله زیاتی وی).

*د عامه اداری اصلاحات:* د عامی اداری د اصلاحاتو هدف دا دی چې، دولتی نهادونه ټاکل شویو نتیجو ته درسیدلوپه ډاډ سره د خپلو وظیفو  د سرته رسولو په برخه کی وهڅوی.د ملکی  خدمتونو ظرفیت به لوړ شی، د نمونی په توګه، د تنخوا او رتبو د ساختار د نوی والی له لاری په دولتی ادارو کی د ښایسته سالاری پربنسټ د ټاکنو (استخدام) پراختیا، د ښایسته سالاری او منطقی والی پر بنسټ د ټاکنو د پراختیا یقینی کول او د اصلی وظیفو د سمی **سرته** رسوونی لپاره د ټاکنو د پراختیا تنظیم او د دغه هر نهادد زده کړی د پروګرامونو زیاتوالی او د ظرفیتونو لوړوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*له اداری فساد سره د مبارزی اقدامات:* د دولت له اداری فساد سره د مبارزی په خاطر په ټولو سطحو او تقنینی چارو کی ، له اداری فساد سره د ځارنی د اداری له لاری د اداری فساد بالقوه زیاتیدونکو خطرونو دلا زیات محدودولو لپاره، د عامه شکایتونو د اوریدو د مکانیزم د پروګرامونو د پیژندنی په برخه کی تمر کز ولری.

*معلوماتو(اطلاعاتو) ته د لاس رسی زیاتوالی:*حکومت به د خلکو لپاره معلوماتو ته درسیدو حجم زیات کړی. خلک به د خپلو حقوقو د معلوماتو په **اړوند** ډیر لاس رسی ولري.

*په حکومت کی د ښځو ګډون:* حکومت به د افعانستان د ښځو د ملی عمل د پلان د عملی کولو په اړوند خپل مسوولیت سرته ورسوی.

*د ناخاپی پیښو په وړاندی د عکس العمل مد تیاری اغیزناک سیستم:* حکومت له ناخاپی پیښو سره د مبارزی د ملی پلان د تطبیقولو د ظرفیت د زیاتوالی په اړوند ژمن دی.

*د ټاکنو خپلواک کمیسون:* د ټولټاکنو د خپلواک کمیسون ظرفیت به لوړ شي، تر څو پوری د رایی ورکوونکو د ثبت همیشنی **سیستم،** انتخاباتی حوزه او د رایو په شرایطو د برابرو کسانو لړلیک(فهرست) رامنځ ته شی او له اساسی قانون سره سم په ملی او ولایتی سطحو باندی بریالی ټاکنی وشي.

*د ملی هویت سند(تذکره):* حکومت به **یوه** ملی هویت سند برار کړی، تر څو شفافیت او حساب ورکونه اسانه شی او اداری فساد کم شی.

*جیودیزیک او کارتو ګرافیک معلومات:* حکومت **به** د کلیو او هری جلا سیمی د پولو او سرحدونو په باب بیا کتنه وکړی او د ملی نقشی کښلو فعالیت به بشپړکړی.

*وګړشمیرنه او اساسی احصاییه:* حکومت به په ۱۳۸۷(۲۰۰۸م.) کی سرشمیرنه وکړی او په ملی او ولایتی سطحو به د اقتصاد او فقر په اړوند د وګړشمیرنی **او** ارقامو سیستم جوړ کړی او دهغو پایلی او ارزونه به چاپ او خپره کړی.

*د ځمکی اداره:* حکومت به د ځمکو د ثبت او **مدیریت** یوعصری سیستم او دځمکو د ملکیت پر سر دشخړو د اواری لپاره یوسیستم رامنځ ته کړی.

*سیمه ییزه اداری:* حکومت به د سیمه ییزو ادارو قانون برابر کړی او د سیمه ییزو حکومتونو په جوړوښتونو کی به د ولس ګډون زیات کړی. ولایتی شوراګانی به پیاوړی کړی. داسی قانون به جوړ کړی چی د ولسوالی شورا او د ښاری شورا او د کلیوالی شورا رول تعریف کړی. د ښاروالیو د ټاکنو په شمول د ولسوالیو ،ښارونو او کلیو د شوراګانو ټاکنی وکړی. د ولایتی ادارو جوړښتونه به اصلاح کړی، د ولایتی ملکی خدمتونو ظرفیت به لوړ کړی، د پلان جوړونی او بودجی لاری چاری به وسنجوی، دښاروالیو د پلان او بودجی ظرفیت به اچت کړی او ولایتی فعالیتونه به، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکی اداری له خوا سم او پرمخ یووړل شی.

*له دولت سره اړیکی او د دولتی نهادونو تر منځ اړیکی:* حکومت به د پالیسی، تګلاری او د ملی بودجی په اړوند معلوماتو تبادله د ټولو دولتی نهادونو ترمنځ زیاته کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*دینی چاری*: حکومت ټولنی ته دبنې ورکولو او د ټولنیزو ارزښتونو د سیستم په منځه راتګ کی د اسلام د دین له مهم رول نه خبر دی.

*د بشر حقوق*: حکومت د ټولو افغانانو د بشری حقوقو د ملاتړ په خاطر خپل ظرفیت د افغانستان له نړیوالو مکلفیتونو سره سم د قوانینو د برابرولو،تصویب او تطبیق له لاری، لکه د شکنجی د بندولو کنوانسیون،د ښځو په وړاندی د ټولو توپیرونو له منځه وړل او د ماشوم د حقوق کنوانسیون به پیاوړی کړی. حکومت به د سولی، عدالت اوملی پخلاینی کاری پلان او دمسوولو حکومتی واحدونو اونهادونود مسوولیتونو مشخص کولو او د بشر د حقوقو ګټورتیا ته ژمن دی.

*د عدلی او قضایی سکتور لومړیتوبونه:*

*د عدلی او قضایی خدمتونو د تلپاتی وړاندی کولو لپاره دښو نهادونو ظرفیت*: حکومت به د قضایی نهادونو جوړښت اصلاح او بیا نوی کړی، حقوقی زده کړی به پیاوړی کړی، د قضایی ثبت سیستم ته به وده ورکړی، اداری ظرفیت به اوچت کړی، فساد به کم کړی، د لاری چاری د ضوابطو اصول به اعلان او درد کړی، د عامه **شکایتونو** د اوریدو سیستم به منځ ته راوړی او قضایی خدمتونو ته به دزیربنا د پرمختګ او د لازم ترانسپورت او سامان الاتو د تیاری په وسیله پراختیا ورکړی.

*د عدلی او قضایی سیستم په دننه او نورو دولتی نهادونو کی د همغږی زیاتوالی*: حکومت له نورو حکومت نهادونو او له مدنی ټولنو سره یو ځای به انسجام او هماهنګی ته وده ورکړی، د قوانینو حالت ته به د تقنینی ظرفیتونو او د ولسی جرګی د ظرفیتونو د اوچتولو له لاری ګټورتیا ورکړی، د حقوقی زده کړو ملی مرکز به جوړ کړی، د حقوقی پالیسی د تدوین په چارو کی به د بهرنیو پوهانو اومدنی ټولنی د کارپوهانو لپاره د موقع او د ونډی اخیستلو زمینی برابری کړی، د قوانینو ارزونه او تسوید به زیات کړی او په ولایتونو کی به د قضایی او عدلی خدمتونو وړاندی کوونه، په ولایتونو ک ید عدالت د انسجام د میکانیزم د پیاوړتیا له لاری ښه والی راوړی. په ولایتونو کی به دعدالت انسجام له حکومت سره دا مرسته وکړی چی، د قانون واکمنی په سیستماتیکه توګه، د تمویلوونکو مراجعو د هدفمندو او منسجمو تګلارو له لاری د فنی، اموزشی، ظرفیت جوړوونی، زیربناوو او دترانسپورت او نورو سامان الاتو د تامین په برخو کی د مرستو زمینی له کابل څخه لری پراختیا ومومی.

*د عدالت د کیفیت ښه والی*: د عدلی او قضایی سکتور ستراتیژیک هدف د داسی یوی ټولنی له جوړول دی، چی په هغی کی، قضایه قوه ناپییلی او خپلواکه وی او د خپلو اوسیدونکو امنیت او سوکالی، بشری حقوق او اسلامی ارزشتونه د ازادی، د قانون په وړاندی د برابری پر بنسټ او عدالت ته د ټولو دلاس**رسی** پربنسټ ننګه او ملاتړ کوی. حکومت به دا لاندی فعالیتونه تر سره کړی:(۱) د جزایی عدالت په بهیر کی د ځنډ د کموالی په منظور د تحقیق د یوه سیستم رامنځ ته کول چی، دا په اصل کی د وکالت د فقدان د اصل او د کشالو د کمزوری اداری د مدیریت پربنسټ تر سره کیږی (۲) د مجازاتو اړوندی پالیسی جوړونه (۳) د ماشومانو د عدالت د پالیسی تطبیق او په جزایی عدالت کی د نویو موضو ګانو او مشترکو مسالو ته د رسیدو لپاره د اختصاصی پالیسیو تاسیس (۵) په عدلی او قضایی اساسی کتګوریو کی، د مدنی محاکمو د قضایاوو د قضایی حوزواو اداری جوړښتونو ه والی (۶) د رسمی او نارسمی عدلی نهادونو ترمنځ ښی اړیکی (۷) د عدالت په نا رسمی سکتور باندی د څارنی تامین. په دې اړوند لاندې موخې د پام وړ دي :

۱ـ د عامه اداری د اصلاحاتو برنامه به تر (۲۰۱۳ زیږدیز کال) پوری بشپړه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ تر ۱۳۹۲(۲۰۱۳ زیږدیز کال) پوری به د پام وړ اداری فساد راکم شی.

۳ـ تر ۱۳۹۱(۲۰۱۳ زیږدیز کال) پوری به د جزایی اجرااتو نوی قانون تنفیذ او خپور شی او د هغه د عملی کولو لپاره به ټول حقوقی پرسونل ته زده کړی ورکول شی. حقوقی لیکلی تفسیر او دغه راز هیواد والو ته به د ټولنیزو حقوقو په برخه کی پوهاوی ورکړل شی.

۴ـ تر ۱۳۹۱(۲۰۱۳ زیږدیز کال) پوری به ټول قوانین، مقررات او نور حقوقی سندونه تالیف، فهرست بندی او په نرمو افزارو کی شامل شی او دحکومت په ویبسایټ کی به یی ساتنه او څارنه وشی او په ټولو سطحو به په دولتی نهادونو باندی وویشل شی. په ټول هیواد کی به د خلکو لاسو ته په اسانی سره ور ورسیږی.

۵ـ تر ۱۳۹۱(۲۰۱۳ زیږدیز کال) پوری به د حکومت ټولی اداری او وزارتونه ډیر ښه فنی ظرفیت ولری او د تقنینی سندونو او مقرراتو د تسوید او وړاندی کولو په برخه کی به تبعیض امیزه څه نه وی.

دریم رکن: ټولنیز او اقصادی پرمختګ

ددې رکن لاندې اوږد مهاله موخهد خصوصی سکتور تر لاربښونی لاندی د اقتصاد د بازار په ترڅ کی د بی وزلی **کمیدل،** پرله پسی او دوامداره پرمختګ، د بشری پرمختګ د شاخصونو ښه کیدل، او دزریزی پرمختیایی موخو (MDGs) ته درسیدو په لاره کی د کتنی وړ پرمختګ.

حکومت د هغه سیاست چی په پای کی د خصوصی سکتور تر مشری لاندی د بازار اقتصاد د رامنځ ته کیدو سبب **وګرځی** او وکولای شی، یوه د پام وړ همیشنی اقتصادی پرمختیا رامنځ ته کړی، ژمن دی. د افعانستان ملی پرمختیایی د تګلاری په چوکاټ کی به، حکومت د فقر د کمولو د مهم نوښت په وسیله، له خصوصی سکتور نه ننګه او ملاتړ به د مثمرو مشغولتیاوو او عوایدو سبب شی. همدارنګه، دولت په دی پوهیږی چی، د سرچینو هدف باید د ټولنی تر ټولو بیوزله او غریب خلک وی او دغه کار له مالی پلوه د عوایدو د لیږدونی په برخه کی د شفافو او همیشنیو پالیسیو له لاری ممکن دی. له ۱۳۸۱(۲۰۰۲زیږدیز) نه راپه دیخوا، حکومت دغه راز د ټولو افغانانو لپاره د روغتیا او پوهنی د خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی لومړیتوبونو ته پام کوي. د دغی پالیسئ پیاوړتیابه په ټول افغانستان کی د بشری پرمختیا د پام وړ شاخصونو د ښه والی په منظور دوام وومی.

سره له دی چی، مونږ په افغانستان کی د اقتصاد د ودی او پراختیا د سطحی شاهدان یو، مګر زمونږ هیواد له ګڼ شمیر خنډونو سره هم مخامخ دی او باید هغه لری شی، تر څو د بیوزلی د کموالی سبب وګرځی او د اوږدی مودی اقتصادی پراختیا عملی شی. د دغو خنډونو ډیره غټه ستونزه همیشنی بی ثباتی ، د زیربناوو ناسم حالت، د بشری پانګو او بنسټونو د ظرفیتونو د پراختیا ټیټه کچه او د مناسبی اقصادی فضا نشتوالی تشکیلوی. دغه راز، د بیوزلی د کموالی او بشری انکشاف د شاخصونو د ښه والی لپاره ، یوازی پراختیا بسنه نه کوی. په دغه رکن کی اساسی ستونزه ، د هغی فضا رامنځ ته کیدل دی چی، په هغی کی، اقتصاد له ټولو باالقوه ظرفیتونو سره، عمل کوی او له هغه سره په یو وخت کی، باید ډاډ تر لاسه شی، چی تر ټولو تاوانی شوی کسان هیر نه شی او د دې رکن لاندې مهمې موخې چې باید ترلاسه شي په لاندې ډول دي :

۱ـ هغه کسان چی، د ورځی له یو ډالر نه په کم څه خپل ژوند تیروی، په کال کی به په سلو کی دری لږ شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ هغه کسان چی له لوږی نه ځوریږی، به په سلو کی به پینځه را کم شی.

۳ـ ښونځیو کی د نجونو او هلکانو د شمولیت خالص د شمولیت به تر ۱۳۸۹(۲۰۱۰ زیږدیز کال) پوری، په ترتیب سره په سلو کی ۶۰ او په سلو کی ۷۵ وی.

۴ـ د ښځو ښونکو شمیر به تر ۱۳۸۹(۲۰۱۰م) پوری، په سلو کی پنځوس زیات شی.

۵ـ د افغانستان ښوونکی به تر ۱۳۸۹(۲۰۱۰م)پوری د وړتیا ازموینه تیره کړی.

۶ـ تر ۱۳۹۱ کال پوری به، تر ۵ کالو کم د ماشومانو د مرگ او مړینی کچه، په سلو کی ۲۱راکمه شی.

۷ـ تر ۱۳۹۱(۱۳/۲۰۱۲ م.)پوری د میندو د مړینی کچه به په سلو کی ۳۵ کمه شی.

۸ـ ټول اساسی روغتیایی خدمتونه به پراخ او تر ۱۳۸۹(۲۰۱۰ زیږدیز کال) پوری به په سلو کی ۹۰ نفوس تر پوښښ لاندی راولی.

۹ـ هغه کسان چی، د څښاک روغتیایی اوبو او حفظ الصحی ته لاسرسی نه لری، تر ۱۴۰۰(۲۰۲۰زیږدیز کال) پوری به یی شمیر نیمایی ته راټیټ شی.

تر ۱۳۹۱(۱۳/۲۰۱۲ زیږدیز کال) پوری به په کابل کی په سلو کی ۵۰ کورنی او په سلو کی ۳۰ په نورو ښاری سیمو کی د اوبو **نل** ته لاسرسی ولری. په سلو کی۹۰ خلک به په کلیوالی سیمو د څښاک اوبو ته لاسرسی ولری او کلی به په سلو کی ۵۰ روغتیایی خدمتونو ته لاسرسی ولری.

د خصوصی سکتور تر مشری لاندی د اقتصاد بازار د ودی لپاره د مناسبو زمینو د رامنځ ته کولو لپاره اړونده پالیسي جوړول په دې رکن کې په لومړیتوبونو کې راځي .په دې اړوند د دولت دری اساسی لومړیتوبونه دا دی :

د خصوصی سکتور لپاره د حقوقی چوکاټ رامنځ ته کول چی، په هغه کی د سوداگرۍ اړوند د اساسی قوانینو تصویب او توشیح شامله وی(شرکتونه، شراکت، سوداگریزه واکمنی او تجارتی منځگړیتوب) تړونونه، نماینده گی، ستندردونه، د چاپ او خپرونو حق، تجارتی نښی او دانحصاری امتیاز ثبت). (۲) د دغو قوانینو د عملی کولو د ملاتړ لپاره د مقرراتی، چوکاټ رامنځ ته کول. (۳) د حقوقی او مقرراتی چوکاټونو تعمیل. دغه راز، دولت به دغه مهم په پام کی ولری او ډاډ به تر لاسه کړی چی، دغه قوانین او مقررات د افغانستان له ټولنیزو حالاتو سره سمون ولری او په عادلانه توگه عملی کیږی، تر څو پانگوال په اسانی سره وکولای شی، په ارامۍ سره د پانگی اچونی په برخه کی پریکړه وکړی.

دولت به اقتصادی واکمنی د خپلو پالیسیو په چوکاټ کی، د خصوصی سکتور د ودی او پرمختګ لپاره پیاوړی کړی. په دغه برخه کی دا لاندی کارونه تر سره کیږی :۱ـ دراکړی او ورکړی په برخه کی د اصلاحاتو د راوړلو لپاره د مسوولیتونو او نهادی میکانیزمونو روښانتیا ۲ـ د سوداگرۍ او صنایعو د وزارت پیاوړتیا، په افغانستان کی له پانگی اچونی نه د ملاتړاداره، د داوو د اواری او د تجارتی فعالیتونو د لاښه تنظیم په خاطر د حقوقی **سیستم** پیاوړی کول.۳ـ ځمکو ته د لاسرسی اسانتیا د ملکیت حق دلاښو اقداماتو د روښانتیا په شمول، د ملکیت د انتقال په اړوند د طرزالعملو نو اسانه کول او د اجاری د اوږدی مودی لپاره د ځمکی د لاسرسی د امکان ضمانت، د تجارت د فعالیتونو لپاره د اساسی طرزالعملونو تسهیل (د جواز ثبتولو، د پولو تر منځ فعالیتونه ، د گمرکی پراوونو او ورکړو تیرول) به دوام وموومی او د معاملو په سر ته رسولو کی به لگښتونه کم شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستراتیژی دا هم ویلی وو چی: دولت به د دولتی تصدیو خصوصی کول اوسهامی کول په خپلو مهمو کاری لومړیتوبونو کی ځای کړی. دغه کار به د افعانستان بریښنا موسسی د اغیزمنتیا د زیاتوالی او سهامی کولو په اړوند هم وی. د مالیی وزارت د ټولو دولتی تصدیو فهرست چی په راتلونکو دریو کلونو کی خصوصی او سهامی کیږی، ترتیب کړی دی. په خصوصی سکتور کی د ټولو سیالی کوونکو عادلانه لاس رسی به داړوندو دولتی نهادونو له خوا ننګه او ملاتړ وشی.

دولت د کورنیو عایداتو او د خصوصی سکتور له خوا د داخلی تولیداتو حمایت ته د اړتیا په خاطر د سوداګری حامی سیاست ته ژمن دی او غواړی د تجارتی مالیاتو حالت په صادراتو او وارداتو باندی کم کړی. لازمه ده چی، مشخص د سیالي صنایع چی افعانستان د هغو له لاری رقابت کولای شی، باید پیاوړی شی. د مالیی وزارت د تعرفو د رژیم ساختار له اړوندو خواووسره د مشوری له لاری په غاړه اخلی. د سیمی له هیوادونو سره د سوداګری او سوداګریزو فعالیتونو لپاره د افعانستان د ستراتیژیک موقعیت له مزایاوونه په استفادی سره، په سیمه کی د اسانو طرزالعملونو او پالیسیو د جوړولو لپاره چی د تجارت او ترانزیت د پیاوړتیا او اسانتیا په مخه کیږی ، د دولت له لومړیتوبونو نه یو دی. په لنډ وخت کی ، د اغیزمنو ګمرکی مقرراتو عملی کول او صادراتو او وارداتوته لازم وخت تل په پام کی نیول تر څو دغه کار د سیمی معیارونوته ورسیږی او دا به د دولت د هڅو مرکزی ټکی (محراق) وی. دولت د نړیوال سوداګریز سازمان اصولو ته متعهد دی.

مالی سیستم د بانکداری او وړو قرضونو په شمول، په چټکه توګه د ودی په حال کی دی. که څه هم، اوس د مالی خدمتونو کچه ټیټه ده،یوازی کم شمیر خلک رسمی مالی خدمتونو ته لاس رسی لری.دیوه پیاوړی مالی سکتور منځ ته راتګ، چی د هیواد اړتیاوو ته ځواب ورکوونکی وی ، یو اساسی خنډ د دتولید د ظرفیت د زیاتوالی او د خصوصی سکتور له خوا د کورنیو عوایدو زیاتوالی په برخه کی له منځه وړی.

دمالی سکتور لپاره د دولت اول لومړیتوب د مالی سکتور د څلورو قانونو د تصویب او تطبیق له لاری(مسنونی معاملی،رهن ،اجاره او پولی ژمنی) د قانونی چوکاټ پیاوړتیا ده چی د تعلیق په حالت کی دی او د بانکداری په سکتور کی، د مناسبو او دقیقو معاملاتو د پیاوړتیا لپاره به وی. ورپسی لومړیتوب د مالی خدمتونو د وړاندی کولو زیاتوالی کلیوالی سیمو او وړو او منځنیو اقتصادی تشبشاتو ته تشکیلوی. حکومت د تګلارو د جوړښتونو د اصلاح او په پای کی د ملی بانک او پښتنی بانک د خصوصی کولو عمل به وکړی.

په دغه موده کی به دولت **هڅه** وکړی چی، په مالی اعتباراتو پوری د معلوماتو اداره او دمالی کشالو د هواری د فتر رامنځ ته کړی او ددغه مالی سکتور د مهمو اجزاوو د هڅونی په منظور د مناسبی قانون عملی کړی.

*زیربنا او طبیعی منابع*

ملی پرمختیایی ستراتیژی د تدوین پر وخت (۱۳۸۴ل.) داسی لیکلی و: په تیرو پنځو کلونو کی، د زیربناوو او طبیعی منابعو له چټک پرمختګ سره سره، افعانستان تر او سه پوری هم د ګاونډو هیوادونو په پرتله، د زیربنا په برخه کی ډیر وروسته پاتی دی. د سړکونو نا مناسب حالت او د منظمی بریښنا نه شته **والی** د خصوصی صنایعو او تجارت په برخه کی له اساسی خنډونو نه شمیرل کیږی. دعامه لګښتونو په برخه کی د دولت پالیسیو، زیربناوی د خپلو هدفونو کلیدی لومړیتوب بللی، تر څو د خصوصی پانګی اچونی په برخه کی، کورنی تولیدات ، د استخدام (په کار ګومارنی) زیاتوالی،عواید او د فقر د کموالی په برخه کی دوام ومومی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*انرژی*

د انرژی د سکتور پراختیا د فقر د کموو په برخه کی مهمه اړتیا او د خصوصی سکتور د پیاوړتیا او د کلیو د پراختیا ضرورت دی. په همدی خاطر، د افغانستان د ملی تګلاری هدف داسی ښودل شوی و: د خصوصی سکتور د پانګی اچونی پربنسټ، د پرداخت وړ او ډاډه انرژی زیرمه کول، د افغانستان د انرژی په سرچینو کی د دولتی پانګی **اچونی** څارنه، د ملی پرمختګ لپاره د منځنی واټن اساسی هدفونه لاندی برخی درلودی: ۱ـ هر کورته په سلو کی ۶۵ د بریښنا رسوونه، په مهمو ښاری برخو او تاسیساتو کی، په سلو کی ۹۰ او کم ترکمه په سلو کی ۲۵ په کلیوالی سیمو کی . ۲ـ د ملی بریښنا د شبکی د استفاده کوونکو له خوا د لګښتونو کم تر کمه په سلو کی۷۵ پوښښ ۳ـ د نور پرمختګ او د نوی انرژئ لپاره د لازمی تګلاری جوړوونه.

په اوسنی وخت کی، افغانستان د بریښنا د تولید د ظرفیتونو له مخی، په ډیره ټیټه کچه کی ده. او له ګاونډیو هیوادونو نه د بریښنا د رانیولو په ترونونو **باندی** تکیه لری. د اټکلونو له مخی، نن سبا د هیواد په سلو کی د ټول نفوس په سلو کی له ۲۰ نه کم دولتی بریښنا ته (د شبکو له لاری) لاسرسی لری او هغه هم د نوبت په ورځو کی د یوه بنسټ له مخی، د کمو ساعتونو لپاره . د اساسی بنسټیزو پروژو عملی کوونه لکه کوکچه، کونړونو، ګلبهار، باغدره، سرویی، د ګاز ذخیزی او د شبرغان روغتیات به د افغانستان لپاره د انرژی له پلوه یو ډاډمن امکان وی. دغی تګلاری نور ی لاندی برخی درلودی:

۱ ـ په کابل او نورو مهمو سیمو کی، د زیربنا کیفیت د ظرفیتونو زیاتوالی او د بیاجوړونی له لاری د بریښنا د ملی شبکی پراختیا (د لینونو، سب ستیشنونواو میترونو ویش)، د شمال ختیځ د بریښنا د سیستم پراختیا او د سویل ختیځ سیستم او د ختیځ او لویدیځ د بریښنا سیستمونه ۲ـ د کلیوالی انرژئ خدمتونوته لاسرسی د اوبو د بریښنا د وړو سرچینو، لمریزی انرژی، ډیزلی بریښنا او د تجارتی فعالیتونو د پیاوړتیا له لاری د انرژئ د تولید سرچینی په دغو برخو کی تشویق شوی دی او د ډاډ حاصلولو لپاره به فنی معیارونه د دومدارو زیرمو او د انرژئ د منابعو له لاری طرحه شی. ۳- د بریښنا موسسی د سهامي کولو له لاری د اوسنیو فعالیتونو د زیرمو د جبران د میکانیزم د ګټورتیا او اغیزمنتوب.۴- د انرژئ اړوند د بین الوزارتی کمیسیون له لاری د مربوطو خواوو د فعالیتونو د انسجام او همغږئ لپاره ګټورتیا.

د تګلاری هیله مندی پایلی دا وې چې ، له کورنیو سرچینو نه دزیاتی ګټی اخیستنی له لاری، په ټول هیواد کی د بریښنا ډاډمن او ښه لاسرسی او د وارداتی انرژی له منابعو نه استفاده کول پکی ښودل شوی وو. دولت په د ی هڅه کی و چې، د بریښنا د خرڅلاو، ویش او تولید په برخو کی، د خصوصی پانګی اچونی لپاره لازمی زمینی برابری کړی په کلیو کی، د فقر کموالی او د شغلی او تشیشاتی زمینو زیاتوالی، د بریښنا په شبکو کی، د دولتی سکتور او خصوصی سکتور د پانګی اچونی له لاری، د بریښنا په پراختیا پوری مربوط ښودل شوی وه.

*کرنه او د کلیوپراختیا*

د کرنی او د کلیو د پراختیا لپاره د افغانستان د ملی پرمختیا د تګلاری هدف دا سی ښودل شوی و: د خصوصی سکتور د پانګی اچونی جذب د کرنی له اوسنی سیستم نه د کرنی په تجارتی سیستم دبدلون لپاره د معیشت د یوی ارزښت لرونکی سرچینی په نامه. دولت د کرنی اود کلیود پراختیا لپاره یو منسجم پروګرام د دوو پراخو هدفونو د پیروی په منظور ۱ـد فقر کموالی او ۲ـ د بدیل معیشت رامنځ ته کول به عملی کړی.د کرنی سکتور هراړخیزه تګلاره او د کلیو پراختیا د راتلونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره دیوی مشخصی لاری بیانوونکی ده، چی دهغی اساسی هدف د اقتصاد دبیارغاونی له لاری، د فقر کموالی دی او په بشپړه توګه له ډیرو بیوزلو او زیان منونکو نه ملاتړدی. د کوکنارو د ورکولو په برخه کی د هڅو په زیاتوالی او د هغو په اهمیت سره، د فقر ټیټی کربښی ته د کم ځمکوـــ بزګرانو دراوستلو د مخنیوی لپاره د کرهنیزو فعالیتونو پراختیااو چټکتیا له هر وخت نه ډیره ضروری ده. د بدیل معیشت د منابعو لپاره د زمینو په برخه کی پانګه اچونه به په د ی برخه کی یوه مهمه زمینه وی. زیاتره بزګران د کرهنی له لاری کم ترکمه د ژوندانه یو څه زیرمه له خپلی ځمکی نه په لاس راوړی. له د ی امله، زیاتره کورنی چی ژرند یی په کرنه پوری اړه لری، د معیشت له نا مصؤن والی سره مخامخ دی او کله نا کله د خپل ژوند د تامین لپاره قرض هم کوی. ددغو عواملو په نتیجه کی د طبیعی پیښو او د خوراکی موادو د کموالی په وړاندی دهیواد دزیان مننی کچه، زیاته شوی ده. د کرنی او دکلیو د پراختیا تګلاره یو شمیر پروګرامونه په پام کی لری او د بزګرانو د ژوندانه د ښه والی په منظور طرحه شوی دی، تر څو له دی لاری د هغوی غذایی مصؤنیت تامین او اساسی خدمتونه تر سره شی. د دوی عایدات د رواکسب (مشروع معیشت)له لاری زیات شی او په ټوله معنا سره دامن په سالم چاپیریال کی ژوند وکړی . په دغی ستراتیژی کی فعالیتونه په اغیزمنه توګه په دوو برخو ویشل شوی وو:

۱ـ کرنه او کلیو پرمختګ ۲ـ د سوداګری او د کلیوالی تشبثاتو برخه کی پراختیا او نوښت .

هغه پنځلس پروګرامونه چی په دی ستراتیژي کی د کرنی د تګلاری او د کلیو د پراختیا د هدفونو لپاره درسیدلو وسیلی ښودل شوی وی، په لاندی ډول وی: د ملی پیوستون پروګرام، د خوراکی مصؤنیت ملی کړنلاره، د ساحوی پرمختګ ملی تګلاره، د مالداری، کرهنی او د کلیو د پراخ پرمختګ پروګرام، کلیو ته د لاسرسی ملی پروګرام، کلیو ته د اوبو رسولو او روغتیا **کړنلاره**، د کرنی د ملی سرچینو او د کلیو دزیات پرمختګ پروګرام، د څارنی سیستم، کلیو ته د بریښنا رسولو کړنلاره، د کلیوالی تشبشاتو تګلاره، د څیړنی او پرمختیا (R&D یا Research and Development )سیستم، د کرنی د چټک عکس العمل سیستم او د کلیو پراخ انکشاف او د کرنی د ظرفیتونه د لوړتیا او د کلیو د هر اړخیز پرمختګ پروګرام.

*ترانسپورت*

د هیواد د ترانسپورت د سکتور په برخه کی ، د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاری ستراتیژیک هدف داسی ښودل شوی و: دیوی منسجمی او **مضبوطی** ترانسپورتی شبکی رامنځ ته کول، چی په هیواد کی دننه او بهر او له بهر نه دننه د افرادو او توکو لیږدونه تامین کړی. د سیمه ییزو لویو لارو د سیستم په بشپړیدو سره،( په مرکز او ولایتونو کی) د ۵۳۳کیلومتر دویمه درجه سړک په احیا، د ژوندانه دیوی مهمی وسیلی په توګه کلیو ته د رسیدو لپاره د ۶۲۹۰ کیلو متره سړک جوړول به په کلیو کی د فقر د کموالی لپاره لومړیتوب ورکړل شی. په پام کی نیول شوی وه چی د ښاری پرمختګ اداره د ښاری سړکونو د کیفیت د ښه والی لپاره، د سړکونو د ساتنی او څارنی شبکه، د سړکونو د پلان جوړونی او د خدماتی ترانسپورت د اسانتیا وو شبکه به پیاوړی شی. د ولت به د ساتنی او څارنی د فعلیتونو پراخ سیستم د هغو د لګښتونو د تمویل د سرچینو د تلپاتی والی د ډاډ په حاصلولو سره عملی کړی.

پردی سربیره، په دی ستراتیژی کی د ترانسپورت په سکتور کی نور اساسی نوښتونه چی د لومړیتوب وړ وو،هغه دا وو:
۱ــ د کابل نوی هوایی ډګر ۲ـ د کندهار ، مزار شریف او هرات د هوایی ډګرونو بیا رغاونه ۳ــ په سیمه کی د نویو هوایی ډګرونو جوړونه ۴ـ د اوسپنی د لاری د پروژی طرحه ۵ـ د ترانزیت په برخه کی له ګاونډیو هیوادونو سره نوی تړونونه او دغه موافقه لیکونه به د سرحدونو په منځ کی د جنسونو د لیږدونی په برخه کی د کارونوپه سرعت ورکولو کی مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړی. په پا م کی وه چی د ۱۳۸۹(۲۰۱۰م.) کال په پای کی به افعانستان او دهغه گاونډی هیوادونه د سرحدونو د اداری په برخه کی د همکاری له لاری، د ترانزیت په برخه کی د مالونود لیږدونی لپاره لازم وخت راکم کړی. په اوسنی وخت کی داسی پروگرامونه ترلاسه لاندی نیول شوی دی چی د هغو په مرستی سره د کابل هوایی ډگر او نوروااساسی هوایی ډگرونو او دملکی هوانوردی اړوندو ادارو ته دملکی هوانوردی د نړیوال سازمان او د هوایی ترانسپورت د نړیوالی اتحادیی له شرایطو او معیارونو سره سم سمون ورکول کیږی.

دغه هڅه د ملکی هوانوردی د نوی **اداری** د جوړیدو په برخه کی په داسی ډول تر سره کیږی چی، دسیالی دهوایی ترانسپورت پراختیا هم په پام کی ونیسی.

*کانونه او طبیعي زېرمې*

تمه کیږي چی، د طبیعی سرچینو استخراج د کورنی ناخالص تولید د زیاتوالی، د صادراتو د ودی او دغه راز د دولت د **صادراتو** د **زیاتوالی په برخه کی مرسته وکړی. د کانونو د سکتورپه برخه کی، د افعانستان د ملی پرمختیا دتگلاری** هدفونه عبارت د ی له:

۱ خصوصی سکتور د پانگی اچونی جذب

۲ دمنرالونو د سرچینو تلپاتی پرمختگ تنظیم او رواجول

۳ دهیواد د جیولوجیکی منابعو له سروی او سم ثبت نه د ډاډ ترلاسه کول.

دغه کار د هغو قوانینو او مقرراتو د منځ ته راوړلو له لاری چی، دکانونو دکشف او را ایستو په برخه کی ، د خصوصی سکتور د پانگی اچون ننگه او تشویق وکړی، د امکان وړ دی. د کانونو د سکتور په برخه کی د پام وړ او چټک بریالیتوب عبارت دی له: په هیواد کی د ستری بهرنی پانگی اچونی د تړون له لاسلیک څخه، یانی د **۲۰۸** ملیاردو ډالرو په ارزښت د عینکو د مسو د کان د تړون لاسلیک.

دولت د کانونو د سکتور د لومړیتوب په برخه کې د لاندی کارونه تر لاس لاندی نیولی دی: ۱د کانونو د استخراج د مالی بودجی زیاتوالی ۲ـ دیوه شفاف مدیریتی سیستم رامنځ ته کول چی، لازم ظرفیتونه ولری ۳ د کانونو په سکتور کی له پانگی اچونی نه ملاتړ د مختلفو مقرراتو او قوانینو د عملی کولو او نهایی کولو له لاری ۴ـ دهیواد قوانینو او مقرراتو ته د پانگی اچوونکو د باور د جلب په برخه کی بری به د کانونو په سکتور او د هیواد په نورو سکتورونو کی د پانگی اچونی د زیاتوالی سبب وگرځی.

*د اوبو د سرچینو اداره*

دولت د اوبو د اداری منسجی لاری چاری او د سیندونو د حوزو اداره د اوبو د سرچینو د پراختیا او پلان جوړونی لپاره، په لنډ مهال او منځ مهال کی عملی کوی. د افعانستان دملی تگلاری هدف عبارت ده له، په هیواد کی د اوبو د منابعو اداره او **پرمختگ**، لکه څنگه چی، فقر کمیږی، په اقتصادی او ټولنیز پرمختگ کی ثبات لرونکی پرمختگ راځی. د ټولو افعانانو د ژوند سویه ښه کیږی او د راتلونکو نسلونو لپاره د اوبو پوره سرچینی ساتل کیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرنیزو ځمکو اوبه کول، په سلو کی ۹۵ داوبو لګښت تشکیلوی. په ۱۳۵۰(۱۹۷۰م.) کی نژد ی۶,۳ میلیونه هکتاره ځمکه په افغانستان د اوبو لګولو په مختلفو لاروچارو سره خړوبیده، مګر په اوسنی وخت کی ، یوازی په ۱,۳ میلیونه هکتاره ځمکه باندی اوبه لګیږی او له دی جملی نه، په سلو کی لس د انجینرانو له خوا د طرحه شوی سیستم **پربنسټ** اوبه کیږي او پاتی نوره په دو دیزه طریقه باندی اوبه کیږی. اوبه کړل شوی ځمکی دللمی ځمکو په پرتله دری برابره حاصل ورکوی. په افغانستان کی له ۸,۳ ملیونه هکتاره د کښت وړ ځمکی نه۵,۸ ملیونه هکتاره ځمکه د اوبو لګولو توانایی لری. په دی توګه د ابیاری لاندی کرنیزو ځمکو په اندازه کی فوق العاده کمښت راغلی دی.

د اوبو لګولو اداره د افغانستان ددولت یو لومړیتوب تشکیلوی.د اوبو لګولو د وران شوی او یا له کاره لویدلی سیستم د بیا **رغاونی** لپاره د پام وړ پانګه په کار اچول شوی ده، خو د کارموثریت نشته، د اوبو مدیریت د صفر په حد کی دی، هر کال په میلیاردونو مکعب متره اوبه ضایع کیږی، بی ګټی له هیواده وځی او یا په شګو کی جذبیږی،د افغانستان داوبو د لګښت د اغیزمنتوب د زیاتوالی لپاره د پانګی اچونی دجلب په برخه کی په خاصه توګه کم کارشویدی. د دولت له اساسی لومړیتوبونونه باید یو هم د کوکچې، ګمبیری او کامی داوبو د بندونو انکشاف وی، دا خبره ډیر ځله مربوطه ادارو ته ویل شوی ده، خو هغوی لا هم پام نه دی کړی.

داوبو **لګولو** د موجود او دودیز جوړښت بیا رغاونه دیوه لومړیتوب په بڼه پاتی ده او د کرهنیزو تولیداتو زیاتوالی او د فقر کموالی به په کلیوالی کورنیو کی اغیزمن واقع شی. د اوبو لګولو او روغتیا سیستمونو ته د لاس رسی د پراخ کموالی د لری کولو لپاره به، دولت د روغتیا او اوبو لګولو پروژی ته خاص اهمیت ورکړی. دولت به له لنډ مهاله تر اوږد مهاله پوری هایدرولوجیکی سروی بشپړه کړی او د کرهنیزو ځمکو لپاره به نوی بندونه جوړ کړی. د موجوده آبي ځمکو پراختیا د غنمو د کښت، بڼوالي او د څارويو لپاره د خوراکي د ترلاسه کولو په خاطر او د ودې د ګړندی ترلاسه کولو لپاره حیاتي ده. اوسني وخت کې کرنیزې ځمکې چې په کلنی توګه خړوبیږي، دوه میلیونه هکتاره ده او د دغه رقم د زیاتوالي لپاره لاډېرې هیلې شته او هغه دا چې هغه زیربنا چې د جګړو په کلونو کې له منځه تللي، بیا ورغول شي. يوه واقعبینانه موخه داده چې له 500000 څخه تر 700000 هکتاره پورې نوره ځمکه به په راتلونکو لسو کلونو کې تر اوبخور لاندې راشي. په افغانستان کې د اوبخور د سیستم د بیارغاونې په برخه کې ډېرې ښې تجربې ترلاسه شوي دي. په تیرو دولسو کلونو کې د اوبخور د سیستمونو په واسطه 1.8 میلیون هکتاره ځمکه د هر هکتار لپاره 300 تر 400 ډالرو لګښت (که مثلثي کانالونه پکښې راولو 600 – 800 ډالره لګښت) باندې بیارغول شوې ده. لکه هغسې چې د اوبو د لیږد د زیربنا بیارغاونه مهمه ده، همدومره د بزګرانو په کروندو کې له اوبو څخه غوره کار اخیستل او د هغو سپما کول هم مهم دي.

افغانستان دا وړتیا لري چې دوه میلیونه هکتاره نوره ځمکه خړوبه کړي، خو دا کار ډېرې اوچتې پانګونې ته اړتیا لري تر څو نوي بندونه جوړ، ویالي وکیندل شي او د اوبخور جوړښتونه ورغول شي او د پایناو هیوادونو سره خبرې وشي چې زمونږ د سیندونو کوز سر کې دي.[2]د اوبو لګولو د نوي سیستم په ودانولو باندې پانګونه په هر هکتار باندې د 4500 امریکایي ډالرو په اندازه لګښت غواړي چې دغه رقم د موجوده سیستمونو د بیارغاونې د لګښت په پرتله لس ځله لوړ دی.

*معلوماتی او ارتباطی تکنالوژی*

د افغانستان د ملی پرمختیا د تګلاری ستراتیژیک یو بل هدف داو چی: تر۱۳۸۹(۲۰۱۰م.) کاله پوری د معلوماتی تکنالوژئ او اړیکو خدمتونه، په سلو کی ۸۰ د متوازن لاس رسی د پراختیا په منظور تر سره شی. د ارتباطاتو او معلوماتی

---

[2]د افغانستان د سیندونو د ېنځو حوزو له ډلې څخه په څلورو کې یې سیندونه د هیواد د پولو خواته بهیږي، خو دولت له کوزو هیوادو سره د اوبو د وېش په هکله هیڅ ډول موافقه لیک نه لري، دغه لامل په څو منځنیو او لویو بندونو باندې د پانګونې لپاره یوه ستونزه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکنالوژی سکتور لومړیتوبونه د فایبری نوری پروژو او مبایل تلیفونونو ته د لاسرسی د پراختیا لپاره د مسی کیبل شبکی له بشپړیدو سره سم به لار هواره شی.

دمعلوماتی تکنالوژی او اړیکو د قانون عملی کول، په خصوصی پانګه اچونه کی د پرمختیا او تشویق لپاره به لازمی زمینی په پام کی ولری. د معلوماتی تکنالوژی او اړیکو شورا، د مخابراتو وزارت او د معلوماتی تکنالوژی له لاری به هڅه وکړی چی، د کمپیوتر په عصری سیستم ـ دولت د نښلولو پرلور د لازمو اقداماتو د سرته رسولو لپاره په پرله پسی توګه، د دولت ظرفیت پیاوړی کړی.د حکومت کولو کیفیت به اوچت کړی او اداری فساد به کم کړی. په پام کی ده چی، خصوصی سکتور به په دغه برخه کی، ډیره پانګه په کار واچوی.

*ښاری پراختیا*

د ښار اوسیدونکی د چټکی ودی د بهیر اغیزمن مدیریت په ځانګړی توګه، د هیواد دبیا رغاونی په برخه کی، ډیر زیات اهمیت لری. د افغانستان د ملی پرمختیا په تګلاره کی به د ولایتی پرمختګ د پلانونو د بهیر په جوړولو کی، اته اساسی پلانونه تر لاس لاندی نیول شی. د افغانستان د ملی پرمختیا د تګلاری هدفونه ډیرو ښو خدمتونو ته لاسرسی او د استطاعت وړ سر پناه له تلپاتی اقتصادی ودی سره یو ځای، د ښاری ملی کړنلاری له طریقه د عملی کیدو وړ بلل شوی و او په دی کی د ښارونو انکشافی پلانونه او د ځمکی ملی پالیسی شامله وه.

د دغو هڅو پایلی په لاندی ډول دی: ۱ـ د ښاری پرمختیا د اداری او دخدمتونو د وړاندی کولو په منظور، د ښاروالو د ظرفیت پیاوړتیا ۲ـ **ډیره** ښه نهادی همغږی او د مهمو ښاری شاخصونو څارنه ۳ـ د ښار اوسیدونکو لپاره اساسی خدمتونه ته ښه لاس رسی ۴ـ په سلو کی ۵۰ د استوګنی د نارسمی سیمو تدریجی رسمی کیدنه ۵ـ د عامه خدمتونو او اسانتیاوو ګټورتیا او همدارنګه، د نویو ښاری سیمو پرمختګ او د کابل په شمال کی د ده سبزد ښارګوټی په شمول ۶ـ سر پنا ته دلاس رسی زیاتوالی او د کور جوړولو په برخه کی، په سلو کی ۵۰ زیاتوالی او په سلو کی ۳۰ په هغوځمکو کی زیاتوالی چی، د راکړی ورکړی او دمارکیټونو لپاره ځانګړی شویدی. دا له اقتصادی پلوه، د مناسبو اقتصادی سرچینو له لاس رسی سره یوځای.۷ـ د ښاری ژوندانه د چاپیریال ګټورتیا چی شنی او پرانیستی فضا ولری.

د ښارونو د پرمختیا په برخه کی اساسی ستونزه داده چی، مالی تاوان جبران شی او مالی سیستم رامنځ ته شی، چی وکولی شی، له هغی لاری د ښاری او دولتی خدمتونو لګښتونو ، په اغیزمنه توګه ورکړی. دغه کار به خصوصی سکتور ته زمینی برابری کړی چی، ښاری خدمتونه د دولتی سکتور له خواد کم تمویل په وخت کی، له بی وزلو ښاریانو سره مرستی هدف **وګرځی**. د نا پلان شویو او نا رسمی ښاری سیمو د زیاتوالی د مخنیوی په خاطر، د زونونو د ویش ظرفیت بندی او د نوی ښاری پلان جوړونی اداره به پیاوړی شی.

*پوهنه*

دولت غواړی چی ، د هیواد اوسیدونکو ته ډیره ښه ښوونه او روزنه ورکړی. له ۱۳۸۱(۲۰۰۲م.)کال نه راپدی خوا، دولت د پوهنی د سکتور په برخه کی، ډیره پانګه اچولی ده او به دغه برخه کی، وروستیو هدفونو ته د رسیدلو لپاره، دهیواد ماشومانو ته د زمینو د برابرولو په شمول، چی سالمه ښوونه او روزنه ورکړل شی، هڅی کوی. بی سوادی کمه شی او پیاوړی **اقتصادی** ځواک رامنځ ته شی او په دی برخه کی د پام وړ پرمختګونه هم کړی دی.د دولت دغه راز، د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختیایی هدفونو ته ژمن دی او د افغانستان د ملی پرمختیا د تگلاری اساسی هدف هم، د پوهنی په برخه کی داده چی، له دولت سره ددغو هدفونو په برخه کی مرسته وکړی.

دولت غواړی چی، د سودا په کچه کی د پام وړ ښه والی رامنځ ته کړی، د پوهنی کیفیت گټور کړی او د زیات شمیر زده کوونکو د جذبولو په خاطر د **پوهنی** د سیستم ظرفیت پراخ کړی. د ټولو پوهنی ته لاسرسی، د وخت ارزښت او دلوړو زده کړو د کیفیت د ظرفیت پراختیا او د مهارتونو د لوړتیا گټور تیا څرگنده شی.

د اساسی زده کړو رامنځ ته کول او په هیواد کی د بی سوادی د کچی کموالی،د افغانستان د ملی پرمختیایی تگلاره په وخت کی، د افغانستان د دولت یو اساسی لومړیتوب دی. دول دی ته ژمن دی چی، د پوهنی په ملی ستراتیژیک پلان کی، د لومړیتوب وړ پروگرام چی اوتصویب شوی عملی کړی. په دغه پروگرام کی دغه برخی شاملی دی: ۱ـ عمومی زده کړی(په سلو کی ۶۰ د نجونو د زده کړو په شمول)

۲ـ د ښوونکو د روزنی او د کاری حالاتو گټورتیا

۳ـ د پوهنی د بنسټ پرمختگ او بیا رغاونه

۵ـ د تعلیمی نصاب او درسی موادو گټورتیا

۶ـ د سواد زده کړه او نارسمی تعلیمات

۷ـ اسلامی تعلیمات

۸ـ د پوهنی د اداری اصلاح او پراختیا . په دې برخه کې وروستی لومړیتوب د پوهنی له پیاوړتیا نه او د تعلیمی خدمتونو د وراندی کولو لپاره، سیمه ییزو مقاماتو ته د مسوولیت لیږدونی له لاری. دغه راز، د پوهنی وزارت، دلوړوزده کړو وزارت، د کار او **ټولنیزو** چارو وزارت د شهیدانو او معلولینو د وزارتونو د ستراتیژیکی پلانونو د ظرفیت څارنی پیاوړتیا او د حرفه یی تعلیماتو په برخه کی ، اساسی لومړیتول د حرفه یی تعلمیاتو رامنځ ته کول او د مهارتونو د پراختیا پروگرامونه د کار د بازار د غوښتنو په پام کی نیولو سره، د همعړی د گټورتیا او په ملی زده کړو او تعلیماتو کی دظرفیتونو د تطبیق لاری چاری په پام کی نیول.

*رسنی او فرهنگ*

د دغه سکتور لید عبارت دی له:۱ـ په ټول هیواد کی ښځو او نارینوو ته د رسیدونکو ازادو او خپلواکو رسنیو له همیشنی پراختیا نه ننگه او ملاتړ ۲ـ د افغانستان د فرهنگی میراثونو ساتنه ۳ـ دفرهنگی خلاقیتونو ملاتړ، په **دې** اړوند اساسی هدفونه دادی:د لرغونی ارزښت لرونکو ساحو معلومول او ناثبت شوی تاریخی یادگارونه. دزیانمن شویو سیمو بیا رغاونه او ساتنه، په ټول هیواد کی د خپلواکو رسنیو د پراختیا په منظور د رسنیو د نوی قانون د طرحی جوړول، د متقابلو تړیوالو اړیکو له لاری د غلاشویو هنری اثارو بیا موندنه او په دی برخه کی زیار او هڅی.

*روغتیا او تغذیه*

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو معيارونو په پرتله، د افغانستان خلک له نا سم روغتيايي حالت نه ځوريږي. په افغانستان کې د روغتيا کچه ډيره ټيټه ده او د نړيوالو شاخصونو په وروستۍ کچه کې راځي. د ميندو اود نويو پيدا شويو ماشومانو او کوچنيانو د مړينې کچه، په خاصه توګه، له پنځو کالو نه د کمو ماشومانو د مړينې کچه ډيره پورته ده او په ټول هيواد کې د ناسمو خوړوباب زيات دی.

د روغتيا د سکتور لومړنی لومړيتوب دادی چې، روغتيايي ستونزو ته د روغتيايي خدمتونو د مجموعې د ډله ييزپوښښ له لارې ور ودانګي. دولت د روغتيايي خدمتونو عملی کولو ته دوام ورکوی او هغه روغتيايي اړيکې چې، ناروغان له روغتيايي خدمتيونو سره اړيکې ورکوی، پياوړی کوی. په مشخصه توګه، دولت دميندو روغتيايي خدمتونه د کورنيو د لارښوونې او دکورنيو د اړوند مسايلو په باب، د ميندو او ماشومانو د خوړو د ښه والی، د ساری نارغيو کنترول او د خلکو په روغتيا باندی د هغو د نامطلوبو اغيزو په پام کې نيولو سره،د خلکو روغتيايي حالت پياوړی کوی. د دغو مشخصو اقداماتو لپاره په روغتيايي **سکتور** کې، دولت د روغتيايي خدمتونو د سرته رسولو لپاره يو هراړخيز پروګرام تر لاس لاندی نيولی دی چې، د نا برابرئ د کموالی په برخه کې روغتيايي ملي سيستم ، دروغتيايي خدمتونو کيفيت او اغيزه زياته کړی او هغه په ښه توګه اداره او څارنه يې وکړی.

د افغانستان د ملی پرمختيا ستراتيژيک هدفونه د افغانستان تړون او د افغانستان د انکشاف هدفونه په چوکاټ کې ، د راتلونکو ۱۵ کلونو لپاره ، د روغتيا په سکتور کې د لاندی برخو لرونکې و:

**الف**:۔ د ۱۳۸۹(۲۰۱۰م.) کال تر پايه به د (ام.دی.جی) د هدفونو د لاسته راوړلو لپاره، د روغتيا ټول اساسی خدمتونه پرمختګ وکړی او کم تر کمه به په سلو کې ۹۰ نفوس تر پوښښ لاندی راولی.

**ب**:۔ دميندو د مړينې کچه به په سلو کې ۱۵ راټيټه شي.

**ج**:۔ له پنځو کلونو نه کم ماشومان به د واکسينو نو د وقايې په صورت کې، د ناروغيو په وړاندی مصؤنيت تر لاسه کړی.

**د**:۔ تر پنځو کلونو دکمو ماشومانو مړينه به په سلو کې ۵۰ د ۱۳۸۲ او ۱۳۹۴ کلونو ترمنځ او د هغوکموالی به د ۱۳۸۲ او ۱۴۰۰ لمريز ترمنځ دری واری نور هم را ټيټه شي.

**هـ** :۔ دميندو د مړينې کچه به په سلو کې ۵۰ د ۱۳۸۱ او ۱۳۹۴ کلونو ترمنځ راټيټه شي او له هغه وروسته به په سلو کې ۲۵ کموالی راشي او دا به د ۱۳۸۱ او ۱۴۰۰ کلونو ترمنځ وی.

**و**:۔ تر ۱۴۰۰ کال پوری به د ايډز د ناروغی د پراختيا مخنيوی وشي.

**ز**:۔ تر ۱۴۰۰ کال پوری به د ملاريا اونورو اساسی ناروغيو پيښی کمی شي او د هغو د خپريدو مخنيوی به وشي.

*ټولنيز خونديتوب*

*په دی برخه کی يو شمير رسمی ارقام وايې چې:*

د افغانستان منځنی وده د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې ۹،۴ سلنه وه. ددی ودې زياته برخه کيدای شي دبهرنيو مرستو له امله واوسي چې افغانستان په تيره لسيزه کې تر لاسه کړې. چې دغومرستو په ټوليزه توګه د اجناسو څخه د توقعاتو اندازه ، خدمتونه او بيارغونه پورته بوتله. د بيارغوني په ډګر کې رسمي مرستې او همدارنګه پوځی مرستې په ثابته توګه ۴۰۴ ميليون امريکايی ډالر په ۲۰۰۲ کال کی ۷،۱۵ ميليارد ډالر په ۲۰۱۰ کال کی وی. ددی مرستو دريمه برخه د ملکی بنسټونو د جوړولو ، د پوهنی په سکتور ، روغتيا، بريښنا، او د واټونو په جوړولو لګيدلی دی .

د انکشافي مرستو پايلي ډيرې د ليدني وړ او مهمې دي. د د ۲۰۰۲/۲۰۰۳او ۲۰۱۱/۲۰۱۲ ميلادی کلونو کي ناخالص داخلی توليد د هر وګړي ۱۸۶ امريکايی ډالرو څخه ۶۸۸ ډالر امريکايی ته ورسيدل . په لومړنيو ښوونځيو کی شموليت ۱۹ سلنه څخه ۷۲،۴ سلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته لوړ شو. د۱۳۸۱ل. کال په پرتله روغتیایی خدماتو ته لاسرسی له ۲۲ سلنه څخه ۴۵،۵ سلنه ته زیات شوی دی. د میندو مړینه نږدې ۵۰ سلنه ټیټه شوه. د عمر منځنی اندازه د ۴۵ کلونو څخه تر ۴۸،۷ کلونو ته زیات شو.

د افغانستان د کورنیو په باب چی د سروی له لاری کوم معلومات ترلاسه شوی دی، غربت او ناخاپی پیښنو په وړاندی د زیان او فقر لوړه کچه راښئ. له دی جملی مخ د خوراکی موادو د بیی لوړوالی هم کتلی شی. یوه پیاوړی اقتصادی وده د دی دوا کیدالی شي، مګر دا کار په یوازی توګه مکن نه دی. د یوه اغیزمن اقتصادی پرمختګ لپاره لازمه ده چی، دولت د عایداتو په باب مشخص پالیسی اختیار کړی،چی له مالی پلوه تلپاتی او ټینګ وی او د افغانستان دسلامی او ملی ارزښتنونو پربنسټ ولاړ وی او هدف یی د ټولو بی وزله او ټیټی کچی خلک وی.

د اجتماعی مصؤنیت په برخه کی له مالی پلوه همیشنی او هدفمند اقدامات د فقر د کموالی اساسی عناصرکیدی شی. دولت د پایداره سیاست د پر مخ بیولو له لاری خپل پروګرامونه داسی متمرکزوی شی چی، ډیرو بی وزلو سیمو او تر ټولو بی وزله خلکو ته د خپلو اغیزمنو ملی تګلاره او کړنلارو له لاری ، پوره سرچینی ځانګړی کړی. د ناهدفدفمنو سبسایډیو کمونه لکه په انرژی کی کمښت، د مدیریتونو د ظرفیتونو زیاتوالی، د **کار** او ټولنیزو چارو وزارت او د شهیدانو او معلولینو وزارت له لاری کولی شی چی، خوارانو ته دیوه منظم پروګرام له مخی، شغل او کار پیداکړی او په دی ډول ممکنه ده چی، هغوی هم د اجتماعی مصؤنیت په برخه کی ژمن پاتی شی.

دولت له هغو افغانانو سره دوستانه مرستی کوی چی، له طبیعی پیښنو او نا امنیو سره مخامخ وی او د مهاجرت له ستړی ژوند نه بیرته راګرځي او په دغو برخو کی تاوانی شوی دی. د ۲۰۵ ملیونو په شا او خوا کی کډوال کولی شی، په راتلونکو پنځو کلونو یا دملی پرمختیا د تګلاری په کلونو کی، بیرته خپل هیواد ته راستانه شی. تر اوسه پوری د دومره ګڼ شمیر افغانانو د جذب امکانات نه لرو او په دغه برخه کی د نړیوالو د پام وړ مرستو ته سخته اړتیا ده چی، د خپلو شتمنیو د سرچینو د بهیرونو د بدلونو له محدود حالت نه مخنیوی وکړی. د مهاجرینو د چارو وزارت د راستنیدونکو او مهاجرینو نه د ملاتړ پروګرامونه چی، د نورو وزارتونو له خوا **عملی** کیږی، همغږی کوی. د افغانستان له طبیعی پیښنو سره د مبارزی اداره به د دولت تیاری او دوستانه اقدامات په دی برخه کی منظم او منسجم کوی.

*ګډې مسالی*

د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاره د شپږو حیاتی مسالو ننګه او ملاتړ کوی او په دغه برخه کی د ملی تګلاری په ټولو سکتورونو او ارکانو کی د منسجمو اقداماتو لپاره د زمینو برابرول ډیر ضروری دی. دغه موضو ګانی یوه له بلی سره متقابلی اړیکی لری او په کلکه سره یی د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاری د هدفونو په برخه کی ، یو لړ ستونزی را ولاړی کړی دی او باید په راتلونکو پنځلسو کلونو کی د دغو ستونزو د لری کولو او د پروګرام د عملی کولو لپاره بریالی هڅی وکړو. دولت له دغو ربړو او ستونزو سره د غو څو اقداماتو له لاری، د نړیوالی ټولنی مرستو لو همکاریو ته متعهد دی.

*د نشه یی توکو سره مبارزه*

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې یو اساسي هدف داسې ښودل شوی و: د نشه یي توکو د صنعت له منځه وړل یو لومړیتوب دی، چې د هیواد، سیمې او نړۍ په وړاندې یې ستر ګواښونه رامنځ ته کړي دي. دولت په دې کار باندې باور لري چې د کوکنارو تر کښت لاندې ځمکې تر ۱۳۹۱(۱۳/۲۰۱۲ م.) کال پورې د ۱۳۸۱(۸/۲۰۰۷ م.) په پرتله نیمايي ته راټیټې کړي. د ۱۳۸۷(۹/۲۰۰۸ م.) لپاره د دولت پلان دادی چې، ۵۰۰۰ هکتاره ځمکه باندې چې کوم کوکنار کرل کیږي،هغه له منځه یوسي ، هغه څوک چې، د نشه یي توکو په صنعت کې لاس لري، هغه د دولت له هر ډول بریا سره د مشروعیت د کسب په برخه کې او په هیواد کې د **ثبات** د تامین په لاره کې مخالف دي. د غه کسان تروریستي عملونه تمویلوي او د اداري فساد د زیاتوالي سبب کیږي. د نشه یي توکو د ملي کنترول د تګلارې له مخې، باید دولت د نشه یي توکو په وړاندې ډېر سخت عکس العمل وښيي. دغه ستراتیژۍ اته رکنونه لري او په هغو کې د تولید د کموالي هڅې، د قاچاقو او دنشه یي توکو د لګښت او زیان لاربښوونه کوي. دغه ارکان دغو برخو ته لاسرسي لري:

۱ـ بدیل معیشت ۲ـ دنهادونو رامنځ ته کول ۳ـ معلوماتي کمپاین ۴ـ په نشه یي توکو پورې اړوند قوانین ۵ـ جنایي عدالت ۶ـ له منځه وړل ۷ـ نشه یي توکو ته د غوې ښتنې کموالی ۸ـ سیمه ییزه همکاري

د نشه یي توکو د کنترول ملي ستراتیژۍ، د افغانستان د ملي پرمختیا یې تګلارې په ټاکلي وخت کې، تل بیا کتنه کیږي، بډایه او غني کیږبه.د نشه یي توکو د ملي ستزاتیژۍ له مهمو عناصرو یو هم، د هیواد په ولایتونو کې، له نشه یي توکو سره د مبارزې له فعالیتونو نه عبارت ده. په داسې حال کې چې د نشه نیي توکو وزارت په دې برخه کې رهبري کوونکې رول لري، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د کلیو پراختیا وزارت، د ولایتونو پرمختیایي شوراګانې او والیان به، له نشه یي توکو سره د مبارزې په کار کې ، په زیاتیدونکې توګه برخه واخلي. په دغه لاره کې له اساسي ټکیو نه یو مهم ټکی دادی چې، په دغه برخه کې به والیانو ته لازم مشوقونه برابر شي او په دې برخه کې به د دوی د بریالیتوب کچه وارزول شي.

له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې بل لومړیتوب د معیشت د بدیل د اغیزمنو او لازمو پروګرامونو تر لاس لاندې نیول دي او په هغو کې، تمویل کوونکې مراجع، د دغه پروګرام اداره او د عملي کولو لارې چارې، له نشه یي توکو سره د مبارزې وجهي صندوق او معیشت د بدیل او د دغې ادارې په برخه کې دافغانانو زیاتیدونکې رول او د دغه وجهي صندوق زیاتوالی دی.

*د اداري فساد سره مبارزه*

د اداري فساد د پرمختیا او د سالم حکومت کولو په برخه کې، له اساسي خنډونو نه یو مهم خنډ دی. د دولت له خوا له اداري فساد سره دمبارزې اساسي هدف د یوې سالمې ولسي اداري رامنځ ته کول دي، چې په پاک نفسي او حساب ورکولو سره له قانون سره سم، اقتصادي او اجتماعي انکشاف لپاره مناسبې او وړ زمینې ته کړي او په سیاسي پریکړو کې خپله بې طرفي وساتي. دعامه اداري د سالمو سرچینو او د اغیزمنو فعالیتونو په برخو کې، د مدني ټولنو د نهادونو او د خصوصي سکتور په مشارکت سره عمل وکړي.

له اداري فساد سره د دولت د مبارزې ستراتیژۍ، په دولتي ادارو کې، په اصلاحاتو او په قضایي سیستم او نشه یي توکو سره د مبارزې د ستراتیژۍ په برخه کې یو لړ عملي اقداماتو ته اړ دی. په مشخصه توګه سره دولت غواړي چې په دې برخه کې دا لاندې کارونه ترسره کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ د قوانینو تعدیل او تنفید او د اداری فساد د امکاناتو مخنیوی او په دی برخه کی لازم طرزالعملونه ، ۲ په پیچلی سازمانی **جوړښت** کی اصلاحات، کوم چی د اداری فساد د رامنځ ته کولو سبب ګرځی. ۳ د اداری طرزالعملونو اسانتیا، ۴په اداری فساد د ککړو کار کوونکو لری کول، ۵ د تفتیش د طرزالعملونو سمونه او پیاوړتیاو د مالی راکړو ورکړواو اداری موضوع ګانو په برخه کی زیاتیدونکی رول.دولت د کار کوونکو لپاره د پوره تنخواه او امتیازاتو په پام کی نیول.

دولت په دی پوه د ی چی له متعادلو او منظمو لارو چارو نه استفاده او له بیلا بیلو وسایلو نه کار اخیستل او د هغو پیاوړتیا او اغیزمنتوب، له اداری فساد سره د مبارزی په برخه کی ډیر لازمی د ی. مخنیوی، کشف، عدلی او قضایی تعقیب د عامه پوهاوی د کچی لوړوالی د دغی ستراتیژی نه بیلیدونکی عناصر دی.

دولت به ډاډ تر لاسه کړی چی ټول نهادونه، سیستمونه او د خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی اړوند کسان، په داسی ډول سره عمل وکړی چی په هغو کی د اداری فساد په وړاندی تاوان لیدنه ډیری کمی کچی ته راښکته شی او د حکومت د شفافیت او حساب ورکولو لپاره لازم شفافیت به هغو نهادونو سره طرح شی چی له حکومت نه جلا وی لکه ولسی جرګه رسنی اومدنی ټولنی.

*د ظرفیتونو لوړول*

د انسانی او نهادی ظرفیتونو کموالی هغه خنډونه ګڼل شوی وو، چی د افعانستان د ملی پرمختیا د تګلاری په برخه کی لیدل کیدل ، کم او محدود **ظرفیتونه** ددی سبب کیږی چی له سرچینو نه لازمه ګټه وانه خیستل شی، اقدامات په اغیزمنه توګه عملی نه شی او مطلوبی پایلی تر لاسه نه شی او په دی برخه کی بریالیتوب کم ترسترګو شی.

دولت به لازم نهادی میکانیزم، په عامه سکتور کی د ظرفیتونو د لوړوالی په منظور رامنځ ته کړی، مګر په مناسبو مواردو کی به د خصوصی سکتور حمایتی نهادونه هم په دی قانع کړی چی د دغه میکانیزم له خدمتونو لکه: د مسلکی **تعلیماتو** بورد نه کار واخلی، عمده اونهادی مسوولیت به دی بین الوزارتی کمیسیون په غاړه وی چی د ظرفیتونو پرمختیا وی او په مالی وجوهاتو اغیزمن مدیریت مسوولیت به ولری.

دا به د واحد مرکز په توګه د مرستو بهیرونه تامین کړی. په دی جریان کی به له مضاعف بهیرنه مخنیوی کیږی او ډاډ به ترلاسه شی چی د ظرفیت د انکشاف په برخه کی، په خپل وخت او په زیاتیدونکی توګه، مګر په همیشنی توګه ورته پاملرنه وکړی.حکومت په یوه هر اړخیزه پروګرام باندی، د نهادونو د ظرفیتونو او دعامه سکتور د کارکوونکو د پوهاوی او لوړتیا په منظور، هغه چی د عامه اداری په برخه کی کار کوی او ملکی مامورینو لپاره د مهارتونو د لوړتیا او د زده کړو د هر اړخیزو طرحو په برخو کی چی د افعانستان د ملی پرمختیاپه تګلاره په پام کی نیول شوی دی، دغه راز د ملکی خدمتونو د زده کړو د مرکز جوړول، د نړیوالو فنی مرستو مدیریت دمهارتونو او تجربو د چټکی لیږدونی د ضمانت په خاطر دمدیریتی ظرفیت له لاری، د کثیر المدت ظرفیت د لوړتیا له لاری په پام کی ښی.

*د ژوندانه چاپیریال:*

د ژوندانه چاپیریال یوه ګډه مساله ده چی د هیواد له اقتصادی وده به پیاوړی کړی. د ژوند د چاپیریال په هکله د دولت اساسی هدف داسی ښودل شوی و چی د افعانانو لپاره به د ژوندانه د چاپیریال له لاری د هغو د ژوند ښه کیفیت رامنځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی او همدا رنګه به ډاډ تر لاسه شي چي راتلوونکی نسل له اوسني پایداره انکشاف نه ګټه اخیستی شي د یوه لومړنی لومړیتوب په توګه دولت د ژوندانه د چاپیریال د ساتنی اداره جوړه کړه او کوښښ یی وکړ چي له دی لاری خپلی همغږی کوونکی، انتظامی او څاروونکی دندی تر سره کړی. او په دی ترڅ کی د طرحه شویو پروګرامونو په برخه کی د اړوندو وزارتونو ظرفیت لوړ کړی. بل لنډ مهاله لومړیتوب دا و چی، د ژوندانه دچاپیریال سیستم اغیزی و ارزول شي او کومی انکشافی پروژی چی عملی کیږی، هغه په خپل وخت عملی شي.

*سیمه ییزې همکاری*

افغانستان یو ستراتیژیک موقعیت لری چی سویلی او مرکزی اسیا سره وصل کوی. دغه راز یی د چین او لری ختځ او له منځنی ختیځ او اروپا سره د سوداګری لاره لری. اوسمهال افغانستان له امنیتی ګواښ سره مخ دی او په سیمه باندی اساسی اغیزی لری او یوازی کولای شی چی د پراخی سیمه ایزی همکاری له لاری هغه ته لاسرسی وشی. له دغه ستراتیژیک موقعیت نه په خپل وخت ګټه اخیستنه او دزمینو برابرونه ددی سبب کیږی چی دمرکزی اسیا او دلری ختیځ او منځنی ختیځ سویل تر منځ پل شی. د سیمی د سوکالی او ثبات په برخه کی مرسته کوی او دغه راز د پانګی اچونی او سوداګری کچه لوړوی. ددولت اساسی لومړیتوبونه دادی:

۱ـ د سیمه ییزو تړونونو په نوښتونو کی چی د ترانزیت، ترانسپورت او پانګی اچونی په برخه کی لاسلیک کیږی، د افعانستان ګډون، مشرتوب او پانګه اچونه پیاوړی شی.

۲ـ په هیواد کی د اوبو بریښنا د موجوده زیرمو او امکاناتو څخه دګټی اخیستنی لپاره د پراخو ګامونو پورته کول.

۳ـ د راستنیدونکو او مهاجرینو لپاره اسانتیاوو رامنځ ته کول.

۴ـ په سرحدی ادارو کی سیمه ایزی همکاری، د سرحدی جرمونو دمخنیوی په خاطر ،لکه:

۵ـ د وسلو قاچاق، او په هیواد کی نیشه یی توکی تر پوښښ لاندی نیوی شی.

۶ـ دولت په دغه ټکی پوه دی چی، د سیمی د هیوادونو له نږدی همکاری نه پرته ، په خاصه توګه پاکستان، خپلی هدفونه د امنیت په باب نشی عملی کولای.

دلوی اقتصاد چوکاټ

له کیفیت نه ډک تلپاتی اقتصادی ودی، د فقر دکموالی او کارموندنی لپاره، یوبریالی ځواک د ی. په دی ورستیو وختو کی د دولت د مالی او پولی سیاستونو له خوا او د اسعارو د ثابتی راکړی ورکړی په سبب، د ښه پرمختګ ملاتړ شوی دی. که څه هم ، تر اوسه پوری د افعانستان د ودی کچه په اغیزمنه توګه د فقر دکموالی او د کار او کسب د پیداکولو په برخه کی زیاته اغیزه نه لرله او په پراخه پیمانه د بهرنیو مرستو له خوا یی **ننګه** شوی ده. دهیواد ملی پرمختیایی تګلاره، د دولت د سیاستونو د ټاکلوپه خاطر، د فقر د کموالی اوپرمختیایی نتیجو د ترلاسه کولو لپاره برابره شوی ده او دغه ټکی د ستر اقتصاد د ثبات د ساتنی او د ودی د سرچینو په تشکیل باندی، په ځانګړی توګه په خصوصی سکتور باندی تکیه لری د افعانستان د ملی پرمختیایی تګلاره، دغه راز په ملی ثبات کی دهغه له مخی، د هیواد لپاره د مرستی د قرضو د بهیر په برخه کی، د کورنی شتمنی د ودی برخه کی مرسته کوی. د افعانستان دملی پرمختیا له تګلاری نه د حمایت په منظور، دولت په منځ مهال مالی چوکاټ باندی، دافعانستان لپاره د ثابت مالی مسیر د ټاکنی په برخه کی ، ډډه لګوی. د افعانستان بانک، دمالی تورم د ټیټی سطحی د برقرار ساتلو او د ثابتی تبادلی د موجوده کچی د ساتلو لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوی، د روانو محدودیتونو پر خلاف، دولت متعهد دی چی، د یوه قوی بازار اقتصاد لپاره چی په خصوصی سکتور

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندی ډېره ولری سره له دی چی، دا موضوع به دا معنا ولری، چی تر اوسه پوری مهم ، په لنډ مهال کی، د پانګی اچونی لپاره ښه وخت، د دولت د تمویلوونکو مراجعو له خوا شته او په منځ مهال کی، انتظار کیږی چی، خصوصی پانګه اچونه په اقتصادی پرمختګ باندی د پام وړ اغیزه وښندی. او په دی ترتیب، زیاته اقتصادی وده، د عوایدو د زیاتوالی سبب شی، چی بی وزله او غریب خلک، له هغی نه ګټه واخلی. دغه کار دولت په دی قانع کوی چی، اجتماعی خدمتونه زیات کړی او په خصوصی سکتور کی، د خلکو لپاره د کار کولو امکانات برابری شی. د دغی موضوع په پام کی نیولو سره، دغه هدف ته د رسیدلو لپاره، وخت ته اړتیا لیدل کیږی، څکه دولت د خپلو پروګرامو نو د عملی کولو له لاری، د ټولنی د ډیرو بی وزلو اوتاوانی شویو خلکو په اقتصادی او اجتماعی مصونیت کی خپل ځان په همیشنی توګه، بیخی د خیل بولی.

دولت پریکړه کړی ده چی، خصوصی سکتور د هغه د انکشاف په برخه کی، په زیاتیدونکی توګه او په سیال امیزه ډول، د **کورنیو** تولیداتو په برخه کی د پام وړ زیاتوالی راولی. د سیمه ایزو معیارونو له مخی، په اوسنی وخت کی، د افغانستان صادرات چی وچی میوی او غالی دی، په ډیره ټیټه کچه کی د ی. مګر په ورستیو کلونو کی، یو شمیر تولیدی صادراتو چی نوی یی ظهور کړی دی، یو شمیر یی خپل صادراتی ظرفیت په باالقوه توګه له ځانه ښودلی دی، لکه:

د لبنیاتو محصولات،شاتو،سمنټ،د لمرګلی تولیدات،ښیښه، بوره، د بادام غوزی او د شالونو تولید. دولت به زیاتی تخنیکی مرستی وغواړی چی په دغه صنایعو او نورو نویو صنایعو کی د شرکتونو ظرفیت، په صادراتی بازارونو کی د باالقوه او اغیزمنی سیالی په منظور کیفیت لوړ او ښه کړی. هیله من پراخ پرمختګ چی د مسو، طبیعی ګاز، پطرولو او نورو قیمتی موادو مله درکه دی، د پام وړ توګه، د صادراتو د ودی په بهیر کی مرسته کوی. د هیواد د ملی په سلو کی پرمختګ د تګلاری په هر کال کی له ۱۶نه تر ۱۷پوری وده ښی البته، د خصوصی سکتور پرمختګ به هم، په هیواد کی د صادراتو کچه لوړه کړی. دغه راز، دولت متعهد دی چی، د صادراتو حجم زیات کړی او په لوړ ارزښت او لوړ قیمت لرونکو صادراتو باندی واړوی او په دی توګه د یوه ازاد تجارت پر لور ګام اوچت کړی. د سوداګری د سکتور لپاره د زمینو د برابرولو په خاطر د یوه دولتی مهم لومړیتوب په عنوان ، هم د سیالی په ښه والی او هم د صادراتی ودی د ښه والی په برخو کی مرسته وکړی.

د کانود سکتور پراختیا او د صادراتو وده، د منابعو د استخراج او استفادی په بنسټ کیږی. انتظار کیږی چی، د اقتصادی ودی دیوی عمده منبع په توګه، د کرهنیزو فعالیتونو په څنګ کی، هم د زیات ارزښت وړ وی او دغه دواړه بهیرونه یو له بله سره مرسته کوی. د قیق مالی سیاستونه د یوه ښه اقتصاد د ثبات د تامین په منظور او د عامه سرچینو د اختصاصی کولو په خاطر، لاس لاندی نیول کیږی. د دولت منځ مهال هدف د مالی ثبات په باب دادی چی د عادی بودجی لګښتونه د کورنیو عوایدو له لاری تامین کړی. د عادی بودجی تعادل(له وړیا مرستو نه پرته) اټکل کیږی چی، په سلو کی ۶,۵ د نا خالصو داخلی تولیداتو په ۱۳۸۶(۲۰۰۷ـ۲۰۰۸ م.) په یوه متوازنه بودجه تر ۱۳۹۱(۲۰۱۲ـ ۲۰۱۳م.)پوری ښه کیږی. د افغانستان د مالی ثبات په لوری، د قرضونو د قیق مدیریت، د مالی بهیر یو لازم ټکی دی. افغانستان به د خپلو مشخصو پروژو او پروګرامونو د تمویل لپاره د **قرضو** له محدودی کچی نه ګټه واخلی. په لنډ مهال او منځ مهال کی، دعامه لګښتونو اساسی لومړیتوب د ملی امنیت لپاره پانګه اچونه ده. دغه راز، د خصوصی تشبثاتو د هڅونی او زیات مولدیت لپاره د بنستونو رامنځ ته کول دی. سره له دی چی، د امنیت سکتور د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاری له لومړیتوبونو څخه ده، انتظار کیږی چی، د افغانستان د ملی پرمختیایی کړنلاری په مهال ویش کی، د دغه سکتور د ډیره برخه د بهرنیو کمکونو له لاری تامین شی. د عامی هزینو په اړوند سیاستونه ، د خصوصی سکتور وده اسانه کړی ده او مولدیت او ظرفیتونه یی زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی دی چی دا کار به په خپل ځای سر د فقر د کموالی سبب وګرځي د دولت پلان دادی چی، په ټولو سطحو د خپلی بودجی د لګولو وړتیا ولری او نوره یی هم پیاوړی کړی.

په ورستیو پنځو کلونو کی، بهرنی مرستی په سلو کی ۶۰ نا خالص تولید جوړوی. د بهرنیو مرستو یوه په دریمه برخه، داصلی بودجی له لاری لګیدلی ده او پاتی نوره د دولت له بودجی نه بهر مصرف شوی ده. د تمویلوونکو مراجعو د هزینی سمون او ورته والی د افغانستان د ملی پرمختیایی تګلاری په لومړیتوبونو کی یوه اساسی مالی ستونزه ده. د دولت له سترو اندیښنو نه یوه د بهرنیو مرستو منفی اغیزی او بالقوه نا ثبات حالت دی. دولت د **مرکزی** بانک مالی ذخیری ساتلی دی او په منځ مهال کی، انعطاف منونکی مالی اقدامات د خپلو سیاستونو لپاره په کار وړی. د عوایدو د اداری د ګټورتیا له لاری د عوایدو زیاتوالی او د تعمیلی او پراخو اقداماتو عواید او د مالیاتو پراختیا، د مالی ثبات لپاره لازم او همدا رنګه په مرستو پوری د تړلو په برخه کی کموالی راولی. د دولت ژمنه کړی ده چی،تر ۱۳۹۱(۲۰۱۲م.)کال پوری د عادی بودجی ټول لګښتونه ، د کورنیو عوایدو له لاری تر پوښښ لاندی راوړی. د کورنیو عوایدو د کار اخیستنی په برخه کی، یو شمیر پرمختګونه رامنځ ته شوی دی او له کورنیو عوایدو نه ګټه اخیستنه له ۱۳۸۳(۲۰۰۴-۲۰۰۵م.) کال کی له ۱۲,۸ میلیاردو ډالرو نه، په ۱۳۸۵(۲۰۰۶-۲۰۰۷م) کال می ۲۸,۸ میلیاردو ډالرو ته لوړه شوه. انتظار کیږی چی، کورنیو نا خالصو تولیداتو د عوایدو په پرتله، تر ۱۳۹۱(۲۰۱۲-۲۰۱۳م)کال پوری کورنی ناخالص تولید په سلو کی له ۱۰ نه تر۱۱ پوری وده وکړی.مګر له دی سره سره، دغه کچه به په نړی کی تر ټولو ټیټه کچه وی. د عوایدو د تولید لپاره سملاسی لومړیتوب، تعمیلی هڅی په عوایداتو او دمالیاتو په قانون کی د حکومت د پیشنهادی هڅو لپاره د تعدیلاتو تصویب دی چی د ولسی جرګی له خوا کیږی. په لنډ مهال کي، د دولت نور مهم سیاستونه چی د عایداتو د زیاتوالی په برخه کی په پام کی دی، د مالیاتو د پراختیا او دمالیاتو د اداری د ګټورتوب لپاره وټاکل شی. په منځ مهال کی، په لګښت باندی مالیی، د عایداتو د زیاتوالی په برخه کی، یواساسی رول لوبوی.

دا هغه خبری وی چی په ملی پرمختیایی ستراتیژی کی راغلی وی، خو دا چی آیا څومره یی تحقق وموند ، موږ ددی لپاره کوم ثقه او د باور وړ ارقام او دقیق معلومات نه لرو، رموږ په واک کی صرف هغه احصایی او ارقام دی چی یو شمیر موسساتو، غیری دولتی سازمانونو او داحصایی مرکزی اداری نشر کړی، او هغه کره او سم نه بریښی، خوسره دهغه هم موږ مجبور یاستو د لنډ تحلیل لپاره هغه د بیلګی په توګه راوړو.

## د ANDS د تطبیق پایلې او لنډ تحلیل

### امنیتی سکتور

**ملي اردو** : دافغانستان ملي اردوچې په ۱۳۸۲ کال کې دنړیوالې ټولنې په مرسته تاسیس اواوس دنسبتاًیوې منظمې اردوپه څیردافغانستان امنیتي اودفاعي چارې پرمخ بیایي . دنړیوالوژمنوله مخې په راتلونکې کې به دافغانستان ملي اردودپه تخنیکي اومسلکي ډګرونوکې دمنظموتشکیلاتولرونکي وي . په ۱۳۹۱ کال کې دنړیوالوځواکونوڅخه دامنیتي مسولیتونوانتقال په ډېرښه ډول پرمخ ولاړاودافغانستان تقریباً ۷۵ سلنه دملي امنیتي ځواکونوترپوښښ لاندې راغلی اوویل کیږي چې په انتقال شووسیموکې امنیتي حالت له ۱۵ ترشل سلنې ښه شوی دی. د ۱۳۹۱ کال دګزارش له مخې دملي اردوشمیردکمیت له مخې ۱۹۵ زره تنوته رسیدلی اوپه تشکیلاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لحاظ ۶ قول اردولري چي له دي څخه ۵ يي څمکني اويو يي هوايي څواک دی. همدارازداردوپه تشکيلاتوکي دوه فرقي شاملي دي چي دګنډولواګانو،کنډکونو اوحمايوی قوماندانيوتشکيلات لري3 .

په امنيتي سکتورکي خاصتاًداردوپه برخه کي دشميرله پلوه په مختلفوکلونوکي دپام وړپرمختګونه رامنځته شوي چي په لاندي جدول کي دکلونوپه تفکيک دملي اردودعسکروشميرښودل شوي[4]

| ګڼه | د اردو د عسکرو شمېر | کلونه |
|---|---|---|
| 1 | 80,000 | 2008 |
| 2 | 90,000 | 2009 |
| 3 | 134,000 | 2010 |
| 4 | 164,000 | 2011 |
| 5 | 200,000 | 2012 |

په ۲۰۰۳ کال کي د ملي اردو پرسونل ۴۰۰۲ تنه وه او په ۱۳۸۹ کال کي دغه شمېره ۱۳۴۰۰۰ ته لوړه شوه او په ۱۳۹۲ کي ۲۴۰۰۰۰ زره تنو ته ورسيده همدا راز د جګړه ايز او ترانسپورتي تخنيک په برخه کي په ملي اردو کي تر ۱۳۸۹ کال پوري ۲۴۴۸ عرادي زغره والي واسطي او ۱۳۷۶۶ عرادي اکمالاتيترانسپورتي واسطي اکمال شوي . په همدي کال ټولي ۶۰۶۹۰ ميله سپکي او درني وسلي اکمال شوي او د ملي اردو د راتلونکي شميري په پام کي نيولو سره د ناټو په ستندرد د وسلو اکمال دوام لري .[5]

دامنيت په برخه کي‌لومړنی لومړيتوب دامنيتي سکتوردنهادونورامنځته کول وه چي دپورتنيو معلوماتوپه رڼاکي**اوسمهال** دافغانستان ملي اردواوملي پوليس دمنظموتشکيلاتولرونکي اونسبت پخواته په کافي اندازه بشری څواک لري . همدارازيو بل لومړيتوب دنړيوالوځواکونوڅخه دامنيتي مسوليتونوانتقال ده چي داچاره هم په برياليتوب سره پرمخ ولاړه اواوسمهال دهيوادله ۹۰٪ زيات امنيتي مسوليتونه دهيواددامنيتي ځواکونوپه لاس کي دملي اردواوپوليسودروزني اوتجهيزلپاره نړيوالي ژمني لاهم ساتل شوي اودغه سکتورونه اوسمهال دظرفيت لوړولوپه برخه کي ا ساسي ګامونه اخلي اودمنظمولندمهاله اومنځمهاله پلانونوستراتيژيواوپاليسيوسره سم خپلي چاري پرمخ بيايي .

حکومتداری :

د ملی پرمختیایی ستراتیژی له محتوا او اهدافو څخه ښکاری چی افغانستان هغه مهال په داسی یو ډیربد وضعیت کی و، چی اصلا هیڅ شی وجود نه درلود، هیواد په بشپړ ډول په کنډواله بدل شوی و، د دولت دموسسی بنیاد ړنګ و، عامه تاسیسات له کاره وتلی وو، ددولت دری ګونی قواوی نه وی ...، په دی توګه باید دحکومتولی تهداب ایښودل شوی وای. ددی مقصد لپاره اداری اصلاحات او دنظام رغاول په نظر کی ونیول شول، چی په دی برخه لاندی موخی په پام کی وی:

اداري اصلاحات

د ملکی خدماتو او اداری اصلاحاتو هدف په ملی پرمختیایی ستراتیژی کی یومهم هدف بلل شوی و. ددی مقصد لپاره د تقرر پروسه د آزادی سیالی پر اساس او د تحصیلی اسنادو، مرکی، او دوه خلی اعلان له مخی او د کاری تجربی پر اساس غوره او پرمخ ځی .

---


[3]http://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%B1%D8%AF%D9%88%DB%8C_%D9%85%D9%84%DB%8C_%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86 and http://mod.gov.af/fa/page/7414/8748
[4]http://en.wikipedia.org/wiki/Afghan_National_Army#cite_note-Australian-1
[5] گزارش پنج ساله اردو ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداري فسادسره مبارزه : که څه هم په افغانستان کې داداري فسادستونزه اوسمهال ډیره عامه اوننګوونکې ده ،خوپه تیروکلونوکې په دې برخه کې داداري **فساد**سره دمبارزې یوه مستقله اداره رامنځته شوې اوپه ګڼوستراتیژیواوقوانینويي تراوسه کارکړې چې په لاندې ډول ددغې اداري له اړخه درامنځته شویوقوانینواوپلانونو یادونه کوو :

- داداري فسادپرضددمبارزې ستراتیژي
- دعالي نظارت داداري ستراتیژیک پلان
- داداري فسادپرضددمبارزې دعالي اداري قانون

دنړیوال شفافیت داداري دراپورسره سم افغانستان په ۲۰۱۳ کال کې دنړۍ له ۱۷۷ هیوادونوڅخه ۱۷۵ درجه په اداري فسادکې شمیرل شوې چې دادرجه بندي دفساد یوه ډیره ناوړه او تر ټولو بده دکرکې وړ شرموونکی لوړه سطح ښکاره کوي . همدارازد(UNODC)دراپورله مخې که څه هم اوسمهال دتیروڅوکلونوپه پرتله غیرمجازورکړې(رشوت، سوغات او نور) یوه اندازه راکمې شوې، خوپه تیرودریوکلونوکې دفساداندازه ٪۴۰ لوړه شوې او ۳،۹ بیلیونه ډالروته رسیدلی او په سلو کی نږدې ۳۰ خلک د عامه خدماتوپه مقابل کې درشوت ورکړې ته مجبوریږي . لاندې جدول په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۲ کلونوکې په افغانستان کې دفساددکچې په هکله دفیصدي ویش ښکاره کوي اوښکاري چې نظر ۲۰۱۲ کال ته ډیروخلکوپه ۲۰۰۹ کال کې فکرکاوه چې فساد زیات شوې واودغه فکرپه ۲۰۱۲ کال کې له ٪۷۰ څخه ۴۰ ٪ ته کموالی موندلی دی .





**Source: General population survey 2009 and general population survey 2012**

۲۰۰۹او۲۰۱۲کلونوکې په افغانستان کې دفساد دکچې په هکله دفیصدي ویش

لاندې جدول کې دنسبتاًځوانواوپاخه عمرلرونکوخلکوپه نظرله شپږوټاکلوستونزوڅخه ترټولومهمې یې په مقایسوي ډول په۲۰۰۹او ۲۰۱۲ کلونوکې ښکاره کوي چې په نتیجه کې ښکاري چې په ۲۰۱۲ کال کې نظر ۲۰۰۹ ته دفسادکچه کمه مهمه ګڼل شوې ، چې علت یی وار په وار د امنیت خرابوالی دی، یعنی د خلکو تشویش د فساد په عوض بی امنیتی ته زیات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




Source: General population survey 2009 and general population survey 2012

دځوانواوپاخه عمرلرونکوخلکوپه نظردشپږوتکلوستونزومقايسوي اهميت

## معلوماتو ته د خلکو لاسرسی

**سره له دی چی ګڼ شمیر تلویزیونونه، راډیو ګانی، اخبارونه او مجلی خپریږی، خو هغه معلومات چی خلکو ته په کار دی او هغه تنویری پروګرامونه چی د ځوانانو په روزنه کی مهم دی او د ولس دملی شعور کچه لوړوی ، په نشت حساب دی، ټولی موجودی خپرونی د نورو هیوادونو مزخرف او مبتذل پروګرامونه، تجارتی سریالونه، سیاسی پروپاګنډی او کانګی راوستونکی موسیقی خپروی، چی خلک یی له رسنیو ستومانه او د ځوان کول اخلاق یی فوق العاده خراب کړی دی. داسی ویل کیدای شی چی راتلونکی افغانستان کی به اقتصادی او فزیکی رغاونه وشی، اما اخلاقی فساد به نه مهار کیدوونکی وی . یعنی راتلونکی افغانستان به دوه ستر پرابلمونه ولری: یو یی بی حده اخلاقی فساد اوبل یی د ښارونو ناانډوله انکشاف او د شنی ساحی له منځه تګ او په دی برخه کی د پالیسی او علمی تدابیرو نشتوالی. د حکومت د رنو اجراآتو په هکله هم خلکو ته معلومات نه ورکول کیږی، د بهرنیو موسساتو، سفارتونو او نورو مشکوک ، له جاسوسی ډک او مغرضانه فعالیتونه خلکو ته نه ښودل کیږی، په دی برخه کی اصلا ولس په مادیاتو پسی ورک دی او وطنی قضایا ټول هیر شوی او د مادیاتو پرستی د حرص د لازیات تشویق او ترویج له امله د هیوادنیو مسایلو په هکله د خبرتیا انګیزه وژل شوی او د مفیدو او ضروری معلوماتو سر چینی وچی او خلک ورته لاسرسی نه لری. په دی توګه د رسنیو ګنوالی ، د تجارتی اشتهاراتو تکاثف او د جرمی او جنګی خبرونو سیلاو ددی لامل شوی دی چی خلک مفید او ضروری خبرونه او پوهه تر لاسه نشی کړای. دغی وضع د افغانستان د مومن او وطنپال ملت روحیه په سرچپه بڼه بدله کړی ده. اخلاقی فساد، بی بندوباری، جرایم ، تاوتریخوالی، منکرات او تیری له اټکل څخه زیات ترویج شوی ، خو داخلاقی معیارونو او اسلامی ښوونو په هکله منابع نشته، که دینی وعظونه هم اویدل کیږی ، ټول سیاسی او له غرض څخ ډک دی. سیاسی اوشعاری اسلام د افغانانو عقیدتی او واقعی اسلام مخدوش کړ او دټولنی اساس یی ولړزاو، خو رسنیو او معلوماتی او روزنیزو برخو کی مثبت لوری ته پاملرنه نشته. افغانی اصیل فرهنګ ، هنر او مبتکرانه فکری خلاقیتونه یا وژل کیږی یا هم د کفر ټاپه وربانډی وهل کیږی او په راز راز دسیسو یی سپکاوی کیږی او افغانی اصیل هنری جوهر تر ګواښ لاندی دی. وطنپالنه د جرم، شرک او کفر سره برابره شمیرل کیږی او پردی پالنه یو مروج او عام واقعیت ګرځیدلی دی.**

**انتخابات:** په افغانستان کې له طالبانو وروسته د نوی اداري په راتګ اوداساسي قانون دموادومطابق دټاکنوخپلواک کمیسیون رامنځته شوچي لومړنی ټاکني دګنونړیوالوکتونکواوتخنیکي مشاورینوپه مرسته تر سره شوی، خو د جمهوری

(c) ketabton.com: The Digital Library


**رياست دوهم ځلی ټاکنی په خپلواک ډول وی، دريم ځلی هم په خپلواک ډول وی ، اما دولايتی شوراګانو او د ملی شورا ټاکنی له درغليو ډکی او په ولايتونو کی خلکو په پټو سترګو صرف د يو وخت ډودي ورکولو په مقابل کی نا پيژاند يا هم ډير فاسد،ناپوه او عادی بی تجربی او حتا بيسواده افراد غوره کړل چی پايله يی هيواد ته ډيره درنه تمامه شوه ، اما کيدای شوه چی له دغو امکاناتو څخه د افغانستنان په ګټه ډيره ښه استفاده شوی وای، خو لکه د نورو فرصتونو په شان دا چانس هم وسوځيد. اوسمهال د ټاکنو کميسيون ديوه مستقل کمييسيون په توګه فعاليت کوي .هغه ټاکنيزې پروسې يی چی ترسره کړي په لاندې ډول دي :**

ترسره شوي ټاکني

| | |
|---|---|
| ۲۰۰۴ | د جمهوري رياست ټاکني |
| ۲۰۰۵ | پارلماني ټاکني |
| ۲۰۰۹ | جمهوري رياست ټاکني |
| ۲۰۱۰ | پارلماني ټاکني |
| ۲۰۱۴ | جمهوري رياست ټاکني |

**ټولنيزاواقتصادي پرمختک :**

**اقتصادي وده :** دافغانستان دملي پرمختيايي ستراتيژی دتطبيق په څوکلونوکي داقتصاد وده په منځني ډول ۸ فيصده وه کوم چي په سيمه ييزه کچه يوه لوړه اقتصادي وده ښکاره کوي اوتقريباًپه ټولوسکتورونوکي په دې موده کې‌دغه وده په دوامداره توګه دنړيوالو**مرسته**کوونکودپراخومرستوپه مټ ثابته ساتل‌شوې وه ، خو له دی امله چی دغه وده په داخلی توليد نه وه ولاړه، بلکی صرف د بهرنيو مرستو په زور وه، نو ځکه يوه واقعی وده نه، بلکی يوه کاذبه وده وه.لاندې جدول په سيمه ييزه کچه د ګاونډيو هيوادونو او د افغانستان د اقتصاد کلنی وده ( صرف د ارقامو له مخی، نه واقعی) په مقايسوي بڼه ښکاره کوي (خو بياهم تر هيڅ څخه ډيره ښه ده او يوه بيساری لاسته راونه يی بللای شو).





Source: IMF Country Report No. 11/330, November 2011

د افغانستان او دسيمی د هيوادونو کلنی اقتصادي ودی مقايسه( د۲۰۰۸ - ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په تیروڅوکلونوکي دافغانستان کلنی ودي ته وکتل شي، نوښکاری چی دغه وده دزیات نوسان لرونکي وه چي دلیل يي مستقیماًهیوادته په مختلفوکلونوکي د**مرستو**دبهیراومقدارپه اندازي پوري تړاوپیداکوي .لاندي جدول په بیلابیلوکلونوکي دهیواد داخلي ناخالص محصول دودی دنوسان څرنګوالی ښکاره کوي :

د افغانستان د GDP د ودی اندازه





۱۳۹۰-۱۳۸۶ شمسی کلونه

سره له دې چي دسړي سرعایدپه ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې دیومشخص معیارپه توګه نه دی ټاکل شوی، خودبشري

انکشا ف شاخص(Human Development index) اودزریزي داهدافو(MDGs ) لپاره یوله مهمومعیارونوڅخه شمیرل کیږي. .
ښکاره خبره ده چي دافغانستان اقتصادچي ترډیره حده دنړیوالومرستوپه مټ نوی غوړیدلی، دسړي سرعایدهم په مختلفوختونوکي دمرستودانداز ي له بدلونونو سره په موازي ډول بدلون موندلی ای، اوهمدغه دسړي سرعواید (PCI)زیاتره وخت دخلکو د ژوند دکچي دیوی نښي په توګه منل کیږي.

دخوښی خبره ده چي په تیره لسیزه کې دبشري انکشاف په برخه کې ډیردپام وړپرمختګ رامنځته شوی اودبشري انکشاف شاخص چي دزریزي داهدافولپاره یومهم معیاروه له 0.25 څخه په ۲۰۰۲ کی تر 0.4 پوري په ۲۰۱۲ کال کي لوړشوی. همدارازد**سړي**سرعوایدواندازه په افغانستان کې دنړیوالي ټولني دهراړخیزومرستوله پیل څخه په دوامداره توګه مخ پرلوړیدوده اوپه ځانګړي ډول دملي ستراتیژۍ دپلي کیدلوپه دوره کې دسړي سرعایدوده لاپه زیاتیدوښکاري چي داپه کلي ډول دهیواد داقتصاد دغوړیداپه ماناده اولاندي جدول دغه حقیقت په ښکاره ډول بیانوي:

سړي سرناخالص عواید ( ارقام په امریکائي ډالرو)




(c) ketabton.com: The Digital Library

Source: CSO (2012), Data from Department of National accounts.

**دملي عايدترکيب اوسکتوري پرمختک :**

دافغانستان د GDP درشدپه کلونوکي ترټولومهم سکتورونه دخدماتوسکتور،دزراعت سکتوراودصنعت سکتوردي . له دي جملي څخه دخدماتوسکتورترټولولوړه ونډه لرله اوپه مقابل کي دصنعت سکتورونډه کمه اونسبت نوروسکتورونوته يي لړوده لرله. لاندې جدول دملي توليدترکيب دسکتورونوپه تفکيک سره ښکاره کوي.

په ( GDP) کي د سکتورونو دسلني ونده



Source: Compiled from Afghanistan statistical yearbooks (2007 to 2012)

د افغانستان اقتصاد تر اوسه په کرنه پورې تړلی دی او د کرنې سکتور د اقتصاد په وده ، د کاري فرصتونو په را منځته کولو ، د لوږې په کمولو ، د خوړو امنيت او مالی هوسايی کی مهم رول لوبوي. پورتنی ارقام په خپله دا موضوع ثابتوی.

په سلنوکی له ا تیاڅخه زیات د هیواد نفوس او د نوي سلنه څخه زيات بیوزله خلک په کلیوالی سیمو کی ژوند کوی او کرنه ددوی په ژوندانه کی مهم رول لوبوي. د ساري په توګه په ۲۰۱۲/۲۰۱۱ میلادی کال کی کرنی د ۴۹ سلنی شاوخوا ټول کورنی عواید تامین کول . او د هیواد په سلوکی ۳۰ وګړو لپاره د عایداتو مهمه منبع وه . همدارنګه په کرنه کی ۴۰ سلنه د کار قوه موجوده ده . اګر چې دا د کار قوه ټوله ورځ په کرونده کی کار نه کوی د کار زمیني ، د ورځی معادل (FTE) د کرني په سکتور کي ۲،۵ – ۲،۷ میلیونه تخمین کیږي. او هغه کاري زميني چې د کرني له لارې په نورو اقتصادونو کی ( لکه د غنمو ژرنده، اوړه کول، د کرنیزو موادو پروسس) جوړوی ، ۳،۲- ۳،۴ میلیون تخمین کیږی. یعنی د افغانستان اقتصاد کی په عجیب ډول يوشمير نور اقتصادی فعالیتونو کرنی پوری تړلی دی.( ټول - وخت استخدام یا کار ګومارنه هغه ده چی یو وګړی په یوه کال کی اقلا له ۲۰۰ ورځوڅخه زیات په کار بوخت وی)

کرنه او کرنیز فعالیتونه به په افغانستان کی د مهمو کاري زمینو په توګه د راتلونکی لپاره هم پاتې شی. او د کاري زمینو د برابرولو لپاره به یوه ښه هیله واوسي .که څه هم په ۲۰۱۲ /۲۰۱۳ میلادی کال کی د جګړو څخه د وروسته بيا رغونه کی خدمتونه د ۵۳،۳ سلنه ناخالص تولید تر ستونی تیر کړي و. خدمتونه په پراخه اندازه په خپل لومړنی حالت باندی پاتې شول ، د عمده او پرچون د خدمتونو په توګه ، ترانسپورت او دولتی خدمتونو په ضعیف شکل وجود درلود. د خدمتونو په سکتور کی د کاري زمینی اوسنی حالت د ګواښ سره مخامخ دی. ځکه چې وړاندوينه کيږی چې د نړیوالو مرستو په غوڅیدو سره به ددی سکتور د تقاضا اندازه هم لږه شی ، د تولید سکتور یو فعال سکتور نه دی او په ناخالص تولید کی لږه اندازه برخه ( ۱۲،۸سلنه) لری په واقعیت کی د ودې په بهیر کی تولیدی سکتورونو او له هغی جملی کرنی دومره څرګند نقش په تیره لسیزه کی نه درلود، لکه هغو مره بالقوه پوتانسشیل چې لری، یعنی موږ د کرنی سکتور څخه په مراتبو اوچت عاید ترلاسه کولای شو. داسی نه ښکاري چې د کانی منابعو را ایستل به د کار د زمینی ، که مسلکی او یا نیمه مسلکی واوسی ، د پاره ښه فرصت تیار کړي، خوکرنه به تر څو نورو کلونو پوری هم ګڼ شمير نفوس د ټول وخت لپاره په کار وګومارلی شی. دکرنی د فعلی اهمیت په هکله بیا هم لاندی جدولونه وګورئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ارزښت زیاتیدو کی د سکتورونو سهمونه**

| | 2002 - 2003 | 2006 - 2007 | 2012 - 2013 |
|---|---|---|---|
| کرنه | 38.5 | 29.2 | 24.6 |
| صنعت | 23.7 | 28.8 | 21.8 |
| تولید | 18.7 | 16.7 | 12.8 |
| کانونو ایستل | 0.1 | 0.4 | 1. 0 |
| بیا رغونه | 4.8 | 11.6 | 8. 0 |
| نور صنایع | 0.1 | 0.2 | 0.1 |
| خدمتونه | 37.8 | 41.9 | 53.5 |

*منبع:* احصائیه مرکزی اداره


**د سکتور برخه د اصلی ناخالص داخلی تولید په رشد کي (دفیصدی په اساس)**




د افغانستان د اقتصاد په جوړښت کي په بدلون برسیره، کرنه د اقتصادی ودې د یوه ستر عامل په توګه پاتې کیږي . په ۲۰۱۲ کال کي کرنه د ۸،۳ سلنه تولیدي ناخالص ودې د نیمي څخه زیاته برخه تشکیلوله. په ۲۰۱۲ کال کی د اوبو او هوا شرایط د کرني د پاره ډیر مناسب و او د ډیرو محصولاتو سبب شو. په کرنه پوری قوي تړلتیا هم دا په ډاګه کوي چې څنګه داقتصادی وده ډیره ماتیدونکی او دوام نه لرونکی ده.


په بهرنی سوداګری کی هم په زغرده ویلای شو چې د افغانستان زیاتره تولید ( نږدې ۹۰ سلنه ) او د دې هیواد زیاتره صادرات په کرنه پوري تړلي دي. رسمی ارقام په ډاګه کوی چې صادرات زیاتره مغزباب (چهارمغز،بادام،پسته) او وچې میوې(ممیز، کشته) او نور د کرنی څخه تر لاسه شوی توکی او غالی په ۲۰۱۲ / ۲۰۱۳ میلادی کال کي تر ۵،۵ سلنه ناخالص تولید تشکیلاو . د ترياکو نه ثبت شوی زیات صادرات ۷-۸ سلنه پوري د کورنی تولید ناخالص برخه جوړوله( اما دتور اقتصاد یا غیر قانونی فعالیت برخه ده) .

**شکل 2: د ناخالص داخلی حقیقی تولید او سکتورونو وده**




*منبع:* د احصای مرکزی اداری معلومات

**شکل 3: د ناخالص داخلی حقیقی تولید او خصوصی فی واحدمصرف**




*منبع:* داحصائی د مرکزی اداری ارقام

د زراعت سکتور د افغانستان په اقتصاد او هم د خلکو په ژوند کي مهم رول لري ، د هیواد تقریباً ۷۵ سلنه خلک په همدې سکتور کي په سیده توګه بوخت دي او د ژوند زیاتره اړتیاوې د همدې سکتورڅخه په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه پوره کوي. په تیرو کلونو کي د **زراعت** سکتور هم په زیاته اندازه نوساني (له لوړو ژورو ډکه) وده لرله، چې له منفي څخه تر مثبت ۴۰ سلني پوري رسیدله ، د نورو دلایلو سره سره د هیواد د زراعت سکتور په زیاته اندازه د اقلیمي شرایطو څخه اغیزمن ده، یعنی کلنی اروښت، اقلیمی ناځاپی پیښی او نور طبیعی عوامل په کرنیزو حاصلاتو د پام وړ تاثیر لري.په دی دلایلو سره د زراعت سکتور په هیواد کي د دوامداره پرمختګ او له بیوزلی سره د مبارزې په لاره کي خورا مهم رول لري او داسي پالیسیو ته اړتیا لیدل کیده چې په پایله کي یې دا سکتور پرته له نوسانه په متداومه توګه پرمختګ وکړي، ترڅو له یوی خوا په هیواد کي خاصتاً په دې سکتور کي تش ظرفیتونه، چې بنه پریمانه دی، په کار اچول شي واي او له بلې خوا یو زیات شمیرهیوادوال چې بیکاره او دبیوزلی تر کرښی لاندي وو، په کار بوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له د بیوزلی له کربښي پورته شوی وای، خو له بده مرغه دی برخه کی لازم کار ونشو، دهیواد دبیلابیلو ولایاتو تر ټولو ښی کرنیزی ځمکی تر غیر زراعتی استعمال لاندی راغلی یا هم زوررو، پخوانیو ټوپکوالو او قوماندانانو غصب کړی. اوسمهال دغه سکتور له ګڼو ستونزو سره مخ ده چي له هغي جملي څخه د مدیریت ، زیربنا ، مالي وسایلواواغیزمنوپالیسیو او مقرراتو کموالی یا نشتوالی تر ټولو زیاتي د پام وړ دي .

**د کرنی دسکتور تولید ( ارقام په زر ټنو )**


| کرنیز توکي | 2006-07 | 2007-08 | 2008-09 | 2009-10 | 2010-11 | 2011-12 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ټول حبوبات | 4459 | 5530 | 3646 | 6313 | 5715 | 2978 |
| کچالو او جغندر | 303 | 313.738 | 393.316 | 318.9 | 261.2 | 21.672 |
| Nuts | 53.35 | 81.374 | 51.66 | 96.202 | 75.6 | 17.986 |
| پنبه | 32 | 35.051 | 35 | 42.872 | 33 | 33 |

دافغانستان احصائیو کلنیو څخه (2007- 2012)

د کرنی سکتور نه یواځي د یو عنعنوي سکتور په حیث د پام وړ سکتور ګڼل کیږي بلکي، د غذائي مصونیت په برخه کي هم یو له ستراتیژیکو**لومړیتوبونو** څخه شمیرل کیږي ، د تیرو کلونو رسمي ارقام په ځانګړي ډول د غنمو د تولید او تورید په هکله یو څه پرمختګ څرګند شوي چي په لاندي جدول کي د داخلي تولید او وارداتو ارقام د کلونو په تفکیک سره ښودل شوي پورتنی حقیقت بیانوي :


د غنمو تولید او تورید ( میلیون ټنه)

دافغانستان احصائیو کلنیو څخه(2008 to 2012)




لکه څنګه چي په لاندي شکل کي لیدلکیږي په تیرو څو کلونو کي د خدماتو سکتور نسبت نورو ټولو سکتورونو ته ډیره بیرنی وده لرله او اوسمهال د **هیواد** په ملي عوایدو کي تر ټولو د لوړي فیصدی لرونکی سکتور دی .

د GDP ترکیب د ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۹ پوري . ( ارقام په میلیون افغانیو)




Source: World Bank, Afghanistan, Economic Update May 2011, p. 17

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه چې لیدل کیږی، د ملی پرمختیایی ستراتیژی په پرتله د کرنی په برخه کی د افغانستان د لومړنیو پنځه کلنو پلانونه محتوا ډیره دقیقه اوعینی وه. مثلا دافغانستان لومړنی پینځه کلن پلان کی د کرنی لپاره لاندی تدابیر په نظر کیوو:

- ددولتی فارمونو جوړول او نویو کرنیزو ځمکو ته د اوبو رسول .
- د پیله ورۍ او شاتو د مچیو د روزنې پرمختیا.
- د ځنګلونو ساتنه او پراختیا.
- د فني زراعتي پرسونلونو روزنه او د تحقیقاتی مرکزونو جوړول.
- د زراعتي تخنیک رواجول او د کرنیزو امراضو او آفاتو په ضد مبارزه.
- د تخمونو اصلاح کول د څارویو د روزنې پراختیا.

په لومړي پنځه کلن پلان کې له کرنې سره یو ځای د هلمند د ناوې پراختیا پروژې او د کلیو د پراختیا د ریاست پروژه هم په نظر کې نیول شوې وه، چې ۱،۳ ملیارده افغانی بودجه ورته په پام کې نیول شوې وه، خو عملاً ۹۶۶ میلیونه افغانۍ چمتو شوې وې، واقعي انکشافي مصارف پورتنیو دریبو برخو کې ۴۲۱ میلیونه افغانۍ وې.

د کرنې د وزارت امریکایي متخصصینو د لومړي پنځه کلن پلان اول دوه کلونه د (پروګرام سبز ساختن) یا د شنې ساحې د پراختیا لپاره جلا کړل او په نورو دریو کلونو کې د کرنیز ترویج لپاره کار وشو. د ۱۳۳۵ – ۱۳۴۰ پلان په ترځ کې ۲۱۱ ترویجي مرکزونه جوړ شول حال دا چې په ټول افغانستان کې ۴۴ زره کلي وو. په ډاګه ښکاري چې دغه مرکزونه د ټولو کلیو لپاره کافي نه وو. په پلان کې ۸۰،۶ میلیونه افغانۍ د نوښتګرو بزګرانو د تشویق په خاطر په پام کې نیول شوې وې، چې مستحقو د هقانانو ته ورکړل شوې د دغه پلان په ترځ کې د غنمو ۷۸۰۰ ټنه اصلاح شوي تخم بزګرانو ته ورکړل شو. همدارنګه ۵۱ زره نوي نیالګي کینول شول چې د شنه کولو تر پروګرام لاندې عملي شو. د یوې نتیجې په توګه ویلای شو چې لومړنی پنځه کلن پروګرام ښه پلان و. خو صرف د کرنې د وزارت او د دولتي پروژو په حدود کې عملي شو. د حکومت له ساحې بهر د ټول هیواد د کرنې په سکټور ډېر موثر ثابت نه شو، نو ځکه د خلکو په تیره بیا د کلیوالي سیمو د اوسیدونکو د ژوند په سطح کې هغومره ژور بدلون رانغی لکه توقع یی چی کیدهو دا ځکه چې ډېر لګښت په زیر بنایی چارو لکه د بریښنا دفابرکو، سړکونو او د ښاری تاسیساتو برخه کی وشول، اما بیا هم وضعیت نسبی مثبت وکوند او لا هم د بدلون موندلو په حال کی و. تر ټولو یوه ګټوره دولتی پروژه چی احداث او بهره برداری ته وسپارل شوه، هغه د ننګرهار د ناوی د پراختیا پروژه وه چی څلور میکانیزه زراعتی فارمونه پکی جوړ شول، دغه پروژه هم زود ثمره نه وه، بلکی ثمر او حاصل او د حاصل عواید یی په لسم، پینځلسم کال ددولت عوایدو کی ولیدل شول، چی د ۴۰۰۰ شاوخوا کسان هم پکی استخدام ( دکار موندنی فوق العاده ښه فرصت) او هر فارم د ستروسو د میوو د تولید ترڅنګ، د سبو تولید، د غلو-دانو تولید، سیلو، ښوونځی، کلنیک، سینما او میکانیزه یونټونه، د اوسیدو کورونه او نور ضروری تاسیسات او دمالداری برخی لرلی. سره له دی چی دا هم دولتی پروژه وه، خو د ۳۰۰۰هکتاره شاوخوا شخصی زراعتی ځمکو ته یی هم اوبه برابری کړی او د تکنالوژی ترویج کی یی مهم رول ولوباو. له دی پرته دغی پروژی ګڼ شمیر ماهر تخنیکی پرسونل وروزل چی د خصوصی سکټور برخه کی یی رول ډیر مهم و. البته ددغی پروژی لړ برخه لومړنی پینځه کلن پلان کی او نوری برخی یی په نورو پلانونو کی تکمیل شوی. دا اصلا د اوبو لګولو یوه مجتمع وه چی د بریښنا د تولید، تخنیکی ورکشاپونو، زراعتی تاسیساتو ، ترانسپورت د ځمکی او خاوری د اصلاح او دکرنیزو علمی څیړنو برخی یی هم درلودی. حال دا چی د ملی پرمختیایی ستراتیژی د تطبیق د کلونو په ترځ کی د کرنی ، مالدرای او اوبو لګولو په برخه کی هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی یوه لویه مجتمع او اغیزمه پروژه موجوده نه وه او نه هم دومره اجراات وشول، چی مختلف اهداف ( د استخدام لازم فرصتونه، ددولت دوعوایدو لوړول، د تکنالوژی ترویج او نور ) یی درلودای.

**د کرنې سکتور په دوهم پنځه کلن پلان کې**

په دوهم پنځه کلن پلان کې د کرنې د سکتور په ډګر کې مهم اهداف په لاندې توګه ټاکل شوي وو.

- ✓ د بیلابیلو زراعتي او اختصاصي پروژو عملي کول او د عامه تغذیې ښه کول.
- ✓ د صنایعو لپاره د خامو موادو چمتو کول.
- ✓ په کرنیزو صادراتو کې زیاتوالی راوستل.

دغه پلان له ۱۳۴۱- ۱۳۴۵ ش کال پورې دوام وکړ چې په هغه کې ۲۲ مهمې زراعتي پروژې شاملې وې. د ۳۲۴۲ تنو نویو مامورینو استخدام هم پکې شامل و دغه شمیره استخدام د معارف او مالیی له وزارت څخه وروسته په دریم کمیت کی شمیرل کیده.

**د مهمو پروژو نومونه دا وو:**

**اوبه لګول او د خاورې سروې، د کیمیاوي سرو تطبیق، د ماشین الاتو واردول، ترویجي او نمایشي قطعات، د ځنګلونو او میوه لرونکو ونو پراختیا، د وریو پیله وری او مچیو په تولید کې زیاتوالی، د بوټو او څارویو ساتنه، د محتوا له پلوه یی له لومړني پنځه کلن پلان سره توپیر نه درلود. د تولو ولایتونو په پرتله په پکتیا، ننګرهار او هلمند کې ډیر کار وشو په ۱۳۴۸ کال کی وچکالي پیښه وشوه نو دولت مجبور شو چی د پلان په دوو وروستیو کلونو کی زیاته انکشافي بودجه د څاګانو کیندلو ته ورکړي خو د څاګانو کیندلو هیڅکله غوره نتیجه نه ده ورکړې بلکې غوره نتیجه د سیندونو روانو اوبو لپاره د بندونو په جوړولو کې وه، خو په تیره بیا د پنج، آمو او هریرود په سیندونو کومې پروژې عملي نه شوې په مجموع کې د اوبو لګولو په سکتور کې صرف د کابل پرسیند په هلمند سیند او ډیر لږ د وردکو ولایت کې په سیندونو باندې پروژې عملي شوې. د وچکالی او د دولت د اقتصادي ضعف او یو شمیر فني ستونزو له کبله د دوهم پنځه کلن پلان یو شمیر پروژې دریم پنځه کلن پلان ته ولیږدول شوې. صنعتي پروژې عموما د هیواد په شمال کې پلي شوې لکه په بغلان، جوزجان، بلخ او کندوز کې. د افغانستان د شاهی دولت د لومړنیو پنځه کلنو پلانونو تحلیل او ارزیابی وښوده چی نه یواځی دا چی دکرنی تولیداو کی زیاتوالی راغی، بلکی ګڼ شمیر دولتی فارمونه هم تاسیس شول، ورپسی د افغانستان د لومړنی جوهوری نظام اوه کلن پلان کی هم د کرنی سکتور ٫مالداری او اوبو لګولو برخو ته دیره پاملرنه وشوه . د هغه مهال وضعیت ښودله چی په ۱۳۵۴ ل. کال کی د هیواد د ټول نفوس په سلوکی ۷۰-۸۰ وګړی به کرنه کی بوخت وو. لکه د ۱۳۳۵ – ۱۳۵۱ کلونو په شان د اوه کلن پلان ۱۳۵۵ – ۱۳۶۲ کلونو کې هم کرنې د هیواد په سوداګرې او ملي تولید کې لوی ارزښت درلود، نو ځکه په اوه کلن پرمختیایي پلان کې ورته لومړیتوب ورکړل شو. په دغه پلان کې اوبو، خاورې تخمونو او کرنیز تخنیک ته ډیره پاملرنه شوې وه. د دغه پلان لپاره تحلیل شویو ارقامو ښودله چې په هیواد کې ۴۴۴۲،۶ زره هکتاره کرنیزه ځمکه وه، چې له هغې جملې څخه ۲۲۲۹،۳ زره هکتاره یعنې ۵۲،۴ ٪ آبي او ۲۱۱۳ زره هکتاره یعنې ۴۷،۶ ٪ یې للمي زراعتي ځمکه وه للمي ځمکه کې یواځې غنم او وربشې کرل کیدای شي. ځنګلونه او څرځایونه ۵۶،۶ میلیون هکتاره ښودل شوي وو. چې په دې کی ۱،۹ میلیون هکتاره ځنګلونه او ۵۴،۷ میلیون هکتاره څرځایونه وو. د زراعتي ځمکو په سلو کې ۶۳ یې حبوبات او د حبوباتو په ډله کې په سلو کې ۶۹ یې یواځې غنم وو. خاورې د عضوي موادو له پلوه ضعیفې ارزیابي شوې وې او زراعتي امراض او د اوبو رسولو د شبکو د عنعنوي سیستم رواج د دهقانانو لویه ستونزه وه. د کوپراتیفونو نشتوالی او د زراعتي محصولاتو د انتقال لپاره د سړکونو نشتوالی لوی کمبود و چې باید په پلان کې ورته تدابیر سنجول شوي وای او د لومړني جمهوري نظام په اوه کلن پلان کې لاندې عمده زراعتي اهداف ټاکل شوي وو:**

- **د ملي عاید د لوړولو په خاطر د کرنیزو محصولاتو زیاتول.**
- **د خوراکي موادو او صنعتي خامو توکو د حجم زیاتول.**
- **د کرنیزو تولیداتو د صادراتو له طریقه د اسعاري عوایدو لوړول او په کرنیز موادو د متکي وارداتو تعویض.**
- **د بزګرانو د ژوند ښه کول او د عاید په وېش کې د نا انډولی له منځه وړلو په خاطر د دولت د عاید زیاتول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په ټولو کرنیزو تولیداتو کې د غنمو زیات تولید خوراکي لومړنیو توکیو ته د خلکو ډیره زیاته اړتیا ښکاره کوي د دغه پلان د تحقق په نتیجه کې لاندې زیاتوالی تر سترګو کیږي.

**لاندې جدول پنځه کلن پرمختیایي پلان په ترڅ کې د یو شمیر زراعتي تولیداتو د زیاتوالي سلنه:**

| ګڼه | محصولات | ۱۳۵۴ | ۱۳۶۱ | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | غنم | ۲۸۵۰ | ۳۵۰۰ | ۳۳ |
| ۲ | جوار | ۷۸۰ | ۹۵۰ | ۲۲ |
| ۳ | وربشي | ۳۸۴ | ۴۷۰ | ۲۲،۴ |
| ۴ | صنعتي بوټي | | | |
| ۵ | پنبه | ۱۶۰ | ۳۵۰ | ۱۱۹ |
| ۶ | چغندر | ۱۰۰ | ۳۵۰ | ۲۵۰ |
| ۷ | ګني | ۶۰ | ۱۶۰ | ۱۶۷ |
| ۸ | تیلي بوټي | ۴۰ | ۶۰ | ۵۰ |
| ۹ | سابه | ۷۲۰ | ۱۱۵۲ | ۶۰ |
| ۱۰ | میوې | ۸۸۰ | ۱۱۷۰ | ۳۳ |

لکه چې ارقام څرګندوي ترټولو زیات بدلون په صنعتي بوټو (پنبه، ګنیو او چغندرو) کې لیدل کیږي د دې معنا داده چې دولت غوښتل صنایع تقویه کړي خو میوې چې یو مهم صادراتي قلم وو نسبتا لږ تغیر کړی تر ټولو لږ بدلون په جوارو کې تر سترګو کیږي.

**د اوه کلن پلان د دریو انتخابي کلونو په ترڅ کې د یو شمیر کرنیزو تولیداتو د تولید اندازه:**

| | شاخصونه | کلونه ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ | ۱۳۵۶ | د حقیقي تو لیداتو زیاتوالی یا کمښت په ۱۳۵۵ کال کې د ۱۳۵۴ د کال پر اساس |
|---|---|---|---|---|---|
| حبوبات | غنم | ۲۸۵۰ | ۲۵۳۶ | ۲۶۵۲ | ۴۵،۸ |
| | جوار | ۷۸۰ | ۸۰۰ | ۷۸۰ | ۵،۴۹ |
| | وربشي | ۳۸۴ | ۴۰۰ | ۳۰۰ | ۰،۷۵ |
| | وریجی | ۴۳۵ | ۴۴۸ | ۴۰۰ | ۰،۹ |
| | نور حبوبات | ۳۲ | ۴۰ | ۳۵ | ۰،۸۸ |
| | د حبوباتو مجموع | ۴۴۸۱ | ۴۶۵۲ | ۴۱۴۷ | ۰ |
| صنعتي بوټي | پنبه | ۱۶۰ | ۱۰۶ | ۱۳۶،۵ | ۰،۸۸ |
| | چغندر | ۱۰۰ | ۹۰،۶۶ | ۹۷ | ۱،۷ |
| | ګني | ۶۰ | ۶۸،۱ | ۶۴ | ۰،۹۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ټول صنعتي بوټي | ۳۲۰ | ۳۳۳۸ | ۲۹۷۰ | ۰،۹۴ |
| | کرنيز بوټي | ۴۰ | ۶۲ | ۳۶ | ۰،۵۸ |
| | آبي او للمي | | | | |
| سابه | فاليز کاري | ۷۲۰ | ۶۱۸،۲ | ۶۶۰ | ۰،۷۹ |
| | کچــــــــــالو | ۱۹۴،۵ | ۳۵۴ | ۲۰۰ | ۰،۵۷ |
| | | | | | ۰،۷۷ |
| | ميوې | ۸۸۰ | ۹۰۰ | ۶۹۲ | ۰،۹۱ |
| | انګور | ۴۲۰ | ۴۷۱ | ۵۳۰ | ۱ |
| | نور بوټي | ۳۷۵ | ۴۱۵ | ۵۸۱ | ۱،۴ |

***سرچينه: پوهاند حميدالله امين، جغرافيه زراعتی افغانستان اودوکتورمحمدعلم اسحاقزی، تحليل وارزيابی پلانهای انکشافی و تثبيت....***

**همدارنګه د مالدارۍ په برخه کې چې د کرنې يوه برخه وه او د مالدارۍ وده له کرنې سره په مستقيمه اړيکه کې ارزيابی شوی وه مهم تدابير په پام کې وو: د اوه کلن پرمختيايي پلان په ترڅ کې د حيوانی توليداتو ارزښت د ملي نا خالص محصول په سلو کې ۱۸ برخه جوړوله. له اوه کلن پلان څخه مخکې په ۱۳۵۴ هـ ش کال کې د مالدارۍ محصولاتو د صادراتو له امله د ټولو اسعاري عوايدو په سلو کې ۳۰ – ۳۵ برخه جوړوله. مالدارۍ ډېره عنعنوي بڼه درلوده نو ځکه دولت د يو شمير حيواني کلينيکونو جوړولو، د څړځايونو د اصلاح او د مالدارانو د معلوماتو د زياتولو او ترويجي پروګرامونو پراخولو ته په پلان کې ځای ورکړ. ډيره مهمه خبره دا وه چې دغه ارقام او تحليلونه د باور وړ او کره وو.**

**د اوبو لګولو چارې:**

**د ۱۳۵۵ – ۱۳۶۲ اوه کلن پرمختيايي پلان په ترڅ کې د اوبو لګولو د چارو بڼه کول د کرنې او مالدارۍ د ترقی بنسټ وبلل شو. له دې امله چې د وربښت منځنۍ حد په کال کې صرف ۲۹۴،۷ ميلي متره اټکل شو او دغه اندازه وربښت د ونو - بوټو لپاره کافي نه دی، نو بايد د اوبو لګولو يو سيستم چې د ابيارۍ له شبکو څخه جوړوي په پام کې نيول شوی وای. د دې مقصد لپاره دولت په اوه کلن پلان کې د اوبو لګولو لاندنۍ شبکې او پروژې په نظر کې نيولې وې. دغه برخې په دريو کټګوريو ويشل شوې وې:**

**الف: لويې پروژې:**

**۱. د خوش تيپي کانال او د واټر پمپ ستيشن.**

**۲. د کوکچې د اوبو لګولو جوړښت.**

**۳. د فراه رود پرمختيايي پروژه.**

**۴. د هريرود د اوبو لګولو د سيستم پرمختيا.**

**۵. د کيلګي د برېښنا او د اوبو ذخيرې د بند پروژه.**

**۶. د بلخ په سيند باندې د چشمه شفا د اوبو د ذخيرې د بند مطالعه او جوړول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷. د پنجشیر د بند پروژه.

ب: کوچنۍ او متوسطې پروژې:

۱. د غزني د سرده د اوبو لګولو پروژه.

۲. د پروان د اوبو لګولو پروژه.

۳. د کندز خان آباد د اوبو لګولو د اصلاح پروژه.

۴. د چهاردرې د ګورکان بریښنا او اوبو لګولو د پرمختیا د اصلاح پروژه.

۵. د غوربند پروژه.

۶. د بدخشان د سنګ سهر د اوبو لګولو پروژه.

۷. د ننګرهار د کامې د اوبو لګولو پروژه.

۸. د لغمان د نهر کریم د اوبو لګولو پروژه.

۹. د میدان وردک د خروار د سیمې د کوږ چنار د اوبو لګولو د سیستم اصلاح.

۱۰. د پنج د سیند د غاړو استحکام.

۱۱. د نیمروز او هلمند د حوزې د اوبو لګولو د سیستم انکشاف.

ج: د یو شمیر بندونو او نهرونو ترمیم او اصلاح.

۱. د بند سراج د بند جوړول او د مربوطه کانالونو کانالونو اصلاح.

۲. د کجکي د پرچاوې د دروازو ترمیم.

۳. د کجکي د لویدیځ برخې د پروژې ترمیم.

۴. د کوز درویشان د کانال غځول.

۵. د آلوباغ د بند د ذخیرې جوړول.

۶. د کمال خان د بند ترمیم او د سیلاو د کنټرول د سیستم ښه کول.

۷. په هلمند کې د خوابګاه د بند جوړول.

۸. د نیمروز د سیند بند.

۹. د نهر لشکري د اوبو رسولو شبکه.

د دغو پروژو د تطبیق اهداف په لاندې تـــــــــــــــــــــــــــــــــــوګه وو:

I. د اوبو او خاورې د منابعو د متوازن انکشاف او د کرنې، مالدارۍ، صنعت، او د بریښنا د انرژي د سکتورونو وده.

II. د نا مساعده اقلیم د ناوړه اغیزو کمول، د موسمي سیندونو څخه استفاده، د سیلاونو د تخریب مخنیوی، د وچکالۍ په اړوند د تدابیرو نیول او د زراعتي تنوع رامنځته کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**III.** **اوبه د هیواد مهمه منبع بلل شوې وه نو د ځمکې لاندې او د ځمکې په سر اوبو څخه د غوره استفادې امکان برابرول او د اوبو د منابعو ډېره ښه اداره او تنظیم.**

**IV.** **د اوبو لګولو د لویو او منځنیو پروژو په کار اچولو له لارې د استخدام د کچې لوړول.**

**د افغانستان په اوه کلن پلان کې زیاته اندازه مالي منابع د اوبو لګولو زیربنایي پرمختیا پروژو ته ورکړل شوی و. د ټولې پانګې اچونې په سلو کې ۱۸،۲ یعنې ۳۲ میلیونه افغانی د اوبو لګولو پروژو ته ورکړل شـــــــــــــــــــوې وې.**

**په دی توګه که چیری یوه مقایسه ترسره شی، زموږ تیر پلانونه تر ملی پرمختیایی ستراتیژی ډېر دقیق، پّه علمی میتودولوژی ولاړ، له واقعیتونو سره برابر، د نتایجولرونکی، د غوره اهدافو درلودونکی او منسجم وو.**

## بیوزلی سره مبارزه

افغانستان د اوسنی نړې د وروسته پاتې هیوادونو له ډلې څخه دې چې د سړي سر کم عاید او د زیاتره خلکو لپاره د ژوند ټټه کچه لري . د هیواد تقریباً ۳۶ سلنه خلک د بیوزلی تر کرښی لاندې ژوند تیروي او وروستی سروې ګانې ښکاره کوي چې په هیواد کې هر ډول اقتصادي ناوړه بدلون او څپه به له ۵۰ سلني زیات وګړی د بیوزلی تر کرښی لاندې ټیل وهي چې د دی حالت مخنیوی د ډاډمنو او د اوږد مهاله اغیزلرونکوپالیسیو او د کارنده اقداماتو غوښتنه کوي . د ( NRVA ) د سروې د معلوماتو له مخې د ملي پرمختیایي ستراتیژی د تطبیق په کلونو کې د فقر کچه د هیواد په سطح نده راښکته شوي او اوس هم د هیواد زیاتره نفوس ، په تیره بیا کلیوال او کوچیان له بیوزلی سره لاس او ګریوان دي :

د ( NRVA ) د سروې په کلونو کې په هیواد کې د بیوزلی کچه


| کال | ۲۰۰۸_۲۰۰۷ | ۲۰۱۲_۲۰۱۱ |
|---|---|---|
| د بیوزلی کچه | ٪ ۳۶،۳ | ۳۶،۵٪ |

Source: NRVA – 2011 -2012

لاندې جدول په هیواد کې د فقرترینډ یا میلان ښکاره کوي او په ملي کچه همدا راز د زون په کچه او د کلیوالو او ښاري سیمو په تفکیک سره د فقر کچه ښکاره کوي. لکه څنګه چې ښکاری، د هیواد په کچه له فقر سره د مبارزې هڅو کومه د پام وړ نتیجه نه لرله او **هیواد** لا هم د بهرنیو مرستو او پرله پسی کلونو په تیریدو سره د فقر په هماغه کچه کې دی، چې پخوا و . په دې مانا چې په هیواد کې د شوو مرستو او پلي شویو پروژو څخه په زیاته اندازه عامو خلکو ته ګټه نده رسیدلی او د هیواد په کچه پانګه د یوې خاصې طبقې په لاسونو کې غورځیدلی ده .

(۱۴)جدول : دفقر د فیصدي کچه او میلان د هیواد ،زون او اوسیدنځای په ښودلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library





له پورتني تحليل څخه معلوميږي چې په تيرو کلونو کې د فقر کچه نه ده رابنکته شوې او په دې لار کې ډير پرمختګ نه ده شوې چې عمده دليل يې د استخدام د فرصتونو کموالی بنودل شوې ، حال دا جی موږ داسی فرصتونه لرل او اوس یی هم لرو.

## بنوونه او روزنه او دنارينه وو او بنځينه وو ونډه

د بنوونې اوروزنې اوپه هغې کې دنارينه اوبنځينه وو د ونډې په هکله د(NRVA) دسروېګانومقايسوي ارقام په لاندې شکل کې بنودل شوي،لکه څنګه چې بنکاري د ۲۰۱۰ کال لپاره ټاکل شوې وه، چې ۶۰ ٪ نجونې او ۷۰٪ هلکان به په**ابتدائيه** زده کړوکې داخليږي، خو لاهم دغه هدف ندی ترلاسه شوې، بياهم په وروستی کال کی نظر ۲۰۰۸ کال ته يوبنکاره بدلون رامنځته شوې دی. . همدارازدغه دواړه شکلونه په مقايسوي ډول بنکاره کوي چې نظرابتدائيه زدکړوته په ثانوی زده کړوکې يوچټک زياتوالی راغلی چې بنې خواته شکل دغه حقيقت بنکاره کوي .


(c) ketabton.com: The Digital Library




د لومړنيو او ثانوی زده کړو کې د جنسيت په تفکيک سره د داخلې کچه

معارف ته دلاسرسي اوددخول دکچې دکموالي لپاره دګڼودلايلوسره سره يوهم دزده کړومرکزونواوښوونځيوته لاسرسې ښودل کيږي. که چيرې دغه اسانتياوې ټولوهيوادوالوته برابرې شي ښايې په معارف کې دهلکانواونجونودګډون کچه ټاکلي هدف ته ډيره**نژدې**شي. لاندې شکل کې داوسيدنې دسيموپه تفکيک سره په هرودووکيلومتروکې دښوونځيواومعارف اسانتياوودموجوديت اولاسرسي کچه ښکاره کوي
.

د اوسيدنځای او جنسيت په تفکيک په هرو ۲کيلومتروکې دمعارف لومړنيو اسانتياوودموجوديت اولاسرسي کچه




Source: NRVA, 2011-2012 report

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز لاندي جدول د هیواد په کچه د ثانوي ښووني د ترټولو نږدي اسانتیاوو کچه ښکاره کوي چي د دې ارقامو له مخي هغه ښوونیزي اسانتیاوي چي د صفر او دوه کیلو مترو په فاصله کي دی، نسبت نورو ته زیاتي دي .

| Province | Boys' lower secondary education | | | | Girls' lower secondary education | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 0-2 km. | 3-5 km. | 6 or more km. | Total | 0-2 km. | 3-5 km. | 6 or more km. | Total |
| **National** | **1,683** | **576** | **846** | **3,106** | **1,541** | **466** | **1,136** | **3,143** |

دثانوي زده کړودمرکزونو څخه د زده کوونکو واټن (ارقام په ۱۰۰۰)


سرچینه : NRVA 2011-2012

**د د زده کړو او ظرفیتونو په اوچتولو کی زموږ ستونزه او نیمګړتیا دا وه چی موږ مسلکی ، تخنیکی او حرفوی برخو ته لازمه توجه ونه کړه، مثلا د حقوقو اوسیاسی علومو د لسو تنو فارغانو په وړاندی مو یو برمه کار، خراط یا د تیلیفون ماهر ونسو روزلای، د ادبیاتو د لسو تنو فارغانو په وړاندی مو یو نرسری روزونکی، یو د څنګلونو ساتونکی، یو د نساجی ماهر، یو پیله ور، یو د وریښمو د چنجیو کارګر، یو دشاتو د مچیو کارګر ونشو روزلای، په کلیوالی تشبثاتو کی او د کرنی، مالداری او ښوالی برخو کی د تول – وخت بوختیا او استخدام ډاډمن نشو. په دی توګه د تولید د ډګر ظرفیت ټیټ پاتی شو او د کار د بازار لپاره مهارت ته توجه نه وه، پایله دا شوه چی بیکار ډیپلوم لرونکی مو ډیر شول. حال دا چی نورو هیوادو کی مثلا ایران یا کوریا کی د حرفوی زده کړو خواته ډیره پاملرنه شوی ده. دا یوه مهمه تجربه وه چی اوس هم که ورته پاملرنه وشی ، کافی وخت ورته لرو. اعلیحضرت غازی امان الله خان د خپلو ریفورمونو پر مهال د بریښنا متخصص، دفارمسی متخصص، د تیلیفون متخصص، د نساجی، صابون جوړولو، موزی جوړولو، د تار او تنی، د ترکانی فابریکی، ددباغی حرفی ،دشکری فابریکی جوړولو او نورو تولیدی برخو ته توجه وکړه، خو موږ اتیا کاله وروسته دغه مهم په نظر کی نه و نیولی. دا خو لا څه چی یو شمیر تحصیلی ځانګی د هیواد داړتیاوو په پرتله ډیری لوکسی او بلند پروازانه وی او دی !**

**د ماشومانومړینه**

دماشومانودمړیني کچه ( infant mortality rate)یا(IMR) چی ټولوله ۱۲ کلونوکم عمرلرونکو ماشومانوته په هرو ۱۰۰۰ ماشومانوکي تعریف شوي اودپینځه کلنی څخه ټیټ عمرهرو زرو تنو ماشومتنو کی (under 5 mortalityrate)یا(U5MR) سلنه اونسبت په لاندی توګه سنجول شوی دی. لاندي جدول د ۲۰۰۸ ، ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ کلونومقایسوي ارقام **ددواړو**تعریفونولپاره ښکاره کوي اوګراف په ښکاره ډول یو ښکته والی یا نزولي میلان لري چي ددواړوتعریفونوسره سم دماشومانوپه مړینه کي تدریجي کموالی ښکاره کوي . په دی توګه په افغانستان کی د طالبانو ددوری تر پای ته رسیدو پوری د افغانستان د نفوسو د پینځه کلنی څخه ټیټ عمر وفیات ډیر زیات و، دغه اندازه مړینی د روغتیایی خدماتو د نشتوالی، ناوړه تغذیی، ناپاکه د]ښلو اوبو، د واکسین نشتونالی او دمیندود بیسوادی له امله و.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د سرویګانو په تفکیک د ماشومانو د مړیني کچه په بیلابیلو اندیکاتورونو سره .(ارقام په ۱۰۰۰)

**روغتیایي خدمات او د ښځنلو اوبه :**


د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ د تطبیق په دوره کې د روغتیا په برخه کې نسبتاً زیات پرمختګونه شوې او د هیواد په کچه د روغتیانړیدلیسیستم یو ځل بیا د جوړیدو په لور چټک ګامونه اخیستي. لاندې جدول د روغتیایي پاملرنې د اسانتیاوو**موجودیت** ښکاره کوي چې د هیواد او د نفوسو د اوسیدنځایونو په تفکیک سره ښوول شوې . لکه څنګه چې ارقام ښکاره کوي په ښاري سیمو کې روغتیایي استانتیاوې تر کلیوالو سیمو زیاتي دي او د هیواد په کچه د کوچیانو لپاره دغه اسانتیاوې تر ټولو کمې برابرې شوي چې عمده دلیلیې د هغوی د ژوندانه ځانګړي شرایط او کلتوري خنډونه ښودل شوي .

| Type of health facility, residence | Female health care staff | | | | Male health care staff | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Urban | Rural | Kuchi | National | Urban | Rural | Kuchi | National |
| **a. Health post** | | | | | | | | |
| Community health worker | 91.9 | 58.3 | 45.9 | 67.4 | 96.8 | 72.7 | 93.9 | 79.6 |
| **b. Public clinic** | | | | | | | | |
| Doctor | 96.0 | 52.3 | 52.3 | 63.1 | 98.9 | 91.4 | 100.0 | 93.6 |
| Nurse | 96.0 | 66.3 | 60.1 | 73.3 | 97.2 | 88.5 | 96.8 | 91.0 |
| Midwife | 96.7 | 85.5 | 80.4 | 87.9 | na | na | na | na |
| **c. District or provincial hospital** | | | | | | | | |
| Doctor | 97.6 | 87.1 | 89.0 | 89.7 | 100.0 | 97.9 | 100.0 | 98.5 |
| Nurse | 99.6 | 92.0 | 97.9 | 94.1 | 97.7 | 86.5 | 96.5 | 89.8 |
| Midwife | 100.0 | 97.1 | 98.6 | 97.9 | na | na | na | na |
| **d. Private doctor or hospital** | | | | | | | | |
| Doctor | 95.7 | 72.3 | 88.9 | 79.1 | 98.3 | 92.0 | 100.0 | 94.0 |
| Nurse | 95.9 | 74.5 | 92.4 | 80.8 | 87.2 | 63.8 | 96.1 | 71.6 |
| Midwife | 97.9 | 86.3 | 92.4 | 89.5 | na | na | na | na |

په نږدې روغتیایي مراکزو کې د روغتیایي کارکوونکو موجودیت د اوسیدنځای ، کارکوونکو او جنسیت په تفکیک سره .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز د( MDGs ) د تاکلو موخو په برخه کې د هیواد د وګړو لپاره په مناسبه بیه د لومړنیو درملو موجودیت په لاندې جدول کې **ښکاره** شوې او د ارقامو میلان ښکاره کوي چې په ۲۰۲۰ کال کې دغه موخې ته په همدې سرعت سره رسیدل ممکن ښکاري .





په متداومه توګه په مناسبه بیه د لومړنیو درملو ته هیواد د نفوسو لاسرسی ( په فیصدي)

سرچینه : د افغانستان لپاره د MDGs راپور ۲۰۱۲

**زیربنااوطبیعي سرچینې :**

**انرژي:** په زیربناکې دپانګوني اوپرمختیاپه هکله دتیروکلونوارقام ښیې چې زیاتره ښارونه اوسمهال لړترلږه دلومړنیوارتیاوولپاره بریښنالري، خوزیاتره بریښناله بهرڅخه واردیږي . برسیره پردې لکه څنګه چې په لاندې شکل کې ښکاري داخلي ظرفیت دومره **په** ناوړه حالت کې د ی، چې آن د وارداتي بریښنادمصرفولوو ړتیاهم نلري .

د بریښناتولید ، تورید او مصرف (میلیون KW/h )





د افغانستان له احصائیوي کلنیو څخه ۲۰۰۹-۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافغانستان دمنځنيواودرنوصنايعوپه برخه کي ترتولومشهور يی سمنټ دي . داچي په تيروکلونوکي دهيوادپه کچه دبيارغاوني پروژي رواني وي اودستروزيربنائي پروژولپاره دساختماني موادو لپاره کلکه اړتيا وه، نو دا اړتيا ددی لامل و ګرځيده، چي په هيوادکي دننه دسمنټودتوليدفابريکي يوځل بيافعالي اوداخلي توليدات رامنځته شي . لاندې جدول په هيوادکي دسمنټوتوليد دکلونوپه تفکيک سره ښکاره کوي :

د سيمنټوتوليد او تورید ( ارقام په زر ټنه)




| | 2006-07 | 2007-08 | 2008-09 | 2009-10 | 2010-11 | 2011-12 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Total quantity | 912.15 | 851.8 | 960.9 | 603.4 | 2668.8 | 2584.1 |
| domestic production | 29.25 | 44.62 | 37.3 | 31.5 | 35.6 | 35.7 |
| imports | 882.9 | 807.18 | 923.6 | 571.9 | 2633.2 | 2548.4 |

د افغانستان له احصائيو کلنيو څخه ۲۰۰۷-۲۰۱۲

خو په دی برخه کی په رسمی ګزارشونو او ازقامویاور نشی کیدای. دا ځکه چی له ۱۳۷۰ کال څخه وروسته د ارقامو دثبت او راټولولو سیستم کاملا له منځه ولاړ. د یوه علمی کره تحقیق لپاره موږ په ارقامو باور نشو کولای . ښاغلی احسان ارینزی د خپل کتاب ( مطالعه امکانات خود کفایی افغانستان از تولیدات شکر) په ۱۵۴ مخ کی لیکی :

"موضوع ایکه در نشر ارقام سالیان ۱۳۸۷-۱۳۷۰ (یعنی هغو کلونو کی چی ده ارقامو ته مراجعه کړی) ازار دهنده و تکان دهنده است ، موضوع جعل اسناد و ارقام وارایه آن به مردم افغانستان است.... مولفین کتاب سالنامه سالهای ۱۳۷۲- ۱۳۷۳این کوتاهی را خود نیز متوجه شده و در مقدمه سالنامه مینویسد: ( درارابطه به کیفیت ارقامیکه درین سالنامه ارایه گردیده لازم به تذکر است که بنا بر شرایط نامساعد امنیتی و تداوم جنکها در کشور ...ارقام این سالنامه به تاخیر جمع اوری گردیده و از پوشش کامل برخوردار نمیباشد تا جاییکه اداره مرکزی احصایه بعلت عدم دسترسی ارقام احصاییوی مکمل ودقیق مجبور گردید ارقام مربوط محاسبات ملی را طور تخمین ارایه نماید " . ددغه اثر لیکوال په بغلان ولایت کی د چغندرو د تو لید له۱۳۳۰۰ ټنه رقم سره مخامخ شوی دی او دا رقم یی حیرانوونکی بللی ، نولیکی چی: " ...درحالیکه در سالها ی ۱۳۸۷-۱۳۸۸ و ۱۳۸۹ گراف تولیدات چغندر در ولایت بغلان بحدی کاهش یافته که حتی چغندر برای پختن و تازه خوری به آسانی میسر نمیتوانست، چه رسد به تولید ۱۳۳۰۰ تن چغندر! داکتر عبدالکریم وزیری رییس شرکت قند بغلان ساحه تحت کشت چغندر درسال ۱۳۸۴را صرف ۱۲هکتارو از ۱۳۶۵ را ۲۵۵ هکتار گزارش میدهد "

په آسانۍ سره موږ دا مقایسه کولای شو چی اعلیحضرت امان الله خان اتیا کاله مخکی د ریل پټلۍ په غځولو پیل وکړ، په بریښنا یی دښارونو روښانه کولو ته ملا وتړله ، ریل پټلی غځول یی پیل کړل او په جلال آباد کی یی د بوری د تولید لپاره فابریکه جوړه او د هیواد دننه ضرورت لپاره یی کفایت کاو، خو نن ورځ موږ دغه صنعتی بوټی د تازه خوراک لپاره نه لرو !!


په دی توګه موږ په خپلو تحلیلونو کی رسمی ګزارشونه او ارقام را اخلو، اما عمومی نتیجه ګیری ممکن د نورو ټولنیزو واقعیتونو او د خلکو د رضایت او د ژوند د عمومی کچی څخه وکړو. اوس عمومی نظر هم دادی چی د ټولنو پرمختګ او اقتصادی معیارونه سړی سر کلنی ګټه (PCI )، (GDP ) او داسی نور نه نیسی، بلکی زیاتره د ژوند عمومی کچه او ټولنیزه رفاه (social welfare ) په نظر کی نیسی، چی هغه بیلابیل ټولنیز شرایط او اجزا لری، لکه : د عامه خدماتو سهولتونه،په خپل ځان بسیاینه، دتعلیم او تربیی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کلتور مناسبه کچه، فردی آزادی، د کورونو ډول، د تیلفون او نورو آسانتیاوو مهیاوالی،د اوسیدونکو اسکان، مصونیت، امنیت، عدالت او اجتماعی مساوات او داسی نور . دا هم له یاده نه باسو چی که په دی کلونو کی اقتصادی لاسته راوړنی کمی وی، خو سیاسی پروسه ښه برمخ بوتلل شوه، مدنی نهادونه پیاوړی، مطبوعات سراسری، دیموکراتیک ارزښتونه صیقل او د بشر او دښخو حقونه جوت او عملی کیدو ته یی لاره هواره شوه. یوه ښه لاسته راوړنه دا وه چی د مفسدینو او پخوانیو جگړه مارانو قوت اوبه شواو دخلکو قضاوت د هغوی په هکله څرگند شو. ولس ته د هغو مغرضو گاونډیو نیتونه تر بل هر وخت ښه څرکند شول چی له کلونو کلونو راهیسی یی د تکفیر، تهدید، تبلیغ، تطمیع ، تخویف، تحمیق او تذویر له لاری د افغانستان د ملی وحدت، ترقی او پرمختګ مخه نیولی وه. خلکو ته د ښوونی او روزنی اهمیت واضح او له فتالیزم څخه را بهر شول، د قانون د تفوق احساس او رجحان یو عمومی ارمان وګرځید او ډیرو ځوانانو بهر هیوادو کی لوړی زده کړی وکړی او دسیمو ترمنځ اړیکی پیاوړی شوی. دغه بدلونونه اولاسته راوړنی په راتلونکی کی په خپله د پرمختیا له شرایطو او اجزاوو سره مرسته کوی. له دی پلوه ویلای شو چی د ملی پرمختیایی ستراتیژی ، د لید وړ دستاوردونه ( visual outcome) که ډیر نه و، نور تاثیرات یی امیدواره کوونکی اومثبت وو. افغانان به دا دیوی تجربی په توګه ومنی.

ترانسپورت : د تیرو لسو کلونو په مقایسه اوسمهال د هیواد زیاتره لویې لارې په پاخه او ډول رغول شوي او د خلکو لپاره ګڼې **ترانسپورتي**اسانتیاوې رامنځته شوي، اما ددغی رغاونی کیفیت ډیر اطمینانی نه دی . په مجموع کی د تیرو دیارلسو کلونو (له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹۳ پوری) د پروژو دری محدودیتونه ( کیفیت، وخت او مصارف) سم نه دی ارزیابی او تحلیل شوی، یعنی د پروژو مدیریت فوق العاده ضعیف یا اصلا فاسد و. په دی برخه کی د لویو لارو، پلونو او سړکونو مثال ورکولای شو چی وروسته تر هرو دوو کلونو بیا ترمیم شوی دی او بیا بیا یی ترمیم ته اړتیا پیدا کړی ده. یوه خبره باید هیره نشی چی له دی نیمګړتیاوو سره سره بیا هم د ۹۰۰۰ کیلومترو سړکونو جوړول یوه لاسته راونه بلل کیدای شی. ددی یو مثبت اړخ دادی چی خلک د بیارغونی په ارښت او ضرورت پوهیږی او له بلی خوا له تخریبی جهت څخه تعمیری جهت ته متوجه کیږی، اوس آن هغه کسان چی دیارلس ـ څوارلس کاله یی د جهاد تر نامه لاندی د هیواد عامه تاسیسات ورانول او د تباهی او ورانی مفکوره یی په شعور او لاشعور کی رینبه کړی وه، ددغو عمرانی کارونو( سره له دی دچی نیمګړی هم دی) په لیدلو سره د تباهی ، ورانی او تخریب له مفکوری راګرځیدلی یا اقلا د راګرځیدو په حال کی دی. لاندې شکل د ګڼ میشتو سیمو د ننه او هغوی ته نږدې د پخو اواساسي ترانسپورتي لارو موجودیت ښکاره کوي او د ارقامو او شکل څخه په راڼه ډول ښکاري چي د هیواد په کچه په کلي ډول نږدې ۶۰ سلنه خلک په خپلو میشتځایونو کي پخو سرکونو ته لاسرسی لري او تر ۸۰ سلنې پورې خلک د خپلو میشتځایونو څخه په ۳-۵ کیلومترو کي پاخه سرک ته لاسرسی لري . دا یادونه هم ضرور ده چی ددی برخی ارقام ثقه او د باور وړدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د اوسيدنی دځايونو په تفکيک سره پاخه اواساسي سرکونو ته د خلکو لاسرسی ( په فيصدي )


## د مهاجرو را ستنيدل

د تيرو ديارلسو کلونو يوه لويه لاسته راوړنه دا وه چی له پاکستان او ايران څخه ګڼ شمير مهاجر بيرته هيواده ته راستانه شول، دغه مهاجر د افغانستان د جګړی خس وو، يعنی د جګړی ددوام لپاره به را تيل وهل کيدل او د تاريخی افغانستان د ناورين ددوامداره کولو يوه وسيله ګرځيدل، کله چی دوی بيرته هيواد ته راغلل، دا وطن يی خپل ميشتځای وګاڼه او له خپلو کورنيو سره يو ځای دلته ديره شول، دوی نه يواځی دا چی نور له جګړی او د هيواد له ورانی څخه لاس واخيست ، بلکی عملا يی په کار پيل وکړ او د افغانستان د اتباعو په توګه له خپلو پخوانيو هيوادوالو او اصلی ولس سره يو ځای شول او خپل افغانی او اسلامی کلتور يی بيرته خپل کړ(سره له دی چی لا اوس هم يو شمير هيوادوالو څخه د افغانستان د وضعيت د بی ثباته کولو لپاره کار اخيستل کيږی اوبهرنی مداخلی لاهم پوره ندی بندی شوی، خوبيا هم تر پخوا وضعيت لږڅه اميدواره کوونکی دی). په تيرو کلونو کی دوی ته ثابته شوه چی جګړه بی ګټی ده او پاکستان اوايران به بيا دوی ته د بيرته ورتګ او مهاجر کيدو اجازه ورنه کړی، نو بهتره دا ده چی خپل ژوند همدلته سمبال کړی ، دغی انګيزی دوی کار کولو ته وګومارل . د اتباعو کار کولو د آبادی نښی را څرګندی کړی. ډير لږ وخت کی د بيا زرغونيدو علايم وليدل شول، د بيلګی په توګه د دری – څلورو کلونو په ترڅ کی د انګورو او نورو ميوو هغه باغونه بيرته شنه شول چی د جګړو پرمهال وچ شوی وو، هغه کلی بيرته آباد شول چی د جګړو پرمهال شاړ شوی وو. د مهاجرو راستنول د ملی ستراتيژی يوه مهمه برخه وه چی نظر نورو ټولو برخو ته بريالی بريښی. سره له دی چی له ۱۳۸۱ کال څخه وروسته راغلی تغييرات به ددغو را ستنيدو عامل و، نه د ستراتيژی تطبيق، خو بيا هم د ستراتيژی د ارکانو پرمختګ د مهاجرو را ستنيدل وار په وار ګړندی کړل.

**کانونه اود هغو استخراج**

وروستی سروېګاني اوتخميني ارقام ښئي چي افغانستان دډول ، ډول معدني ارزښت لرونکومنابعوډېري سترې زيرمي لري اودافغانستان راتلونکي اقتصادي پرمختګ ترډيره دغني اوسرشاره کانونوپه رااېستنه اوموثراستعمال پورې تړلې ده . سره له دې چي په منظم ډول ددغوکانونوداستخراج لپاره کومه کوټلي اوعملي تګلاره نه وه‌اودهغي لپاره قانوني چاپېريال هم نه و رامنځته شوی، خوبياهم دکانونوداستخراج فعاليتونوپه هيوادکي په ډيرولوړنيواوعنعنوي طريقوسره دوام درلود اولاندي ارقام په هيوادکي دکانونوداستخراج دډولونوپه تفکيک سره ښکاره کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کانونو استخراج په ۲۰۰۷-۲۰۱۲ کلونو کی

اخځ : د افغانستان له احصائیو ی کلنیو ځخه

د ارقامو یوه ډیره لنده کتنه ښکاره کوی چی د افغانستان د معادنو ابتدایی ساده اټکل شوی بیه تر دری زره میلیاردو امریکایی ډالرو رسیږی، که دی سره د روانو اوبو ارزښت هم جمع کړو، شاید دا رقم تر دی هم زیات شی، دا ځکه چی نړیوالو یو متر مکعب اوبو ته دری ډالره بیه ټاکلی( دابیه تر اوسه د ټولو د توافق وړ نه ده ګرځیدلی، سره له دی چی په ۱۹۹۱م. کال کی اوبه ددوبلن کنفرانس کی داقتصا دی مادی په توګه وپیژندل شوی)، چی دافغانستان د اوبو کلنی جریان تر اویا میلیارد مکعب مترو رسیږی. که دغه ارزشونه وګورو، بیا نو افغانستان یو ډیر بډای او غنی هیواد دی ، خوله بده مرغه د طبیعی منابعو په هکله د خوشخبری او نیکمرغی تر څنګ یوه بله اصطلاح هم استعمالیږی چی هغی ته ( resource curse) یا د منابعو لعنت یا نفرین منابع وایی. دا هغه حالت دی چی خپل یا پردی د منابعو لوټ او قاچاق شروع کوی او د یوه هیواد منابعو ته د حرص په سترګه ګوری او آن دا چی د یوه هیواد طبیعی منابعو لوټولو ته راز راز د نا امنی او ګډوډیو لاری او دسیسی جوړیږی. له بده مرغه د هیواد د یوشمیر کانونو ناقانونه استخراج یی یوه بلیګه او له اوبو ځخه د ملی ګټو او دکرنی اوبریښنا دتولید لپاره دپروژو مخنیوی یی بله بیلګه ده. په دی توګه د افغانستان د اقتصادی پروژو تخریب او د نویو پروژو د مخنیوی لپاره مغرضانه هلی ځلی دافغانستان د پټمنو، خوبیچاره خلکو یوه بله تجربه ده

## ښوونه اوکلتور

د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ د تطبيق د نهائيګذارش له مخې د تعليم او ښوونې په برخه کې په مجموعي ډول د ټولو پينځو کلونو په ترڅ کې سلنه پرمختيا رامنځته شوې او په دې ډول د په نښه شويو سکتورونو له جملې ځخه دا سکتور ګڼل کيږي چې د ملي پرمختيايي ستراتيژي يي‌تطبيق کړي ده . لاندې جدول د لومړنيو زده کړو لپاره د داخلي نسبت د جنسيت په تفکيک سره ښکاره کوي او ښکاري چې لا هم د نارينه زده کوونکو ونډه نظر ښځينه وو ته زياته ده .

| Province | Net Primary Attendance Ratio | | | Gross Primary Attendance Ratio | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | Male | Female | Both sexes | Male | Female | Both sexes |
| National | 64 | 48 | 57 | 83 | 61 | 72 |

د جنسیت په تفکیک سره د هیواد په کچه د لومړنیو زده کړو لپاره د زده کوونکو نسبت

سرچینه : NRVA 2011-2012

## د ښځینه‌ګانو د اوبو برابرول

اوبه د ژوند لومړنی ماده ده، له نیکه مرغه افغانستان د تازه او خوړو اوبو د لرلو له امله نوم لری. د افغانستان د اوبو منابع ژمنی اوربښتونه او یخچالونه دی چی د ټول کال په جریان کی یی سیندونو کی وینو، خو ددی ترڅنګ د اوبو تر ځمکی لاندی منابع هم مهمه سر چینه ده. تیرو کلونو کی دولت د کابل ښار د اوبو رسولو شبکه بیرته احیا کړه، په کلیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی د کلیو د پراختیا د وزارت د ملی پروګرام له لاری د څښاک د اوبو د برابرولو پروژی تطبیق شوی او خلکو ته د پاکو اوبو د استعمال په هکله لاربښوونی وشوی، خو عملا د اوبو د ذخایرو او اوسیدونکو ته شبکو د غځولو برخه کی کار ونشو، حال دا چی پخ ۱۹۲۰، ۱۹۴۰ اوبیا ۱۰۶۰ لسیزی کی د اوبو څو ذخیری جوړی شوی وی ، مثلا د پغمان د خوږو اوتازه اوبو له سر چینی د کابل ښار ته د څښلو د پاکو اوبو ذخیری جوړی شوی، چی دا مهال د هغه وخت په پرتله تکنالوژی او ضرورتونو فوق العاده بدلون موندلای، ایجاب یی کاو چی د اتیا کاله پخوا په پرتله لا زیات کار شوی وای، یا اقلا هغومره کار شوی وای.

دڅښلو اوبو سرچینوته د کورنیو لاسرسی د اوسیدنځای په تفکیک

او د نفوسو د فیصدی او لاسرسي د وخت په بیلوالي


| Indicator | Residence | | | National |
|---|---|---|---|---|
| | Urban | Rural | Kuchi | |
| Percentage of population with access to improved drinking water source | 70.9 | 39.4 | 21.0 | 45.5 |
| Time to reach drinking water source (one way, in minutes) | | | | |
| Mean time | 1 | 7 | 18 | 6 |
| Median time | 0 | 3 | 10 | 1 |

د اوبو له پرمختللوسرچینو**څخه** هدف د عامه لاسي پمپونو ، پخو څاګانو او د نل اوبه دي همدا راز غیر پرمختللي سرچیني د ځمکي د سر اوبه لکه سر خلاصی څا ، چینه ، کاریز ، ویالي او ولاړ ډنډونه او نور دي .

## ملی شتمنی او کلیوالی اقتصاد

د تیرولسیزو**شخړو** او جګړو په ترڅ کي د افغانستان زیاتره ځنګلونه یا سوځول شوي او یا هم په بي رحمانه ډول وهل شوي ول خو د نسبي امنیت او حکومت له رامنځته کیدولو ورسته د میوه لرونکو بنونو روزنی هم وده کړې او داسي ښکاري چي په ۲۰۱۵ کال کي د ټاکلي هدف په لور پرمختګ کوي . لاندي جدول له ۲۰۰۸ کال څخه د ونو او ځنګل په وسیله د ځمکي پوښښ د ودې نسبت او د هغي تخمیني میلان ښکاره کوي چي ښائي دغه رشد په ۲۰۱۵ کال کي ۲ سلنې ته ورسیږي .


د ځنګلونو په واسطه پوښل شوې ځمکه (په سلني سره)




سرچینه : د افغانستان د MDGs راپور ۲۰۱۲


**تولنیزمصئونیت :**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د وسلوانو جرایمو ټول شمېر د کلنو په تفکیک

سرچینه : د افغانستان د MDGs راپور ۲۰۱۲




دکوکنارو د کروندي له منځه وړل ( په هکتار)

سرچینه : د افغانستان د MDGs راپور ۲۰۱۲


**خصوصي سکتور او دتجارت وده :**

همدا راز پورتنیو معلوماتو ته په پامنرنې سره لیدل کیږي چی د صنعت سکتور په دې دوره کې تل تر نورو لږ وده کړی ده، او اوس په ملي عاید کې تر نورو ټولو کمه سلنه جوړوي مهم علت یې د پالیسیو او کارنده پلانونو نه موجودیت و. ارقام څرګندوی چی زیاتره پانګوالو په داسې کاروبارونو کې پا نګونه ګړی وه چې سرمایه ژر راوګرځوي او په لوړه پیمانه لنډ مهاله ګټه ولري ، یعنی د لنډی مودی پروژوته اولویت ورکول شوی و، حال دا چی دوو مولدو مهمو سکتورونو یعنی صنعت او کرنی ته پاملر نه ده شوی، آن دا چی ددغو دوو سکتورنو په برخه کی ثابتی شتمنی تهدید سره مخامخ شوی دی . دبیلګی په توګه ډیرو سیموکی کانی توګی په خپل سر د محلی قاچاقچیانو په لاس کی دی او په غیر فنی شکل له ډیرو زیاتو ضایعاتوسره په غلا ایستل کیږی ، چی دا ډول کیندنی چاپیریال ته هم لوی زیان اړوی او دا کړنی د زریزی د اهدافو سره په شدید مخالفت کی دی، له بلی خوا ډیری ښی کرنیزی ځمکی تر غیر زراعتی استعمال لاندی راغلی او عامه زراعتی ملکیتونه، دولتی فارمونه اوشنی ساحی تر غصب لاندی راغلی دی. سره له دې چې د صنعت**سکتور** ونډه په ملي عوایدو کې دومره په زړه پورې نه وه خو بیا هم ویل کیږي چې له څو لسیزو ستونزمنو حالاتو راوروسته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کي اوس اوس یوه اندازه کوچنی او منځنی صنایع نوي رامنځته شوي او ګڼ تولیدات لري چي آن په ځینو برخو کي دغه صنایع توانیدلي چي واردات تعویض او داخلي تقاضا په خپلو داخلي تولیداتورفع کړي . لاندي جدول په افغانستان کي نوي راټوکیدلي صنایع د کلونو او کټګوریو په تفکیک سره څرګندوي .


**د خصوصي سکتور د صنایعوتولیدات**




Source: Compiled from Afghanistan statistical yearbooks (2008 to 2012)

له هغه وروسته چي د نوي اساسي قانون له مخی، د بازار اقتصاد د ټولو اقتصادي فعالیتونو لپاره اساس وګرځول شو دافغانستان د **صنایعو** په سکتور کي د خصوصي سکتور ونډه ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده . له یوي خوا د خصوصي کولو د پروسي په نتیجه کي یو زیات شمیر دولتي تشبثات خصوصي او نیمه خصوصي ملکیت اوکمپنیو ته انتقال شول او له بلي خوا په هیواد کي د مخ پر زیاتیدونکي تقاضا د رفع کولو په موخه د خصوصي متشبثینو له خوا په ګنو صنایعو کي پانګه واچول شوه . لاندي جدول ددولتی ګزارشونو له مخی د صنایعو په سکتور کي د خصوصي او عامه سکتور ونډه د کلونو په تفکیک سره ښکاره کوي :

په داخلي صنایعو کي د خصوصي او عامه سکتورونو ونډه





Source: Compiled from Afghanistan statistical yearbooks (2007 to 2012)

**پانګه اچونه :**

په تولیزډول په**افغانستان**کي دپانګي اچوني بهیرپه لاندې شکل کي ښکاره کوي چي دپانګي اچوني کچه نظراقتصادي شرایطوته دبدلون په حال کي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله پانګه اچونه: د ۲۰۰۳- ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ (ارقام په میلیون ډالرو )




| | 2003 | 2004 | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Foreign | 239 | 209 | 177 | 327 | 201 | 79 | 41 | 164 | 58 | 65 |
| Total Initial Capital | 886 | 687 | 592 | 1,193 | 651 | 406 | 1,026 | 636 | 514 | 627 |
| Domestic | 647 | 478 | 414 | 866 | 450 | 327 | 985 | 472 | 457 | 562 |

سرچينه : د افغانستان د پانګي اچوني د ملاتړ اداري ډاټابيس .

**دخصوصي پانګي اچوني په مټ رامنځته شوی سکتوري استخدام**




Source: AISA (2012), Research and Policy Department (RPD) data base.

په افغانستان کي دنوي اقتصادي سيستم په راتګ سره دخصوصي پانګوالوپام ګنوصنايعوته را واوښت ، چي لاندي جدول په اتوکټګوريوکي دخصوصي صنايعوارزښت ښکاره کوي اوارقام ښئي چي ددغوصنايعوارزښت په تيروپينځوکلونوکي دډيرلړپرمختګ سره په مارکيټ کي ځان ساتلی .

**د خصوصي سکتورصنعتي توليدات (ميليون افغانی د ۱۳۸۵ کال په قيمت )**

| دصنايعو کټګوری | 2006-07 | 2007-08 | 2008-09 | 2009-10 | 2010-11 | 2011-12 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کيمياوي او پلاستيکی توليدات | 715.5 | 817.1 | 877.8 | 888.6 | 899.2 | 909.7 |
| سپک صنايع | 964.2 | 997.4 | 1038.1 | 1065.9 | 1098.4 | 1104.9 |
| خوراکي توکي | 1418.8 | 1803.5 | 1790.9 | 1870.3 | 2268.8 | 2333.1 |
| فلزي صنايع | 354 | 392.1 | 390.5 | 382.4 | 407.5 | 1656.2 |
| درمل | 190 | 240 | 252 | 256 | 259 | 261 |
| ساختماني مواد | 1669.8 | 1742.5 | 1762 | 1787.3 | 1808.8 | 1825.6 |
| ترکاني او کاغذي صنايع | 382 | 392.3 | 366 | 371 | 375.7 | 378.7 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نور | 1338 | 1447.6 | 1468 | 1519 | 1537.5 | 1532 |

سرچينه : د افغانستان احصائيوی کالنی ۲۰۰۷ ـ ۲۰۱۲


## سوداګری

په هيواد کی د کورنيوشخړو له پيل او شدت (۱۳۷۱) څخه راوروسته دهيوادزياتره بنسټونه له منځه ولاړل، افغانستان او د هغه اقتصاد په يوه مصرفي او واردوونکې هيوادبدل شو،همدارازپه هيوادکې، د طالبانواو تنظيمی (۱۳۷۱- ۱۳۸۱ ) لس کلنی اقتصادی توری دوری په پرتله داقتصادي پرمختياپه بهيرکې دسترو زيربنايي پروژو،نړيوالواداراواوداخلي نفوسودودی په نتيجه کې په هيوادکې ناڅاپه اوپه لويه کچه تقاضارامنځته شوه اوداخلي کمزوري **توليدي**سکتورونشو کولای چې دغې لوړې تقاضاته په داخلي امکاناتوسره ځواب ووائي، نو ځکه په همدې دلايلوسره دهيواددتجارت بيلانس کال په کال منفي اولامنفي خواته ولاړ، چې په تيروکلونوکې دافغانستان دتجارت بيلانس په لاندې جدول کې ښودل شوې دی :

د افغانستان تجارت ( ارقام په ميليون امريکائي ډالرو)

| Years | Exports | Imports | Total Trade | Trade Balance |
|---|---|---|---|---|
| 2001-02 | 68.2 | 1693.0 | 1761.3 | -1624.8 |
| 2002-03 | 100.1 | 2452.8 | 2552.9 | -2352.7 |
| 2003-04 | 148.8 | 2101.4 | 2250.1 | -1952.6 |
| 2004-05 | 308.6 | 1964.7 | 2273.3 | -1656.0 |
| 2005-06 | 383.7 | 2485.1 | 2868.9 | -2101.4 |
| 2006-07 | 416.5 | 2744.2 | 3160.7 | -2327.8 |
| 2007-08 | 454.1 | 3021.9 | 3475.9 | -2567.8 |
| 2008-09 | 544.6 | 3019.9 | 3564.4 | -2475.3 |
| 2009-10 | 403.4 | 3336.4 | 3739.9 | -2933.0 |
| 2010-11 | 388.5 | 5154.3 | 5542.7 | -4765.8 |
| 2011-12 | 375.9 | 6390.3 | 6766.2 | -6014.5 |
| **Total** | **3592.3** | **34364.0** | **37956.3** | **-30771.7** |
| Source : directly computed from data released by CSO statistical yearbooks (2002-2012) | | | | |

د افغانستان اوسنی او پخوانی د تجارت بيلانس





Source: Compiled from Afghanistan statistical yearbooks (2002 to 2012)and Eltezam (1966).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورته ارقاموپه رڼاکي لاندي شکل په واضح ډول ښکاره کوي چي دهیوادصادرات  دوارداتواوزیاتیدونکي تقاضاپه اندول ډېرکم اوهیواداوس هم په تشدیدي توګه یومصرفي اوپه بهرنیوتوکوولاړاقتصادلري، خولکه څنګه چي په شکل کي ښکاري که یواځي دهیوادصادرات  وڅیړل شي، نوملي پرمختیایي ستراتیژۍدتطبیق په لومړنیوکلونوکي دهیواد دصادراتوکچه نظرترهغي پخوانیوکلونوته مخ پرزیاتیدوده اوپه وروستیودووکلونوکي دغه رشدیوځل بیاټکنی شوي چي عمده علت یي له افغانستان څخه دنړیوالوځواکونود وتلو دخبرونو نشریدل اود بهرنیو مرستوکمیدل ښودل کیږي .


د افغانستان خارجي تجارت، د وارداتو او صادراتو په تفکیک سره




سرچینه : د افغانستان احصائیوي کالنی   ۲۰۰۲- ۲۰۱۲

دا چي د افغانستان سرحدونه ډېر خوندي نه دي او له ګاونډیو هیوادونو سره په زرهاوو کیلو متره سرحد په تیروکلونو کي هیڅکله هم په بشپړه ډول نه دی  کنترول شوي،  نو د رسمي ارقامو څخه علاوه، غیر رسمي تخمین ښیي چي د هیواد صادرات له هغه څه چي په رسمي شمیرو کي ښودل کیږي، ډېر زیات دي . لاندي شکل همدا حقیقت ښکاره کوي :

د بیلګی په توګه د افغانستان رسمي او غیر رسمي صادرات  ۱۳۸۷- ۱۳۹۲ ( ارقام په میلیون ډالرو)




Source: IMF Country Report No. 11/330, November 2011

## استخدام او د کار فرصتونه

**دافغانستان د کار بازار  ته یو ځغلنده نظر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ټول نفوس | 26.5 million in 2011-12 |
| د نفوسو د ودې نسبت | 2.03 % |
| د تولداتو نسبت | 6.3 per women |
| د عمر صنفونه | Very young group 49% ( under age15 )<br>Elder Group 3% (65 and over) |
| د کارګرې قوې برخه اخيستنه | 67% |
| د ټول نفوس داستخدام نسبت | 62 % |
| بيکارۍ نسبت | Defined as Under 1 hour per week .7%<br>Defined as Under 8 hours per week.15% |
| دکاررسمي د عمر ګروپونه | 12 million from which: 1/3 inactive and 2/3 active workforce |
| دکاراوسط ساعتونه | 36 hours per week |
| د استخدام شويو وګړو ويش په اقتصادي فعاليتونو کی | Agriculture and livestock, transportation & Communication, Other Services, Construction Mining and quarrying, Trade, Public administration, Manufacturing, Education. |

Source: - Central Statistics Organization & MRRD (2008).NRVA 2007-2008 and CSO (2012).


که څه هم د افغانستان د کار د بازار په هکله کره او هر اړخيز معلومات نشته، خو بيا هم ځينی سرويګانی د کار د بازار عمومي انځور ښکاره کوي او د بيکارۍ د ستونزې ځيني عمده عوامل راپه ګوته کوي . د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ د تطبيق په کلونو کې د شوو پرمختګونو يوه ستره نتيجه د خلکو لپاره د کار د زميني رامنځته کول و، په دې ډول د خلکو دعوايدولوړالی او د فقر د کچې راکميدل ورڅخه جوتيدای شی. لاندې ارقام او شکلونه د د کار د بازار عمومي انځور ښکاره کوي . د کار موندنی او داستخدام د لازمو فرصتونو د ايجاد برخه کی ارايه شوی ارقام د نفوسو د ودی او د کارځواک يا بشری نيرو د اندازی ځواب ويونکی نه دی.

دهيواد په کچه دوګړو استخدام ، د استخدام د حالت په تفکيک سره (ارقام په زرو)

| Province | Status in employment | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | Day labourer | Salaried worker | Own account worker | Employer | Unpaid family worker | Total |
| National | 1,279 | 1,181 | 3,013 | 59 | 832 | 6,364 |

سرچينه : NRVA 2011-2012

(c) ketabton.com: The Digital Library





دجنسیت او عمر په تفکیک سره د کارګري قوې د برخې اخیستنې نسبت

سرچینه : NRVA 2011-2012

**د کار د بازار احصائیو ارقام :**

| دکار بازار | نسبت/نرخ(%) | د استخدام سکتورونه | %ونډه |
|---|---|---|---|
| د برخه اخیستنې نرخ | **66.5** | کرنه | **59.1** |
| دوګړو د استخدام نسبت | **62.5** | صنعت ، استخراج او ساختماني چارې | **12.5** |
| د بیکاری نرخ | **7.9** | خدمات | **24.6** |
| د استخدام ځخه شکته وګړو نسبت | **48.2** | عامه اداري او حکومتي چارې | **3.9** |
| باسواده کارګره قوه | **25.8** | | |

Source: MoE, (2011) Afghanistan Provincial Brief




کارګره قوه د جنسیت او د هفتې د کاري ساعتونو په تفکیک سره ( په فیصدي )

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرچینه : NRVA 2011-2012

د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي چې د پينځو کلونو لپاره جوړه شوې وه ، په هغې کی په مجموع کې د ۱۵،۶ میلیارده ډالرو په اندازه سرمايه ګذاري په نظر کې نيول شوې وه، چی په دې وروستيو کې په کلي ډول د ارزيابی لاندې ونيول شوه. دغی ارزيابی د ستراتيژی د تطبيق په هکله يو ګڼي انځور وړاندې کړ .دغه ستراتيژي د درې اساسي رکنونو ( امنيت ، حکومتداري ، دقانون حاکميت ) او د اتو اساسي سکتورونو او ۱۷ فرعي سکتورونو او شپږو نورو ګډو مسايلو لپاره ترتيب شوې وه .

دملي پرمختيايی ستراتيژۍ له مخې چې د هيواد واقعی اړتياوې يې د پينځو کلونو لپاره په نظر کې نيولې وې د ۱۵،۶ میلیارده ډالرو له جملې څخه ۴،۹ میلیارده ډالر د ملي بودجې له لارې او پاتې ۱۰،۷ میلیارده ډالره له بودجې بهر د نړيوالو ادارو له خوا په مستقيم ډول مصرف شوي . د ANDS د نهايي ارزونې د راپور له مخې په مجموع کې د ټولو په نښه شوېو موخو څخه يې په سلو کې ۶۶ تحقق پيدا کړی او تطبيق شوي چې له دې جملې څخه تر ټولو لوړه سلنه د روغتيا سکتور ( ۸۸٪ ( ۴۵ ٪ ) ترلاسه کړې دی.

د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ د پلان شوو اهدافو د تطبيق اندازه (فيصدي )

| شميره | سکتورونه | فيصدي |
| --- | --- | --- |
| ۱ | روغتيا | ۸۸ |
| ۲ | امنيت | ۷۳ |
| ۳ | حکومتداري | ۷۱ |
| ۴ | زېربنا او طبيعي منابع | ۶۳ |
| ۵ | معارف | ۷۱ |
| ۶ | زراعت او د کليو پراختيا | ۶۹ |
| ۷ | ټولنيزمصئونيت | ۴۶ |
| ۸ | د خصوصي سکتور انکشاف | ۴۵ |

سرچينه : د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ د ارزونې نهائي راپور- اقتصاد وزارت

درېيمه برخه :

# د بازار نظام او خصوصی سکتور

**په ۱۳۸۴ کال کې د افغانستان نوی اساسي قانون تصويب او توشيح شو. د دغه قانون په لسمه ماده کې د هيواد لپاره د بازار نظام Market Economy ومنل شوه. د بازار نظام لکه د نورو اقتصادي نظامونو په شان يو نظام دی، د غه نظام کوم خاص بدوالی نلري، بلکې مهمه داده چې د يوې ټولنې په ځانګړو شرايطو کې څرنګه تطبيق کيږي. يو ښه نظام هغه دی چې د ټولنې اړتياوې پوره کړای شي. د بازار نظام هغه دی چې هلته افراد، اشخاص، موسسات او تصديګان پرته د دولت له کوم فشار څخه او پرته له کوم زور کارولو څخه د ارزښت د رامنځته کولو او د خپلو شخصي ګټو لپاره د اجناسو او خدماتو د توليد او لګښت په هکله تصميم نيسي. ښکاره خبره ده چې په دې ډول نظام کې د بازار د ميکانيزم له مخې او د سيالۍ په ترسره کولو سره ټول اقتصادي او ټولنيز فعاليتونه تنظيم کيږي چې موخه يې په اقتصادي فعاليتونو کې د خصوصي پانګې په کار اچول او له هغی څخه ګټه تر لاسه کول وی. بايد پايله يی په عمومی توګه د مطلوبيت ايجاديدل، د هوساينی رامنځته کول او دکارونو ښه کيدل وی، خو کيدای شی په عمل کی شخصی رفاه او ګټی په پام کی وی. که چيری د عامه رفاه اود ټول اقتصاد دکلی اجتماعی هوساينی په پرتله يی د شخصی ګټی او فردی رفاه انډول زيات و او عامه منابع ضايع کيدلی، نو دولت مداخله کولای شی. پدی ډول نظام کی په توليدی وسايلو باندی خصوصی ملکيت ازاد دی. دغه نظام له مرکزی يا رهبری شوی اقتصادی نظام او سوسياليستی نظام سره فرق لری. د بيلابيلو اقتصادی نظامونو له تفاوتونو سره سره، يو يی هم په مطلق ډول نه دی رد شوی، هر يو يی خپلی ځانګړی ښيګڼی لری، مهمه داده چی ساستوال يی څنګه تطبيق کوی، بلکی مهمه داده چی هر يو يی په څه ډول او په څومره ګټورتوب سره تطبيق کيږی، يعنی موږ ته هم مهمه داده چی دبازار نظام څنګه تطبيق کړو . دبازار نظام کی په اقتصادی فعاليتونو کی خصوصی افراد**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او موسسات ډیر رول لری او په دویم ډول ( یعنی سوسیالیستی او دمرکزی پلان جوړونی نظام ) کی بیا د دولت له خوا جوړ شوی پلانونه د اقتصادی فعالیتونو لپاره د لاربنود حیثیت لری. اقتصادی نظامونه د یوی ټولنی د اقتصاد کم اوکیف ټاکی او دا پخپله بیا د سیاست زړی دی، اوس نو بیا هم پایله په دی پوری اړه لری، چی آیا سیاستوال څه کوی او څرنګه له دغو نظامونو څخه کار اخلی. ددغو نظامونو کامیابی او ناکامی، ګټورتوب او زیان هم زیاتره د سیاستوالو په چلند پوری اړه لری. مهمه خبره داده چی اقتصادباید د انسان په خدمت کی وی، چی د ټولنی اړتیاوی پوره کاندی او د یو هیواد له اقتصادی واقعیتونو سره برابر وی او د خلکو د دژوند د کچی لوړولو ته اړم وی.

په افغانستان کی موږ له ډیر پخوا څخه هم د مرکزی پلان جوړونی نظام درلود، هم مختلط او هم دبازار نظام او هم مو خصوصی سکتور درلود. موږ دی ټولو سره آشنا وو او تجربه هم پکی لرو، خو د کورنیو جګړو او بی ثباتی له لاسه مو ونشو کولای چی عملا خپل اقتصاد ښه کړو. مونږ ډیر وخت مختلط اقتصادی نظام درلود. دغه ډول نظام ته موږ له اجتماعی اصولو سره ګډ د بازار نظام یا د ټولنیزو اصولو لرونکی دبازار نظام هم ویلای شو( هیره دی نه وی چی د بازار دنظام اصطلاح او د آزاد بازار اصطلاح یو بل سره توپیر لری)، نن ورځ هم په آلمان او یو شمیر نورو هیوادونو کی دغه ډول نظام شته. په امریکی او هندوستان کی مختلط نظام دی، چی د پانګوالی او سوسیالیزم ګډوله یی بللای شو. اوس ښکاره شوه چی زموږ د اقتصاد د خرابوالی علت نه د پلان جوړونی نظام دی، نه مرکزی اورهبری شوی نظام او نه هم مختلط نظام، بلکی لوی لامل یی د جګړی دوام دی.

بازار د انساناو ترمنځ د ټولنیزو مناسباتو څخه شمیرل کیږي چې دا مناسبات او اړیکې د انسانانو ترمنځ د خرید او پلورلو په جریان کې تحقق مومي او همدارنګه د بازار اساسي عناصر عرضه ، تقاضا او بیی (قیمت) تشکیلوي.

یا په بله وینا : په هره شبکه او ځای کې چې اجناس او خدمات پیرودل او پلورل کیږي بازار دی، مګر بازار نه یوازې مادي او مشخص ادرس لري بلکه په نني شرایطو کې اکثریت راکړه ورکړه او پولي عملیات د مخابراتي شبکو په ذریعه ترسره کیږي په دې پروسه کې معین او مشخص ځای ندی تثبیت چې دا د اسهامو بازار دی حتی د یادولو وړ خبره دا ده چې په نننیو شرایطو کې د جایدادونو، موټرونو د هوایي او ځمکني ترانسپورټ ټکټونه د انټرنیټ په ذریعه ترسره کیږي چې دا حالت هم د خرید او پلورلو عملیه ده چې بازار ورته ویلی شو. مګر دا چې بازار د تاریخ په اوږدو کې کله چې د کار تقسیمات منځ ته راوړي دي، ورسره سم د محصولاتو تبادله او د بازار لومړي شکل رامنځ ته شوی دی، خو د یوه مسلط او قانونمند نظام په څیر په پانګوالي نظام کې پراخ او په بیساري توګه یی پرمختیا کړی ده.

د بازار نظام وده او پرمختیا د تجارت او صنعت د انکشاف سره نه شلیدونکي اړیکې لري په کومه اندازه چې د تجارت او صنعت حجم زیات شي په هماغه اندازه د بازار نظام ته ښه زمینه مساعده کیږي او د بازار نظام لپاره د تجارت او صنعت د ودې باعث ګرځي، او همدارنګه د بازار نظام د تجارت او صنعت لپاره ښه شرایط رامنځته کوي. په دی توګه صنعت او تجارت د خصوصی سکتور په واسطه ښه برمخ ځی، دا ځکه چی خصوصی سکتور عامه خدماتو او لویو پروژو لکه د بریښنا تولید، کانونو، پارکونو اود ترانسپورت سراسری شبکی سره علاقه نه لری، په دی توګه دولت دصنعت او تجارت ، کوچنی تشبثات او یو شمیر خدمات خصوصی سکتور ته ور پریږدی، ترڅو په خپله امنیت، سیاست، علمی څیړنی ، لویی پروژی، ملی تاسیسات او هغه برخی چی خصوصی سکتور یی اجرا کولو ته حاضر ندی او نه یی کولای شی، ښه پر مخ بوځی. په همدی خاطر د افغانستان دولت خصوصی کولو ته ملا وتړله ( خو له نیمګړتیاوو ډکه وه، ورسته به یی څرګنده کړو).

د بازارد نظام مفهوم او ماهیت په یوه ټولنه کې دا دی چې د فرصتونو او ظرفیتونو څخه په ټولو اقتصادي او ټولنیزو مناسباتو کې استفاده وشی چې هدف یې پرمختیا او د یوې ټولنې د افرادو د ضروریاتو وړ توکو ته لاسرسي شمیرل کیږي.

که څه هم په ټولو اقتصادي ـ تاریخي مراحلو کې د بازار موجودیت شته، خو څرنګه چې بازار د دولت د مداخلې او طبیعي تولیداتو سره په تضاد کې قرار لري نشي کولای د یو مسلط نظام په توګه په ټولنه کې را څرګند شی. همداشان په نننیو شرایطو کې نشو ویلای چې یوازې او خاص د بازار نظام په کوم هیواد کې سل فیصده موجود دي، د بازار نظام په معاصره وخت کې د نړۍ په قاطع اکثریت هیوادونو کې د ستراتیژیک هدف په حیث شمیرل کیږي. نو په افغانستان کی هم ددولتی سکتور تر څنګ په پام کی ونیول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګليسي عالم او اقتصاد پوه ادام سميت د بازار د نظام د عرضې او تقاضا قانون ته ور پرېږدی او وايی چې تاسی خاطر جمع اوسئ ، دغه قانون د يوه توکي، ارزښت تر تمام شوي قيمت پورې ښکته راولي.

د عرضې او تقاضا تناسب د موادو او تجارتي توکو د پلورلو او رانيولو ميکانيزم رامنځته کوي، کله چې د عرضې او تقاضاپر اساس د مستهلک او پلورونکي ترمنځ مناسبات ټينګ شي په نتيجه کې بازار تشکل مومي.

همدارنګه کله چې په يو مارکيټ کې تجارتي توکی او خدماتي ظرفيتونه زيات شي په هماغه اندازه د تجارتي اقلامو په نرخ کې په تدريجي او په ځينو حالاتو کې په ډيناميکي توګه نوسانات رامنځ ته کيږي، پدې معنا چې د تجارتي اقلامو عرضه په مارکيټ کې د نرخ د نزول عامل ګرځي او حتی ويلی شو چې د يو تجارتي توکي قيمت تر خپل تمام شوي قيمت څخه په کمه اندازه په مارکيټ کې پلورل او رانيول کيږي، حتی ويلی شو چې په ځينې حالاتو کې يو تعداد مولدين افلاس سره مواجه کيږي دا حالات د يوه توليدي دستګاه فعاليت د رکود سره مخامخ کوي.

دبازار نظام د چا په خوښه نه وي متمرکز، بلکې د بيو او د بازار له څرنګوالي سره سم روان وي او سوداګر، پانګوال، خلکو، مستهلک او مولد او ټول ورسره په ماهرانه ډول ځان عياروي، ماهرانه ځکه چې په هغه کې په زرګونه معاملات،لکه: توليد، د اجناسو او خدماتو ويش او نور چې هر يو يې زرګونه متحولين لري په خپله حل کوي. د اقتصاد علم د يوې نورماتيفي پوهې په توګه د غه متحولين او روابط صرف تشريح کوي يعني هيڅوک، هيڅ ماشين او دستګاه دغه روابط او متحولين يوې خوا يا بلې ته نه بيايي او نه يې ښه جوړوي، خو مولد او مستهلک په هغه کې خپل رجحانات لټوي، يو يې که کيفيت ته ګوري بل يې نافعيت ته ګوري او همداسې يې درواخله نور روابط او متحولين . البته ځينې وخت اجبار او فشار هم ليدل کيږي چې هغه هم پخپله د اقتصادي معاملو او روابطو او متحولينو له دننه رابرسيره کيږي او د بازار اقتصاد بيا ډير ښه پوهيږي چې څه وکړي لکه د عرضې او تقاضا کمښت يا زياتيدل چې د بيو په بدلون تاثير کوي د تقاضا زياتوالی يو فشار دی چې قيمتونه لوړوي او د کيفيت ښه کول مصارف لوړوي او داسې نورې داخلي اړيکی . پرته له دغو اړيکو او متحولينو کوم بل فشار او جبر نشته چې د بازار په اقتصاد مؤثر وي. له بلې خوا د هيوادونو وضيعت او اقتصادی نظام ته بايد وکتل شي چې آيا څه مني او څه نشي منلای. سوال پيدا کيږي چې پخپله اقتصادي نظام څه شی دی؟

بايد ووايو چې اقتصادي نظام هغه اډانه ده چې د هغې د ننه اقتصادي انفسونه (واحدونه) (کورنی، تصدۍ او دولت) خپل اقتصادي فعاليتونه د قوانينو او مقرراتو له مخې پر مخ بيايي.

اوس نو ښکاره شوه چې د بازار اقتصادي نظام نظم ته ضرورت پيدا کوي دغه نظم د بازار بنسټونه ته باور وربخښي.

د بازار نظام په نړيواله کچه موجود دي لکه د اروپا ګډ بازار د نړۍ د اسهامو بازارونو، د کار د قوي بازار، منطقوي بازارونه او داسې نور اشکال يې په نړۍ کې موجود دي، مګر د بازار نظام جوړښت او ميکانيزم د تاريخ په اوږدو کې تغيير موندلی دی او د تغيير په حالت کې دی، همداراز زمونږ په هيواد افغانستان کې د اساسي قانون د لسمې مادې پر اساس د بازار د نظام ستراتيژيکه کړنلاره توضيح شوی ده ، ستونزه دا وه چې په هيواد کې دبازار د نظام څخه ناوړه ګټې اخيستنې د هيواد اقتصادي جوړښت او سمبالښت له سترو ننګونو سره مخامخ کړ. ضروري ده تر څو په هيواد کې د بازار د نظام په طرحه باندې يوه قوي او عملي کره کتنه وشي او د هغه لاسته راوړنې او ښيګڼې چې د بازار نظام يې له ځانه سره لري، له هغه څخه د اقتصادي چارو په پرمختيا کې مثبته استفاده ترسره شي او خصوصي سکټور ته د ودې او انکشاف شرايط د قانون ، لوايحو او طرزالعملونومطابق رامنځ ته شي ، نه په خپلسری ښه. او په کومو برخو کې چې نيمګړتياوې موجودې وې ښه به داوي چې د هغې څخه صرف نظر وشي او هغه اقتصادي برخې چې خصوصي سکټور او يا هم د بازار نظام يې په ښه شان نشي پلي کولای ضروري ده چې په دغو برخو کی دولت په يوازې توګه او يا هم په مختلطه توګه خصوصي سکټور سره په همغږې اقتصادي فعاليت ترسره کړي. زمونږ په هيواد افغانستان کې ضروري ده تر څو د اقتصادي – ټولنيزی پرمختيا لپاره يوه بشپړه طرح رامنځته شي چې په هغه کې خصوصي سکټور او دولتي سکټور ته خاصه ونډه ورکړل شي، دا حالت هيواد ته دا فرصت برابروي ترڅو په متوازن ډول په اقتصادي، ټولنيزو مناسباتو کې د پام وړ پرمختياوې رامنځ ته شي.

د بازار نظام په تشکيل کې د ارزښت ونډه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارزښت په اړوند بیلابیل نظریات او افکار موجود دي ځیني علما وایي د انسان د کار قوه چي د محصولاتو په هر جدا جدا واحد کي تجسم مومی، دهغه محصول (تولید) ارزښت دی ،مگر ځیني علما داسي نظرو لري، چي تمام شد قیمت د محصولاتو ارزښت جوړوي. په دی توگه خصوصی سکتور په کوچنیو تشبثاتو او خدماتو کی په دی طریقه خپل کار پر مخ بیایی. دا د محصولاتو او یا هم د تجارتي توکو په اقتصادي نظام کي عینی خصلت لري او د بازار په اقتصادي نظام کي خاصه ونډه لري د بازار په اقتصادي نظام کي ارزښت د تجارتي توکو ارزښت په راکړه ورکړه کي خاص اهمیت لري او د ارزښت د قانون پر اساس په دغه نظام کي تبادله او سوداگري ترسره کیږي. دولت لویی ملی شتمنی لکه کانونه، ځنگلونه، اوبه، چاپیریال ساتنه او نور تنظیموی او دغو مهمو برخو ته په پوره توجه وخت ورکوی، ځکه چی تر دی ټیټي برخي او کم اهمیت لرونکی تشبثات خصوصی سکتور ته ورکړل شوی وی. په دغو کوچنیو برخو کی د محصولاتو قیمت د هغه د ارزښت پر اساس معلومیږي، او وگړی یی پری کوی او کمی بیعدالتی ته موقع نه برابریږی.

د جنس یا تجارتي توکي ارزښت دایمي او ثابته بڼه لري مگر قیمت چي د عرضي او تقاضا د تناسب په نتیجه کي رامنځ ته کیږي د جنس په نرخ اغیزه کوي، په بعضي حالاتو کي تناسب برقراریږي مگر په ځینو حالاتو کي معکوس متناسب حالت غوره کوي د ارزښت قانون د تولید په عرضه کولو او د معاملاتو په بهیر کي عمل کوي. دواړه لوری هم مستهلک او هم مولد خپلو رجحاناتو ته گوری او عمل کوی ( یو یی مفادغواړی بل یی کیفیت)، خو که ددولت لازم نظارت څخه پرته دغه رجحانات برآورده نشی، د بازار نظام ناکام دی.

۱. د ارزښت قانون د ساده او پراخ تولیداتو او همدارنگه کار د قوي او تولید ترمنځ په مختلفو تولیدي برخو کي عمل کوي.

۲. د ارزښت د قانون کړنه په بازار کي د مولدو قواوو د پراختیا او انکشاف لامل گرځي په دي پروسه کي مولد کوښښ کوي تر څو پخپلو شخصي مصارفو کي کموالی راوړي او په دي فکر کیږي تر څو د تولنیزو عوایدو کچه زیاته کړي، چي دا عمل بازار کي د تولیداتو د سطحي د لوړوالي باعث گرځي.

۳. د ارزښت قانون کړنه د ساده تولیداتو څخه پراخو تولیداتو ته زمینه مساعدوي او په بازار کي اقتصادي رقابت او سیالي ته لاره هواروي چي په نتیجه کي د بازار نظام اقتصادي جوړښت لاپسي پیاوړی کیږي او په بازار کي د ارزښت د قانون کړنه د مختلفو اقتصادي برخو د ایجادولو باعث گرځي.

د همدی قانون له مخی یو شمیر هیوادنو د بازار د نظام د ښه پلی کولو په پایله کی د ښه اقتصاد او ټولنیز ثبات خاوندان شول ، دا ځکه کله چی خلکپه تولیدی او خدماتی دگرونو کی بوخت وی، شیطان ددوی په مغزو کی ځاله نه کوی او منکراتو او تخریبی چارو لاس نه پوری کوی او وار په وار ټولینز نظم، دقانون حاکمیت، استقرار، فردی آزادی، مصونیت، سالم اورغنده تفکر، د خدمت روحیه، نوښتونه اواکتشافات ترقی کوی.

خصوصی سکتور : هغه سکتور چی په هغه کی په تولیدي وسایلو باندې ملکیت شخصي وي په دغه ډول سکتور کي شخص له تولیدي وسایلو څخه د اعظمي مفاد لپاره کار اخلي. د لته مالک او پانگه اچونکی یا کار و باري غواړي د خپل اقتصادي فعالیت مطلوبیت اعظمي حد ته ورسوي یعني مصارف اقل حد کي او عواید یا د تولید اندازه تر ټولو ممکنه اوچت حد ته ورسوي، نوموړی د منابعو په تخصیص کي نهایت تلاش کوي او د اضافي تولید خواته پاملرنه اړوي. چي پایله یي اقتصادي مؤثریت دی. په اقتصاد کي دا ښه روش دی، چی اقتصادی کفایت تضمینوی. شومپټر وایي چي خصوصي متشبثین فعال او مبتکر وي او د تولید نوي ډگرونه رامنځته کوي، استخدام ته زمینه برابروي او منابع په کار اچوي په دي توگه د شخصي مفاد تر څنگ ټولنیز مفاد ته هم لاره هوراېږي. په همدی خاطر دولت نه یوازی خصوصی سکتور ته د ازاد فعالیت اجازه ورکوی بلکی ځانگړو حالاتو کی دولتی موسسات او تصدی هم خصوصی کوی. دلته مالکان خپله پانگه په کار اچوي، منابع د تولید لپاره تخصیصوی او بشری ځواک د کار لپاره د مزد او معاش په مقابل کی استخداموي خصوصی مالکیت دعمومی پالیسیو او قوانینو له مخی کار کوي. تر هغو چی دوی دنورو د قانونی مالکیت په حق باندی تیری نه وی کړی، ازاد وی او د خپلو ملکیتونو څخه د استفادی او دهغو د پکار اچولو لاری ټاکلی شی.

## خصوصی کول:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اقتصاد کی خصوصی کول یوه پروسه د ه چی د خصوصی سکتور د پیاوړتیا لپاره

زیاتره وخت دولتونه د خاصو موخو په پام کی نیولوسره خصوصی کولو ته اقدام کوی مثلا :

1. دولت د یو داسی خدمت یا د جنس تولید باندی شروع کوی چی پخوا نه و معمول او رواج نه و، کله چی دغه اقدام بریالی شی، مورد نظر جنس ښه بازار ومومی، نو بیایی خصوصی سکتور ته سپاری. ددی ګټه داده چی ددولت له خوا مورد نظر اجناسو تولید توسعه پیدا کوی.
2. ځینی وخت دولت د خپلی اسکان د پالیسی د عملی کیرو په خاطر له ښارونو څخه په لری سیمو کی د تولید منابع په کار اچوی، هلته کورونه جوړوی تر څو د ګڼ میشتو سیمو یو شمیر نفوس هلته ولیږدول شی، کله چی په دی ډول سیمو کی دولتی تصدی، یا اقتصادی فعالیت ځای پرځای اوبریالی ثابت شو، نو خصوصی سکتور ته ورپریښودل کیږی، په دی ډول سره دولت خپل ډیر اهداف په همدی میتو عملی کوی.
3. کیدای شی خینی وختونه په یوه تولیدی یا خدماتی څانګه کی لازم مهارت نه وی، دولت په دی برخه کی مخکښ کیږی، کله چی مربوطه څانګه کی مهارتونه ایجاد شول و دغه برخه خصوصی سکتور ته ورپریږدی اودی ته ورته نور اهداف او مثالونه.

متا سفانه په افغانستان کی د ډیر لوړ ارزښت لرونکی تصدی د خصوصی کولو په نوم د اشخاصو لاس ته ورغلی، خو پرته له دی چی د هغو ملکیتونه او ثابتی پانګی یی تالا کړی، اقتصاد ته یی کومه ګټه ونه رسوله، یعنی هغه رساتل چی خصوصی سکتور یی لری او هغه ګټی چی په پورته توګه له بازار نظام او خصوصی سکتور څخه متصور و، برآورده نشو. یعنی دلته یی شرایط وضع او رعایت نشول. بل لامل دا و چی دا پروسه ډیره ګړندی، جبری او مصنوعی تطبیق شوه او فرصت طلبو ورڅخه ګټه پورته کړه، نه اصلی متشبثینو او فعاله او مبتکرو کاروباریانو. دلته خصوصی کولو د دولتی تاسیساتو، ملکیتونو او تصدیو د له منځه وړلو او بالکل حذف کولو ښه ونیوله. کاشکی په دی باندی عمل شوی وای چی هر هغه متشبث چی تولید ی تصدی د خصوصی کولو په نوم اخلی، نو باید په همغی څانګه کی تولید ته ادامه ورکړی. موږ ډیری بریالی دولتی تصدئ او موسسات درلودل، کومی چی سستی او دمدیریت له پلوه بی کفایته وی، هغه مو باید اصلاح کړی وای او که نه کیدای له شرایطو او مقرراتو سره سم مو خصوصی کړی وای. دبیلګی په توګه د کابل جنګلک فابریکی هر کال ډیر ښه تولیدات درلودل، زراعتی وسایل، فلزی اسبابونه، د موټرو باډی اوډیر نور کارونه یی کول، د بغلان د قند فابریکی په یوه کال کی ۱۳۰۰۰ ټنه بوره تولیدوله، افغان ترکانی هم ښه تولیدات لرل، خو د خصوصی کولو په نوم غصب او دغه تولیدات ټول په ټپه ودریدل. له فابریکو څخه سرایونه، کورونه او نور ځایونه جوړ شول، د افغان ترکانی، حجاری او بوتون ، نساجی ګانی، سیلو ګانی او په سلګونو نور مثالونه یادولای شو، په همدی خاطر د خلکو زړونه له خصوصی کولو او د بازار له نظام څخه تور سول او غواړی چی دولت مداخله وکړی.

بله تیر وتنه دا وه چی موږ د پرمختللو هیوادو څخه تقلید وکړ، هلته که یو کارګر بیکاره کیږی ، نو دهغه لپاره ټولیزی بیمی موجودی وی، خو په افغانستان کی داسی څه نه و، په دی توګه با تجربه کارګران له لاسه ورکړل او اقتصاد، خصوصا د تولید ډګر مو بی کادره کړ، بی کادره اقتصاد یعنی صفر.

بله تیر وتنه دا وه چی بهرنی پانګه اچونه په خلاص مټ روانه شوه چی دی کار داخلی کارځایونه له قاتلانه رقابت سره مخامخ کړل،

یوه تیر وتنه دا وه چی هغو چاړواکو او دولتی ځواک لرونکو چی هم یی سیاست او حکومت یرغمل کړی و او هم یی یو شمیر اقتصادی تشبثاتو باندی خیټه اچولی وه، دوی انحصار ګرانه عمل وکړ، نوځکه اصلی ، حرفوی او اقتصاد ته مفید کاروباریان یی له میدانه وشړل. داسی ډیر مثالونه شته چی موږتیرو کلونو کی مطبوعاتو او رسنیو کی ټکی په ټکی ورته اشاره کړی، د تکرار ضرورت یی ځکه نشته چی له اصلی موضوع څخه لری کیږو. مهمه داده چی دړی برخه کی د راتلونکی لپاره د اشتباهاتو مخه ونیسو.

افغانستان هغه یواځنی دولت نه دی چی د خصوصی کولو پروسه کی ناکام شو، په بله وینا خصوصی کول یی په غلطه ښه ترسره کړل، بلکی ګڼ شمیر نورو خصوصا پرمختیایی هیوادو کی هم دا ډول ستونزی ولیدل شوی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**توپیر په دی کی دی چی هغوی خپل اشتباهات جبرانوی او د اصلاح لاره لټوی او ورو ورو قد م اخلی . که واضحه وویل شی، دلته اصلا خصوصی کول نه، بلکی غصب او چپاول کول و. کیدای شی دی کی بیلابیل اغراض لکه سیاسی یا نور هدفونه او د سړی جګړی یو شمیر هغه اهداف چی لا تر اوسه نه و پوره، دهغو پوره کول او داسی نور به وو، خو پایله یی افغانانو ته په زره پوری نه وه. څو کلونه مخکی افغانستان کی د نساجیو، پلاستیکی لوښو او بوټانو جوړولو، صابون، پوستین ګنډولو، دڅرمن صنعت، کارتن جوړولو، تیلو ایستلو، جرابو او جاکټ اوبدلو، دخوراکی توکیوتولید او ګڼ شمیر برخو کی ډیر موفق خصوصی سکتور موجود و چی د کابل د پلچرخی پارک یی ښه بیلګه وه . دلته ددغو ټولو صنایعو او فابرکو یادونه دلته امکان نه لری، چی په سلګونه فابریکی پکی فعاله وی، خو اوس یی هیڅ اثر نه دی پاتی . ددی تر څنګ موږ په لاندی برخو کی د خصوصی سکتور تر څنګ دولتی او مختلطی فعالی تصدۍ او فابرکی درلودی؛ دلته به یی د یو څو نومونه واخلو : د هوخست فابریکه، د کونړ د کاغذ جوړولو فابریکه، دهرات د سمنټو فابریکه د بلخ او کابل سیلوګانی، دغوری سمنټ، سپینزر شرکت، د کورجوړولو تصدۍ، کاماز، دشمال دډبرو دسکرو تصدۍ، دافغان کیمیاوی سری شرکت،دکندهار د وړی اوبدلو فابریکه، دمزارنفت اوګاز، د بګرامیو نساجی، د جبل السراج دسمنټو کارخانه، ګلبهار نساجی، د مرمر او رخامو تصدۍ، د جوزجان کود اوبرق، د کندز جنوپریس او صابون جوړولو او تیل ایستلو کارخانی او داسی نور چی یادونه یی مایوسی رامنځته کوی. یو شمیر یی چی د بشپړ لوټ او تالان او خصوصی کولو له آفت څخه په امان پاتی دی ، هغه بیا شاړی پرتی دی، لکه د ننګرهار میکانیزه فارمونه ( البته یوه برخه یی غصب اولوټ شوی، خو بیا هم د بی غصب اولوټ شوی، خوسره دی هم د بیا رغاونی امکان یی شته)مهمه داده چی موږ په دی هکله له سره غور وکړو او لازمه پاملرنه ورته وشی. په دی توګه دافغانستان دولت او عامه سکتورهم فرصت لری چی د خصوصی کولو پروسه اصلاح او په اقتصاد کی د مداخلی حق وساتی، په دی برخه کی یو شمیر معیارونه دادی :**

دبازار نظام کی دولت د مداخلی اواصلاح لپاره یو شمیر حدود او معیارونه لری چی باید روښانه شی. مونږ په دې باندې وپوهېدو چې تر څو دبازار نظام کې خصوصي پانګوال د نافعیت او اعظمي حد مطلوبیت حاصل نه کړي، هلته سرمایګذاري نه کوي، نو ایا خصوصي سکتور او د بآزارد نظام د شرایطو صنعت له ماتې سره مخامخ کېږي؟ او که مخامخ کېږي لاملونه یې کوم دي؟ دلته به داسې په همدې موضوع خبرې وشي.
د بازار نظام کولای شي زرګونه ډوله اجناس او خدمات د مستهلکینو له رجحاناتو سره سم تولید او عرضه کړي او همدارنګه ممکن دوی په زرګونو ډوله تولیدي عوامل او نیم کاره یا ناکار تمام اجناس د نورو مولدینو په واک کې ورکړي تر څو له دې لارې هم مفاد اعظمي کړي. دغه فعالیت یو ډېر پېچلی فعالیت دی نو د هغې په پلان جوړونه کې ډېرې زیاتې ستونزې شته. بازار باید وار په وار او بېلابېلو شرایطو کې ځان نویو حالاتو سره برابر کړي او د رجحاناتو مطابق له فوري بدلونونو سره ځان عیار کړي. دلته د خصوصی سکتور لپاره یو شمېر علتونه په ګوته شوي دي چې د دوی د ناکامۍ لامل کېږي. هغه وخت چې خصوصی سکتور سم کار ونشي کولای (د بآزار ناکامي) بلل کېږي، نو که په همدې حال پرېښودل شي خپل نافعیت له لاسه ورکوي. مونږ ته بهٔ ستونزمنه وي چې د بآزار دنظام د ناکامۍ هر حالت دلته په ټولو اجزاؤ سره جلا جلا تشریح کړو؛ خو لنډیز به یې ذکر کړو:

## ۱. د انحصاراتو رامنځته کېدل

د رقابت په قوي کېدو کې یو شمېر رقابت کوونکي انحصار ته لاس اچوي په تېره بیا په پرمختیایي هېوادو کې هغه تصدۍ او صنعتي فعالیت ځای چې له کتلوي صرفه جویي څخه کار اخلي نو په کم وخت کې دومره پراخېږي چې د خپل پرمختیایي هېواد ټول محدود بآزار اشغالوي او په دې توګه د قاتلانه رقابت له لارې نورو ته د ننوتلو لپاره ستونزې پیداکوي. نن ورځ په پرمختللو هېوادو کې هم اولیګو پولي انحصارونه رامنځته شوي چې فقط څو محدودې تصدۍ یو بشپړ صنعت کنترولوي. په کرنه، کب نیولو، لاسي صنایعو، ترانسپورت، پرچو ن سوداګري او خدماتو کې د اولیګو پولونو رامنځته کېدل ډېر لږ امکان لري؛ خو په نورو صنایعو لکه فلزي صنایع، کیمیاوي صنایع، د اسلحې صنایعو او نورو کې هغوی قیمتونه لوړ بیولای شي، د تولید مقدار کموي، په دې کې مستهلکین متضررکېږي. په دې توګه د بازار نظام څخه رضایت له منځه ځي چې رضایت نه ؤ بازار ناکام دی. د دې د علاج لپاره باید دولت مداخله وکړي او مالیات وربآندې لوړ کړي او له ترلاسه شویو مالیاتو په نورو مواردو کې مستهلکینو سره مرسته وشي او د نرخونو اکثر او اقل حد ټاکل هم یوه بله چاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲. بهرنۍ صرفه جويي ګانې
دبآزار نظام د يو شمېر نويو لګښتونو له امله ډېره ګټه کوي پرته له دې چې خپله يې مصرف کړی وي. مثلا کله چې د سالنګ تونل جوړ شو د شمال ولايتو د ختيکيو لپاره بازار پوره پراخ شو او دوی خپل محصلولات کابل او پېښور ته وړل. دلته پانګه د دولت لګېږي خو ګټه يو محدود شمېر توليدوونکي کوي، هغه په ځانګړي قلم کې د نورو اجناسو توليد وده نه کوي، دايي هم يو منفي اړخ دی؛ ځکه هر اړخيز انکشاف په کې نه واقع کېږي.

## ۳. خارجي غير اقتصاديت (External Diseconomies)
په دغه حالت کې تصدۍ او د بازار فعاليت ځای خپله ګټه کوي، خو شاوخوا نور غير اقتصادي شرايط رامنځته کوي مثلا دا هغه مصارف دي چې د تصدۍ مصارف نه دي لکه د چاپېرياِل ککړتيا يا د سيندونو د اوبو خرابول، وحشي ژويو ته خطر او نور. که څومره هم د خپل محصول له پلوه خصوصي تصدۍ ګټه لرونکي او د اعظمي حد مفاد لرونکی وي، خو په عامه توګه يې غير اقتصاديت ايجاد کړ. همدارنګه له عامه منابعو لکه څړ ځآی، ځنګل، سيندونو او نورو څخه استفاده د يو شمېر غير اقتصاديتوبونو لامل کېږي. ممکن لوی مالداران څړ ځای داسې ګواښ سره مخامخ کړي چې واښه له ريښې څخه ورک کړي. په افغانستان کې د جنوب له ځنګلونو اودکونړ له لرګيوڅخه د خصوصي تجارو استفاده همداسې مثال لري چې په اقليم او باران يې فوق العاده منفي اغېزه کړې ده او داسې نور مثالونه. دلته هم بايد دولت مداخله وکړي او ډېر لوړ ماليات ورباندې وضع کړي او يو شمېر نور داسې قانوني تصاميم ونيسي چې د بهرني غير اقتصاديت مخه ونيسي.

## ٤. نوي پيداکېدونکي صنايع
کوچنۍ تصدۍ او پرمختيايي هېوادونه مجبور دي چې يو شمېر داسې نوي صنايع پيدا کړي چې دوی ته بالقوه انکشاف ور په برخه کړي او د دوی واردات تعويض کړي، خو نړېوال بازار او د بهرنيو لويو تصديو توليداتو ازادانه شتوالی د دغو داخلي کوچنيو تصديو مخه نيسي او په رقابت کې يې له منځه وړي. مثلا افغانستان د کاليو مينځلو دپوډر په برخه کې له ايراني (برف) تصدۍ سره رقابت نشي کولای.پخوا کلونوکې دشاکر دچيني جوړولو دفابريکې دورشکست کېدو يو لامل هم همدا و. او داسې نور مثالونه. دلته ده چې ازاد بازار ملي اقتصاد ته زيان اړوي. نو بايد دولت د سبسايډيو يا لوړو وارداتي تعرفو په واسطه مداخله وکړي او داخلي تصدۍ ته د ودې او ترقۍ مهلت او فرصت ورکړي.

## ٥. د مستهلکينو حاکميت
په پرمختللو صنعتي هېوادو کې ويل کېږي چې مستهلک يا مصرفوونکی (مشتري) پاچا دی او پيسې هغه ته رايه ورکوي، چې څومره او چاته توليد شي. خو په وروسته پاتې هېوادو کې بآزار له بآنکي سيستم څخه بهر او پولي مسايل يې ورسته پاتي دي. دغه خبره صدق نه کوي. يو څو بآنکونه که جوړ شوي هم دي د بهرني اقتصادي مډل څخه تقليد کوي او صرف يو شمېر اسانتيا د کمېشن په مقابل کې ترسره کوي، لکه کابل بانک چې د کمېشن په مقابل کې ددولت د کارکوونکو معاش توزيع کوي، خو د بانک په اصلي معنا فعاليت نه کوي، نور اکثر خلک نه بانک پېژني او نه يې مفهوم او اهميت؛ نو په دغه ډول عنعنوي بازار کې نه پيسې رايه ورکوي او نه هم مشتري پاچا دی، نو دلته بايد دولت د بانکي سيستم دبشپړتيا لپاره کار وکړي. دلته د بانکونو پانګه د ازاد بازار له قانون سره سم خامخا يا بېرته ځي يا د بهرنيانو لاس ته لوېږي او دا بيا د ناکامۍ باعث کېږي، لکه کابل بانک چې د ۱۳۸۹ کال په نيمايي کې ناکامۍ سره مخامخ شو او د دولت مداخلې ته مجبور شو. دغه وخت د افغانستان بآنک چې دولتي بآنک دی د کابل بانک مديريت ترلاسه او اصلاح کړ. بله چاره نه وه، په دې توګه کله چې دولت مداخلې ته اړ کېږي دا د بازار دناکامۍ معنا لري. خو دا هم بايد وويل شي چې تل او بې وخته مداخله تل د يو هېواد په ګټه نه وي؛ بلکې دا خپله موقع لري. يو شمېر داسې مثالونه هم شته چې هر ډول بې وخته مداخلې وضعيت نور هم خراب کړي، مثلا د ناماهرو کارګرانو د معاشونو لوړول تر څو د هغوی ژوند ښه شي، خو دا د استخدام د کمېدو لامل کېږي يا د وارداتو کنترول قاچاق زياتوي او تور بازار پيداکېږي يا د غذايي موادو ارزانه کول د هېواد دننه زراعتي محصولات له تاوان سره مخامخ کوي او ددولت په بودجه بار اضافه کوي او داسې نور مثالونه .

دا حال داسې دی چې هلته اجناس او خدمات په ازادانه ډول د پيسو په مقابل کې په مروجه قيمتونو باندې تبادله کېږي. په عادي حالت کې دولت په اقتصادي فعاليتونو کې مداخله نه کوي دلته مصرفوونکي د خپل عايد په پام کې نيولو سره د اجناسو او خدماتو داسې يو ترکيب انتخابوي چې ورته تر ټولو زياته ګټه ولري. او توليدوونکی هم تر هغه ځايه خپله توليدي منبع استعمالوي چې د هغې اخيرني توليد څخه په لاس ورغلې ګټه په هماغه توليد باندې له مصرف څخه زياته وي.نو بازار هغه ځای دی چې هلته پلورونکی او پېرېدونکی سره يو ځای کېږي د بازار په اقتصاد کې اصلي شرط رقابت دی چې شرايط يې دا دي: زيات شمېر عرضه کوونکي او زيات شمېر تقاضا کوونکي، بازار ته د داخلېدو او خارجېدو ازادي، د بازار په هکله د مکملو مالوماتو موجوديت او د اجناسو او خدماتو او نوعيت يو شانته والی. دولت هغه وخت مداخله کوي چې:

۱. بازار په خپلو کړنو کې ناکام شي.

۲. وګړي ناراضا وي او د دولت مداخله اصلاح کوونکی رول ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. د دولت مداخله د ټولنيز عدالت په منظور.
٤. د ټولنيزو غير محسوسو ارزښونو ساتل، لکه چاپيريال ساتنه او نور.
٥. د دولت مداخله د مارکيټ د ضعف موارد، انحصارگري او جانبي يا خارجي تاثيرات رفع کوي. او دغه مداخله قانوني او اصولي حدود لري. چي په دغه مقاله کي وښودل شول.

# په هيواد کی د لسو کلونو په پايله کی مهم اقتصادی بدلونونه او کمزورتياوی

**په دی ليکنه کی د بهرنيو مرستو مفهوم توضيح شو. د بهرنيو مرستو ماهيت او د مرسته ورکوونکو هيوادنو مقاصد او د مرسته اخيستونکو مجبوريتونو ته پکی اشاره وشوه، د بهرنيو مرستو مثبتو اومنفی اړخو ته اشاره وشوه او دبهرنيورمرستو اغيزمتوب کی مو دملی تدبير او درايت يادونه وکړه.دا مو دافغانستان لپاره يو فرصت وباله چی مناسبه او ښه ګټه ورڅخه اوچته نشوه، بلکی ډيری مرستی بی اغيزی او هدر مصرف شوی. ښکاره خبره ده چی تيرو کلونو کی په افغانستان کی ډير مثبت تحولات هم راغلی دی: پخوانی جنګی ډلی بی وسلی شوی، دهغوی روحيه د هيواد دتخريب پرځای بيا رغاونی او عمرانی چارو ته رااړول شوی او زياتره يی په سياسی او اداری چارو کی د واک او لوبو دريځونو لرونکی دی. په ټولنيز ژوند کی دښځو ونډه نسبتا ښه شوی ده او مدنی ټولنی خپل دريځ ترلاسه کړی. ددولت دری قواوی لرو، نوی اساسی قانون تصويب، يو پولی ريفورم په بريالی توګه ترسره او د جمهوری رياست، پارلمان او ولايتی شوراګانولپاره په انتخاباتو کی غوره تجربه تر لاسه شوه. دزمينی ترانسپورت په برخه کی له ۹۰۰۰ کيلومترو څخه زيات سرکونه پاخه شول، د هوايی ترانسپورت په برخه کی د اريانا دهوايی شرکت له بيارغاونی پرته څو دخصوصی سکتور هوايی ـ ملکی چلند کی فعاله کمپنی شته، بانکی سيستم مو نوی شو، ګڼ شمير ځوانانو بهر کی لوړی زده کړی وکړی او په معلوماتی تکنالوژی کی وارد او پوه ځوانان لرو.**

**وموندل شوه چی تيرو ديارلسو کالو کی د( MDGs) له اهدافو سره سم موږ هم ځانته يوه پرمختيايی ستراتيژی جوړه کړه. موږ دپرمختيايی ستراتيژی بيلابيلی برخی او ارکان وکتل او ځينو ځايونو کی مو دافغانستان د پخوانيو پلانونو سره مقايسه هم کړل، ددغی ستراتيژی مثبتی لاسته راوړنی مو د اعدادو او رقم له مخی چی په رسمی ګزارشونو کی راغلی دی ، وښودل او ځينی نيمګړتياوی مو هم وښودی، يه په بله وينا توقع کيدونکی حالت ته يا هغه څه چی بايد وررسيدلی وای، هغه ته مو هم اشاره وکړه، که چيری په ډير لنډ ډول سره تحليل شويو ارقامو ته يوه کتنه وشی، نودی پايلی ته به ورسيږو چی: په معاصرو شرايطو کی دغه تدوين شوی ستراتيژی د افغانستان لپاره يوه غوره تجربه وه. البته د هغی د تطبيق او پايلو په هکله د افغانستان دولت او ناودلتی موسساتو ډير زيات تبليغات کړی، مګر په واقعی توګه يی په علمی شکل سره تاييد شوی ګزارش او تحليل نه دی موجود. يو شمير ارقام اتکلی او يو شمير نور نا تاييد شوی دی. ددی په مقايسه د افغانستان د لومړنيو پنځه کلونو علمی پلانونو ارقام او تحليلونه ډير ثقه يی او په علمی ميتود استوار وو. د ځيرونکو لپاره په دی برخه کی مهم ماخذ د افغانستان د کلنی معلومات، د اداراتو له مسولينو او چارواکو سره مرکی، احصاييوی سالنامی ، د وزارتونو رسمی ګزراشونه او تر يوه بريده هم د افغانستان د ريسرچ او ارزيابی ( Afghanistan Research and Evaluation Unitيا(AREU) ) ګزارشونه دی.**

**ددولتی اداراتو تر څنګ له ۱۳۸۱ ش. کال څخه راوروسته ګڼ شمير ګزارشونه غير انتفاعی ، غير حکومتی سازمانونو( NGOs) نشر کړی دی، البته دوی هر يوه کوشش کړی دی چی د انکشافی اهدافو د تحقق په برخه کيخپل موثريت ثابت کړی. ددی خبری مانا داده ، لکه هغسی چی د افغانستان د ملی انکشافی ستراتيژی په جوړولو کی د بهرنيو مرسته له افغانستان سره په څرګند ډول ښکاريده، نو همداسی يی تطبيق کی هم دولتی او غير دولتی ادارو او موسساتو کار کړی دی. که چيری ددوی مرستی نه وای، يو شمير مهمی انکشافی پروژی لکه د ملی پيوستون پروګرام (NSP )،، د بيرنی کار موندی پروګرام (NEEP ) ، دپانګی اچونی ملاتړ، د افغانستان د کليو د پروژو د پراختيا پروګرام( AREDP) د نشه يی توکو پر وړاندی د مبارزی پروګرام (CN ) او په خپله د افغانستان د مستقلو ادراتو( د وزارتونو، د انتخاباتو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپلواک کمیسیون، د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، د اداری اصلاحاتو او ملکی خدماتو خپلواک کمیسیون او نورو پروګرامونه به یو هم سم نه و تطبیق شوی. لکه چی موږ ځو ځلی اشاره وکړه د افغانستان ملی پرمختیایی ستراتیژی له دریو مهمو برخو څخه جوړه وه :**

- **امنیت**
- **حکومتولی**
- **اقتصادی او ټولنیزه پرمختیا**

**په دی دریو برخو کی هغه چی موږ ورسره ډیره علاقه لرله، هغه د اقتصادی پرمختیا برخه وه. په دوو لومړیو برخو کی باید وویل شی، چی : د امنیت وضع ښه نه وه، هم وسله والومخالفینو او هم جنایتکارنو، دواړو، امینت او عادی ژوند له ګواښ سره مخامخ کړی و. تر وسله والو مخالفینو حرفوی جنایتکارانو چی لویی ډلی او د مافیا د باندونو په بڼه یی فعالیت کاو اقتصادی فعالیتونو، پانګی اچونی او د هیواد شتمنی ته زیات ګواښ او خطر متوجه کړی و، ددوی د نا امنی له امله تجارو ، ملی سوداګرو او اقتصادی فعالیتونو ته خنډ واقع شوی و، یعنی نه فزیکی امنت موجود و او نه احساسی. دبیلګی په توګه ډیر شمیر سوداګر اختطاف شول، ګڼ شمیر شتمنی لوټ او غلا شوی.د حکومت کولو او د قانون ټینګښت تطبیق نه شول، یو پراخ تنظیم شوی فساد حاکم و. دغه فساد په اداری ، مالی او آن اخلاقی برخوو کی له ورایه څرګندو. څو څو ځله متکرر جنایتکاران ونیول شول، بیرته خوشی شول، دی واقعیت دا ثابته کړه چی د ملی ستراتیژی د دوهمی برخی(حکومت کولو او د قانون د ټینګښت برخه) ډیره بریالی نه وه. ددغه پراخ فساد له امله ددولت رول ضعیف شو او د اقتصادی پرمختګ په لاره کی هم لوی خنډ واقع شو. له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹۱ پوری ( لس کاله) د مرستو زیاتی پیسی د نا دولتی موسساتو له خوا په مصرف رسیدی، په مرموز ډول د نادولتی موسساتو اغیز ددولتی ادارتو ملی دریځ او په چارو حاکمیت ضعیف او آن داچی دولتی ادرات د نادولتی موسساتو تر اغیز لاندی راغلی وو او د ملی دولت پرستیژ ته زښت ډیر تاوان ورسید. ګڼ شمیر تجربه لرونکی او ماهر کارکوونکی له حکومتی دفترونو څخه د نادولتی موسساتو دفترونو ته ولاړل. ملی شورا او ولایتی شورا ګانو لازم موثریت نه درلود، بلکی په خپله همدوی قانون نقض او د فساد پیاوړی کوونکی شول. دداسی یوی نا مطمینی فضا په ترڅ کی بهرنیو مرستو څخه لازمه ګټه اوچته نه شوه اود ترقی او پرمختګ ډیر ښه فرصتونه له لاسه ووتل. لا هم دسړی جګړی آثار شته، ګڼ شمیر هغه پروژی چی پخوانی شوروی جوړی کړی وی، یا دهغوبیارغاونی ته پاملرنه ونه شوه یا یی هم ټوله فزیکی شتمنی او زیر بنا تالا او په لوی لاس تخریب شوه، خو پرځای یی نوی څه جوړ نشول. له بده مرغه د افغانستان د ډیر مهم جیوپولیتیک موقعیت څخه د مثبتی استفادی پرځای د ستراتیژیکو نامناسبه اهدافو په خاطر د استفادی مفکوره پرځپل ځای پاتی ده. په سیمه کی وسلوالی ډلی روزنه ادامه لری، افراطیت د یوی وسیلی په توګه استعمالیږی، طبیعی زیرمو او اوبو ته مو دملی شتمنی په توګه د لاسرسی فرصت را څخه سلب شوی، سیاسی ماهرینو سره لا هم د لویی لوبی د ادامی شک شته. که یو ځل بیا خدای مه کړه د نویو را څرګندو شویو قدرتونو ترمنځ د سړی جګړی خطر پیښ شی، شاید د افغانستان د کاواک وضعیت له امله بیا هم همدا جغرافیا ددی جنګ لپاره غوره شی. دا ډول علایم امنیت او ثبات له منځه وړی. دلته سیاسی مسایل زموږ بحث کی موږ ته ددلچسپی وړ ندی، خو له دی امله چی د پرمختیایی ملی ستراتیژی یو رکن و، نو پټی سترګی ورڅخه نشوتیریدای،دا ځکه چی امنیت سیاست سره تړلی او دا دواړه بیا اقتصاد سره تړلی دی!!.**
**په دی توګه د پرمختیایی ملی ستراتیژی د امنیت رکن ډیر بریالی نه و، یو علت یی که په خپله دافغانستان دولت کی فساد او دخلکو نارضایتی وه، بل علت یی په سیمه کی سیاسی غرضونه اوبهرنی لاسونه وو. دغه ترخه تجربه تیر تاریخ کی څوځله دافغانستان پتمنو، خوبیچاره خلکو په جبری ډول وازمایله.**

**د ملی پرمختیایی ستراتیژی دریمه برخه چی په نورو شپږو ارکانو ویشل شوی وه په لاندی توکه بدلونونه لری:**

- **زیر بنا او طبیعی سر چینی : افغانستان د خپلو طبیعی زیرمو او منابعو له پلوه کافی اندازه ذخایر او شتمنی لری. د اقتصاد د رغاونی او پرمختیا لپاره زیر بنا لکه سړکونه، ریل پټلی، بریښنا، صنعتی پارکونه، ترانسپورت او تاسیسات مهم ارزښت لی. د ملی پرمختیایی ستراتیژی د جوړیدو څخه وروسته او د هغی د تطبیق تر پای پوری په هیواد کی د سړکونو د جوړولو په برخه کی کار وشو ،د یو شمیر معادنو د استخراج چاری یو شمیر بهرنیو کمپنیو سره د قرار داد په بڼه لاسلیک شوی، چی تمه کیږی د دغو کانونو په ګټه کی به افغانستان شریک و ګټل شی، نه صرف یو پلورونکی. داسی اټکل کیږی چی د افغانستان دپیژندل شویو او پلټل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شویو کانونو ارزښت تر دری زره میلیارده ډالرو اوچت دی . د افغانستان د روانو اوبو ( سیندونو د کلنی جریان اندازه ۷۰-۷۵ میلیارد مکعب متره اټکل شوی دی، خو له بده مرغه نه انحرافی او نه هم ذخیروی بندونه جوړ شول . په عوض کی یی وارداتی بریښنا له ګاونډیو هیوادو څخه په ډیر لوړ لګښت تدارک شوه، چی د هغی په بیه څو لوی بندونه جوړیدای شول، اما دسلما بند، د کمال خان بند، د دالی بند، کجکی بند او چک د بندونو د بیا جوړولو تبلیغات وشول، آن دا چی د هند هیواد د سلما بند باندی تر ډیری برخی کار هم وکړ، خو د هیواد ددغی مهمی طبیعی سر چینی (روانو اوبو) د مهارولو لپاره کافی اجراات نه تر سترګو کیږی. له نن څخه سلګونه کاله مخکی په سیستان ، غزنی ، د کابل شاوخوا ډیرو نورو سیمو کی د ځمکو د خړوبولو لپاره لوی لوی بندونه جوړ شوی وو، لکه دسلطان بند، غازی بند، سلما، کمال خان او نور، خو اوسنی وخت کی نه یواځی دا چی نوی بندونه جوړ نشول بلکی پخوانی هم ونړیدل. چی یوه بیلګه یی د سلطان دبند نړیدل و. په دی توګه د افغانستان دټولو سیندونو یا روانو اوبو صرف په سلو کی دیرشو څخه د هیواد دننه استفاده کیږی او نوره یا ضایع یا له ملکه بهر وځی. په همدومره اندازه موږ هر کال د خاوری تخریب او ضایع کیدل هم لرو. افغانستان شاید دځپلی خاوری په نه ساتنه کی لومړی هیواد وی!!

- ځنګلونه د هیواد یوه بله مهمه اقتصادی طبیعی منبع ده چی لوټ، تالان او قاچاق یی لکه د تیرو دیرشو کلونو په شان دوام لری، په دی توګه دغه مهمه منبع چی نه یواځی اقتصادی بلکی ایکولوجیکی فوق العاده ارزښت لری، تیرو۲۵-۲۰ کلونو کی له تباهی سره مخامخ وه او دافغانستان د طبیعی ځنګلونو په اندازه کی په سلو کی شپیته کمښت راغلی دی. زیا تره کانونه په نا قانونه توګه د سیمه ییزی مافیا په لاس په قاچاقی او غیر فنی شکل ایستل کیږی، چی د موادو کیفیت شدیدا زیانمن او تخریبی اثرات یی ډیر ژور دی. دغه مافیا د کان اصلی شتمنی د ډیری لږ ګټی په مقابل کی له لوی زیان سره مخامخوی.
- ښوونه، روزنه او فرهنګ : له نیکه مرغه د ښوونځیو په شمیر کی د کمیت له پلوه پوره زیاتوالی لیدل کیږی. وروسته د طالبانو له پرځیدو څخه نجونو ښوونځی ته د تګ اجازه ومونده، ګڼ شمیر ښوونځی نوی جوړ شول او د ټولو ښوونځیو نړیدلی ودانی ورغاول شوی، د معارف د وزارت په نصاب تجدید نظر وشو او په میلیونونو ټوکه درسی کتابونه په لوړ تیراژ او عالی کیفیت چاپ او تر ډیرو لری ولسوالیو وویشل شول. د ښوونکو په استخدام کی بیساری زیاتوالی راغلی دی، او د ښوونکو او د معارف د منسیوینو مادی او معنوی امتیازات اوچت او ددولت د پاملرنی وړ وګرځیدل.ښځو او نارینه وو ته د تحصیل مساوی چانس برابر شو، ګڼ شمیر ځوانان د هیواد د لوړو زده کړو موسساتو ته جذب شول چی د افغانستان په تاریخ کی یی ساری نه لیدل کیږی، په زرګونو پیغلی او ځوانان له هیواد څخه بهر ملکونو ته د تحصیل لپاره واستول شول. له دیرشو زیات دولتی پوهنتونونه او د عالی تحصیلاتو موسسات جوړ شول، ۱۰۵ د لوړو زده کړوخصوصی موسسات تاسیس شول، چی پینځه یی د پوهنتون کچی ته لوړ شول . د زدکړو په وسایلو او تکنالوژی کی پوره بدلون راغی چی نن ورځ زموږ پوهنتونونه په پوره پرمختللی تکنالوژی سمبال دی. ورزش او د ځوانانو بوختیاوو ته زمینه برابره شوه، دهنراو موسیقی ودی ته یو ځل بیا پراخ ډګر برابر شو، خو درسنیو، ورزش، هنری فعالیتونو اوهنری فعالیتونو ته آزادی پایله دومره دځوانانو مثبتو بوختیا، نشاط او روغتیا ته مفیده نه وه، لکه هغومره چی متاسفانه د اخلاقی انحراف لامل وګرځیده. دا ځکه چی مدیریت او پالیسی یی سمه نه وه. هغه څه چی د ډیری پاملرنی وړ دی هغه د رسنیو( هم دولتی او هم آزادو رسنیو) وده او غوره فعالیت دی. په هیواد کی تر ۴۰ زیات رادیویی ستیشنونه او تقریبا په همدی اندازه خصوصی او ملی تلویزیونونه فعالیت لری (خو د روزنیز او خبررسانی د اړخ په پرتله یی د بیګانه هیوادونو دګمراه کوونکو سریالونو ننداری ډیری دی). په ګڼ شمیر ښارونو کی د انټرنت خدمات مهیا دی. تقریبا دهیوا په سلو کی اویا وګړی د ګرځنده ټیلفون له خدماتو څخه برخمن دی. د اطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کی د ځوانانو معینیت ایجاد اود ځوان کول لپاره د امید او هیلو نوی کړکی پرانیستل شوی. البته داقتصادی ګزارشونو په پرتله د میدیا او فردی آزادیو په ډګرونو کی ارایه شوی ارقام ثقه یی او دتایید وړ دی.
- روغتیا : افغانستان له ۱۳۸۰ل. کال څخه مخکی د صحی خدماتو له پلوه تر ټولو یو وروسته پاتی او له ستونزو سره لاس او ګریوان هیواد و. کوم پرمختګ چی په تیرو دیارلسو کالو کی د روغتیا په برخه کی شوی بیساری دی ( ممکن روغتیایی خدمات به د کیفیت له پلوه ډیر د تایید وړنه وی او د خصوصی وغتونونو فیس به ډیر ناعادلانه وی، خو بیا هم د دیارلسو کالو مخکی حالت په پرتله د قناعت وړدی. هغه څه چی ډیر د ستاینی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړ دی ، هغه د پولیو د واکسین ډیر بریالی پروګرام و، چی د ګاونډیو هیوادو په پرتله ډیر ښه تطبیق شو. په دی موده کی روغتونونه ورغاول شول او د ولایاتو روغتونونو او په کلیو کی کلینیکونو ته پوره پاملرنه و شوه،سره له دی چی د روغتیا برخه هم له فساد څخه بچ نه وه چی یو ښه مثال یی د سردار محمدداوود خان ۴۰۰بستریز روغتون کی د میلیونونو ډالرو وهنه وه)، بله ښه لاسته راوړنه د مور او ماشوم د روغتیا خوا ته پاملرنه او له پینځه کلن عمر ټیټ د ماشومانو د مړینود شمیر کمښت و. په دی برخه کی نه یواځی ددولت سکتور بلکی، خصوصی سکتور هم ونډه لرله، ښه بیلګه یی په مرکز کابل او ولایاتو کی د خصوصی روغتونونو فعاله کیدل و. د روغتیا نړیوال سازمان(WHO) او د بی سرحده دوکتورانو ټولنی د پام وړ کارونه پرمخ بوتلل. د هندوستان هیواد ، په تیره بیا په کابل کی د اندراګاندهی روغتون د افغانستنان له خلکو سره د روغتیا برخه کی اغیزمنی مرستی وکړی، خو سره له دی هم نړیوال راپورونه په افغانستان کی د روغتیا وضعیت ښه او د قناعت وړ نه بولی، په ماشومانو کی د ناوړه تغذیی (خوارځواکی) نښی له ورایه ښکاری، دماشوموالی یو شمیر معمولی ناروغی د ماشومانو ژوند له ګواښ سره مخ کړی دی، د ځښتلو دپاکو اوبو نشتوالی د ماشومانو نس ناستی او دهغی له امله دمړینو ګراف لا هم نا مطلوب وضعیت کی ساتلی دی، د وګړو منځنی عمر ډیر ټیټ ( اوسط ډول ۴۷ کاله) ښودل کیږی، معیوبیتونه، روحی ناروغۍ او په مخدره توکیو روږدی والی د صحت د برخی لویه اندیښنه ده. د ککړ چاپیریال ستونزی د افغانستان راتلونکی کول ته لویه اندیښنه پیدا کړی، کوم چی تیرو دیارلس کالو کی یی نه یواځی د مخنیوی تدابیر نه وو، بلکی د ژوند د چاپیریال ککړوونکو فکتورونو نوره هم پراختیا موندلی وه، حال دا چی د ژوند چا پیریال ساتنه د زریزی د اهدافو یو لومړیتوب و او باید (ANDS)دغه لومړیتوب ته ډیره پاملرنه کړی وای. د یوه بله شرموونکی او بده ښکارنده په افغانستان کی د ایدس د ناروغی لیدل کیدل و، حال داچی پخوا دغه شرموونکی ناروغی زموږ هیواد کی بالکل یوه ناپیژندل شوی او د نه خپریدو وړ ګڼل کیده، خو له نیکه مرغه یو شمیر وایروسی نوری ناروغی چی د نړی ډیرو هیوادو کی ولیدل شوی، د افغانستان د ډیر غوره اقلیم له امله نه دی لیدل شوی، دا د افغانستان د طبیعت هغه لورېینه ده چی باید مننه یی وشی. بله د خوښی خبره دا هم ده چی د افغانستان د اوبو زیرمی لا هم خوندی او پاکی دی، اما د ښارونو ناوړه انکشاف او د بدرفتونو د سیستم نشتوالی او د ښاروالیو فاسد مدیریت تر ځمکی لاندی پاکو اوبو ته لوی ګواښ متوجه کړی دی. په دی توګه د روغتیایی خدماتو وضعیت نظر دیارلسو کالو پخوا ته ښه شوی دی، خو د راتلونکی لپاره د ګواښونو مخنیوی ته لا زیات تدابیر باید ولرو.

- کرنه او د کلیو پراختیا : د افغانستان په سلوکی له ۷۵ څخه زیات وګړی په سیده او ناسیده توګه په کرنه او مالداری بوخت دی ، د هیواد زیات نفوس (په سلوکی د اتیا شاوخوا)په کلیو کی ژوند کوی. د کلیو پراختیا نه یوازی دا چی ټولنیز هدف دی، بلکی اقتصادی ارزښت هم لری. کرنیز محصولات ملی مجموعی عوایدو او د هیوا د بهرنۍ سوداګری په برخه کی مهم اقلام دی. په کلیوالی سیمو کی د بیوزلی له منځه وړل او د کلیو پراختیا د ملی پرمختیایی ستراتیژی یو مهمه برخه وه، په دی برخه کی د ترانسپورتی ستونزوو یعنی د لارو نه شتون، کچه سړکونو او پیچومو له امله او تر ډیره بریده د ناامنیو له امله پوره کار ونشو. د کلیو د پراختیا مدیریت فوق العاده ضعیف او فاسدو، کومه روښانه او علما تنظیم شوی پالیس ورته موجوده نه وه. کلیوال له دولت، دولته سره له هنکاری او ددولتی خدماتو له ساحی بهر پاتی شول او تر ټولو زیات د دولت او ولسونو ترمنځ واټن په کلیوالی سیموکی لیدل کیږی. دی ناوړه حالت د ناامنی خپریدو ته لا زیاته زمینه برابره کړه. د افغانستان کلیوالی سیمو کی د محلی تشبثاتو پراختیا ته فوق العاده امکانات موجود وو، مثلا د کبانو روزنه، د چرګانو او شاتو مچیو روزنه، د وریښمو د چنجیوروزنه او لاسی محلی کارونه، محلی صنایع لکه کلالی، ترکاڼی، لاسی ګن ګنډل او نور ټول هغه محلی تشبثات وو، چی د ودی فوق العاده امکانات یی موجود و، خو د بی کفایته او فاسدی اداری او ناامنی له امله له دغو ریزرفونو او قوی پوتانشیل څخه هیڅ ګټه اوچته نه شوه. مالداری د هیواد یوه مهمه تولیدی منبع وه چی د هیواد ډیره مالداری کوچیانو پوری اړه درلوده ، خو د سیاسی غرضونو او تعصبی ملحوظاتو له امله په مصنوعی توګه د دیشین او کوچیانو تر منځ نفاق واچول شو او ددولت تر ټولو لوړو چارواکیو د ولسونو ترمنځ درز او دښمنی ایجاد کړه او دکلونو کلونو ټولنیز نظم او د ولسونو او قومونو ترمنځ یی وینی بهول، یو دبل ګواښل اویو بل ته په بد نظر کتل پراخه کړل، چی یوه بیلګه یی د بهسودود پتمن ولس او خواریکښو بیوزلوګوچیانو ترمنځ مصنوعی لانجه ایجادول و، حال داچی په دی کی د چارواکو سیاسی غرضونه وو. دی ستونزی کوچیان په اوړی کی ایلبندونو ته له تللو رواړول او د هیوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرځایونه له مالداری تش شول ، ځرځایونه قوماندانانو په زور غصب کړل او د هیواد دمالداری سکتور له لوی زیان سره مخاموخ شو. په کلیو کی د طالبانو له خوا دعشر او زکات او نورو فشارونو له امله عادی ژوند ګډوډ اونتیجه یی د کلیوالی اقتصادی شیرازی مړاوی کیدل او ښارونو ته د جبری مهاجرت ښکارنده وه، حال داچی ښارونولا پخوا خپل مشکلات لرل، د کلیوالو اجباری مهاجرت د ښارونو ستونزی نوری هم مضاعفی کړی. په یو شمیر کلیو کی د ملی پیوستون په نوم یو شمیری پروژی تطبیق شوی ، چی ناسنجول شوی وی. د ملی پیوستون پروګرام، یو شمیر اقدامات داوو: پرته له دی ګی د کرنی او ځمکو د خړوبولو لباره د روانو اوبو او سیندونو د مهارولو لپاره کومه اساسی برنامه ولری، په بیلابیلو سیمو کی یی ژوری څاګانی کیندلی چی دی کار د ځمکی لاندی اوبو سطح نوره هم ټیټه کړه او په پایله کی یی شاوخوا کاریزونه او عادی څا ګانی وچی کړی، دی پیښی کلیوال له نارضایتی سره مخامخ کړل، دوی پرته له دی چی د ځمکو نهه ډوله استعمال (زراعی، خدماتی، ترانسپورتی، تفریحی، تجارتی، مسکونی او رهایشی، صنعتی اوکانی) په نظر کی ونیسی، د زراعتی ځمکو په لوری یی د پلونو، لارو او سړکونو په جوړولو پیل وکړ، حال داچی د اوسیدو او خدماتولپاره د شاړو ځمکو او د غونډیو د لمنو خواته انکشاف رامنځته شوی وای، ددی پایله دا شوه چی زراعتی ځمکی تر نورو بیلابیلو استعممالونو لاندی راغلی او شنه ساحه وار په وار کمه شوه. همدا اوس تر کرنی لاندی ځمکی ارقام څرګندوی چی د هیواد تر کرنی لاندی ځمکی د ۱۳۵۷ اړ کال په پرتله څو ځله کمی شوی دی. حال داجی باید د ولت د میشت کیدو لپاره د غونډیو لمنی او غیر زراعتی سیمی تخصیص کړی وای. د کرنی او کرنیزو ځمکو او اوبو لپاره نه د کرنی اوبو لګولو او مالداری وزارت او نه هم د اوبو، بریښنا او انرژی وزارتونو یو هم د اوبو د منابعو او د ځمکو د تخصیص په برخه کی کومه برنامه او روښانه پالیسی لرله. دکرنی د وزارت په سر کی بی کفایته مدیریت ګومارل شوی و، چی د کرنی تولیدات او طبیعی منابعو ته نه یواځی دا چی انکشاف ورنه کړل، بلکی ضایع او هدر هم شول. د کرنی وزارت څو ځلی په ډیر لوړ لګښت نمایشی نندارتونونه د کابل ښار او یو شمیر نورو ښارونو کی جوړ کړل او یو شمیر اجناس او محصولات یی پکی ننداری ته ایښودل، خو هدف یی نه و معلوم، ډیر لګښتونه د ښارونو دننه د ورکشاپونو، ټریننګونو، سیمینارونو او په نورو نومونو تر سره شول، خو بزګر او مالدار عملا له هرډول خدماتو بی برخی او خبره پاتی و، کوپارتیفی غورځنګ وده ونه کړه، ترویجی خدمات نه یواځی چی پراخ نه شول، بلکی تر پخوا هم ضعیف شول، د زراعتی تحقیقاتی فارمونو نوم پاتی شو، خو محتوا او شتمنی یی له منځه ولاړه او ډیر ملکیتونه یی غصب شول، د ولایاتو تخنیکی یونټونه له منځه ولاړل او دولتی فارمونه وچ شول یا هم ګڼ شمیر یی د خصوصی ملکیت لاسته ولویدل چی د کرنی لپاره د استعمال پرځای د نورو مقاصدو لپاره وکارول شول. د کرنیزو محصولاتو د پروسس لپاره کوم تدبیر او تجویز نه و، او د کرنیزو محصولاتو د مارکیټنګ لپاره لازم تدابیر تر لاس لاندی ونه نیول شول، نوځکه د کرنی د سکتور مولدین ( بزګر او مالدار ) کال په کال له ورشکستګی سره مخامخ شول. د تولید دموسمی والی برنامه نه وه، له بزګرانو څخه د تولید په موسم کی په دولتی نرخ خریداری ونه شوه او د نورو موسمونو لپاره زیرمتون او نور تاسیسات او د پروسس آسانتیا باندی فکر ونه شو. د کرنی د پراختیا د بانک فعالیت او بزګرانو ته د کریدیت د ورکړی پروګرام په نشت حساب شو، د ځمکی منبسطی او تشدیدی استعمال ته پاملرنه نه وه، سیلوګانی چی باید د حاصلاتو د جمع آوری پر وخت یی غله خریداری، بیا یی اوړه کړی او دټول هیواد لپاره یی زیرمه او د عامه موسساتو لپاره یی ډوډي پخولای له منځه ملاړی او وسایل او ژرندی یی لیلام شوی، دخاوری ساتنی او اصلاح باندی اصلا فکر ونه شواصلا د یوه پرمختیایی هیواد د کرنی د پوهی ظرفیت نه و موجود. په دی توګه د کرنی برخه کی نه یواځی داچی کوم پرمختګ رانغی، بلکی پخوانی عنعنوی کرنه او تولیدی طرز او تکنالوژی هم له منځه ولاړه. حیرانوونکی ده چی د کندز خلک په بازار کی پاکستانی خټکی، د شمالی خلک چینایی انګورو د کامی خلک پیښوری ګوړه او د کونړ خلک ایرانی کنسرو شوی پوځه او ملایی پیری او استفاده ورڅخه کوی، د خوړیانو د پلیو تولیدات فوق العاده کم شول، جوار چی پخوا به خلکو د هغو تولید ته ارزښت نه ورکاو ، له لاهور څخه راځی او یو وړی یی لس افغانی پلورل کیږی، بوس چی پخوا به خلکو اصلا له پټیو څخه کورنو ته نه وړل او له یو کال څخه به بل ته پر ځمکه براته وو، اوی د یوی قیمتی متاع په توګه په تجارتی لاریو کی په بسته بندی شوی شکل له پاکستان څخه راځی . په دی توګه افغانستان ته چی ( یک کشور زراعتی ) ویل کید، اوس د یوی غوا لپاره بوس له بهر څځه واردیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اقتصاد تېنګښت او د خصوصی سکتور وده : د طالبانو د واکمنی پر مهال افغانستان له یوه بیساری انفلاسیون سره مخامخ شوی و، د افغانیو د خرید قدرت فوق العاده راټیټ شوی و،وروسته د موقتی اداری له جوړیدو څخه د افغانستان بانک یو پولی ریفورم تر لاس لاندی ونیو، په دی توکه دپیسو ارزش کی دری صفرونه کم شول، مخکی تر دی ریفورم څخه یو امریکایی ډالر د ۵۵۰۰ افغانیو په وړاندی تبادله کید ، له ریفورم څخه وروسته یو امریکایی ډالر د ۵۰ افغانیو سره معادل و، البته دغه تبادله د نوسان په حال کی وه چی کله به ۴۷، ځینی وخت ۴۹ او په دا راوروسته وختونو کی ۵۷ افغانی د یوه امریکایی ډالر په وړاندی تبادله کیږی، مرکزی بانک هڅه کړی چی د بانک د زیرمو څخه په استفادی څه ناڅه د افغانیو(ثبات!) وساتی، نوځکه په منځنی توګه هره میاشت کی یوه اندازه ډالر لیلام ته وړاندی کوی ، او یو نوع کاذب ثبات یی رامنځته کړی، حال داجی ددی ثبات تر شا د ملی تولید ملاتړ نشته. فعالی اقتصادی تصدی او ملی تولید تر ټولو په ټیټه کچه کی دی، اقتصادی څرخونه ډب دی، ټولنه په یوه کاملا مصرفی ټولنه بدله شوی،سوداګری مطلقا دیوه دلالی تجارت بڼه غوره کړی ده. افغانستان چی د خپلو طبی بوټو له مخی نړیوال نوم لری، ونسو کولای حتا هغه پخوانی هوخست او د فرامسی لابراتوارونه فعال وساتی، د ګنیو او جغندرو پروسس ته هم پاملرنه ونه شوه، د کلبهار او بګرامیو نساجی، د ولایاتو دسمنټو فابریکی ، جنګلک فابریکی، د کور جوړولو فابریکی او دداسی نورو مهمو تولیدی او ترمیماتی واحدونو اساس او بنسټ د هغوی له تشکیل او تجربی سره له بیخه و ایستل شو او د خصوصی سکتور په نوم یی ډیر ملیکتونه او جایدادونه لوټ شول، پایله دا شوه چی د افغانستان دولت یواځی خپله عادی بودجه هم له خپلو داخی عوایدو نشوه پوره کولای او د انکشافی چارو او د پرمختیایی ستراتیژی لپاره خو یی وس بیخی نه و. بیکاری په سلو کی تر څلویښت پوری وه او د مرکز، کابل ښار فرهنګی څیره پریشانه او اصلا دغه ښار د یوه لومپن ښار بڼه ونیوله چی په هیڅ صورت یی د یوه داسی تاریخی هیواد دپلازمینی حیثیت نشو پرځای کولای چی پراخ او ژور هڅووب او ویاړلی ملی کلتور لری.
- کورنی مصونیت او د بیځایه شویو هیوادوالو بیرته اسکان : یوه لویه ستونزه دا وه چی د پراخه ناامنی او په لری پرتو سیمو کی د قانون او مصونیت د نشتوالی له امله ګڼ شمیر هیوادوال ښارونو یا هم د ښارونو څنډو ته راغلل، دوی په خپلو سیمو کی د حلال او مشروع معیشت سرچینی او وسایل له لاسه ورکړل، په ښارونو کی یی ددرویزه وو په بڼه ژوند غوره کړ، بالعموم خلک له ناامنی او بیقانونی څخه په ویره کی وو، دخلکو روحی سکون له منځه تللی و، نامتو متکررجنایتکاران لکه: ت. ش.، ش.، ح. س.، ر. خ.، ج. ق.، ا.ګ.( دلته د بشپړو نومونو دذکر اړتیا ونه لیدل شوه) او نورو نه یواځی عادی وګړی، بلکی ملی سوداګر ګواښل او آن د اختطتف او بربنډ تیری او دلوټ پیښی یی تکرار کړی، خو د قانون د پنجو زور ورباندی بر نه و. دجرایمو دکشف ارګانونه یا نه وو، یا په خپله په فساد اخته و، ددولتی ادارو او موسساتو شاوخوا دوه ـ دری کتاره سمنټی دیوالونه او څوطبقی اغزن سیمان و پیچل شول، چی وار په وار یی ښارونو ته د جنګی کلاوو بڼه ورکړه او د خلکو روحی سکون او دملی ګټو او ملی امنیت په وړاندی یی مشترک احساس، ملی روحیه او په دولت باندی یی د خپل مالکیت حس له لاسه ورکړ، د افغانانو ملی غرور او عالی سجایا وار په وار کمزوری شوی. په دی توګه د ثبات او استقرار لپاره کومه هسته نه وه موجوده او تردیروخت پوری د ثبات او استقرار فزیکی ـ احساسی نښی نه وی موجودی، ترڅو فزیکی او احساسی امنیت نه وی، اقتصاد وده نشی کولای. نوځکه د ملی پرمختیایی ستراتیژی ډیره برخه ناموفقه وشمیرل شوه او په ګزارشونو کی سترګی ورباندی پټی شوی. په پایله کی ددغی ستراتیژی یواځی کمه برخه تطبیق شوه چی ارقام یی لږ مخکی په څو جدولونو او ګرافونو کی ددولت او موسساتو د رسمی ګزارشونو له مخی ارایه شول. یعنی د ستراتیژی د تطبیق د مثبتو اړخونو او لاسته راوړنو تر څنګ یو څه ستونزی وی چی د راتلونکی لپاره د یوی ډیری پخی تجربی په توګه باید په پام کی ونیول شی. داځکه چی په یوه ارزونه کی د مثبتو اړخونو او بریالیتوبونو تر څنګ دنیمګړتیاوو موندل او په نښه کول هم یو مهم هدف وی.

**لنډیز**

افغانستان وروسته تر ۱۳۸۱ کال څخه یوی نوی مرحلی ته داخل شو. تر هر څه دمخه سیاسی پروسه پرمخ بوتلل شوه او د د ولت اساسات ورغول شول، په سیاسی پروسه کی تجربه ډیره کمه او ستونزی ډیری زیاتی وی، یوه مهمه اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې احساس کیده هغه دا وه چې د سیاسي پروسې تر څنګ د افغانستان اقتصادهم په ښو ودرول شي، په نوی اساسی قانون کی د افغانستنان لپاره د بازار نظام غوره وبلل شو ( د اساسی قانون د لسمی مادی له حکم سره سم). داقتصاد دخصوصی کولو د مډل پیښې پیل شوی، لوړی – ژوری زیاتی وی او اټکل شوی نتایج سم په لاس رانغلل. افغانستان ته بهرنی مرستی جاری شوی او د ملی پرمختیا یو سند چی ( د افغانستنان دملی پرمختیا ستراتیژی یا( ANDS)) نوم وربالدی کیښودل شو، د ډیر لوړ لګښت په لرلو سره تدوین شو. په دی توګه له ۱۳۸۱ څخه را وروسته تر ۱۳۹۳ کال پوری د هیواد د ټولو سیاسی – اقتصادی جریاناتو ممیزه او لویه ځانګړتیا بهرنی مرستی او د ملی پرمختیا ستراتیژی وه. د سیاسی پروسی په څنګ کی د ډیموکراسی د اصولو معرفی کولو، د بشر د حقونو پیژندنی، د کارکوونکو د ظرفیت اوچتولو، د ښځو د حقونو پیژندنی، د آزادو مطبوعاتو غوړیدو، له بهر څخه د متخصصینو او پخوانیو تکنوکراتانو استخدام او رابللو، د هیواد دبهرنیو اړیکو نوی کولو او پراخولو، د نادولتی موسساتو په لاس د بیلابیلو پروژو عملی کولو او تر یوه بریده پوری د بیا رغاونی لپاره په خپله ددولت اقداما تو ډیر زیات وخت او لګښت وغوښت. د عامه چوپړونو د بهبود او پراختیا لپاره دافغانستنان د خلکو تقاضا ډیره زیاته وه، مناسب ملی او نړیوال فرصتونه فوق العاده مناسب برابر شوی وو( له ۱۳۸۳ کال مخکی امنیتی ستونزی هم یا نه وی یا ډیری کمی وی، اما جنایی قضایا فوق العاده اوچت وو). داسی اټکل کید، چی د ملی پرمختیایی ستراتیژی او بهرنیو مرستو په واسطه به په هیواد کی د بیوزلی د کمښت، د استخدام د لازمو فرصتونو په ایجاد، د بهرنی سوداګری د ښه کیدو، د ملی تولید د اوچتیدو ، ددولت د عوایدود اچتیدو، د تادیاتو د بیلانس تحکیم او دی ته ورته انکشافی اهدافو په تحقق کی ډیر اوچت بریالیتوب تر لاسه شی. د یو ی محاسبی له مخی ، له افغانستنان سره د شوی مرستو اندازه ، له ۱۹۴۵م. کال څخه وروسته، د مارشال پلان په ترڅ کی له اروپاسره د شویو مرستو څخه هم زیاته وه( د رقم له مخی)، خو عملا انکشافی مهم اهداف تر لاسه نه شول.

ملی پرمختیایی ستراتیژی ددری مهمو برخو لرونکی وه او د زریزی د اهودافو په رڼا کی جوړه شوی وه، خو وروسته داسی پایله راووته چی تطبیق یی بریالی نه وو، په اوسط ډول د رسمی ګزارشونو له مخی په سلوکی ۶۶ تطبیق شوی ده، په داسی حال کی چی د هیواد نیمایی وګړی همدا اوس هم د فقر تر کرښې لاندی ژوند لری.

بهرنی مرستی چی عمدتا د امریکی د متحده ایالاتو، آسترلیا، هند، روسیی، اروپایی هیوادو او ډیره لږه اندازه عربی او ګاونډیو هیوادونو وکړی، بیل بیل ډولونه لرل ، ځینی مرستی نقدی وی، ځینی د متخصصینو د روزنی په بڼه وی، ځینی بلاعوضه او خینی مرستی بیا د پورونو په بڼه وی. سره له دی چی وروسته تر جګړی اقتصادونه په هر ځای کی بهرنیو مرستو ته احتیاج وی، خو بیا هم مرسته کوونکی هم خپل مقاصد لری. دغه ډول مرستی یوه وروسته پاتی او جګړه ځپلی هیواد کی هم مثبت او هم منفی تاثیرات لری. په افغانستان کی هم دی واقعیت ته اشاره کیدای شی. زموږ لپاره د دغو دوو موضوعاتو تحلیل، یعنی د بهرنیو مرستو مطالعه او د افغانستان د پرمختیایی ستراتیژی د تزبیق څرنګوالی یوه مهمه تجربه شمیرل کیدای شی، چی باید د راتلونکی لپاره ورته مناسب تدابیر ولرو. همداسی هم په افغانستان کی د بازار نظام سم پلی نه شو او خصوصی کول د دولتی موسساتو او تصدیو د بیخی له منځه وړلو په بڼه عملی شول او بی قانونه چلند ورسره وشو.

# پایلنیونه

په عمومی توګه افغانستان کی اوس له دیارلسو کالو وروسته له کمی او کیفی پلوه ډیر زیات بدلون راغلی او هیله ده د تیرو کلونو مثبتو تجاربو ته انکشاف ورکړل شی او هغه برخی چی د اصلاح او ریفورم غوښتونکی دی، باید اصلاحات پکی راوستل شی. افغانستان د کافی داخلی ریزرفونو او ښه اقتصادی پوتانشیل لرونکی دی، باید د هیواد راتلونکی پرمختګ لپاره دمناسبو انکشافی پالیسیو په غوره کولو سره یو بل ستراتیژیک پلان چی په علمی میتودونو استوار وی جوړشی. ډیره ضروی خبره ده د بهرنیو مرستو لګول باید ددولت له طریقه وشی. تیرو څو کلونو تجارب باید تعمیم شی او د هغو له ارزونی څخه باید د راتلونکو تدابیرو لپاره استفاده وشی.

.

وراندیزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکاره خبره ده چې هر علمی تحقیق او تحلیل ددې لپاره تر سره کیږی چې د یو تجربې په توګه واقع شی او د راتلونکی لپاره ورڅخه استفاده وشی. له دې لیکنی څخه هم د( Applide Research) او هم د (pure research ) په توګه کار اخیستل کیدای شی. د افغانستنان دملی پرمختیایی ستراتیژی تحلیل زموږ د راتلونکو تدابیرو او اقتصادی تصامیمو لپاره یو ډیر ګټور اقدام دی، نوځکه په پای کی لاندنی پیشنهادونه ضرور بولو:**

**۱.د تیرو څو کلونو تجارب باید د اقتصادی تحلیل کوونکو په اختیار کی وی او نور راتلونکی پلانونه باید ددغو تجاربو په رڼا کی جوړ او طرح شی.**

**۲.د بهرنیو مرستو د موثریت په خاطر به ښه وی چې وروسته تر دی بهرنی مرستی ددولتی ادارو په واسطه مصرف شی.**

**۳.علمی تحقیق ته باید د اقتصادی راتلونکو پالیسیو او ستراتیژیو د مهم اصل په تو ګه اهمیت ورکړل شی او اقتصادی تحقیقی راپورونه باید د چاپ شویو رسالو په شکل په کتابتونونو کی د اقتصادی کادرونو د مطالعی په خاطر ددوی په اختیار کی ورکړل شی او د مهمو رسالو په شکل استفاده ورڅخه وشی.**

**۴.افغانستان بیا هم اړ دی چی د تیری ستراتیژی په دوام یوه بله ملی پرمختیایی ستراتیژی یا هم یو جامع ستراتیژیک پلان طرح او په جدی ډول یی تطبیق کړی.**

**۵.افغانستان ته په کار ده چی لکه هغسی چی نړیوال د ( MDGs)په پایلو کتنه او غور کوی ، موږ هم باید دا کار وکړو.**

**۶.پیشنهاد کیږی چی کورنی تولیدات حمایه شی، د انحصار مخه ونیول شی، د سوداګرو او کاروباریانو او تولیدی تصدیو امنیت ډاډمن شی. په دی برخه کي دقانون حاکمیت ډیر مثبت تاثیر لرلای شی.**

**۷.افغانستان وروسته تر اوږدي مودې کورنی جګړې څخه د بیارغاوني په پړاو کې دی. له جګړې څخه وروسته اقتصاد ډېر پېچلي خصوصیات لري. خصوصي سکتور کافي تجربه نه لري. د قانون حاکمیت او د اقتصاد په برخه کې اصولي او سالم مدیریت ته ډېره اړتیا ده؛ نو پدغه مرحله کې باید دهیواد دطبیعی منابعو ا چاپیریال ساتنی ته هم کلکه پاملرنه وشی، یعنی د طبیعي منابعو علمي څآرنه، ساتنه او له هغو څخه د معقولې استفادې لپاره د برنامو او پروګرامونو جوړول**

**۸.له کورنی جګړی څخه د راپاتی دولتي اقتصادي موسساتو پیاوړي کول او د هغو د کارکوونکو د کاري ظرفیت اوچتولو ته کلکه پاملرنه.**

**۹.د دولت ارشادي او رهنمایي کوونکی نقش ته کلکه پاملرنه.**

۱۰.د قانون د لاربښودنو سره سم د خصوصي سکتور حمایه، هڅونه او لاربښوونه تر هغه برید پوری چی اقتصاد او ملی ګټوته اغیزمن او ګټور وی.

۱۱.د ملي انکشافي اقتصادي اهدافو د تحقق په برخه کې له داخلي ریزرفونو او امکاناتو غوره استفاده او له بهرنیو مرستو څخه موثر کار اخیستل.

۱۲.د مالیاتو ټولولو ته اصولي پاملرنه او د ګمرکاتو د لوایحو کلک تطبیق.

۱۳.د اقتصاد په پوهنځیو کې د ماکرواکونومیک مضمون ته زیات وخت ورکول او داقتصادي سیاستونو مضمون کې دافغانستان د اسلامي جمهوریت د رسمي پالیسي ځایول.

۱۴.دافغانستان دولت باید د هیواد ستراتیژیک مهم موقعیت څخه ډیره ښه استفاده وکولای شی، د بیلګی په توګه دچین، منځنی آسیا او په مجموع کی د جنوبی آسیا او دمنځنی اسیا د نښلوونکی په توګه یی بیرته د وریښمو دلاری او د لاجبرو دلاری په شان دریځ تر لاسه کول. همدا راز د تاپی ( TAPI)د پروژی پیل کولو ته ځان چمتوکول، د افغانستان د اوبو ډیر ښه مدیریت کول، د چاه بهار د بندر خواته د سوداګری متمرکز کول، د ریل پټلۍ سراسری شبکه چوړول او د ګاونډیو هیوادو له شبکی سره یی نښلول، د هیواد کانونو د پلټنی او استخراج ته لومړیتوب ورکول هغه څه دی چی زموږ د قوی پوتانشیل په توګه د امیدواری وړ دی.

۱۵.په کندهار کی د (TIR) او د (ECO) د یوی ځانګی لپاره دودانیو او دفترونو جوړول، په جلال آباد کی د سارک د ټولنی د استازولی دفتر، په سیمه کی د افغانستان نوښت او دغو سیمه ییزو سازمانو سره له نژدی دکار کولو موقع برابرولای شی. په تیره بیا افغانستان باید په سارک کی د خپل غړیتوب له ښیګڼو ځان ښه برخمن کړای شی.

۱۶.د کرنی په سکتور کی د اوبخور سیستم د بیارغونی او پراختیا له لاری د ښوالی او مالداری د توسعی خواته پاملرنه هم زموږ د کورنیو تولیداتو دزیاتیدو تضمین کوی او هم د ټول وخت لپاره داستخدام شرایط په فوق العاده ډول مهیا کیدای شی.

یوه مشهوره خبره ده چی: تجربه د علم مور ده! په دې توګه به ان شاءالله افغانستان وکولای شي دتیرو تجربو څخه په استفادی د خپل اقتصادي پرمختګ بهیر ته ډېر ښه لوری ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماخذ:**

1) **Jack.R.M. and Samul J.Mantel. (2005) PROJECT MANAGEMENT (6TH edition): University of eincinnat .p.107, 189.**
2) **Helmut, Karl and prof.Dr. Jearge Schimmelphening (2009)Public Economics: Ruhr University-Buchum(RUB),P.132,133.**
3) **Mankiw, N.G. (2003) Principles of Economics: Harvard University, P.203.205.206.**
4) **Mankiw, N.G. (2001) Macro economics, (5th edition): Harvard University worth Publishers, p.78-87**
5) **.McNabb.E..David. (2013), Research Methods in Public Administration and Nonprofit Management. Third Edition:Printed in the United State of America, M.E.Sharpe-Armonk.**

**6.اسحاقزی،محمد علم.(۱۳۹۱)، تحلیل پلانهای اقتصادی. د افغانستان د علومو اکاډمی، کابل – افغانستان .**

**7.دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۱)، په افغانستان کی اقتصادی، اجتماعی پلانونه او دهغو په طرح، جوړولو او.... ، د اسلامی تمدن پلازمینی د(غزنی) د نومونی په مناسبت چاپ شوی اثر، چاپ چاری: د مومند خپرندویی تولنی تخنیکی څانګه.**

**8.نور عباد، حمیدالله. (۱۳۹۰)ضعفهای نظام اقتصاد بازار و ضرورت مداخله دولت، مرکز تحقیقات پالیسی پوهنتون کابل ، چاپ مطبعه نوری ، کابل - افغانستان**

**۹. ...اریانا دایره المعارف، دوهم ټوک ، (۱۳۸۷)، د افغانستان د علومو اکاډمی، ددایره المعارف مرکز، کابل - افغانستنان.**

**10....د احصاییوی کلنیو بیلابیلی ګڼی، (۱۳۸۲- ۱۳۹۳)، د احصایی مرکزی اداره، کابل – افغانستان.**

**11....د افغانستان ملی پرمختیایی تګلاره، د تګلاری بندیز(۱۳۸۷-۱۳۹۱)، د افغانستنان اسلامی جمهوریت: د امنیت، واکمنی، اقتصادی ودی او بیوزلی د کمولو تګلاره.**

**12.یو شمیر سایتونه لکه:**

**National Army#cite not-Australian-1http://en.wikipedia.org/wiki/Afghan**

**. Afg. govhttp://ands او http://mod.gov.af/fa/page/7414/8748**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library